د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې ګڼه کې:

- په پښتو ادب کې معنا پوهنه
- د کاروان او ایلیا ابوماضي د دوو شعرونو موازنه
- د حماسي، حماسي شعر او ویاړنې معانیز توپیر او تړاو
- په مورنۍ ژبه زده کړه او پر زده کوونکو یې اغېزې
- ساینسفکشن او په پښتو ادب کې یې ځینې بېلګې
- په ناول لیکنه کې د صحنه جوړونې هنر

او نور...




ژبنۍ، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۲ لمریز کال، ۳-۴ ګڼه

# Kabul
## Quartely Journal

Establishment: 1931
Research and Scientific Publication of
Afghanistan Science Academy

Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۲ ل کال ۳ـ۴ ګڼه

## یادونه

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېرنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** څېړندوی خالد تکل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

څېړنپوه محمد اصف احمدزی

څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکېب

څېړنوال دوکتور رفیع الله نیازی

**چاپ ځای:** ستاره همت مطبعه. کابل ـ افغانستان

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، توره باس خان واټ،

کابل، شهر نو، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۸۵۳۳٤۷۷٦- ۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | . په پښتو ادب کې معنا پوهنه | څېړنپوه محمد نبي صلاحي | ۱ |
| ۲ | . د کاروان او ایلیا ابوماضي د دوو شعرونو موازنه | څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی | ۱۷ |
| ۳ | . د بېستون په ډبرلیک کې پښتو کلمې | څېړندوی شریف الله دوست | ۳۷ |
| ۴ | . په پښتو شاعرۍ کې د میزان، وزن او... | پوهاند پښتون آقا شېرزاد | ۵۱ |
| ۵ | . د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې معانیز... | پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي | ۵۹ |
| ٦ | . په مورنۍ ژبه زده کړه او پر زده کوونکو یې اغېزې | څېړندوی خالد تکل | ۷۲ |
| ۷ | . د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي تذکرو محتوایي څېړنه | پوهنمل میرویس خالقیار | ۸٦ |
| ۸ | . ساینسفکشن او په پښتو ادب کې یې ځینې بېلګې | څېړندوی مطیع الله ساحل | ۱۰٦ |
| ۹ | . په کره کتنه کې د لیکوال د انګېزې د لټون څرنګوالی | څېړندوی فضل الرحمن علیزی | ۱۱۷ |
| ۱۰ | . ادبیات او ولسي تصور | پوهندوی فهیم بهیر | ۱۲۸ |
| ۱۱ | . د لفظونو په ښکلا کې د حیا ونډه | پوهنمل رحمت الله حکیمي | ۱۴۱ |
| ۱۲ | . د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو ونډه | پوهنمل بیت الرحمن رودوال | ۱۵۲ |
| ۱۳ | . په ناول لیکنه کې د صحنه جوړونې هنر | څېړندوی احسان‌الحق کبیر | ۱۷۳ |

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# په پښتو ادب کې معنا پوهنه
# Semantics in Pashto literature

Prof. M.Nabi Salahi

**Abstract**

The subject of semantics, some linguists call it a discussion of linguistics and some others relate it to literature and other professions. Linguists consider the topic of meaning to be a linguistic contract issue that is considered the product and result of the relationship between linguistic elements within the language.

We have done a research and theoretical discussion here first on meaning and then on education and on the subject of semantics in Pashto literature as a whole. I have investigated this point that semantics is not a science of theories and ideas, but it is a tool for evaluating, analyzing and researching the text, which is used to study the transfer of meaning through language. In this knowledge, meaning and the meaning of meaning through language are discussed. The semantic part of the

language is very deep and complex. Every text has at least one meaningful point inside it, and in semantics, the research of the reference of the meaning is done. I (Mohammed Nabi Salahi) have researched in this article under seven different headings:

1) Introduction to the topic.
2) Definition and meaning of meaning and semantics.
3) Types of semantics.
4) The difference between semantics and linguistics.
5) Separation of meanings and semantics, relatedness and examples.
6) Difference between semantics and lexicography
7) Foundations of Semantics.

## لنډيز

د معناپوهنې موضوع، ځينې ژبپوهان د ژبپوهنې بحث بولي او يو شمېر نور يې په ادبپوهنه او نورو مسلکونو پورې تړي. لينګويستهان، د معنا موضوع يوه ژبنۍ قراردادي مسئله ګڼي چې د ژبې په دننه کې د ژبنيو عناصرو تر منځ د اړيکو محصول او ثمره ګڼل کېږي. موږ دلته لومړی په معنا او بيا پر پوهنه او په ټوله کې په پښتو ادب کې د معناپوهنې پر موضوع باندې يو څېړنيز او تيوريکي بحث تر سره کړی دی. دا ټکی مې څېړلي دی چې، معناپوهنه د تيوريو او نظريو علم نه دی، بلکې د متن د ارزونې، تجزيې او څېړنې لپاره داسې وسايل دي، چې د ژبې له لارې د معنا د لېږد مطالعه پرې تر سره کېږي. په دې علم کې معنا او د ژبې له لارې د معنا معنا مطرح ده. د ژبې معنايي برخه ډېره ژوره او پېچلې ده. هر متن په دننه کې لږ تر لږه يو معنا لرونکی ټکی لري او په معناپوهنه کې د معنا د مرجع څېړنه ترسره کېږي. ما (محمد نبي صلاحي) په دې مقاله کې، په پښتو ادب کې معنا پوهنه پر موضوع باندې تر اووه ځنګزنو سر ليکونو لاندې څېړنه کړې ده:

۱) د موضوع مخينه.

۲) د معنا او معناپوهنې پېژند (تعریف) او مفهوم.

۳) د معناپوهنې ډولونه.

۴) د معناپوهنې او ژبپوهنې توپیر.

۵) د معاني او معناپوهنې بېلتون، تړاو او مثالونه.

٦) د معناپوهنې او قاموسپوهنې توپیر.

۷) د معناپوهنې بنسټونه.

## سریزه

په پښتو ادبیاتو کې د معنا موضوع، ډېره ژوره او هر اړخیزه نه ده ارزول شوې. دا ټکی باید په خبرو او لیکنه دواړو کې سرسري او سطحي ونه کتل شي. د اورېدونکي او لوستونکي سویه، علمي فهم، نتیجه اخیستنه او استنباط، باید د وینا او لیکنې په هر فورم کې د اورېدونکي او لوستونکي لپاره د ژور او هر اړخیز درک وړ وي. زما د دې لیکنې مقصد هم دا دی چې وکتل شي، په پښتو ژبه کې د معناپوهنې په برخه کې کومو پوهانو څومره تحقیق کړی دی او په دې څانګه کې څومره نور کار ته اړتیا شته. زه فکر کوم، چې په دې برخه کې موږ لا په مقدمه کې یو او زښته ډېر کار ته اړتیا ده. دا ډېره مهمه موضوع ده. په دې څانګه کې لا تر اوسه پورې په پښتو ژبه او ادبیاتو کې داسې څېړنه، نه ده تر سره شوې، چې په ټوله معنا، د ټولو لپاره د تأیید وړ وي. دا چې ټولې مادي او معنوي ښکارندې (پدیدې) په شکل او محتوا کې خلاصه شوې دي، نو پر هغوی باندې د بڼې او معنا له مخې معناداري خبرې کول، بحث او څېړنه په هماغه کچه مهم دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې مقالې مبرمیت په دې کې دی چې، د معنا پوهنې په اړه یې د مقالې لیکلو شرایط او معیارونه دواړه پوره کړي دي؛ له یوې خوا په پښتو ژبه او ادب کې د معناپوهنې په اړه د شویو څېړنو درک په کې لګېدلی او هم پر دې ټینګار شوی دی، چې په راتلونکي کې دې ځوان څېړونکي په دغه برخه کې خپلې څېړنې نورې هم پراخې او ژورې کړي. هره ژبه، د ژبپوهانو په نظر، د انساني تمدن د انتقال عراده او د نویو ژبپوهانو په اند د یوه موزیم حیثیت لري. په دغه ژبني موزیم کې د هر څیز

(لغت) پر معنا خبرې کول او د معنا او لفظ ترمنځ  په منطقي رابطه بحث کول ضرور دي، د یوه معیار پر بنسټ دا ټکي په کې بیان شوي دي.

## د څېړنې موخه

دغه مقاله د معناپوهنې پر لفظي معنا باندې را څرخېدلې او له معاني سره یې توپیر ښودل شوی دی. معناپوهنه، په اصل کې د لغتونو معناپوهنه بلل شوې ده چې قراردادي بڼه لري او معاني د وینا کولو فن ته ویل شوي دي. دا لیکنه د دې مقصد لپاره ترسره شوې ده، چې د معناپوهنې په اړه د نویو څېړونکو او سنجیده لیکوالو لپاره یوه انگېزه‌یي لیکنه شي.

## د څېړنې میتود

د دې مقالې د تحقیق ډول کتابتوني او د څېړنې میتود تحلیلي – تشریحي دی.

## د مقالې متن

### ۱) د موضوع مخینه

د معنا او معناپوهنې موضوع له ډېر پخوا نه د افغاني پوهانو په منځ کې مطرح وه. د پښتنو پوهانو په منځ کې استاد حبیب الله جاج پښتونزوی په «څلور بحثونه» نومي اثر کې دمحتوی (Content) تر نامه لاندې، له محتوا نه مراد معنا او مفهوم او د هغوی د افادې علت او غرض روحي انگېزه گڼي او پر دې ټینگار کوي چې د هر لغت، هرې جملې او هر متن معنا او مفهوم (ارزښت) وخت او محیط ټاکي، یعنې د زماني او مکاني شرایطو تابع وي. د دې په څنگ کې په دې هم تأکید کوي چې لیکوال باید د معناوو په تألیف او د خپل فکر په تفسیراو نورو ته په ورانتقالولو کې ډېر احتیاط وکړي، څکه د هر لغت او جملې معنا او مفهوم د مقابل لوري یا لوستونکي په سلوک باندې مستقیمه اغېزه لري. استاد جاج (معنا او عمومي سیمانټکس په اړه د معنا تیوري) تر سرلیک لاندې یوه مستقله مقاله هم لیکلې ده.

څېړنوال دولت محمد لودین په «لغتپوهنه» نومي اثر کې د معناپوهنې په اړه د کار خبرې لري. پوهاند مجاور احمد زیار په خپلو دوو آثارو (وییپوهنه او وییرغاونه) او«ماناپوهنه» کتابو کې د معنا په اړه ارزښتناکې خبرې کړې دي. په هغو کلمو او لغتونو یې بحث کړی دی، چې معانیز توپیر په کې رامنځته شوی دی. پوهاند رښتین، پوهاند دکتور زیورالدین زیور او دکتور زرغونې زیور هم د نحوې په اړه یو شمېر مطالب

خپاره کړي او د معناپوهنې بحث یې سیمانتیکي موضوع بللې ده. څېړنپوه مولاجان تنیوال د (ژبه او ټولنه) اثر کې د معنا ټولنیزه او تاریخي کچه روښانه کړې او د یوې ژبې د لغتونو په معناوو باندې یې د ټولنې، زمانې، طبقې او ایډیالوژۍ اغېزې روښانه کړې دي. همداسې یې د (پښتو ژبه او ژبپوهنه) اثر په ۲۲۶مخ کې د «لغت څه شی دی» تر سرلیک لاندې، د معنا د را پیدا کېدو پر سرچینه کلمې باندې څېړنه کړې ده او لغت (کلمه) یې د یوې ژبې تر ټولو کوچنی معنا لرونکی واحد ګڼلی دی چې که تجزیه او سره ووېشل شي، معنا یې له منځه ځي.

د دري ژبو پوهانو په منځ کې پوهاند دکتور یمین د (اساسات معناشناسی) په اړه چاپ رساله لري او ویل کېږي چې، پوهاند دکتور قیوم قویم هم، د (معناشناسی) په اړه د مقالې په کچه چاپ لیکنه لري. په ځوانو استادانو کې اجمل ښکلي په (ادبي زاویې) نومي اثر کې د «ماناپوهنې» تر نامه لاندې مطلب خپور کړی دی. استاد اسدالله غضنفر په «جادوګر» نومي اثر او «د نثرلیکلو هنر» کې د معنا او معاني په اړه مهمې خبرې لري، خو استاد غضنفر تر ټولو سیستماتیک بحث، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز په خپرنیز ارګان زېري جریدې د ۱۳۹۷هـ. ل کال، ۱-۲مه ګڼې په دویم مخ کې«د اشاري کلمو پټه معنا او ښکلا» مقاله ده. څېړندوی لطف الله صابرهم د زېري جریدې د ۱۳۹۹ هـ. ل کال د ۳۶مې ګڼې په لومړی مخ کې «د متلونو معنوي او مفهومي اړخونه» په نوم مضمون نشر کړی دی. په دې ډول د لیکوالو او استادانو ځوان کهول د مقالو تر بریده مطالب خپاره کړي دي. تر هغو چې په دې اړه پوهنیار ذبیح الله صاحب ارغند د «ماناپوهنه» په نامه د سیمانتیکس په اړه یو ډېر ارزښتناک او مستقل علمي – تحقیقي اثر بشپړ او چاپ کړ او دغه موضوع یې په ساینسي طریقه باندې بشپړه کړې ده. ښاغلي ارغند په درېیو برخو کې:

۱- له نورو پوهنو سره د معناپوهنی اړیکې.

۲- د لغتونو معناپوهنه.

۳ـ جمله یي معناپوهنه. موضوعات په نږدې۲۰۰ مخونو کې څېړلي دي او په پوره باور سره ویلای شو، چې دا کتاب د معناپوهنې په ارتباط د نورو څېړنو لپاره یو انګېزه‌یي اثر او ښه سریزه بلل کېدای شي.

**۲) د معنا او معناپوهنې پېژند (تعریف) او مفهوم**

له شک پرته، د کلمو پوره او دقیق تعریف ډېرسخت دی. د کلمو په معنا او استعمال کې ځیرکي، د جملو په بیان کې روښانتیا او د متن رواني او سلاست، د هرې لیکنې لپاره ضروري توکي دي. دا هغه څه دي چې یوه لیکنه بې عیبه کوي او معتبر متن ترې جوړوي. دلته خبره د معنا د پېژند دی. ځینې پوهان په دې نظر دي چې معنا شته، خو تعریفېدی نه شي. نو راځئ چې لومړی معنا او بیا معناپوهنه تعریف کړو.

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار معنا داسې را پېژني:

«هسې خو له لویه سره چې «ژبه» مو په ذهن کې وګرځي او یا یې نوم په خوله اخلو، پر ذهن مو وار له واره د دغې پدیدې دنده را ووري او هغه دا چې یو وګړی له بل سره غږېږي، موخه یې یو څه ورلېږدونه ده او پر هغه د دویم وګړي (اورېدونکي) پوهونه ده، نو همدغه پوهونه یا پوهاوی د دود له مخې لنډ پر لنډه «مانا» بولو. ان زموږ د دودیزه پښویه لیکوالو له لنډ تنګ پېژنده: «ژبه د پوهولو او را پوهولو وسیله ده» همدا را جوتېږي چې ژبه له مانا سره تړاو لري.»۱

دوکتور دولت محمد لودین د (لغت پوهنې) اثر په ۴۱ مخ کې د فلسفې قاموس په استناد دا ټکی لیکي چې: «په ژبه کې په عملي ډول معنا د ژبې په لغاتو کې پرته ده او د ساتلو ځای یې هم لغات ګڼل کېږي. د ژبې په علم کې د لغاتو معنا د ژبې مفهوم ګڼل شوی دی. د لغاتو خاصیت دا دی چې مختلفې معناوې ولري او دا معناګانې یې هم په خپل منځ کې د پوره توپیر لرونکې وي. د همدغه اساس له مخې د لغاتو معناوې، د هغو قرینې او وضعیت سره ټینګې اړیکې لري، په کومو کې چې استعمالېږي.»۲

له دې څرګندونو نه داسې برېښي چې، د معناپوهنې موضوع نه یواځې د ژبپوهانو، بلکې د فیلسوفانو او ادیبانو لپاره هم ډېره په زړه پورې ده.

نورژبپوهان بیا دا استدلال هم کوي چې:

هره کلمه اوهر ژبنی واحد (لغت)، له لفظ او معنا نه جوړ شوي دي او د یوې ژبې «مهمه او اساسي شتمني د ژبې په معنا کې ده.»۳

پوهاند دوکتور زیار معناپوهنه، د ژبپوهنې یوه ارزښتمنه او څو اړخیزه څانګه ګڼي او ټینګار په دې کوي چې: «دغه پوهنه د ژبپوهنې ترټولو ګرانه او پېچلې څانګه ده چې

په همدغه نامه له نوې ژبپوهنې سره هممهاله(د شلمې پېړۍ په درشل کې) رامنځته شوې ده.»۴

ځینې نور پوهان معنا داسې راپېژني: «کله چې د ژبني واحد (لغت) په تلفظ کېدو سره، یوعمومي انځور د اورېدونکي په ذهن کې د ویونکي د خبرو له مخې پیدا شي، دې ته معنا ویل کېږي.»۵

ډېری پوهان معنا او مفهوم، د مضمون او منځپانګې له مخې سره نږدې، ورته او ان دواړه مترادف بولي. دوی مفهوم د معنا معادله کلمه بولي او «معنا د نښې (لغت) او موضوع تر منځ اړیکه ګڼي.»٦

په حقیقت کې، معنا په ژبني ډلبندي کې راځي او مفهوم په منطقي کټګورۍ کې، له دې امله دواړه هو به هو یو شی نه شو بللای. که څه هم منطق، موضوع او وظیفه د معنا په تشکیل کې اساسي ونډه لري.

استاد اسدالله غضنفر وایي: «د علم ژبه هغه کلمې خوښوي چې ایکې یوه معنا ولري، خو هنري ژبه د هغو کلمو لېواله ده چې ضمني معناوې هم ولري.»۷

ځینې پوهان، له دې ټکي دا معنا هم تر لاسه کوي چې، د معنا بحث د ادبپوهنې مبحث هم دی. د زېري جریدې د ۱۳۹۹ لمریز کال په ۳٦مه ګڼه کې «د متلونو معنوي او مفهومي اړخونه» تر نامه لاندې یوه مقاله خپره شوې او په هغې کې متل داسې را پېژندل شوی دی: «متل د خبرو یوه لنډه جمله ده چې د معنا له پلوه بشپړه او د مفهوم له پلوه عامه وي.»۸

بیا زیاته شوې ده: «دلته له متلونو څخه زموږ موخه دا ده چې د متل کنایي ( دویمه معنا) را وپلټو او په هغو باندې خبرې وکړو. د متلونو ستر خصوصیت هم دا دی چې تل کنایي معنا افاده کوي. که چېرې متل خپله حقیقي او اصلي معنا څرګنده کړي، هغه بیا متل نه دی. د بېلګې په توګه:

که غر لوړ دی - په سر یې لار ده. د غله په رېږه خلی وي او داسې نورچې په یوه کې هم خپله لومړۍ معنا نه ده راغلې او نه یې هم د اړیکې تر منځ خپل اصلي مقصد افاده شوی دی چې د متل حقیقي معنا را وښیي. دلته هر متل خاص کنایي مفهوم لري چې هم اورېدونکی پرې پوهېږي او هم د ویونکي مطلب وي او هغه د متل کنایي (پټه) معنا ده او که چېرې کنایي معنا افاده نه کړي، هغه متل نه شو بللی.»۹

همداسې استاد اسدالله غضنفر «د اشاري کلمو پټه معنا او ښکلا» په نامه د زېري جريدې د ۱۳۹۷هـ. ل کال په ۲-۱مه گڼه کې يوه ښه مفصله مقاله ليکلې ده. هغه ليکي: «اشارې کلمې په گڼو بيتونو او جملو کې د تشبيه د توري نقش تر سره کوي يا د دوو کلمو تر منځ د صفت او موصوف رابطه پيدا کوي او يا د يوې کلمې او مفهوم د نوي تعبير په بيانولو کې پکارېږي. د رحمان بابا په لاندې بيت کې د اشارې کلمې په مرسته د عاشق د زړه داغ په تاج باندې تعبير شوی دی:

**ستا په داغ به هر يو زړه مشرف نه شي**

**دغه تاج د بــزرگانو په سر يوسه**

درويش دراني وايي:

**چې خبره وي خوږه هر ځای چلېږي**

**دا د سرو زرو سيکه هر ځای چلېږي**

د تشبيهي رابطې په جوړولو کې د اشارې کلمو امتياز دا دی چې ورته والی نه، بلکې د يو شان والي ادعا په کې کېږي. شاعر دا نه وايي چې خوږه خبره د سرو د سيکې غوندې ده، بلکې ښځې يې د يوشانوالي ادعا کوي.»۱۰

له پورته ځرگندونو نه دا مطلب اخيستل کېږي چې، معنا او مفهوم هوبه هو يو شی نه دي، بلکې دا داسې يو شی دی، لکه يو شی په لغت کې څه ته وايي او په اصطلاح کې څه معنا لري. هر متل په حقيقت کې د مضمون او معنا له پلوه يوه پخه خبره او وجيزه ده. د ولسونو د عملي ژوند عملي تجربه او فکري زېرمه ده او له دې نه دا هم ښکاري چې د معنا موضوع نه يواځې د ژبپوهنې، بلکې تر يوه بريده د ادبپوهنې بحث هم دی، يعنې د دواړو مسلکونو او څانگو موضوع گڼل شوې ده. له دې امله د ويلو وړده چې دا خبره وکړو: «له هنر څخه استفاده همېشه بې زحمته نه وي، بلکې د معلوماتو يوه سويه او تربيت شوی ذوق غواړي.»۱۱

د اسلام پوهنې متخصصين، مسلکيان او ماهرين په دې نظر دي چې: د انسان مغز د آرشيف او زړه د موټر د شتړنگ حيثيت لري. زړه خپل ټول مواد له آرشيف نه تر لاسه کوي او په اسلامپوهنه کې هم، مغز د زړه مرستيال دی. يو شمېر ژبپوهان هم دا خبره مني او وايي چې: «د انسان د مغز يوه مشخصه برخه، په حقيقت کې د لغتونو د قاموس حيثيت لري او کله چې خبرې کوي، د هماغو لغتونو له يو ځای کېدو سره

معناوې را پیدا کېږي. هغه پوهان چې فکر کول ژبه ګڼي، بیا د دوی له نظر سره سم مانا هم د نښې (لغت) او تصور تر منځ رابطه ګڼلی شو، خو ځینې پوهان د ژبې او فکر تر منځ توپیر مني او وایي چې: مانا او فکر سره تړلي دي، خو یو شی یې نه شو بللی.»۱۲

د معنا او شي ترمنځ رابطه قراردادي او اختیاري ده. په دې برخه کې له مثال څخه استفاده کوو: د انګلیسي ژبې ویونکي د سپي آواز ته واو، باو (wow, Bow) وایي، جاپانیان ورته وُن وُن (won،won) ترکان ورته هاو هاو (hav,hav) پارسي ژبي ورته ګوګو (Gaw,Gaw) او پښتانه ورته غپ غپ (Ghap,Ghap) وایي.»۱۲

**۳) د معنا پوهنې ډولونه**

معناپوهنه بېلابېل ډولونه لري چې یو څو یې دا دي:

۱. د لغتونو معناپوهنه. دلته د دال (نښې) او مدلول (مصداق ) تر منځ اړیکې په پام کې نیول کېږي. په دې معنا پوهنه کې لغت د معناپوهنې مانیز واحد دی. دلته خج، فشار او اکسنټ مانیز توپیر پیښوي.

۲- اشاره یي معناپوهنه: د دال (نښې - سېمبول) او مدلول (مصداق) ترمنځ روابط په نظر کې نیول کېږي.

۳. جمله یي معناپوهنه: په دې معناپوهنه کې د جملو مانیزې اړیکې تر څېړنې لاندې نیول کېږي.

۳. د وینا معناپوهنه: د وینا مانیز واحد ګڼهار دی. ۱۳

د (ژبې او ټولنې) اثر لیکوال «د ویي یا لغت اصلي او فرعي ماناوې» په بحث کې، له ځینو سرچینو نه په ګټې اخیستو سره دا خبره کړې ده چې: «یو لغت په پیل کې یوه معنا لري، خو د وخت په تېرېدو او د زیات استعمال په وجه فرعي او دویمه مانا هم پیدا کوي، کېدای شي چې یو لغت څو معناوې ولري. پوهان وایي: لومړنۍ مانا د یوه لغت اصلي مانا ده، کله چې څوک قاموس ته مراجعه وکړي، نو دا ورته معلومېږي چې، د ماناوو ډولونه په برابره کچه یوه د بلې په خوا کې نه راځي او په یوه ستره یا عمومي مانا کې ډلبندي کېږي.»۱۴

نوموړی لیکوال زیاتوي: «د یوه لغت لویه مانا په یوه زماني چوکاټ کې د مانا مهم ډول دی او همدغه ډول یې پخه او سمه بڼه هم ده. کله چې ځینو لغتونو ته وکتل

شي، نو اصلي او فرعي ماناوې يې په ډېرې اسانۍ سره پېژندل کېدای شي او سره بېلېدای شي. د ساري په ډول: که موږ د زرغون لغت په نظر کې ونيسو، نو لومړۍ او دويمه مانا سره جدا کولای شو، ځکه چې د زرغون لغت لومړۍ موږ ته د زرغون رنګ په باره کې معلومات را کوي او د هغه د مشخصاتو څخه مو خبروي، خو کله چې وواېو چې شين فصل، شين لرګی، شنه مېنه او داسې نور، نو په دې ځای کې زرغون (موږ يې معمولاً شين بولو) موږ ته هغه فصل، لرګی او مېنه را ښيي، چې پاخه او وچ نه وي، يانې فصل او مېنه به شنه (خام) او لرګی به تاند او لوندوي. دلته د فصل او مېنې شينوالی او د لرګي لوندوالی د زرغون د لغت دويمې ماناوې را په ګوته کوي. اصلي مانا د يوه لغت اصلي او منشايي مانا ګڼل کېږي او په همدې سبب هغې ته لغوي يا سيخه او مستقيمه مانا هم وايي او همدغه مانا په حقيقت کې د يوه لغت ښکاره او درسته مانا هم ده. يو لغت سره له دې چې اصلي او فرعي ماناوې لري، خو دا هم کېدای شي چې له يوه لغت سره نور لغتونه وتړل شي، نو فرعي ماناوې پيدا کوي، لکه پاسني ياد شوي مثالونه او يا هم د شين ډنډ لغت، چې په اصل کې د شنو او پاکو اوبو ډنډ ته ويل کېږي، خو فرعي او مجازي مانا يې شنه او زرغونه ځمکه او کرونده ده.»١۵

**۴) د معنا پوهنې او ژبپوهنې توپير**

ښاغلی ارغند په خپل علمي ـ څېړنيز اثر (ماناپوهنه) کې، «د مانا پوهنه او ژبپوهنه» موضوع داسې څېړي: «ژبپوهنه هغه علم دی چې د يوې ژبې جوړښت، تاريخي تحولات او نور ژبني مسايل تر څېړنې لاندې نيسي. ژبپوهنه بېلابېلې څانګې لري چې نحوه، ماناپوهنه، ګړپوهنه يا صرف، غږ بوهنه او آواز پوهنه يې غوره څانګې دي. د لغتونو او جملو مانا پېژندنې ته ماناپوهنه وايي. د لغتونو د جوړښت مطالعې ته ګړپوهه يا صرف وايي، د غږونو د خصوصياتو مطالعې ته غږ پوهنه وايي، د ژبې د غږيز نظام مطالعې ته بيا اوازپوهنه ويل کېږي. دا چې ژبپوهنه د ژبې علمي مطالعې ته ويل کېږي، په دې ځای کې بايد وويل شي، چې د ژبپوهنې يو اساسي الزام تجربه کېدل دي. که موږ ماناپوهنه د ژبپوهنې برخه وګڼو، بيا د علمي کېدو ميزان يې هم تر ژبپوهنې کم نه شي.»١٦

نوموړی ليکوال زياتوي:

«دا مسئله چې علم او تجربه څه شی دي، د بحث وړ ده. په علمي مطالعه کې هر څه باید په سترګو ولیدل شي او په حواسو حس شي. دا چې پوهانو غږپوهنه د ژبپوهنې یوه څانګه ګڼلې ده، فون (غږ) اورېدل کېږي او په لابراتوار کې د امواجو [څپو] په بڼه اندازه ګیری کېږي، خو متأسفانه د ماناپوهنې په مطالعه کې مشابه روش وجود نه لري. د نورو څانګو تر څنګ ماناپوهنه د ژبپوهنې یوه مهمه څانګه ده چې له ژبپوهنې او د ژبپوهنې له نورو څانګو سره نه شلېدونکې اړیکې لري، خو بیا هم د دوی تر منځ بېلابېل توپیرونه شته دي او بېلابېل مضامین څېړي چې هره څانګه یې جلاجلا پوهه ګڼلی شو، مثلاً د اوازپوهنې واحد فونیم (Phoneme) دی، د ګړپوهې واحد مورفیم ( Morpheme) او د نحوي واحد تګمیم (Tag meme) یا «سنتاګم [تر ټولو کوچنی معنا لرونکی واحد ] دی.»۱۷

ژبه په حقیقت کې د انسانانو تر منځ د اړیکو د ټینګښت یو داسې منل شوی سیستم دی چې یوې خواته یې د نښو او سېمبولونو قراردادي ټولګه پرته ده او بل لور ته یې پیغامونه شته؛ په دې معنا چې الفاظ او معناوې سره تړلې دي. «که معناوې له الفاظو څخه واېستل شي، بیا ورته ژبني عناصر نه شو ویلی... معاني او سیمانتیکس د ادبپوهنې او ژبپوهنې اصطلاحات دي، چې معاني یې شرقي او سیمانتیکس یې غربي اصطلاح ګڼلی شو.

**۵) د معاني او معنا پوهنې بېلتون، تړاو او مثالونه**

معاني د معنا جمع ده او معنا په لغت کې څرګندولو او مقصود ته وایي، مګر په اصطلاح کې هغه ذهني صورت دی چې له یوه لفظ څخه مراد او مقصود وي. معاني او بدیع دواړه علمونه د بیان د علم تر عنوان لاندې راځي، خو نورو پوهانو د معاني علم ځانته علم بللی دی او هم د بیان او معاني تعریفونه سره توپیر لري. د معاني د علم غایه او مقصد بلاغت دی او د معاني د علم په اصطلاح کې د فصیح کلام مطابقت دی د حال له مقتضا سره، د حال له مقتضا څخه مراد د ویونکي او اورېدونکي او د کلام د حالاتو مراعاتول دي چې له هر حاله سره وړ او مناسبې خبرې وشي. په پښتو او پارسي ادبیاتو کې د معاني علم له بیان سره یو ځای توضیح شوی دی. خو سیمانتیکس بیا یو نوی علم دی چې په نولسمه پېړۍ کې را منځته شوی دی او د معنا په لفظ کې معاني او معناپوهنه سره نږدې دي.

معاني په یوې خاصې زماني مقطع کې لغتونه او جملې څېړي او تاریخي تحولات یې په نظر کې نه نیسي او په معناپوهنه کې د زمانې په اوږدو کې د لغتونو مانیز بدلون په پام کې نیسي.

مثالونه

د معاني مثال:

جمله دویمه معنا

۱. واورې ته ګوره! ځومره ډېره واوره شوې ده.

۲. یوه مڼه را کولی شئ! یوه مڼه راکړه.

ماناپوهنه

جمله لومړۍ معنا

۱. واورې ته ګوره! واورهووینه!

۲. یوه مڼه راکولی شئ! د یوې مڼې راکولو توان لرئ.»۱۸

په حقیقت کې، معاني د فصاحت او بلاغت په برخه کې د یو لړ پرنسیپونو، اصولو او قواعدو ټولګه ده چې په هغو کې د وینا فن ته پاملرنه شوې وي او د اورېدونکي (مخاطب) روحیات په کې په پام کې نیول شوي وي، خو په معن پوهنه کې د لغت او معنا تر منځ په منطقي اړیکه باندې خبرې او بحث کېږي او هغه بدلونونه را ښیي، کوم چې د زماني په اوږدو کې د لغتونو په معناوو کې رامنځته کېږي.

**۶) د معنا پوهنې او قاموسپوهنې توپیر**

د معناپوهنې او قاموسپوهنې توپیر دا دی چې «قاموسپوهنه د ژبو د لغوي زېرمو مسایل څېړي»۱۹ او معناپوهنه د لغتونو ظاهري او باطني معناوې دواړه تر څېړنې لاندې نیسي او هغه بدلونونه راښیي، کوم چې د تاریخ په اوږدو کې د کلمو په معناوو کې رامنځته کېږي. هغه لغتونه چې په ټولنه کې د مادي او معنوي بدلونونو له امله متروک او منسوخېږي او مري، هغه مطالعه کوي. کوم نوي لغتونه چې په یوه ژبه کې رامنځته کېږي او د دغو لغتونو په معناوو کې چې کوم تحول راځي، هغه څېړي. په پښتو ژبه کې د قاموسپوهنې په اړه ښایسته ډېر کار شوی او لا روان دی، نور کارونه هم پیل کېږي او بشپړېږي، خود معناپوهنې په اړه څېړنو هغه ډول چې لازمه ده، وده او پرمختګ نه دی کړی.

د دې لپاره چې د معناپوهنې په موضوع ښه پوه شئ، دې ته اړ یو چې، د معناپوهنې بنسټونه در وپېژنو.

### ۷. د معنا پوهنې بنسټونه

د معناپوهنې اصلي هدف، د متن او کلام د معنا پلټنه ده. په دې علم کې دا هڅه د دې لپاره تر سره کېږي چې، د اورېدونکي یعني انسان لپاره د متن معنا د درک وړ وګرځي. مګر دا ځرګنده خبره ده چې، هېڅ علم نه شي کولای، چې ټول حقایق کشف کړي. نن سبا ټول هغه کسان چې له ژبې او ادبیاتو سره سر او کار لري، علمي وسایلو ته اړ دي چې د هغو په مرسته یوه لاره پیدا کړي چې د متن او یا د اصلي کلام د ارزونې لاره خپله کړی شي. د (اساسات معناشناسی) اثر په درېیم مخ کې د معنا پوهنې بنسټونه داسې بیان شوي دي:

«سببي جوړښت: کومه انګېزه د دې سبب شوې چې دا متن رامنځته شوی دی.

حسي جوړښت: متن څومره د احساس کېدو او درک وړ دی.

ارزشي جوړښت: دغه ښکارنده څه ارزښت لري.

ضمني جوړښت: نښانې او [سېمبولونه] څنګه او څومره له حقیقي اصل څخه لرې شوې دي.

بدلوني (تحولي) جوړښت: د کلماتو په یو ځای والي کې کوم نوښتونه رامنځته شوي دي.

سمبولیز جوړښت: د متن یا اصلي کلام عناصر په څه ډول سیمبولونو کې بیان شوي دي.

انځوریز (صوري) جوړښت: د نښانو جوړښت او سکښت څنګه دی.»۲۰

### پایله

له پورتنۍ څېړنې څخه لومړۍ خبره دا راووته چې: معناپوهنه د ژبپوهنې څانګه ده. معناپوهنه د کلمو معنا څېړي، په معنا پسې ګرځي او معنا لټوي. د معنا پوه کوښښ دا وي، چې د کلمو او جملو لنډه معنا وښیي. له شک پرته، د هرې ژبې د لغتونو معنا، د هغې ژبې پر کلمو ولاړه ده. که چېرې دغه لغتونه او کلمې تجزیه شي، معناوې یې هم له منځه ځي، له دې امله په دې اتفاق لیدل کېږي چې، هر لغت د هغې ژبې اساسي مانیز واحد دی، د وېش، تجزیې او تقسیم وړ نه دی. بل لور ته، معاني پوهنه

(علم المعاني) د ادبي فنونو او ادبپوهنې څانگه ده. معاني پوهنه د کلمو او جملو معنا ته چنداني پام نه کوي، پر دې باندې را څرخي، چې هدف او مقصد يې څه دی.

په حقيقت کې معاني او معنا پوهنه دواړه، د معنا په لفظ کې سره شريک دي. په معاني پوهېدنه، د ادبي متونو د پوهېدو په برخه کې ډېره ضروري ده. د ادبي متونو متخصصين، مسلکيان او څېړونکي، بايد د معاني علم په اړه لازمي معلومات ولري. بايد د اديب له ادبي متن څخه هغه معنا تر لاسه کړی شي، کومه چې د ويونکي او متکلم اصلي مراد او مقصود وي. د پاسني تحقيق، دويمه نتيجه دا شوه چې، په تېرو وختونو کې، په پښتو ژبه کې لغت د ژبې په معنا باندې هم استعمال شوی دی؛ ژبنۍ څېړنې، د لغوي څېړنو په نامه باندې هم بللې شوې دي، اوس لغت په پښتو ژبه او معنا پوهنه کې، د ژبې په معنا نه، بلکې د يوه بنسټيز معنالرونکي عنصر په توگه پېژندل شوی دی.

درېيمه خبره دا ده چې، د زمانې په اوږدو کې، د لغتونو په معناوو کې بدلونونه را منځته کېږي، له دې امله د هر لغت لومړۍ معنا، اصلي معنا بولو او کله چې همدغه لغت نورې معناوې پيدا کړي، هماغه يې فرعی معناوې بولو.

څلورم ټکی دا دی چې، د ټولنې له بدلون او د کلمو له لېږد سره، د معناوو په انتقال کې هم تحول او بدلون راتلای شي. هر لغت، په بله ټولنه او پردۍ ژبه کې، د هغې ژبې له کلتور سره سم عيارېږي، له دې امله يې په اصلي معناوو کې د بدلون او تغيير امکانات شوني دي. دا زموږ دنده، ژبنۍ مکلفيت او ټولنيز رسالت دی چې، په خپله هم د هرې کلمې په دغو بدلونونو او تغييراتو باندې خپل ځانونه ښه وپوهوو او د خپلې ټولنې نور ويونکي هم پرې وپوهوو.

پنځم ټکی دا شو چې، د معناپوهنې په برخه کې زموږ شته څېړنې، د سريزې تر بريده دي، کوم تحقيقات چې په دغه موضوع باندې، تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې تر سره شوي، په هغو د لوستونکو تنده نه ماتېږي، په دې برخه کې ډېر کار او زيار ته اړتيا ده. بس شته کار، د ځوانو څېړونکو لپاره د منځ حيثيت لري.

## وړانديزونه

۱. معناپوهنه، علم دی. معنا پوهنه، بايد د يوې تيوري او ميتودولوژي په رڼا کې وليکل شي. د معناپوهنې په ليکنه کې ډېره غټه ستونزه د ميتودولوژي ده. د يوې

کلمې، جملې او وینا په دننه کې په مانیزو بدلونونو او تحولاتو باندې خبرې او څېړنه کول، یو ډېر ارزښتناک او نهایت مهم کار دی، د تحقیق ځوان کهول ته ښایي چې، د معناپوهنې په برخه کې خپلې څېړنې نورې هم پراخې او ژورې کړي.

۲. د معناپوهنې په اړه دې له عربي، انګلیسي، دري، اردو، فرانسوي، روسي او الماني ژبو څخه مقالې او آثار را وژباړل شي.

۳. د معناپوهنې موضوع، په اصل کې د ژبپوهنې علم دی، ځوان څېړونکي دې دا مسئله د ادبپوهنې او عمومي سیمانتیک له زاویو هم وڅېړي.

۴. د معناپوهنې اصطلاحات دې وڅېړل شي، په دې اړه دې د پښتو ژبې زده کوونکو لپاره یو لارښود اثر هم برابر شي. په دې ډول به مو، له زده کوونکو سره لویه مرسته کړې وي.

۵. د معناپوهنې تاریخچه دې ولیکل شي، د دې موضوع په اړه چې هر چا له هرې کړکۍ نه دې علم ته په کوم نظر کتلي، د هغو لید دې په ناپېیلي ډول بیان شي او د دې موضوع په روښانتیا کې دې د هغو ونډه او سهم څرګند شي.

## مأخذونه


۱. زیار، مجاور احمد. مانا پوهنه. دانش خپرندویه ټولنه، اسد دانش مطبعه: کابل، ۱۳۹۶هـ. ل کال، ۱٦مخ.

۲. لودین، دولت محمد. لغت پوهنه. سریزه، سمون او زیار: محمد داود عربزی. دویم چاپ وار، ختیځ خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۹هـ.ل کال، ۴۱ مخ.

۳. لغت پوهنه. ۴۰مخ.

۴. مانا پوهنه. ۱۴مخ.

۵. لغت پوهنه. ۴۲مخ.

٦. لغت پوهنه.۴٦مخ.

۷. غضنفر، اسدالله. جادوګر هنر. لومړی چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۳هـ. ل. کال، ۷ مخ.

۸. صابر، لطف الله. د متلونو معنوي او مفهومي اړخونه (مقاله). زېری (جریده)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۹۹هـ. ل کال، ۳٦مه ګڼه، لومړی مخ.

۹. د متلونو معنوي او مفهومي اړخونه (مقاله). لومړی مخ.
۱۰. غضنفر، اسدالله. د اشاري کلمو پېژندنه او ښکلا (مقاله). زېری (جريده). د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳۹۷هـ. ل کال، ۱-۲مه گڼه، دويم مخ.
۱۰. غضنفر، اسدالله. د اثر ادبيت (مقاله). زېری (جريده). د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳۹۴هـ. ل کال، ۲۴مه گڼه، لومړی مخ.
۱۱. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. پکتوس خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۹٦هـ. ل کال، ۵۳.
۱۲. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. ٦۴مخ.
۱۳. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. ۵۷مخ.
۱۴. تڼيوال، مولاجان. ژبه او ټولنه. د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، شعيب مطبعه: کابل، ۱۳۸۸هـ. ل کال، ۸۲مخ.
۱۵. تڼيوال، مولاجان. ژبه او ټولنه. ۱۱مخ.
۱٦. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. ۱۱مخ.
۱۷. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. ۱۱مخ.
۱۸. ارغند، ذبيح الله صاحب. مانا پوهنه. ۳۳مخ.
۱۹. ځوليزی، محمد عثمان. ژبپوهنيز سيند (انگليسيي – پښتو له پښتو ادايني سره). د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، لايف ستار مطبعه، کابل، ۱۴۰۱هـ ل کال، الف مخ.
۲۰. يمين، محمد حسين. اساسات معناشناسی. چاپ دوم، بنگاه انتشارات ميوند. کابل، سال ۱۳۹۲هـ. ش، ص ۳.

ﺧﭙړندوی محمد طاهر شرر ساپی

# د کاروان او ایلیا ابوماضي د دوو شعرونو موازنه
# مقارنة بين قصيدتين لبيرمحمد كاروان وإيليا أبو ماضي

المحقق محمد طاهر شرر صافى

**الخلاصة**

في هذا البحث تم إجراء المقارنة الفنية والموضوعية بين قصيدتين، إحداهما قصيدة للشاعر الباشتو بيرمحمد كاروان تسمى (الضوء المضطرب) والقصيدة الأخرى للشاعر العربي الشهير إيليا أبو ماضي، وهذه القصيدة تسمى (قصيدة المساء)، كلاهما من شعراء القرن العشرين، وكلاهما من شعراء المهجر، قصائد كلا الشاعرين بحسب الشكل من نفس النوع، كل قسم من القصيدة له قافية منفصلة، والتي لعبت دورا هاما في موسيقى القصيدة، وتبدأ قصيدة ايليا ابوماضي بالاستعارة المكنيه اما قصيدة بيرمحمد كاروان فتبدأ بالجملة الانشائيه، كلتا القصيدتين الرومانسيتين مبنيتان على الطبيعة. إيليا أبوماضي شاعر متفائل وقد جسد فلسفته في هذه القصيدة على احسن الشكل، استخدمت في قصيدة كاروان حاسة السمع والبصر لانهما مناسبتان مع جوهر القصيده، لكن في قصيدة ايليا ابوماضي استخدمت حاسة الشم بيد حاستي السمع والبصر مطابقا مع روح القصيدة، يفتتح ايليا ابوماضي قصيدته بأجواء من التشاؤم والخوف بهدف تحريك مشاعر المتلقي وأحاسيسه، من خلال تصوير الطبيعة بصورة قاتمة توحي باليأس والمأساة ثم يبين أسباب هذا الخوف والياس وحله، كما تبدا قصيدة كاروان بصور الليل المخيفة ثم تكشف ضمناً أن الإنسان بنفسه يخلق بيئة من الخوف والشجاعة في نفسه و يشير الى حله، و في كلا القصيدتين رسم هاتين الصورتين

بشكل فني، ففي قصيدة كاروان تتزاحم الصور الخيالية اكثر من الصور الواقعيه، اما الصور الفنيه في قصيدة ايليا ابوماضي أكثر واقعية وجمالا.

## لنډيز

په دې څېړنه کې د دوو شعرونو ترمنځ هنري او موضوعي موزانه شوې ده، يو شعر د پښتو ژبې د نوښتگر شاعر پيرمحمد کاروان دی چې (کاواکه رڼايي) نومېږي او بل شعر د عربي نامتو شاعر ايليا ابوماضي دی، دا شعر (قصيده المساء) نوميږي، دواړه د شلمې پېړۍ شاعران دي، دواړه د هجرت شاعران دي، د شکل له مخې د دواړو شاعرانو شعرونه يو ډول دي، د شعر هره مقطع جلا قافيه لري چې د شعر په موسيقۍ کې يې اساسي رول لوبولی دی، د ايليا ابوماضي شعر په مکنيه استعاره او د کاروان شعر په انشائيه جمله پيلېږي. دواړه رومانتيک شعرونه د طبيعت پر مټ جوړ شوي دي. ايليا ابوماضي يو متفائل شاعر دی او دغه فلسفه يې په دې شعر کې ډېره ښه مجسمه کړې ده، په دواړو شعرونو کې د باصرې پر حاسې سربېره د سامعې له حاسې څخه گټه اخيستل شوې ده چې د شعر له روح او روان سره برابر دی، خو د ابوماضي په شعر کې له شامې حاسې څخه هم گټه اخيستل شوې ده، د ايليا ابوماضي په شعر کې لومړني انځورونه له شپې څخه راولاړ شوې وېره تمثيلوي. د دې وېرې لاملونه او د هغې حللاره په گوته کوي، د کاروان شعر هم د شپې په وېروونکو انځورونو پيل شوی دی او بيا په ضمني توگه څرگنده شوې ده چې انسان خپله خپل ځان ته د وېرې او زړورتيا چاپېريال جوړوي، نو په شعر کې يې دغه دواړه انځورونه په ډېر هنريت ترسيم کړي دي، د کاروان په شعر کې د خيالي انځورونو هجوم ډېر دی او د ايليا په شعر کې رياليزم او د پيغام د ښايسته کولو انځورونه زيات دي.

## سريزه

پښتو ژبه اوس له هغه حالت نه په راوتلو ده چې له نن څخه کابو ۴۰۰ کاله پخوا يې خوشحال خان په اړه ويلي و:

چا يې پلو د جمال وانخيست

پښتو لا هسې بکره پرته ده (۲)

د نړۍ په پوهنتونونو کې لوســتل کېږي، په نړيوالو پوهنتونونو کې په کې دکتوراوې کېږي، خو لا اوس هم چې څومره مناســبه ده هغومره کار ورته نه دی شــوی، موږ له

نړیوالو څخه د علم په هر ډګر کې وروســـته پاتې یو، نو موږ نورې نړۍ ته د علم په برخه کې څه نه شـــو ورکولای، یوازې ادبیات دي چې نړۍ ورته لېواله ده، ځکه چې د یو ملت ادبیات د دغه ملت د تاریخ، دود، فرهنګ، غوښـــتنو، ناخوالو او د ژوند تېرولو زېرمه ده. په پښتو ادب کې ځینې دا سې قصیدې او ناولونه شته دي چې له نړیوالو ادبیاتو سره د ســـیالۍ جوګه دي. په دې مقاله کې د عربي ژبې مشـــهور او نامتو شـاعر ایلیا ابوماضي او د پښـتو ژبې د نوښـتګر شـاعر پیرمحمد کاروان د دوو شـعرونو ترمنځ ادبي موازنه شـوې ده، دواړه شـعرونه تحلیل شـوي او پرتله یې شـوې ده. ولې دا دوه شـعرونه انتخاب شـوي دي؟ دواړه د شـلمې پېړۍ شـاعران دي، که ایلیا ابوماضي له لبنان څخه مصـــــــر ته د فقر او غریبۍ له امله کوچېدلی دی، نو پیرمحمد کاروان هم په سختو لارو د اوښانو د کاروان ځاروانی کړې ده، که په ایلیا د مصرـ حکومت د هغه د سـیاسي شـعرونو له امله فشـار راوړی او امریکا ته کوچېدلی دی، نو کاروان د روسانو د یرغل له امله پېښور ته هجرت کړی دی. ایلیا ابوماضي په امریکا کې د قلم ټولنې غړی پاتې شـوی او کاروان په پېښـور کې د ازادو لیکوالانو د ټولنې غړی پاتې شوی دی، د دې دواړو لویو شاعرانو له شعرونو مې یوه یوه قصیده د مقارنې لپاره غوره کړې ده، د ایلیا ابوماضي قصیده د (ما نسام) په نامه او د کاروان (کاواکه رڼایي) تر سرلیک لاندې ده، دواړه رومانتیک شـعرونه دي، د شـکل او محتوا له مخې یو بل ته نږدې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د پښتو ادبیاتو په برخه کې یوه نیمګړتیا دا ده چې تر اوسه زموږ ادبیات له نړیوالو ادبیاتو سره نه دي پرتله شوي، نه یې موازنه شوې او نه یې مقارنه شوې، په دې برخه کې یوازې یو څو مقالې خپرې شوې چې په نشت حساب دي، کومې مقارنې چې شوې بدبختانه د کتاب په بڼه ډېرې کمې خپرې شوې دي، په دې برخه کې امان الله ساپی او د کابل پوهنتون د عربي ادبیاتو استاد دکتور یار زمان منګل یادولو وړ دي. د نورو ژبو له شعرونو سره د پښتو ژبې د شعر موازنه او پرتلنه مبرم ضرورت دی، دا برخه ډېره خواره ده، په دې برخه کې تر اوسه ډېرې کمې مقالې لرو، که دا څېړنې وشي نو موږ ته به د خپلې ژبې د شعرونو مقام او معیار څرګند شي او کوم کمی چې تر سترګو کېږي، هغه به بشپړې شي.

## د څېړنې موخې

په پښــتو ژبه کې د نورې نړۍ له ژبو سره د شــعرونو موازنه او مقایســه په نشــت حساب ده، په دې برخه کې ډېر کم څه تر سترګو کېږي، نو بایده دي دا برخه غني او شتمنه شي چې د نړۍ له ادبیاتو سره په مقایسوي او مقارنوي توګه اشنا شو.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ ایلیا ابوماضي څوک دی؟

۲ـ ولې د ایلیا ابوماضي شعر د کاروان له شعر سره انتخاب شوی دی؟

۳ـ د دواړو شعرونو تر منځ مشترک ټکي کوم دي؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي او روش یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

### د ایلیا أبو ماضي پېژندنه

ایلیا ابوماضي (۱۸۸۹ – ۲۳ نومبر ۱۹۵۷م)[۱] لبناني شاعر دی. د شلمې پېړۍ د مهاجرو شاعرانو په سر کې ځای لري، په یوې متوسطه کورنۍ کې زېږېدلی دی، په خپل کلي سوا کې یې ابتدایي زده‌کړې بشپړې کړې؛ په محیدثه مکتب کې شامل شو، کله چې په لبنان کې فقر او غریبۍ وځاپه، نو په ۱۹۰۲م کال مصر ته مهاجر شو، له خپل تره سره یې د تنباکو په سوداګرۍ کې مرسته کوله، په مصر کې له انطون الجمیل سره مخامخ شو، انطون یې له ذکاوت څخه اغېزمن شو، نو د «الزهور» مجلې ته یې دعوت ورکړ. لومړنۍ قصیدې یې همدلته خپرې کړې او په ۱۹۱۱م کال یې د «تذکار الماضي» (تېر یادونه) تر عنوان لاندې یې لومړی دېوان د مصر مطبعې چاپ کړ، ابوماضي دغه مهال دوه یشت کلن و. [۲]

ابوماضي د وطنپالنې او سیاسي شعرونو په لیکلو لاس پورې کړ، نو د حکومت له خوا تر څارنې لاندې شو، هم هغه و چې په ۱۹۱۲م کال د امریکا متحده ایالاتو ته کډوال شو، څلور کاله له خپل ورور سره په اوهایو کې پاتې

شو او بیا نیویارک ته وکوچېد، له جبران خلیل او میخائل نعیمه سره یې په ګډه د قلم ټولنه رامنځ ته کړه.[۳]

په ۱۹۲۹م کال یې د «السمیر» مجله راووېستله چې د ایلیا ابوماضي د ادب لومړنی مصدر شمېرل کېږي او همدارنګه د مهاجرت د ادبیاتو مهم مصدر دی، له دې پرته په کې د مهاجرت ټول ادیبان شته دي، دا مجله د ده تر مړینې خپرېده. ابوماضي په خپله فلسفه کې نېکپاله او ریالست شاعر و، ده دغه فلسفه په قصیدو کې مجسمه کړه، تاریخپوه ادیب حنا الفاخوري یې په اړه وایي: (ایلیا ابوماضي له نظره ژوند یو چانس دی، انسان ته بایده دي چې غنیمت یې وګڼي، په نعمتونو او ښکلاوو یې سیراب شي).

## د ایلیا ابوماضي آثار

د ابوماضي شعرونه د تفاؤل او نېکپالۍ په رنګ رنګ دي، د ده مشهور دېوانونه دا دي:

- «تذكار الماضي»، (په الإسكندرية کې په ۱۹۱۱م کال چاپ).
- «إيليا أبو ماضي»، (په نیویارك کې په ۱۹۱۸م کال چاپ).
- «الجداول»، (په نیویارك کې په ۱۹۲۷م کال چاپ).
- «الخمائل»، (په نیویارك کې په ۱۹٤۰م کال چاپ).
- «تبر وتراب»، (په ۱۹٦۰ کال چاپ).

## پیرمحمد کاروان

پیرمحمد کاروان د نورمحمد زوی په ۱۳۳۸ هجري شمسي کال د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ د نریزې په کلي کې زېږېدلی دی، ابتدایه زده‌کړې یې په خپل کلي (نریزې) کې وکړې، متوسطه زده‌کړې یې د خوست په غرغښت لېسه کې ترسره کړې او ثانوي زده کړې یې د خوست په میخانیکي لېسه کې کړې دي. له ۱۳۵٦ تر ۱۳۵۸ لمریز کال یې د پلخمري او کندهار په نخي نساجیو کې د فني مامور دنده درلوده. افغانستان ته دروسي پوځونو د راتګ پرمهال خپل کلي ته راستون شو، په بزګرۍ او پر اوښانو د بارونو په وړلو بوخت

شو. په ۱۳٦۲ل کال کې د څو میاشتو لپاره ایران ته لاړ او همدلته یې له نړیوالو ادبیاتو سره اشنایي پیدا شوه. له هغه وروسته پېښور ته مهاجر شو او له ۱۳٦۹ل تر ۱۳۷۱ل کلونو پورې په پېښور کې د آزاد افغانستان د لیکوالو د ټولنې غړی شو، په خپلواکی مجله او د وفا په ورځپاڼه کې یې هم لیکنې کولې. په ۱۹۹۳م کال د بي بي سي د «نوي کور نوي ژوند» ادارې کې د پښتو او فارسي ډرامو د پروف ریډر په حیث وټاکل شو . وروسته د همدې ډرامې د پښتو برخې لیکوال شو، نږدې دوه ویشت کاله یې په دې برخه کې کار وکړ. په ۲۰۱٦م کال له اېکول اکسپېس دفتر سره یې د لیکوال په حیث دنده پیل کړه، د «یو کلی زر غږونه» ډرامه یې لیکله، چې د آزادی له راډیو خپرېده. په ۲۰۱۹ کال کې یې «د افغان ماشومان یې لولي» له پروژې سره د نوي نصاب په برخه کې کار پیل کړ. دوه کاله کم و زیات یې کار وکړ. د ماشومانو لپاره یې د نصاب په لیکلو کې برخه واخیسته. شعرونه او وړې کیسې یې ولیکلې. د پښتو ژبې د دې نوښتگر شاعر د شعر چینه هله راوخوټېده چې خپل وطن یې پرېښود، (یاقوت لا شي قیمتي چې وطن پرېږدي) او دا طبیعي ده چې له نورو فرهنگونو، ادبیاتو او شعر سره نږدېوالی د شاعر فرهنگ او ثقافت ته وده ورکوي، نوې تجربې راخپلوي او شعر یې ارتقاء کوي. ښاغلي کاروان تر دې دمه دغه شعري او نثري اثار لري چې ځینې یې لا د چاپ په گاڼه نه دي پسولل شوي:

له ماښامه تر ماښامه، (د شعرونو مجموعه).

له نرگسه تر نرگسه، (د لنډو کیسو ټولگه).

چنار خبرې کوي، (د شعرونو ټولگه).

د ښاپېرۍ ورغوی، (شعري ټولگه).

غره ته روان سړی، (لنډې کیسې).

کاروان خبرې کوي (پر شعرونو کره کتنه، هنري نثرونه او شاعرانه خاطرات دي، چې بازمحمد عابد راټول کړي دي).

یو زرغون د نغمو سیند (دا کتاب د کاروان د درې واړو لومړنیو شعري ټولگو گډه مجموعه ده).

زر زري وزرې، (د شعرونو ټولګه).

نغمه زېږدې زمانې (شعري ټولګه).

خوب نو داسې رښتیا کېږي.

د سولې سبق (ماشومانو ته شعرونه).

**ناچاپ آثار**

مورې مورې تږی یم، (مور ته شعرونه).

یو شمېر لنډې کیسې (لا یې نوم ورته نه دی ایښی).

راډیویي او تلویزیوني ډرامې.

هنري خاطرې، واړه نثرونه او پر شعرونو کره کتنه.

یوه اونۍ د هنرونو په وطن کې (د هند سفرنامه ده چې څه برخه یې له خوست نه خپرېدونکې پیوستون مجله کې خپره شوې هم ده).

**تحلیل او شننه** قصیدة المساء دا عربي معاصره قصیده إیلیا أبو ماضي پنځولې ده، په دې قصیده کې ژوند ته د ایلیا فلسفي نظر مجسم شوی دی، ډېر خلک (د سلما د شخصیت نمونې ) دي، په بدبختۍ کې ژوند کوي، دوی یوازې د طبیعت تیاره رنګونهویني، خپل ژوند په وهمونو کې تېروي، د ماضي په درد کې اوسېږي، له مستقبل نه وېره لري، نو د همدې قصیدې له مخې یې هیلو او د طبیعت له ښکلا څخه خوند اخیستلو ته رابولي.

• السحبُ ترکضُ في الفضاءِ الرّحبِ رکضَ الخائفینْ[۴]

و الشمسُ تبدو خلفها صفراءَ عاصبةَ الجبینْ

و البحرُ ساجٍ صامتٌ فیه خشوعُ الزاهدینْ

لکنّما عیناكِ باهتتان في الأفقِ البعیدْ

سلمی... بماذا تفکّرینْ ؟

سلمی... بماذا تحلمینْ ؟

ژباړه:

ورېځې په پراخه فضاء کې ترهېدلې منډې وهي

لمر پسې شاته ژېړه‌ګونه سر تړلی ښکاري

سمندر چپ چوپ دی، د زاهدانو له خشوع ډک دی

خو ستا دواړه سترګې د افق په څنډو پورې نښتي دي
سلما.. د څه فکر کوې؟
سلما.. کومو خیالونو په مخه کړې یې؟

ایلیا ابوماضي خپل شعر د خبري جملې پر مټ په وېرووونکي منظر پیل کړی دی، د وریځ ترهېدلې منډې، د لمر ژېړه ګونه، تړلی سر، د سمندر وېرووونکې چوپتیا او د اسمان په څنډو پورې د سلما د سترګو نښتل. ایلیا ابوماضي غواړي چې د خپل پیغام لپاره یوه سناریو جوړه کړي چې په مخاطب باندې اغېز وکړي. په شعر کې سلما یو سمبول دی، د هغه چا لپاره کارېدلی چې د ماضي دردونو کې ژوند کوي او له مستقبل څخه وېره لري، خو (لکن) حرف په خپله نحوي معنا کې نه دی کارول شوی، له (لکن) وروسته حکم به له مخکې نه مخالف وي، خو دلته مخالف نه دی.

خو د کاروان شعر په انشائیه جمله پیلېږي:

ګوره! راروان دی راغی ځغلنده مشال دی
ستوری، ته وا غشی سور په وینو د غزال دی
شپه ده نیمه شپه ده، د ښامار په خوله کې لال دی
پړک وهي د یار په سپینه ټنډه شینکی خال دی
شنې لمبې له جام خېژي کاواکه رڼایي ده
رېږدمه له ډاره خطرناکه رڼایي ده

په شعر کې انشائیه جملې د خبریه جملو په نسبت خوځنده دي، مخاطب له ځان سره شریکوي. د کاروان شعر هم په وېرووونکي منظر پیلېږي، شپه ده، د شاعر په نړۍ کې ستوری هم لکه د غرڅنۍ په وینو لړلی غشی راروان دی، نیمه شپه ده، د ښامار په خوله کې لال هم یو بوږنوونکی انځور دی چې دواړه د شپې او سپوږمۍ سمبولونه دي، په دې وېرووونکي منظر کې د یار پر سپینه ټنډه شینکی خال هم د شاعر د درونۍ نړۍ ښکاروندویي کوي چې خپله وېره راکمه کړي، خو له جام نه هم شنې لمبې خېژي او رڼا هم کاواکه او اوتره ده چې دغه کاواکۍ د انځور په لا روښانه کولو کې مهم رول لوبولی دی. دواړه شعرونه په وېرووونکي منظر پیلېږي، ایلیا ابوماضي په پیل کې د وریځو په

وارخطا منډو کې ټینگار راغلی، دغه ټینگار په مفعول مطلق رامنځ ته شوی دی، د دغه ویروونکي منظر خام مواد (وربځ، لمر، اسمان او سمندر دي).

د کاروان شعر هم په وېروونکي منظر پیلیږي، په دې کې هم لفظي ټینگار دی، (راغی، راروان دی) د دې وېروونکي منظر خام مواد (شهاب ثاقب (ویشتونکی ستوری)، د غرځه په وینو سور غشی، ښامار او شنې لمبې دي). ایلیا ابوماضي په لومړنیو بیتونو کې له سلما نه د فکر او اندېښنو پوښتنه وکړه، اوس د هغې تفصیل ځنې پوښتي:

• أرأیتِ أحلامَ الطفولةِ تختفي خلفَ التّخومْ؟

أم أبصرتْ عیناك أشباحَ الکهولةِ في الغیومْ؟
أم خفتِ أن یأتيَ الدّجی الجاني و لا تأتي النجومْ؟
أنا لا أری ما تلمحینَ من المشاهدِ إنّما
أظلالها في ناظریكِ
تنمُّ، یا سلمی، علیكِ

ژباړه:

ایا د ماشومتوب نخښې درنه د اسمان په کنارو کې پټېږي؟
که سترگو دې په وربځو کې د زړښت نښې ولیدې؟
یا له دې ډارېږې چې پټوونکې شپه به راشي او ستوري به رانه شي؟
خو ته چې کومې منظرې وینې زه یې نه وینم
سیوري یې یوازې ستا په سترگو کې دي
سلما دا سیوري به دربانديې رالوی شي

دا مقطع په انشائیه جمله پیلېږي چې د شعر له روح او روان سره برابر دی، سلما له ځان سره شریکه کړي، ورته وایي: سلما! تا د ماشومتوب ښکلا او یادونه ولیدل چې د زماني له شمال سره والوتل، که دې د بوډۍتوب نخښې په کې ولیدلې چې یوه ورځ به ستا دروازه هم وټکوي؟ که نه په خپلو اندېښنو کې له دې وېرېږې چې سختې ورځې به راشي او خواږه یادونه او هیلې به متلاشي شي، خو هغه څه چې ته یې وینې زه یې نه وینم، د دې سیوري یوازې ستا په لېمو کې دي. دا ستا په نړۍ کې رامنځ ته شوي دي. ایلیا ابوماضي

دا را په ګوته کوي چې وهم بیروني وجود نه لري، دا د شخص په جود کې راپیدا کېږي او ورځ تر بلې لویږي. کاروان لا هم هغه د وېرووونکي منظر د روښانه کولو هڅه کوي چې د ده په وجود کې راټوکېدلی دی:

ستورو را په ګوته کړې مستورې بلاګانې

تورې تورې ونې لکه تورې بلاګانې

شاته يې ولاړې نورې نورې بلاګانې

راغلې راپسې ادکې مورې بلاګانې

هاغه ده سپوږمۍ رانه په منډه شوه روانه

سر به بیا راوباسي د ورېځو له ګرېوانه

کاروان له خپلو نفسیاتو سره سم د دغه وېروونکی منظر تشریح کوي او وايي: که څه هم ستوري د لار موندنې سمبولونه دي، خو رڼا يې راته پټې بلاګانې بربنډې کړې، ونې هم تورې ښکاري، داسې لکه تورې بلاګانې، خو دا بلاګانې پای نه لري، شاته يې نورې ولاړې دي. کله چې دا وېروونکی منظر لویږي او سپوږمۍ ترې هم منډه وهي، نو ځان ته ډاډ ورکوي چې بیا به له ورېځو نه سر راوباسي، په دې سخت او وېرووونکي منظر کې له ورېځو نه د سپوږمۍ سر راوېستل استعاري جمله ده، سپوږمۍ او ورېځ دوه سمبولونه دي چې سپوږمۍ د اسانۍ او ورېځ د سختۍ لپاره کارول شوې ده، ګوندې راته وايي چې ٱمی مي نج نحَّ (الشرح: ۵): بېشکه له سختۍ سره اساني شته. که ایلیا ابوماضي د اسمان په څنډو کې د ماشومتوب د یادونو د متلاشي کېدو او د تیارې د راتلو او ستورو د نه راتلو خبره کوي، کاروان بیا د ستورو پر مټ د پټو بلاګانو د څرګندېدو خبره کړې ده، لا تر اوسه د طبیعت پر مټ باندې انځور شوي وېرووونکي منظرونه یو پر بل پسې روان دي. د ایلیا ابوماضي هنر دا دی چې د وېرووونکو تصویرونو لپاره يې یو بل شخص تمثیل کړی دی، یعنې د تشخص له فن څخه يې کار اخیستی. خو د کاروان په شعر کې هر څه په خپله د شاعر په بدن کې روان دي.

• إنيّ أراكِ كسائحٍ في القفرِ ضلّ عن الطّريقْ

يرجو صديقاً في الفـلاة، وأين في القفرِ الصديقْ

يهوی البروقَ وضوءها، و يخافُ تخدعهُ البروقْ
بل أنتِ أعظمُ حيرةٍ من فارسٍ تحت القتامْ
لا يستطيعُ الانتصارْ
و لا يُطيقُ الانکسارْ

ژباړه:

داسې راته ښکارې لکه سيلاني چې په دشته کې له لارې ورک شوی وي
په دشته کې ملګری غواړي، خو په دشته کې ملګری څه کوي
د تالندي رڼا راکوزېږي او وېرېږي چې تېر يې نه باسي، ته له هغه اس سپور نه هم په ډېر حيرت کې يې چې د ګردونو لاندې ولاړ دی
نه د بري وس لري
او نه د ماتې زغم

ايليا ابوماضي د سلما يو بل تصوير وړاندې کوي، ورته وايي: ته داسې يې لکه له کوم سيلاني څخه چې په دښته کې لاره ورکه شوې وي، په دښته کې ملګری لټوي او په دښته کې ملګری څه کوي، تالندې او برېښنا راکوزېږي، وېرېږي چې تېر يې نه باسي، بلکې په تياره کې له ولاړ اس سپور نه هم ډېر په حيرانتيا کې دی، هغه اس سپور چې نه د بري وس لري او نه د ماتې زغم.

ټپ شي ټپ شي ټکی ټکی پرخه پر ګلپاڼو
کله کله سوې قلقله راشي د زاڼو
باد هم ياغي آس دی خرپ يې وايستو د کاڼو
کله په دره کې ششنی وکاندي د بياڼو
شغ شو، شوپرک يې د بڼو په خوا کې تېر شو
نوی يې نظر شو هغه زوړ نظر يې هېر شو

کاروان لګيا دی او دغه منظر ته نور هم د وېرې جامې ور اغوندي، د وېرې په وروستي بريد ولاړ دی، هر څه ته غوږ غوږ دی، آن پر ګلپاڼو د پرخې د لګېدو غږ اوري، د زاڼو د وزرو شغهار اوري، د باد غږ اوري، داسې لکه د بياڼو شنهار، د ماښام ښاپيرک، د وزرونو شغ اوري، د ماښام ښاپيرک په اورېدو سره د اورېدونکي ذهن ته شپه تداعي کېږي، کاروان په دې مقطع کې د سامعې

حاسه پر ځای کارولې ده چې دغه وېره مجسمه کړي، د هر هغه شي اغېز زيات وي چې څومره زيات حواس يې درک کړي. لا تر اوسه په دواړو شعرونو کې د وېرې منظرې او انځورونه نور هم روښانه کېږي.

• هذي الهواجسُ لم تكن مرسومةً في مُقلتيكِ

فلقد رأيتكِ في الضّحى و رأيتهُ في وجنتيكِ
لكنْ وجدتكِ في المساء وضعتِ رأسكِ في يديكِ
و جلستِ في عينيك ألغازٌ، و في النّفس اكتئابْ
مثل اكتئاب العاشقينْ
سلمى... بماذا تفكّرينْ ؟

ژباړه:
دا اندېښنې خو ستا په سترګو کې نه وې
ما په غرمه کې وليدلې او ستا په اننګو کې مې وليدلې
خو ماښام مې وليدلې چې خپل سر دې په خپلو لاسونو ايښی و
په سترګو کې دې ناحل پوښتنې او په نفس کې دې اندېښنې ناستې وې
د عاشقانو د اندېښنو په څېر
سلما.. د څه فکر کوې؟

ايليا ابوماضي سلما ته وايي چې دا اندېښنې خو ستا په سترګو کې نه وې، ما سهار وليدلې، ستا په اننګو کې مې وليدلې، خو ماښام کې دې په خپلو مړوندونو سر ايښی و، په سترګو کې دې ناحل پوښتنې وې، په نفس کې دې وېره او اندېښنه وه، کټ مټ د عاشقانو د اندېښنې په څېر ، نو سلما ته د څه شي فکر کوې؟ ايليا ابوماضي په تدريجي توګه د خپل پيغام د رسولو هڅه کوي. خو کاروان د شپې له بوږنوونکي انځور راوځي او د طبيعت په زړه پورې انځور وړاندې کوي، ګوندې په وجود کې يې راولاړه شوې اندېښنه او وېره ارامه کړي، کاروان غواړي لوستوال ته ښکاره کړي چې خوښي، خپګان، وېره او سکون ټول په خپله شخص پورې تړلي دي، شخص کولی شي چې خپله نړۍ په خپله جوړه کړي، داسې چې څنګه يې دی غواړي، که يې مخکې د وېرې نړۍ جوړه کړه، نو په دې بيتونه کې راته په زړه پورې رومانتيک منظر جوړوي:

څه ګورم، د ګل پښو ته پرته رامه نجلۍ وه
سپينه را پرېوتې له شينکي بامه نجلۍ وه
دا بې شرمه لوڅه ښه پوره خامه نجلۍ وه
خټ خټ په خندا وه مسته بې جامه نجلۍ وه
ورغلم نجلۍ نا، د رڼو اوبو چينه وه
ويې څښله يخه لکه زر ځله کينه وه

کاروان د چينې داسې تصوير وړاندې کوي چې د نړۍ هيڅ رسام يې نه شي انځورولی، چينه له هغې سپينې نجلۍ سره تشبيه کوي چې د ګل پښو ته ارامه پرته ده او په کټ کټ خاندي، داسې يخه ده لکه زر ځله کينه. ايليا ابوماضي لا هم هغسې سلما ته وايي چې ته له دې وېره لرې چې په ځمکه د رڼاګانو تختونو راوغورځېدل، په شنيليو کې چوپتيا واکمنه شوه، مرغۍ خپلو ځالو ته راوګرځېدې، ژوند ساکن شو، شپې ښارونه د کليو په څېر پټ کړل، کوډلې يې د ماڼيو په څېر او ازغي يې د ياسمين په څېر پټ کړل، هر څه ته يې تور رنګ ورکړ، د شپې په نزد جبه او سيند يو شی دی، د خوښۍ موسکا د دردمنو اوښکو په څېر پټوي، ښکلا د بدرنګيو په څېر له پردې لاندې کوي، شپه خپلې هيلې لري، خپل اسمان لري، خپل ستوري لري، که د ښار لوړې ژورې يې وپوښلې، نو له ګل نه يې وږمې او له اوبو نه يې شړهار نه دی اخيستی، هېڅکله نه! او نه يې په فضا کې د وږمو مسير ته تغيير ورکړی دی، د ونو په پاڼو کې لا غږ شته دی او د سهار وږمې لا ساه اخلي.

بلبلان لا چغېږي او سندرې وايي. نو د غره په لمنو کې د ويالو غږ ته غوږ شه، په باغچو کې د ګلونو رالوتونکې وږمې بوی کړه، په اسمان کې ځلېدونکو ستورو نه تر ځلېدو خوند واخله، پخوا له دې چې د لړو او لوګيو په څېر زمانه راشي، بيا به نه حوض وينې او نه به د اوبو غږ خوند درکوي.

بالأرضِ كيف هوَتْ عروشُ النّورِ عن هضباتها ؟
أم بالمروجِ الخضرِ سادَ الصّمتُ في جنباتها ؟
أم بالعصافيرِ التي تعدو إلى و كناتها ؟
أم بالمسا ؟ إنّ المسا يُخفي المدائنَ كالقرى

و الكوخَ كالقصرِ المكينْ
و الشّوكُ مثل الياسمينْ
• لا فرقَ عند اللّيل بين النهرِ و المستنقعْ

يُخفي ابتساماتِ الطروبِ كأدمعِ المتوجّعْ
إنّ الجمالَ يغيبُ مثل القبحِ تحتَ البرّقعْ
لكنْ لماذا تجزعينَ على النهارِ و للدّجى
أحلامهُ و رغائبهْ
و سماؤهُ و كواكبهْ ؟
• إن كان قد ستر البلادَ سهولها ووعورها

لم يسلبِ الزهرَ الأريج و لا المياه خريرها
كلّا، و لا منعَ النّسائمَ في الفضاءِ مسيرها
ما زالَ في الورقِ الحفيفُ و في الصّبا أنفاسها
و العندليب صداحهُ
لا ظفره و جناحهُ
• فاصغي إلى صوتِ الجداولِ جارياتٍ في السّفوحْ

واستنشقي الأزهارَ في الجنّاتِ ما دامت تفوحْ
و تمتّعي بالشّهبِ في الأفلاكِ ما دامتْ تلوحْ
من قبلِ أن يأتيَ زمانٌ كالضّبابِ أو الدّخانْ
لا تبصرينَ به الغديرْ
و لا يلذّ لك الخريرْ

ژباړه:
په دې چې د رڼاګانو تختونه په څمکه ځنګه رانسکور شول؟
که په دې چې د شنیلیو په څنډو کې چوپتیا ځنګه واکمنه شوه؟
یا په مرغیو کې چې خپلو ځالو ته راستنې شوې؟
یا د ماښام اندېښنه کوې؟ د کلیو په څېر ښارونه پټوي
کوډلې د ماهیو په څېر پټوي

ازغي د یاسمین په څېر پټوي
شپه د سیند او جبې توپیر نه کوي
د خوښۍ موسکا د دردمن د اوښکو په څېر پټوي
ښکلا د بدرنګۍ په څېر تر پردې لاندې کوي
خو ته ولې په ورځ فریاد کوې
شپه خپلې هیلې او لېوالتیا لري
خپل اسمان او ستوري لري؟
که د ښار لوړې ژورې یې وپوښلې
نو له ګل نه یې ورمې او له اوبو نه یې شړهار نه دی اخیستی
هېڅکله نه! او نه یې په فضا کې د ورمو مسیر ته تغییر کړی دی
د ونو پاڼو کې غږ شته دی او د سهار ورمې لا ساه اخلي
بلبلان لا چغیږي
او سندرې وایي
د غره په لمنو کې د ویالو غږ ته غوږ شه
په باغچو کې د ګلونو رالوتونکې ورمې بوی کړه
په اسمان کې ځلېدونکو ستورو نه تر ځلېدو خوند واخله
پخوا له دې چې د لړو او لوګو په څېر زمانه راشي
بیا به نه حوض وینې
او نه به د اوبو غږ خوند درکوي

که ایلیا ابوماضي سلما ته وایي چې د ویالو غږ ته غوږ شه، د باغچو ورمې بوی کړه، د ستورو له پړقېدو خوند واخله، نو کاروان هم کټ مټ دغه خبره کړې، خو د خبرې د وړاندې کولو طریقه یې له ابوماضي نه بدله ده، کاروان د ویالو پرځای ابشارونه یاد کړي او د ابشارونو غږ یې له سندرو سره تشبیه کړی دی، د لمنځو او د نښترو نڅا یې یاده کړې ده، داسې سندریز منظر چې ډېرې هم ورته غوږ غوږ دي او شپه له پرخې غمي جوړوي.

بره له ابشاره را رواني دي سندرې
ښکته په ګډا دي ورته لمنځې او نښترې

ویښې دي غوړ غوړ دي او غړ نه کوي ډېرې
جوړ غمي د پرخو دي د شپې تورې زرګرې
شپه ګوره شاعره شهکاري کوي لګیا ده
نن خو دې لیدلې په رڼو سترګو رویا ده

که ایلیا ابوماضي سلما ته وايي چې که د سهار لور (ورځ) مړه شوه، نو شپه خپله ښکلا لري، خپل اسمان، خپل ستوري لري، نه یې له ویالو نه غږ اخیستی او نه یې د وږمو مسیر تغییر کړی دی، پر پاڼو باندې د نسیم غږ لا شته دی، بلبلان لا چغېږي، نو کاروان د شپې یو بل متفائل او متغیر انځور وړاندې کړی دی، که ایلیا ابوماضي د ویالو غږ یاد کړی، نو کاروان د خپلې غره‌ییزې سیمې ابشارونه یاد کړي، په لمنځو او ښنترو باندې د نسیم د لګېدو او د هغوی نڅا یې یاده کړې ده، د پرخو د غمیو یادونه یې کړې ده او شپه یې له شاعر سره تشبیه کړې ده. خو د کاروان په یو نیم بیته کې معنوي تعقید دی، معنوي تعقید له ګرامري ستونزې څخه راولاړیږي، کاروان وايي: (جوړ غمي د پرخې دي د شپې تورې زرګرې) چې موخه یې د شپې زرګرې د پرخې غمي جوړ کړي دي.

ایلیا ابوماضي خپل شعر  په دې خبره پای ته رسوي:

- ماتَ النهارُ ابن الصباحِ فلا تقولي كيف ماتْ

إنّ التأمّل في الحياةِ يزيدُ أوجاعَ الحياةْ
فدعي الكآبة والأسى واسترجعي مرحَ الفتاةْ
قد كان وجهك في الضّحى مثل الضّحى مُتهلّلا
فيه البشاشةُ والبهاءْ
ليكن كذلكَ في المساءْ

ژباړه:
د سهار لور (ورځ) مړه شوه، داسې مه وايه چې څنګه مړه شوه
په ژوند کې تأمل د ژوند دردونه ډېروي
غم او افسوس پرېږده، خوږ ژوند ته راوګرځه
په سهار کې دې مخ د سهار په څېر روڼ ځلېده

ځلا او ښکلا په کې وه

نو په ماښام کې دې هم دغسې وي

رښتیا هم د سهار لور (ورځ) مړه شوه، خو ته مه وایه چې څنګه مړه شوه، په ژوند کې ډېر تأمل د ژوند دردونه زیاتوي، غم او اندېښنه پرېږده، د خوښۍ ورځې یادې کړه، مخ دې سهار، د سهار په څېر په ښکلا ځلېده، خوښي او ښکلا په کې وه، باید ماښام همدغسې وي. ایلیا ابوماضي، د سلما په څېر شخصیتونو ته وایي: تاسې تل خوشحاله اوسئ، غم پرېږدئ، د ماضي له دردمن ژوند نه راووځئ او د مستقبل وېره له زړه وباسئ. کاروان که څه هم د شپې رومانتیک انځور وړاندې کړ، خو ډېر ژر پرې راخپره وېره بیا راپورته شوه او زړه دردوونکي انځورونه یې ولیدل:

لپې لپې وینې تویې ټکي ټکي پۍ دي

پړانګ ته ګوره پېښو لاندې یې سرې د ګل غوټۍ دي

واوره په ځنګل کې د کبلو سوې سلګۍ دي

ښخ په هاغه پربښه کې ښکرونه د هوسۍ دي

وګوره جلال ته د جمال په وینو پایي

دلته هر زوال بس د کمال په وینو پایي

په دې بیتونو کې پړانګ او غوټۍ سمبولونه دي چې پړانګ د زورور او غوټۍ د کمزوري سمبول دی، د نړۍ په دې ځنګل کې، همېشه د کمزورو چیغې دي، د ویشتل شوې هوسۍ ښکې دي، دا د طبیعت جبر دی چې جلال د جمال او ښکلا په وینو رامنځ ته کېږي او هر زوال د کمال پای ده، ګوندې کاروان راته وایي که د ظلم په چاپېریال کې خپل ځان ته هر څومره ډاډ او سکون ورکړې، خو بیا هم دربانډې وېره او خواشیني غالبېږي، ځکه چې په دې چاپېریال کې جاه او جلال ته رسېدل د مظلومانو په وینو ترسره کېږي او هر کمال د زوال په وینو رنګېږي.

**هنري تصویرونه** په دواړو شعرونو کې مکنیه استعاره غالبه ده. د ایلیا په شعر کې مکنیه استعارې: (ورېځ منډې وهي، لمر سر ټرلی دی، سمندر چوپ دی، د ماشومتوب یادونه په کنارو کې پټېږي، برېښنا به یې تېر باسي،

اندېښنې دې په سترګو کې نه وې انځور، په شنیلیو کې چوپتیا واکمنه شوه، تیاره خپلې غوښتنې او ښکلا لري، له ګل نه یې ورمې سلب نه کړې، نه یې د ورمو مسیر تغییر کړ). د کاروان په شعر کې مکنیه استعارې: (راغی را روان دی، ستورو را په ګوته کړې، هاغه ده سپوږمۍ رانه په منډه شوه روانه، سر به بیا راوباسي د وربځو له ګرېوانه، باد هم یاغي آس دی). دا ټول هغه عبارتونه دي چې شاعر په کې شیان له ذیروح سره تشبیه کړي دي.

**تشبیه:** په دواړو شعرونو کې تشبیه ګانې لرې دي، د ایلیا ابوماضي په شعر کې تشبیه: (د هغه چا په شان دې ګورم چې له لارې ورک شوی وي، د عاشقانو د اندېښنې په څېر، مخکې له دې چې د لړو او لوګیو په څېر زمانه راشي، مخ دې په سهار کې د سهار په څېر و).

د کاروان په شعر کې تشبیه ګانې: (ستوری ته وا غشی، تورې تورې ونې لکه تورې بلاګانې، باد هم یاغي آس دی)

**حواس:** د ایلیا ابوماضي په شعر کې د لیدا، اورېدا او شامې حواسو پر مټ تصویرونه جوړ شوي دي، خو د کاروان په شعر کې د سامعې حس ډېر کارېدلی دی او دا ځکه چې په شپه کې غږ تر هر څه ژر اورېدل کېږي.

**په شعرونو کې بنسټیز افکار:** د ایلیا ابوماضي په شعر کې اوڅار افکار په لاندې توګه دي:

- د لمر د پرېوتو منظر، د شپې راتګ او په سلما یې اغېز.
- د سلما ستاینه چې د لمر د غروب ننداره کوي او د ماشومتوب فکرونو په مخه کړې ده.
- له زړښت څخه د وېرې ستاینه.
- هیلې او نېکپالۍ ته بلنه.
- له خواشینۍ او د ژوند په اړه له ډېرو سوچونو څخه لرېوالي ته بلنه.

د کاروان په شعر کې اوڅار افکار:

- د ماښام رومانتیک منظرکشي او د شاعر نفسیاتي او رواني حالت.

- د دغه انځور جزئيات چې د کلي (ټوليز) انځور په روښانه کولو کې جوت نقش لري.
- پر گلپاڼو د شبنم تصویر، د باد مجسم کول.
- د ابشار او د لمنځو او نښترو انځورگري.
- د چینې هنري منظرکشي او مثبت فکر ته بلنه.

## پایله

د ایلیا ابوماضي شعر بحر کامل د (متفاعلن) په تفعیله کې ویل شوی دی، په هر ترکیب بند کې قافیه بدله شوې ده چې شعر ته یې موسیقي ورکړې ده، شعر د ترکیب بند په فورم کې لیکل شوی دی، د کاروان شعر هم ترکیب بند فورم کې لیکل شوی دی، د هر ترکیب بند قافیه جلا ده چې دې هم د شعر په موسیقۍ کې جوت رول لوبولی دی، که څه هم عربي شعر خپل بحرونه لري، خو د سیلابونو له مخې دواړه یو ډول دي، دواړه نولس سیلابیز دي. په دواړو شعرونو کې د تشبیه پر ځای له استعارې ډېر کار اخیستل شوی دی، دواړو خپل هنري تصویرونه د مکنیه استعارې پر مټ انځور کړي دي، د ایلیا ابوماضي په شعر کې د ماضي او مضارع فعلونو د کارولو ترمنځ موازنه په نظر کې نیول شوې ده، ماضي د هغو یادونو لپاره ده چې شاعر نه غواړي ور وگرځي او له راتلونکي نه وېره لري. د کاروان په شعر کې د ماضي او امر صیغه کاربدلې دي، ماضي د استمرار لپار ده او امر د تعجب لپاره کارول شوی دی (بره له ابشاره راوانې دي سندرې.... گوره! څه گورم!) د مضارع یا مستقبل صیغه په کې نه ده کارول شوې، ځکه چې شاعر جامده متحرکه انځورگري کړې ده. ایلیا ابوماضي د خپل پیغام د ښه روښانه کولو لپاره د تشخص له هنر نه کار اخیستی دی؛ په اندېښمن منظر پیل شوی دی، د وریځو ترهېدلې منډې، د لمر ترلې سر او ژېړه گونه، د سمندر وېروونکې چوپتیا. کاراون هم خپل شعر په وېروونکي منظر پیل کړی دی؛ نیمه شپه، د ښامار په خوله کې لال، شهاب ثاقب، د هوسۍ په وینو لړلی غشی. دا چې ابوماضي ریالست شاعر دی، نو په شعر کې یې تخیلي برخه کمزورې ده او ټول تمرکز یې د یو وېروونکي واقعیت په اړه کړی دی چې هغه له مستقبل نه وېره او د ماضي په یادونو

کې ژوند دی، د دغه تصویر لپاره یې سلما د سمبول په څېر کارولې ده. د کاروان په شاعرۍ کې د تخیل تومنه ډېره ده، نو ټول شعر یې له تخیلي انځورونو ډک دی، هر ترکیب بند یې تصوري او تخیلي تصویرونه لري. د ایلیا ابوماضي په شعر کې لومړی ترکیب بندونو کې له شپې وېره انځور شوې، خو په وروستیو ترکیب بندونو کې یې له دغې وېرې نه د ژغورنې لاره ښودلې ده. د کاروان په دغه غنائي شعر کې هم د دغې وېرې د لرې کولو لار ضمناً ښودل شوې ده. د ایلیا ابوماضي په شعر کې منطقي تسلسل دی، خو د کاروان شعر رواني او نفسیاتي تسلسل لري.

## وړاندیز

دا طبیعي ده چې څېړونکي کله هم په یوه ځانګړې موضوع کې څېړنه کوي، له ځینو ستونزو او اړتیاوو سره مخامخ کېږي، نو زه هم د دغه ډول مقایسوي ادب د لا ډېرې څېړنې لپاره وړاندیز کوم چې د پښتو ژبې ځینې مشهور ناولونه او شعرونه دې د نړیوالو ژبو له ناولونو او شعرونو سره مقارنه شي.

## مأخذونه


۱. خوشحال خان خټک، د خوشحال کلیات، سمون: دوست محمد کامل، اداره اشاعت سرحد: پېښور، ٦٦٧مخ.

۲. هاني الخير، ۲۰۰۹، موسوعة أعلام الشعر العربي الحديث، إيليا أبو ماضي، شاعر الحنين والأحزان. المنهل.

۳. زهیر مرزا، ایلیا ابو ماضي، (ط. الثانیه) دار الیقظه العربیه،۲۰مخ.

٤. کاروان، پیرمحمد. د ښاپېرۍ ورغوی، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۷ ل کال، ۱۲۴ مخ.

۵. عیسی الناعوري ( (۱۹۵۸، إيليا أبو ماضي رسول الشعر الحديث، لومړی چاپ. خپروندی: درالطباعه والنشر، ٦۳مخ.

٦. ایلیا ابوماضي، دیوان ایلیا ابوماضي. دارالعوده، بیروت (د، ت) ، ۷۸۴- ۷۸۸ مخونه.

خېړندوی شریف الله دوست

# د بېستون په ډبرلیک کې پښتو کلمې

# The Pashto words in Behistun Inscription

Assistant Prof. Sharifullah Dost


## Abstract

The Behistun Inscription is anaid with attending text carved 330 feet (100 meters) up a slate in Kermanshah Province, Western Iran. The work tells the story of the victory of the Persia king Darius one (522-486 BCE) over his rebellious satraps when he took the sole of the Achaemenid Empire (550-330 BCE) in 522 BCE.Old Persian is the name applied to the Persian language used in the cuneiform inscription of the Achaemenian family it can be localized as the language of south western Persia. In total the old Persian inscriptions are more then thirty but here put on the Pashto words in Behistun Inscription.



## لنډیز

د بېستون ډبرلیک په ۳۳۰ فوټه لوړتیا سره د اوسني ایران (پخواني فارس) په لوېدیځ کې د بېستون په غره کې د فارس د هخامنشي واکمن لومړي داریوش (۴۸٦ تر۵۲۲ق.م) له لوري د خپلو ساتراپیو(آیالتونو) د اېلولو او خپل برم د ښودلو لپاره کېندلې ده. دغه کتیبه په درېیو ژبو: زړې فارسي، ایلامي او اکدي په میخي لیک لیکل شوې ده. هخامنشي واکمنۍ له( ۵۵۰ څخه تر ۳۳۰ ق.م ) دوام وکړ. زړه

فارسي د فارس په سهیل لوېدیځ کې د هغو میخي ډبرلیکونو لپاره کارېږي چې د هخامنشیانو د کورنۍ له لوري لیکل شوي دي. په ټوله کې د دې ډول ډبرلیکونو شمېر تر دېرشو ډېر دی، خو دلته یواځې د بېستون په کتیبه کې پښتو کلمو ته کتنه شوې ده.



د بېستون کتیبه/ Behistun Inscription

## سریزه

د نړۍ د ژبو په کتار کې همکورنۍ او همځانګې ژبې په یو نه یو ډول له یو بل سره ډول ډول هویتي پیوندونه لري. پښتو او فارسي دواړې د اندو- اروپایي ژبکورنۍ، آریک ژبښاخ او آریاني ژبڅانګې ژبې دي. پښتو شمال ختیځه آریاني او فارسي جنوب لوېدیځه آریاني ژبه ده. په ټولیز ډول د زړې فارسي نوم د هخامنشیانو د لړۍ ژبې ته کارېږي چې د هخامنشي واکمنانو له خوا په میخي لیک باندي لیکل کېدله. همداسي زړه فارسي د فارس( Persia )په جنوب لوېدیځ کې د هخامنشي واکمنانو له لوري په یوه محدوده بومي سیمه کې ویل کېدله. د زړې فارسي ډبرلیکونه او کتیبې په اکدي او عیلامي ژبو هم ژباړل شوې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د څېړنې ارزښت په دې کې دی او دا ښیي چې پښتو ژبه په سیمه کې یوه پیاوړې ژبه ده چې ژبنۍ ریښې یې د خپل وخت د خویندو او همکورنیو ژبو په منځ کې په اسانۍ سره تر لاسه کېدای شي.

## د څېړنې موخه

په لرغونو کتیبو او متونو کې په علمي او مستند ډول د پښتو ژبې څرکونه موندل.

## د څېړنې پوښتنې

- د بېستون کتیبه په کومو ژبو او رسم الخط لیکل شوې ده؟
- ایا د بېستون په کتیبه کې د پښتو ژبې کوم ډول کلمې راغلي دي؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تحلیلي او تشریحي څېړندودونو څخه په پرتلیز ډول استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

په زړو کتیبو او متونو کې د ژوندیو او معاصرو ژبو څرکونه موندل ځکه ستونزمنه چاره ده چې زړې او مړې ژبې سلګونه پېړۍ مخکې پر ژبو چلېدلې او معاصرې ژوندۍ ژبې چې دمګړۍ د خلکو په منځ کې ویل کېږي، خورا ډېر فونولوژیکي، مورفولوژیکي، سینټېکسي او سیمانټیکي بدلونونه او اوښتونونه راغلي وي خو په دې منځ کې بیا هم د همکورنیو ژبو تر منځ داسې ژبنۍ خواوې شته چې تر ډېره یې خپل هویت او ثبات خوندي کړی وي. زړه فارسي-دري د آریانا په قلمرو کې د خپل وخت په محدوه ساحه کې د هخامنشیانو د سیاسي فرمانونو لپاره کارېدله چې په دې برخه کې یوه هم د بېستون پېژندویه کتیبه ده چې پر خپل وخت په مېخي لیک پر زړې فارسي سربېره په اکدي او عیلامي ژبو هم ژباړل شوې او لیکل شوې ده. د پښتو او زړې فارسي ترمنځ ځینې ژبني توپیرونه شته یو دا چې د فارسي ژبې د لرغونې، منځنۍ او معاصرې دورې څه نا څه اسناد لاسته راغلي دي، خو د پښتو ژبې: لرغونې او منځنۍ دوره په علمي ډول نه ده ثبوت شوې، ځکه د ثبوت لپاره یې پاخه سندونه(ډبرلیکونه، متون) تر اوسه لاس ته نه دي راغلي. ځینې پوهان د پښتو ونېڅي ویښت او لهجه د پښتو ژبې د منځنۍ دورې پاته شونې ګڼي. دمګړۍ د پښتو ژبې د زړتیا او لرغونتیا

ځرکونه په همکورنیو او همځانګو ژړو ژبو، لکه: زړې فارسي کې چې ویل کېږي؛ دوه زره پنځه سوه کلن تاریخ لري، د پرتلنې او مقایسې له لاري کتلای او موندلای شو. په دې لیکنه کې د داریوش د بېستون په ډبرلیک او زړې فارسي کې دوې نرې/nẓe(سوچه) کلمې(وژل/wažal مصدر او شګه(šaga )نوم کلمې خوندي دي را اخلو:

**وژل/wažəl**

د دې کلمې لرغونې اندو- اروپايي ريښه پروفیسور پوکورني: org* اوکينټ:g*hen ښوولې ده.زالمان او شوکوفسکي يې آرياني ريښه د: ava jata*=اَوَجَتا = اوجن، اَوَژَن/ava jan* فعل په بڼه خوندي ګڼي. په زړې ، منځنۍ او معاصري فارسي ژبه کې په بېلابېلو بڼو راغلې ده: awžadan,owžadan,awžan,owžan,jan، معنا يې کُشتن، قتل کردن او د پښتو ژبې د (وژل) مصدر معنا لري. په قوی اټکل دا مصدر او کلمه په فارسي دري او نورو معاصرو آرياني ژبو کې له پښتو ژبې څخه دخيله ګڼل کېږي، ځکه پښتو ژبې يې ټول بشپړ تاريخي -ګرامري تحول او حالتونه خوندي کړي دي چې په وروستو کرښو کې به راشي.د رولانډکينټ(KENT ) په باور دا کلمه د /جن تيی(jan tiy/ = jan =ژن تيی)، په بڼه چې ګرامري حالت يې فعل دی د داريوش د بېستون د کتيبې(DB 1,کرښه۸۹) کې راغلې ده:

**Jan**-vb.,strike,smite,defeat,(enemy, in battle):mould (brick):Av.Ĵan-

(gan – Bthl.Aiw 490)skt.han-

Grkθelva(strikes)ɸovos,murderمړکول.pIE<اندو-اروپايي ريښه: <g*hen.

**Jantiy**:(skt.hānti).DSe:36,40.DB1,89,95,2.69.(۱۴:۱۸۴مخ)

دې کلمې په فارسي ژبه کې ډول ډول تحول او تکامل کړی دی: په قابوس نامه کې راځي: "اين ديلم که مشـير او بود او راګفتی آزاده را ميازار و چون آزردی **بيوژن**، و چند کس بمشورت او هلاک شدند. "(۱۹۹/۴مخ)بل ځای کاږي: " فضلون ګفت من از تو آموختم که آزاده را ميازار و چون آزردی **بيوژن**، و اين ديلم جان در سر کار بد آموزی کرد."( هماغه:۵ مخ). په فرهنګ آنندراج کې **اوژن** او **اوژند** د له منځه تللو په معنا راغلی دی: " اوژن د فارسي د زې /ژ/ž په فتحه د روزن پر وزن ده: تيغ در دسـت تو پلنګ شکر = شير از شصت تو هژبر **اوژن** "(۱۱: ۴۹٦ مخ). په برهان قاطع کې هم د اوژن

په بڼه راغلې ده: " اوژن پر پښتو ژبې سربېره په فارسي- دري کې هم په ز- (ژ) فونيم سره د لوېدلو او له منځه تللو په معنا ده. دا لغت په پهلوي کې د( ózhan ) په بڼه راغلی دی.". په فرهنگ اميرکبير کې؛ " اوژن د پر مځکه لوېدلو او پايمالېدلو په معنا راغلی دی."(۱۸۴:۴مخ)د دې ترکيب په دويمه برخه کې د مضارع مادې، لکه: پيل **اوژن** يعنی فيل وژل، کُشتن، پښتو ژبې يې هم د منځنۍ فارسي-دري دورې بڼه په بېخي لږ توپير خوندي کړې ده. په پښتو کلاسيکه شاعرۍ کې هم د (ويرژون) کلمه د لوېدلو په معنا او له همدې رېښې څخه ګڼل کېدای شي: يونس ويلي: دا مي هم د عاشقۍ ملامت دی – چې له آه سره مي اوښي کا ويرژن. دلته هم د لوېدلو معنا لري.(٦,٦٦٨مخ)خو دلته (ويرژن) د /ج/ فونيم په توپير د ويرجن بله بڼه هم ده. په منځنۍ آرياني ژبه پارتي يا اشکاني کې ožadan>/اوژدن، اوژن :óžan (کشتن،وژل) ده. د يادلو وړ ده چې د ځينو کورنيو او بهرنيو پوهانو په باور پارتيان،ساک پښتانه بلل شوي دي.په ساساني پهلوي کې په بېلابيلو بڼو:"ózan,óžandan،او اوژتن/ožtanد ژول، کُشتن، قتل په معنا راغلې کلمه ده."(۳۴۲:۱۰مخ) په پازند ډيکشنري کې د (afzatan،ōžadan) ، (ōžanIšn)په بڼو او کشتن-وژل په معنا راغلی دی.(بندهشن ۴-۲۳۳ او ۸-۲۱۲، مينوی خرد۲۵-۳۰ او نور...) گرندر يس/Grundrissورته د uzítan او ój رېښې راوړي دي(۲۸٦،۲۹۵:۳ مخونه)همداسي پاول هُرن او هوبشمان د (awzan/awžan) کلمې د وژونکي فاعلي صفت په بڼه راخيستي دي. د اوستا د aiwi+jan رېښه يې ورسره يو شی ښوولې ده چې د کُشتن او وژل معنا ورکوي. هُرن او هوبشمان په دې باور دي چې د پهلوي avžadan د av žanگرامري حالت څخه مشتق دی او دا گرامري ترکيب پر خپل ځای د (و وژنه) فعل څخه دی چې کټ مټ د پښتو ژبې گرامري ترکيب دی، نه د فارسي. (۱۷۹:۳مخ) په ځينو فارسي قاموسونو کې د اوژنديدن/avžandIdan ترکيب په راوروسته کې ليکولانو جوړ کړی دی. زالمان او شوکوفسکي په (دستور زبان فارسي) کې د اوزن، اوژن اشتقاق د (ava) څخه گڼلی دی.(ښايي د پښتو /وهه/ امري فعل) پخوانۍ ريښه وي.په پاخه اټکل دې زړې پښتو کلمې او لغت نورو منځنيو آرياني ژبو ته هم لاره کړې: سغدي:wzan، خوارزمي:wažn، اورمړي:wazanراغلې ده، د وژل/اوژن/ožan کلمه په ډېرو فارسي – دري متونو او شعرونو کې د ويشتلو، لوېدلو

وهلو او وژلو په معناوو راغلې ده: عطاءادیب الســلطنه: "یکی آتش در افتاده ســت مارا- جگرســوز و دل اوبار و تن **اوژن**." د ســعدي بوســتان: زره پوش خســبند جنگ **اوژنان**-که بستر بود خوابگاه زنان. منوچهری ویلي: بدرگاه سپهسالار مشرق- سوار نیزه باز خنجر **اوژن**.(۱۴۶:۴مخ)فردوسي په شــاهنامه کې ویلي: چو رهام و بهرام گردن فزار – چو شیدوش شیر **اوژن** رزمساز./به یک دست شیدوش جنگی به پای-چو شیر وی شــیر اوژن رهنمای/بخرید شــنگل زپیش ســپــاه-منم گفت گرد اوژن رزمخواه(۲۵۶/۲۴۲/۴)/ چو ســهراب شــیر اوژن او را بدید-بخندید و لب را به دندان گزید(۲۰۶/۸۵/۲). د فارسي ژبې ځینو گرامر لیکونکو کښــلي: په پخوانیو فارسي- دري خطي نســخو کې د /ۋ/ گرافیم هم و چې وروســته په /ب/ او /ف/ گرافیمونو اوښــتی دی.د شــاهنامې (اوژن/ باید له آره (اۋژن) وویل شي.دا مصــدر په زړه فارسي کې په اوژدن، وژن، اژن او نورو بڼو راغلی دی. د زړې پښتو بڼې به یې ښایي همدا وې خو پــه مــعــاصره او اوســــنــۍ پښــــتــو کــې یــې بــڼــه پــه لــهــجــوي تــوپــیــرونــو (ژول/wažəl،وجل/wajal،وزل/wazal) ده. اوژدن، اژن = وژل په زړې فارسي-دري کې د /jan،جن=ژن/ فعل،مصــدردی. د /ج.j/ فونیم یې په /ژž/ اوښــتی دی. په زړو فارسي کتیبو کې داسي نور مثالونه هم لرو، لکه: /jiva،جیوا/ په زړې فارسي کې د /ژوند/ په معنا دی.(۱۵۳:۱۳مخ) دلته هم /ج،j/ فونیم په /ژ،ž/ اوښتی دی، تر دې چې په پښــتو لهجو کې پر همدې /ج او ژ/ پاته دی او په ځینو لهجو کې په /ز/ هم اوښــتی دی لکه:/زوند، جوند/. یا جاله=ژاله. (kent:184,185) په زړې فارسي کې د لرغونې پښــتو/جن،ژن/ په معاصره پښــتو ژبه کې په (وژل/wažəl)بدلون کړی چې د /ن،n/ فونیم یې په /ل،l/ اوښتی دی. په منځنۍ پښتو؟ یا وېښي کې: وېزېل/وژل/wezen/ د /zز/ په فونیم راغلی دی. بایزید روښــان په خیرالبیان کې په /ژ/ فونیم راوړی دی: " ... د تېغ په وهل ده چې وژني ادمیان ...یا ئې و وژنم ځیني په هر حال کې پخپل فرمان، په تا دي وي اعلام ۵۲،۵۸ مخونه" یا هم "... د مشقت په تېغ دي ووژني آدمیان... و به وژنم په وړمي کوړول واړه ژوي... ٦٦، ٧٧ مخونه"خوشحال ختک ویلي: له دوو سترگو خبر واخله چې مې وژني – نور به څه پوښــتې دما د زړه له حاله/ راشــه خپل وژلی گوره په خپل در کښې- په غمزو په خرخښو په تغافله(۵۹۰،۵۹۴مخونه).د حمید مومند په کلام کې د ورژلي(ځوانیمرگ) او ویره ژلي(ویره جلي، غمجن) کلمې هم د همدې

زړې ريښـې څخه ګڼل کېدای شي: چې د عشـق هوسـناکي ورته په خوله شي- ډېر ويرژلي کاندې ګډ په تن تنا (نيرنګ عشـق۲٦۸،ديوان۳۵مخونه)حميد ماشـوخيل يو ځای (وژی او ژوم) بڼې هم راوړي: قول او بول په ژوندون نه شي نورولی- ځکه ځان په قول وژي پښتانه/ مرم که وژم ځما سر د ښکليو درد دی – نشته ځای بې دغه دره بل ځما(ديوان:۳۸مخ) ګرم نه دی که خبر د ځان وژلو ته مهجور شي-لږ عمر د ژوند کاندې خواري په سړي ډېر.(ديوان:۵۳مخ). لکه ګل د غوړېدو پر وخت ويرژلی – هسي رنګ د يار له خوا يم نيمه خوا. هسې وژله که د مهر په پرده کښې- لکه خضر په چشمه شي د حيوان ډوب.(ديوان: ۵۱،۴٦مخونه)ګګيانې هم د حميد ماشـوخيل په ډول د پښـتو د /وژل/ مصدر په /وژله/ کارولی: مست ماري هتيان هم هسي وژله نه کا-لکه برندې سترګې سـتا کاندي قتال(۹:۲۲۴مخ) هسـې وژله که بې لارې برندې سـترګې-لکه مسـت خوني چې ځي په سمه لار کې(علی خان). په پښتو زړه پانګه کې د (ورژل)کلمه د وريتولو او سوځولو په معنا هم له همدې ريښې څخه ګڼل کېدای شي:چې مدام يې په فراق سـينه ورژني- پيروي کړې په دا کار د شـيطان ولي(عصـام،ګلزار روه). د پښـتو (ويرژون) کلمه د لوېدلو، رژېدلو، غمجن کېدلو په معنا بيخي له دې ريښـې څخه ګڼل کېدای شي: يونس ويلي: دا مې هم د عاشقۍ ملامت دی – چې له آه سره مي او ښي کا ويرژون. (۷:٦٦۸،۵۹۳مخونه) کاظم خان شيدا ويلي: شعله باد وژني چې بلندي کا – اعتماد مه کړه په سبک سرو./ځان د چا په طلب وژنې بد اختره – چې روان يې لکه اور تر خاکسـتره.(ديوان، ۱۸۱مخ). د شـيدا په کلام کې د واژون صـفت د سرچپه، پړمخي او اپوټه په معنا چې دري-فارسي بڼه يې واژګون دی له دې رېښـې ليري نه ده: د سحر غوندې مې شپږ په کام کې خون شو-په شيدا د فلک کار عجيب واژون دی.(۲۷۱مخ) ښـکاري چې په ټولو منځنيو دري او پښـتو متونو کې د /وژل/ کلمه په نږدې يوه معنا قتل،کشتن، مړينه، لوېدنه، پايماليدنه او ... معناوو راغلې ده.

**تاريخي تحول**

دا چې څرنګه د (وژل) مصـدر د منځ فونيم /ژ/ په تاريخي لحاظ په /ز،ژ،ج/ = (وژل،وزل،وجل) بڼو بدلون کړی چې دمګړۍ يې د پښتو ژبې په لهجو کې هم ټولې بڼې خوندي دي: پوکورني/Pokorny د (وژل) اندو-اروپايي ريښـه *org=kill, kill off, zap, deaden/اورګ ښوولې ده. (۱٦:۲۲۵۳مخ) د تاريخي فونيميکي تحول او بدلون

له مخې په پښــتو ژبه کې د اندو-اروپايي /gگ/ په /ژž/ او /rر/ يې په /lل/ بدلون کړی دی. کوږ/kož=کوږ/koẓ= کوگ/kog(په لهجوي توپير). فارسي- دري کې په/ج/=کج. کرار/karār=کلار/kalār. د لرغونې آرياني /g*/ تر درېيمې مېلادي پېړۍ وروسته په پارتي او پښــتو ژبه کې په/غ،γ/ بدلون کړی دی: اوســتا:gaṣa/ زړه فارسي: /gauša پارتي:gōš/پښـتو:γuaẓ /غوږ. اوسـتا:draoγa/، زړه فارسي:drauga، پارتي:drōγ/ دروغ، پښــتو:drōγ/ دروغ- درواغ خو پښـــتو ژبې په /گ،g / هم ســـاتلی دی، اوســـتا:baγa، زړه فـارسي: bagaپـارتي: baγ/ بغ، پښــــتو د زړې فـارسي پـه څـېـر:bag/بــگ= د لـوی پـه مـعـنـا لـكـه پـه بـگـړۍ او بـگـواښ كـې. دېـوال/dewār=دېــوار/dewār. د كــريســـــتن بــارتــولمــه/ Bartholomae Cristian(۱۸۵۵-۱۹۲۵م) د تيورۍ پر بنســټ د آرياني فونيمونو د تحول او تکامل له مخې داسې ښوول کېږي:

آريـــک/ž/=آريـــايــــي/z/:اوســــتــــا zyā، د پښـــــتـــــو ژبـــې /ž,j,z/ (ژمی/žamayزمی/zamay/جمیjamay)البته په لهجوي توپير<اُســـتي ژبهzimāg، نوی فارسی-دري/زz/ zamistān/زمستان.

اوستا:/vazati/z، پښتو/ځʒ̑/: الوځي يا هم په /zز/، د پښتو زوړ لغت (ورزل) هم د الوتلو په معنا دی. خوشحال خټک ويلي: زاغ و زغن دې په باغ کې ورزي- چينجي مينجي خوري په ځانگو گرځي/ چې نه وي پاخي ځنې و ورزي. سکندرخټک ويلي: بې ځايه گرځو بېځايه ورزو- حرص مو پر شو په غرونو گرځو. کاظم خان شيدا ويلي: بلبلان په قفس بند د صياد وينم – تېوسان د خوشحالۍ په هوا ورزي.(۷: ۵۹۲مخ) د پښتو ژبې ورز هم همدا ريښه لرلای شي. فارسي- دري/z/:پرواز، وزيدن.اوستا:/زz/zayata، پښتو/zز/زوکړه/zokṛa، فارسی-دري:/زz/زاييدن. دې ته ورته په ټوله کې د آرياني ژبو دا فونيمونه په يو او بل اوړي : /خθ، δځ/ او s/س[ش،s,z,š] او [š,š,ž,ž].(۲: ۳۸،۳۳مخونه)

## اوژدن ولې د پښتو د وژل مصدر گڼل کېدای شي؟

د يوې ژبې اصيل او پاخه وييونه او کلمې د پېړيو پېړيو په تېرېدو سره بيا هم خپل آر او ا صليت له لاسه نه ورکوي او په ولس کې خوندي وي. همدا سې د پښتو د /وژل/ مصدر اوس هم د خپل ټول دوه زره پنځه سوه کلن تاريخ او تحول سره چې اغلب په

زړې فارسي – دري کې دخيل دی خپل ژبنی هويت تر اوســـه ســـاتلی، تاريخي گرامري حالتونه يې خوندي کړي دي تر دې چې په نورو لرغونو تر معاصرو آرياني ژبو کې دا کلمه په دې بڼه او گرامري ټينگښت نه شته، دا دی په پښتو ژبه کې يې گرامري جوړښت په لاندې ډول ښودل کېږي:

## د وژل/wažalمصدر اوسني گرامري حالتونه:

| شخص | | Singular/ مفرد | | | | Plural/ جمع | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | m.sing.obj (نرينه) | m.pl.obj (نرينه) | f.sing.obj (ښځينه) | f.pl.obj (ښځينه) | m.sing.obj (نرينه) | m.pl.obj (نرينه) | f.sing.obj (ښځينه) | f.pl.obj (ښځينه) |
| لومړی (متکلم) | وژنم | وژنم(ه) | وژنم(ه) | وژنم(ه) | وژنو | وژنو | وژنو | وژنو |
| دويم (مخاطب) | وژنې | وژنې | وژنې | وژنې | وژنی | وژنی | وژنی | وژنی |
| درېيم (غايب) | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني |

**تېر ساده مهال/simple Past**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | ووژی (وواژه) | ووژل | ووژله | ووژلې | و وژی | و وژل | و وژله | و وژلې |
| دويم | ووژی (وواژه) | ووژل | ووژله | ووژلې | و وژی | و وژل | و وژله | و وژلې |
| درېيم | ووژی (وواژه) | ووژل | ووژله | ووژلې | و وژی | و وژل | و وژله | و وژلې |

**راتلونکی ساده مهال/simple future**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | به و وژنم(ه) | به و وژنم(ه) | به و وژنم(ه) | به و وژنم(ه) | به و وژنو | به و وژنو | به و وژنو | به و وژنو |
| دويم | به ووژنې | به ووژنې | به ووژنې | به ووژنې | به و وژنی | به و وژنی | به و وژنی | به و وژنی |
| درېيم | به ووژني | به ووژني | به ووژني | به ووژني | به و وژني | به و وژني | به و وژني | به و وژني |

**اوس روان مهال/present progressive**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژنم(ه) | وژنم(ه) | وژنم(ه) | وژنم(ه) | وژنو | وژنو | وژنو | وژنو |
| دويم | وژنې | وژنې | وژنې | وژنې | وژنی | وژنی | وژنی | وژنی |
| درېيم | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني | وژني |

**اوس بشپړ مهال/present perfect tens**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي |
| دویم | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي |
| دریېم | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي | وژلی دی | وژلي دي | وژلې ده | وژلي دي |

**اوس بشپړ روان مهال/present perfect progressive**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دویم | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دریېم | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |

**تېر روان مهال/past progressive**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژی(ئ)/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دویم | وژی(ئ)/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دریېم | وژی(ئ)/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |

**تېر بشپړ/past perfect**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې |
| دویم | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې |
| دریېم | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې | وژلی و | وژلي وه(وو) | وژلې وه | وژلي وې |

**تېر بشپړ روان مهال/past perfect progressive**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دویم | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |
| دریېم | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې | وژی/واژه | وژل | وژله | وژلې |

(۱۵:۵۸۴مخ)

په پورتني گرامري جوړښت کې د اوژدن،اوژن، وژن=(وژل) مصدر په ښه ډول خوندي دی.

**θIkā/خیکا/شگه** شگه په پښتو کې کوچنۍ ډبرې ته وایي جمع یې شگې ده.

شگې د رود پر غاړه، رود – سیند په منځ او دښتو و غرو کې وي.د زړې فارسي په ډبرلیکونو کې بله کلمه د θikā/خیکا/شگه ده چې اوس هم کټ مټ په پښتو ژبه

کې په /س،s،ش/š/ ږغونو باندې خوندي ده. دا کلمه د بېستون د کتيبې (BSLP:30.1.60-1)په کرښو او بندونو کې راغلې ده. , θikā: sb gravel,rubble,broken ston, pIE:*kiqa,skt:sikatā.sand,gravel.(with Prakrit /s/) for skt.š.it borrowed from an Iranian dialect.(or languages).By.BSl.(۱۴:۱۸۸مخ)

په سنسکريت کې sikatā ده، رولانډکېنټ هم وېلي چې خيکا> سيکا>سکه>سگه>شگه د يوې آرياني ژبې او لهجې څخه په زړې فارسي کې پور شوې ده:" it borrowed from an Iranian dialect" په ټينګ اټکل چې دا آرياني ژبه او لهجې به د پښتو وي، ځکه کېنټ د θIkā/شگه کلمې فرضي اندو اروپايي بڼه kiqā* ښوولې ده. (kent:p188).د بېستون د θIkā/خيکا/شگه کلمه اوس هم د پښتو ژبې د زابل او غزني په وېښتونو او لهجو کې سيکه/sikə ويل کېږي.

**تاريخي تحول**: له اندو-اروپايي ژبکورنۍ څخه تر پښتو ژبې پورې د θIkā/خيکا/شگه کلمې فونولوژيکي تحول داسې ښوول کېږي. لومړی فونيم/θ/: يې په پښتو کې په /س/ او /ش/ بدلون کړی، دوهم فونيم /گ/ يې په پښتو کې په لهجوي همدې /ک،k/ او /گ،g/ بدلون کړی دی.

| اندو-اروپايي | سنسکريت | آرياني ريښه | داردیک/نورستاني | زړه فارسي | اوستا | پښتو | بولگه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| >*k | >š | *ts | >čts š | θ | >s | s-š> | s/šəka/š>θikā> |

(۱:۳۰مخ)

په پښتو کلاسيکو متونو کې هم دې کلمې په همدې نننۍ بڼه کارېدنگ درلود: حميد ماشوخېل وېلي دي: " لکه سيل چې رژوي کمر د شگو – نړوي مې هسې مينه وار په وار(ديوان:۷۷مخ).اوسني شاعر منی ربونيري وېلي: لکه جوار دې په سره شگه کې پولې پولې کړم – ای زلميتوبه تا آرمان د ماشومتوب راوستو.پښتو اصطلاح" په کډو کې شگه " يعني د يوه کار په اړه پټ پوهېدل. شک کول. په شگو کې مزل.(يعني د سختۍ ژوند).

**شگه په پښتو لنډيو کې**: زما د يار غاښونه بريښي- لکه اوبو کې سپينې شگې کتار وينه / په لڅو پښو شگو کې گرځم- يا به راپرځم يا د يار تر دره ځمه/لمن مې ډکه ده

د شگو- هره شمېرمه د یار غم غلطومه. زما جانان د شگو پاڼ دی – بېلتون باران دی په څپه یې نړوینه.

**په پښتو متلونو کې**: تر شگو ډېر دي خو گنډېر دي./شگي و خوره خو د منت ډوډۍ مه خوره/ د شگو بند اوبه وړي/دشگو بند یخی لمر ته اېښوول دي.

**پښتو ولسي سندرې**: د اوبو د شگو بند- زما و یار داسي پیوند./شین موټر په شگو کې پنچر دی – موږ ته ناوې راکئ مازیگر دی.

**جغرافیایي سیمي**:د شگې په نامه په افغانستان کې ډېري سیمي شته، لکه: په کندهار کې سره شگه،شگه ولسوالي چې په تخته پل مشهوره ده. د پکتیا په آریوب ځائیو کې د سپیني شگې په نوم تفریحي سیمه. د آریوب ځائیو لوېدیځ ته د شگۍ په نوم لوی کلی. په میرزکۍ ولسوالۍ کې د شگې غر، په ځمکنیو ولسوالۍ کې د شگې کلی چې ځمکنۍ قبیله په کې اوسیږي.د خوست بازار په لوېدیځ کې د شگې په نوم ځای. د موسی خیلو ولسوالۍ د سیدگي په سیمه کې د شگې په نوم سیمه. د شگې کلمه گرامري گردان هم لري لکه: د هلمند په سنگین کې شگلن مانده اود شگو پوټی. په پروان کې د ریگ روان/شگه روان په نوم ځای شته. د لوگر په ازرې ولسوالۍ کې د شگو کلی. د ننگرهار د ښېوې په ولسوالۍ کې د شگې په نوم سیمه. د کونړ د پېچ درې په خوله کې د شگې په نوم سیمه. په شگو کې سره زر د استاد سعدالدین شپون د داستاني کلیاتو نوم دی، د شگو مزل د زیتون بانو کتاب دی. په ټولیزه توگه شگه په پښتنو کې ژوندۍ مشهور کلمه او ویی دی. دا کلمه هم د پښتو له آرو او اصلیو کلمو څخه په پاخه اټکل په نورو آریاني ژبو په ځانگړې توگه فارسي – دري کې دخیله ده ځکه په فارسي –دري کې یې نه دا بڼه او نه هم تاریخي – گرامري هویت خوندي دی.

**پایله**

پښتو ژبه که تر دمگړۍ پورې د لرغونو ژبو په کتار کې نه ده ولاړه او یوازې یې د معاصرو لاسوندونو خبره کېږي، خو له بلې خوا پښتو چې ختیځه آریاني ژبه ده، داسې زړه لغوي پانگه لري چې له خپلو همکورنیو او همگروپو ژبو سره سیالي و کړای شي. پورتني دوه وییونه او کلمې(وژل، شگه) ښیي چې پښتو ژبه په سیمه کې یوه پیاوړې ژبه ده چې رېښه یې د خپل وخت او خویندو آریاني(زړې فارسي)-

آريايي(سنسکريت) ژبو په منځ کې په اسانۍ سره موندل کېږي. دلته څکه په سرليک کې د دوو کلمو قيد رانه وړل شو چې د بېستون په کتيبه او شاوخوا نورو دېرشو زړو فارسي-دري ډېرليکونو کې د پښتو ژبې د نورو نږه او سوچه وييونه امکان نه شي ردېدلای.

**وړانديز**

د بېستون او زړې فارسي ژبې نور ډېرليکونه چې شمېر يې تر دېرشو اوړي د متخصصينو له خوا پښتو ته ژباړل. څکه په دې کتيبو کې د پښتو ژبې د ځرکونو شتون حتمي دی.

**مأخذونه**


۱.اورمړ،خليل الله. مقدمه بر زبان اوستايی،اکادمی علوم افغانستان، دايرة المعارف، چاپ مطبعه نبراسکا: کابل۱۳۹۲ل.

۲. بارتولمه،کريستين. تاريخچۀ واجهای ايرانی(آريانی)، ترجمۀ، واهه دومانيان، چاّ اتحاد:تهران،۱۳۸۴ل.

۳. پاول هرن، هوبشمان. اساس اشتقاق فارسی. ترجمه فارسی:جلال خالقی مطلق، جلد اول، چاپ ايران.(...)

۴. حسن دوست، محمد. فرهنگ ريشه شناختی زبان فارسی، چاپ اول، جلد اول، چاپ تهران ۱۳۸۳ش.

۵. خلف برهان، محمدحسين. برهان قاطع، به اهتمام محمدمعين، جلد اول، چاپ دوم انتشارات ابن سينا، ۱۳۴۲ش.

٦. دوست،شينواری.زړه پانگه، لومړی چاپ،د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړيوال مرکز: کابل ۱۳٦۳ل.

۷. دوست،شينواری.ژبپانگه،دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه:پېښور، ۱۳۷۷ل.

۸. روښان،بايزيد.خيرالبيان(پښتوبرخه)، دمحمدمعصوم هوتک په سمون، علامه رشاد خپرندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۹ل.

۹. صميم، محمدآصف.وييزېرمه، احسان خپرندويه ټولنه:پېښور، ۱۳۸۱ل.

۱۰. فره شاهی، بهرام. فرهنگ پهلوی، چاپ دوم، انتشارات تهران، ۱۳۵۲ش.

۱۱. محمد پادشاه.فرهنگ آنندراج، به کوشش دبيرسياقی، جلد اول، کتابخانه خيام، ايران ۱۳۳۵ش.

۱۲.M.A.Cantab.The inscriptions in Old Persian cuneiforms of the Achaemenian Emperors(...).

۱۳.Paul Horn,Grundriss:NEUPERSISCHEN-ETYMOLOGIE.Strassburg,1893.

۱۴.Roland G. Kent. Old Persian. American Oriental society.1950.

۱۵.Pashtoon Hoonar,Naseer,Zeeya A. Pashtoon A handbook of Pashto Verbal Conjugation part 2,Dunwoody Press,2006.

۱٦.Pokorny.An Etymological Dictionary of the Proto- Indo-European language,2007.

پوهاند پښتون آقا شېرزاد

# په پښتو شاعرۍ کې د میزان، وزن او عروضو کلمو د استعمال څېړنه

# Studying the usages of the words Balance, Rhythmic and Prosody in Pashto Poetry

Prof. Pashtoon Aqa Sherzad

## Abstract

Prosody, rhythm and rhyme are the words that are used a lot in Pashto prose and there have been many discussions about this, but I have not seen its use in Pashto verse. In this article, the readers will learn about its uses and will get acquainted with the poems of many poets who have used such words in their poems

## لنډیز

عروض، وزن او میزان داسې کلمې دي چې پښتو نثري برخه کې ډېرې استعمال شوې او خبرې پرې شوې دي، خو په نظمي چوکاټ کې د استعمال په اړخونو یې ما کوم څه نه و لیدلي، په دې مقاله کې به یې لوستونکي د استعمال په مواردو پوهه ترلاسه کړي او د هغو

شاعرانو له اشعارو سره به اشنا شي چې دغه کلمات يې په خپلو اشعارو کې کارولي دي.

## سريزه

پښتو شاعري د هر ډول کلماتو څخه ډکه ده، ځکه چې د شعر او شاعرۍ ذاتي غوښتنه ده چې بايد ډول ډول کلمات په کې استعمال شي او يو لامل يې د همدغو رنگينو او خوندورو کلماتو استعمال دی چې پښتو شعر او شاعري ته يې خوږوالی او ښکلا بښلې ده. په دې مقاله کې به لوستونکي ولولي چې د وزن، ميزان او عروضو کلمات څه ډول او په کومو معناوو کې شاعرانو کارولي دي، د پښتو ادبياتو لرغونې يا لومړۍ دوره کې دغه کلمې کوم شاعر په خپلو اشعارو کې استعمال کړي نه وي. په دويمه دوره کې يو څو شاعرانو استعمال کړي وې. په درېيمه دوره کې هم يواځې د گوتو په شمېر شاعرانو استعمال کړي دي، خو ما يې د معاصرې دورې څخه د مقالې د اوږدېدو په خاطر يواځې د يوه شاعر بېلگه را اخيستې ده.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د ليکلو څخه موخه دا ده چې لوستونکي په دې پوه شي چې د وزن، عروضو او ميزان کلمې شاعرانو په څه ډول او کوم هدف لپاره په خپلو اشعارو کې کارولې دي.

## د څېړنې پوښتنې

١. ايا د ميزان کلمه د ترازو په معنا استعمال شوې؟

٢. ايا د ميزان او عروضو کلمات د پښتو ادبياتو تاريخ دريمه دوره کې هم شاعرانو کارولي دي؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تحليلي ـ تشريحي ميتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه کار اخېستل شوی دی.

## د مقالې متن

**دولت لواڼی**: دولت لواڼی د پښـتو ادبياتو تاريخ د دويمې دورې د لومړي پړاو شـاعر، د پير روښـان مريد چې د وزن کلمه يې د ناپوهه شـاعرانو په خلاف کارولې ده. دی په

لاندې بیت کې وایي؛ د کوم شاعر چې په شعر کې د وزن او عبارت ترتیب نه وي، هغه ناپوه یعنې جاهل دی او د جاهل شعر به خامخا خراب وي، لکه چې وایي:

**د جاهل شعر به څه زېب کا**

**چې نه وزن، عبارت نه یې ترتیب وي**

(۳: ۵مخ)

**خوشحال خان خټک**: د پښتو شعر سالار او نابغه خوشحال خان خټک د وزن او عروضو دواړه کلمات په دې ډول استعمال کړي دي:

**بندو بست د پښتو شعر ما پیداکړ**

**ګڼه شعر د پښتو و غیر سیال**

**نه یې وزن، نه تقطیع نه یې عروض و**

**دوه مصرع یې د خفیف بحر دوه طال**

(۵: ٦٠٦مخ)

خوشحال خان خټک چې پورته بیتونو کې څه ویلي، هغه ماته واقعیت ښکاري. له ده نه وړاندې شعرو شاعري د همسایه ګانو د شاعرۍ سره سیال نه وه؛ خو ده چې کومه شاعري کړې هغه د سیالۍ وړ ده او خوشحال خان پښتو ژبې او ادب ته داسې خواږه ورکړل چې له ده پخوا هیچا نه وو ورکړي.

دی په یو بیت کې د یو تورې زیاتېدل هم ښه نه ګڼي او د غماز سره یې تشبیه کوي، لکه داسې چې وایي:

**همیشه د زړه په لاس تله د وزن**

**زیات و کم د وزن یو تورې غماز**

(۵: ۴۰۲مخ)

په مخکنیو شاعرانو کې استثناء میرزا یادوي (ښایي د ده موخه میرزاخان انصاري وي) او وایي چې میرزا په وزن برابر اشعار ویلي دي:

**له چانه په پښتو کې ما میزان لیدلی نه دی**

**میرزا په دا زبان کې ویل کړي دي تللي**

(۵: ۳۱۷مخ)

**اشرف خان هجري**: اشرف خان هجري د خوشحال خان خټک زوی هم د میزان کلمه دا ډول استعمال کړې ده:

**هر نصفي بيت يې د دې غزل موزون کړ**

**په شل دوه حرفه د عقل په ميزان دی**

(۹: ۴۸مخ)

د اشرف خان هجري ورور او د خوشحال خان خټک زوی؛ صدر خان خټک د خپل پلار د شاعرۍ صفت کړی او د ناموزون کلمه يې دا ډول کارولې ده:

**پښتو شعر ناموزون و**

**له شعري صفت بيرون و**

**ده درست شعر په قانون کړ**

**اراسته يې په فنون کړ**

(۴: ۵۰مخ)

**کاظم خان شيدا**: د خټکو د کورنۍ يو بل نازک خيال شاعر کاظم خان شيدا د وزن او ميزان کلمې په ښه انداز کارولې دي او ويلي يې دي چې د کوم نظم چې وزن نه وي، نو هغه ته کله نظم ويل کېږي، لکه چې وايي:

**د کلام چې وزن نه وي**

**پرې د نظم اطلاق څه وي**

(٦: ۸۳مخ)

په لاندې بيتونو کې بيا داسې وايي:

**د پښتو ژبه تمامه**

**ده بې نظمه بې نظامه**

**له اوزانه مختلفه**

**له ميزانه منحرفه**

(٦: ۸۳مخ)

داسې ښکاري چې کاظم خان شيدا په پښتو نظم کې حقيقي وزن نه مني.

**شمس الدین کاکړ**: شمس الدین کاکړ د پښتو ادبیاتو تاریخ دویمې دورې برجسته شاعر، د وزن، میزان او عروضو درې واړه کلمې د شعري وزن په معناوو کې استعمال کړې دي، لکه چې وايي:

**خوشه چین د هر خرمن شوم**

**تماشبین د هر ګلشن شوم**

**یو یو حرف مې په میزان کړ**

**سره جمع مې دیوان کړ**

**د عروض په لوی بحرونه**

**د غزل دي اوازونه**

(۷: ۹۸مخ)

په یو بل شعر کې یې بیا د عروض او میزان کلمې، د رحمان بابا د شعر د اوچتوالي په خاطر استعمال کړې دي او په دې نظر دی، که شاعران هر څومره په عروضو برابر شعر و وايي، خو بیا هم د رحمان بابا شعر ته نه شي رسېدلی، لکه چې وايي:

**که څوک ونیسي په لاس میزان د شعر**

**په عروض که سنجیده بیان د شعر**

**وبه نه رسي په شعر له رحمانه**

**که هر څو کوي هوس افغان د شعر**

(۷: ٦۹مخ)

**میاشرف ننګرهاری**: میاشرف ننګرهاري د عروضو او میزان کلمې په لاندې ډول استعمال کړې دي:

**ستا که باور په کلام شي د شرف کم دی هنر**

**واخله میزان د عروض رایشه هر حرف وتله**

(۵: ٦۷مخ)

**حنان بارکزی**: حنان بارکزی چې د دویمې دورې تقریباً وروستی شاعر دی، ده هم د میزان کلمه د ترازو یا تلې په معنا داسې کارولې ده:

**چې تاله یې د یوسف سره ستا حسن**

**په میزان پسې اسمان ته مشتري لاړ** (۲: ٦۵مخ)

**احمد دین طالب**: طالب یو چاربیتې ویونکی شاعر دی، ده هم د وزن او میزان کلمې د مسرو د وزن په خاطر استعمال کړې دي، لکه چې وايي:

**ډلې شاعران مې د چاربيتو مساوات وايي**
**يا دې داسې وايي يا دې نه کړي شاعري چيرې**
**نه پېژني وزن د ميزان نه کم و زيات وايي**
**يا لکه په بل بيت کې چې وايي:**
**په مضامين د احمد دين طالب يې خيال دی**
**خوښ يې قيل و قال وي تول د ميزان**
**کوم شاعر د شاعرۍ په لار دی**
**وزن يې بې تار دی کړي غلا يکديگر**

(۸: ۷۲مخ)

داسې ښکاري چې احمد دين طالب د شعر په وزن او بحر باندې پوهېده، ځکه يې د هغه وخت په شاعرانو چې د شعر په وزن او د شعر په رمزونو نه پوهېدل، مسخرې يې کړې دي.

دا چې مقاله رانه ډېره اوږده نه شي، نو د پښتو ادب تاريخ د يو اوچت شاعر او نثر ليکونکی گل پاچا الفت په هغو بيتونو ، چې وزن او موزون کلمې په کې استعمال شوې، خپله اصلي موضوع پای ته رسوم:

**زيات و کم يې يو حرف نه دی خپلې خولې نه را ايستلی**
**عدالت د وزن وينو خاص د شعر په ميزان کې**
**ښه اهنگ چې په هر ساز کې وي موزون**
**که رباب وي که شپېلۍ وي که داريا وي**
**د طيب او خبيثې ونې فرق کړه**
**خير و شر په معيار صحيح ميزان دی**

(۱: ۱۲مخ)

## پایله

وزن زموږ او تاسې لوستي او نا لوستي پېژني او هر یو یې په څو معناوو کاروي، د بېلګې په ډول: وزن د تاکید، درنښت او ارزښت په معنا، مثلاً کله چې یو څوک ښکلې خبرې وکړي، سملاسي وایو، په خبرو کې یې وزن ډېر دی. دلته وزن د دروندوالي او ارزښت په معنا دی. بل ځای د تول په معنا، لکه: د دې غوړیو وزن څومره دی یعنې اندازه یا تول ته وایي. وزن د غړونو ترمنځ ترتیب ته هم وایي.

د غړونو ترمنځ د برابرو او مساوي فاصلو ساتلو ته هم وزن کول وایي، موزون هم برابر ته وایي. عروض خو ټول د ادب څانګوال پېژني چې د شعر یا نظم وزن کول، د عروضو کار دی یا شعر و نظم د کچ او میچ ترازو عروض دی، خو په دې مقاله کې یې زموږ غرض د استعمال له اړخونو سره دی چې څومره شاعرانو دغه درې واړه کلمې په خپلو اشعارو کې څه ډول استعمال کړې دي.

## مأخذونه


۱. الفت، ګل پاچا. د الفت مرغلرې، د شـــهرت ننګیال په زیار: دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۸ کال.

۲. بارکزی، حنان. د حنان بارکزي دیوان، د همېش خلیل په زیار: جدون پرنټنګ پرېس، پېښور، ۱۹۹۲م.

۳. لوانی، دولت. د لواني دیوان، د همېش خلیل په زیار: یونیورســـټي بُک ایجنسيـــ، پېښور، ۱۹۹۵م.

۴. خټک، صــدر خان. ادم خان او دُرخانی، د همېش خلیل په زیار: یونیورســـټي بُک ایجنسي، پېښور، ۱۹۸۸م.

۵. خټک، خوشحال. ارمغان خوشحال، د سید رسول رسا په زیارټ: یونیورسټي بُک ایجنسي، پېښور، ۱۹۷۴م.

٦. شـــیدا، کاظم خان. د شـــیدا دیوان، د همېش خلیل په زیار: منظوم عامه پرېس. پېښور، ۱۹٦۵م.

۷. کاکړ، شمس الدین. د شمس الدین کاکړ دیوان، د معصوم هوتک په زیار: صحاف نشراتي موسسه، کوټه، ۱۳۸۸ل.

۸. طالب، احمد دین. د احمد دین کلیات، د میا وکیل شـــاه فقیر خېل په زیار: دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۲ل.ل.
۹. هجري، اشرف خان. د هجري دیوان، د همېش خلیل په زیار: جدون پرنټنګ پرېس، پېښور، ۱۹۹۴م.

پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي

# د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې معانیز توپیر او تړاو

# The difference and relationship between epic, epic poem and self-praising poem

Assistant  Prof PhD. Sayed Asghar Hashami

**Abstract**

In this research, the difference and relationship between epic, epic poem and Self-praise in poetry is shown. epic, epic poetry, and Self-praise have similarities and differences, and the meaning of each section is analyzed in this article. In some works, and articles, epic is called as epic poetry and epic poem is called epic. This article has been written to solve this problem and this is its value. In Pashto literature, there is a need to reveal the attacks of epic, epic poetry and Self-praise in poetry and to talk about what differences epic, epic poetry and Self-praise in poetry have and also in what areas are their relations. The conclusion of this article is that not every epic is an

epic poem and not every epic poem can be called an epic. epic has its own characteristics, one of which is the narrative structure, and the epic poem does not have the characteristics of epic. Every boast can be called an epic poem, but not every epic poem can be called a Self-praise in poetry.

## لنډیز

په دغه څېړنه کې د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې توپیر او تړاو ښودل شوی دی. حماسه، حماسي شعر او ویاړنه سره ورته والي او توپیرونو لري چې په دې مقاله کې د هرې برخې معنوي شننه شوې ده. په ځینو اثارو او مقالو کې حماسې ته حماسي شعر ویل شوی دی او حماسي شعر ته حماسه ویل شوې ده چې د همدغې ستونزې د حل په موخه دغه مقاله لیکل شوې ده او همدا یې ارزښت دی. پښتو ادب کې دا اړتیا محسوسېده چې د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې بریدونه څرګند شي او په دې اړه خبرې وشي چې حماسه، حماسي شعر او ویاړنې کوم توپیرونه لري او همدارنګه اړیکې یې په کومو برخو کې دي. د دغې مقالې پایله دا ده چې هره حماسه حماسي شعر نه دی او نه هر حماسي شعر ته حماسه ویلای شو. حماسه خپلې ځانګړنې لري چې یوه اړینه خبره په کې داستاني جوړښت دی او حماسي شعر د حماسې ځانګړنې نه لري. هرې ویاړنې ته حماسي شعر ویلای شو، خو هر حماسي شعر ته ویاړنه ویلای نه شو.

## سریزه

پښتو ژبه او ادب کې د حماسې مضمون لوستل کېږي او په ډېرو نورو لیکل شوو اثارو کې د حماسې، حماسي شعر او د حماسي شعرونو د نورو معنوي خواوو تر منځ توپیر نه لیدل کېده او په ځینو اثارو کې حماسې ته حماسي شعر او حماسي شعر ته حماسه ویل کېده، نو ځکه دغه مقاله ولیکل شوه چې د دوی تر منځ پولې ښکاره شي او توپیرونه او اړیکې یې څرګندې شي. حماسه د قهرمانیو هغه داستان دی چې د یو ملت او هېواد تېر برم او افتخارات ټولنې ته وړاندې کوي او خپلې ځانګړنې لري، حماسي شعر په فردي ډول ځان ستاینه، د جنګ پلوي او مېړانې ته ویل کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

ژبې ته کار کول زموږ دنده ده، په ځانګړي ډول پښتو ژبې ته په علمي او څېړنیزو کارونو کې کار کول ژبه مو د نړۍ او سیمې په کچه لوړې پوړۍ ته رسوي. په دغه مقاله کې د پښتو ژبې د درېیو اصطلاحاتو پېژندنې باندې بحث شوی دی او د دوی تر منځ د توپیر او اړیکو خواوې ځرګندې شوې دي. هغو تېروتنو ته اشارې شوې دي چې په ځینو اثارو کې ورسره مخامخ کېږو. د بېلګې په ډول د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې تر منځ یې توپیر د یادونې وړ دی چې د دغو توپیرونو ښودل د مقالې ارزښت بیانوي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخې دا دي چې د حماسې او حماسي شعرونو د توپیر شننه وشي، د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې تر منځ یې د توپیر پلټنه وکړو او د حماسې او حماسي شعرونو اړیکې سره ځرګندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

- حماسه او حماسي شعرونه سره یو شان مفهوم ورکوي او که توپیر لري؟
- د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې توپیرونه په څه کې دي؟
- د حماسې او حماسي شعرونو اړیکې په څه کې دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي - تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتودونو څخه ګټه اخېستل شوې ده او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

په پښتو ژبې کې کله کله دغه شعري ا صطلاحات یو د بل پر ځای ا ستعمالېږي او په ادبي څېړنو کې یو ډول ستونزه پیدا کوي. حما سه، حماسي شعر او ویاړنه سره توپیر لري، که چېرې یو د بل پر ځای وکارېږي، معنوي ســتونزې پیدا کوي. په ځینو اثارو کې حماسي شعر ته حما سه او حما سې ته حماسي شعر ویل کېږي چې دا یو ډول ستونزه ده. نه هره حماسه حماسي شعر دی او نه هر حماسي شعر حماسه ده، هر یو یې خپله پېژند نه لري او د تیورۍ له مخې له بېلا بېلو خواوو څخه تر بحث لاندې نیول کېږي.

هرې ویاړنې ته حماسي شعر ویلای شو، خو هر حماسي شعر ته ویاړنه ویلای نه شــو. دلته د یوې بلې خبرې یادونه هم اړینه ده چې حماسي شــعر او حماسي نظم هم سره یو شان نه دي. که چېرې یو شعري کلام د شعر توکي ولري او د شعر پوهنې د تیورۍ له مخې شعریت او هنریت ولري او د شعر معیار یې پوره کړی وي او د شعر منځپانگه یې ایپیک، رزمي او جنگي وي، دې ته حماسي شــعر ویل کېږي او که شــعریت او هنریت ونه لري او یوازې قافیه، ردیف، وزن ولري، د نظم پوهنې په پام کې نیولو سره ورته حماسي نظم وایو. دغه درې برخې په ځینو مسایلو کې ورته والی لري، خو توپیرونه هم لري او د همدغو توپیرونو په پام کې نیولو سره ویلای شــو چې دا درې برخې یو له بل سره توپیر لري. د دې درېیو برخو د توپیر او تړاو په اړه د هرې برخې لنډه پېژندنه کوو:

**حماســه څه ته وایي**؟ په بېلابېلو ژبو کې د حماســې په اړه پېژندنې وړاندې شــوې دي چې ډېر یې گډ ټکي لري. یوه پېژندنه یې داســې ده: (حماســه له لاتیني ژبې څخه اخیستل شوې ده چې وینا، کیسې، اواز، د قهرمانۍ شعر او افسانې ته وایي. حما سه د عربي ژبې لغت دی او ریښه یې له «حَمس» څخه اخیستل شوې ده چې په کار کې شــدت او ســختۍ ته وایي. اوس «حماســه» نړیوال مفهوم لري او یو مهم ادبي ژانر دی، د لومړي ځل لپاره ارسطو «۳۸۴ق.م» وکاراوه.

حماسه په لغت کې زړورتیا ته وایي او په اصطلاح کې د وصفي شعرونو هغه ډول دی چې د یو قوم یا وگړي د پهلوانیو، مېړانې او ویاړنو کیسه په کې تمثیل شوې وي. (۱)

د حماســې، حماسي شــعر او ویاړنې په برخه کې د حماســې څو اړینې ځانگړنې دلته راوړم چې له حماسي شعر او ویاړنې سره یې توپیر او تړاو څرگندولای وشو.

- حماسه له ویاړه ډک داستان دی چې د زړورتیا او سربښندنې موضوعات لري او په جنگ کې زړورتیا په ډېر مهارت سره ښوول شوې وي، پهلوان په کې له مینې بې پروا وي.
- د شــعر او نظم هغه ډول دی چې د جنگونو، مېړانې، قومي افتخاراتو او د ملي او نژادي گټو لپاره شوې وي.

- هغه وینا ده چې د ویاړنو، لاســته راوړنو او بریالي افکار په ملي روحیه په کې وړاندې شوي وي.
- په حماســو کې پهلوان له جســمي او روحي خطرونو سره مخامخېږي او له ډېرو ستونزمنو سفرونو څخه ځان خلاصوي. (۲)

موږ پښتو ژبې کې په سلگونو دا سې شاعران لرو چې حماسي شعرونه یې ویلي دي، خو حما سې لږې لرو. د پښتو ژبې له لرغونې دورې څخه پیل تر نن پورې ډېر داســې شــاعران شــته چې شــعرونه یې د فردي رزم، جنگ او مېړانې خبرې لري، خو دا په دې معنا نه دی چې د دوی دغه شــعرونو ته حماسې ووایو.

**حماسي شعر څه ته وایي؟** په پښتو ژبې کې د حماسي شعرونو او نظمونو ویناوال ډېر دي. په ځینو ټولنو کې جنگ او جگړه په میراث کې پاتې وي او د ټولنې په داخل او لاشــعور کې له جنگ سره مینه له نســـلونو نســـلونو را پاتې وي چې دغه مســایل د شــاعرانو په شــعرونو کې هم لیدل کېږي. که د یو شــاعر په شــعر او د نثر لیکونکي په هنري نثر کې د جنگ، جگړې، مېړانې، د جنگ بریالیتوب، جنگ ته د خلکو هڅونه او د جنگ صــفت شــوی وي، دې ته حماسي شــعر وایي. د خوشــحال خان خټک د حماسي شعر یوه بېلگه ده، وایي:

پس له بنده دی دا عزم
د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته
یا مغلو سره رزم

(۳)

### ویاړنه څه ته وایي؟

په فردي ډول د جنگ په میدان کې د ځان ســـتاینه، د نورو جنگیالیو ســـتاینه، د جنگ ارزښـــت بیانول، خلک جنگ ته هڅول او داســـې نورې خبرې راځي. کېدای شي حماسي شــعرونه د معنا له مخې ډېرې خواوې ولري، که چېرې په حماسي

شعرونو کې د ځان ستاینه شوې وي، دې ته ویاړنه وایي، که د جنګ په میدان کې د نورو ستاینه شوې وي، دې ته ستاینه وایي، که یې غندنه شوې وي، دې ته غندنه وایي. له دې خبرو څخه مو موخه دا ده چې هر حماسي شعر ته ویاړنه ویلای نه شو، حماسي شعرونه هر ډول منځپانګه درلودای شي چې یوه برخه یې ویاړنه ده. په دې ډول ویناوو کې ویناوال د ځان ســتاینه کوي، د خپلو بریو نمانځنه کوي، د خپلو جنګونو د تکنیکونو ستاینه کوي او هر څه د ځان په اړه وایي.

(په خپل دین، قوم، ژبه، نیکونو، تورې، مېړانې، زړورتیا او نورو اوچتو صـفتونو ویاړ کولو ته ویاړنه وایي چې بېلګه یې د امیر کروړ شعر دی.) (۴)

پښتو ژبې کې د پښتو ژبې لومړنی شاعر امیر کروړ (۱۳۹) لمریز کال کې یې د ځان ستاینه کړې ده چې دې ډول شعر ته ویاړنه وایي چې د حماسي شعر یوه برخه ده. پخوانیو ټولنو کې جســمي ځواک ارزښــت درلود، د ګلګمېش په حماســه کې ګلګمېش او انکېدو ښــه پهلوانان دي، په الیاد او ادیســه کې اولیس او داســې نور پهلوانان د یادونې وړ دي، په شــاهنامه کې رســتم، ســهراب، ضــحاک، افراســیاب، ســفندیار او داســې نور لوی پهلوانان وو، نو ځکه زموږ په چاپېریال کې هم لومړیو وختونو کې هغه چا ته مشــــري ورکول کېده چې د فزیکي ځواک خاوند به وو، ښه بېلګه یې د پښتو ژبې لومړنی شاعر دی. د امیر کروړ ویاړنه ده:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند په تخار و په کابل نسته
بل په زابل نسته

له ما اتل نسته

غشي د من مې ځي برېښنا په مېرڅمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تېښتېدنو باندې

په ماتېدونو باندې

له ما اتل نسته
زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و په ویاړ

د اس له سومې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم اېوادونه اوجاړ

له ما اتل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دی هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په اودوم
زه پېژندوی یم په روم

له ما اتل نسته

پر مروه زما غشي لوني ډارې دښن را څخه
د هرېرود پر څنډو ځم تښتي پلن را څخه
رپي زړن را څخه

له ما اتل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سور وکړه
په باداری مې لوړاوی د کول د سور وکړه
ستر مې تربور وکړه

له ما اتل نسته

(۵)

## د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې په اړه د لیکوالو مغالطې

په ځینو آثارو کې حماسې ته حماسي شعر ویل شوي دي، حماسي شعر ته حماسه ویل شوې ده او د امیر کروړ ویاړنې ته حماسه ویل شوې ده چې دا ټولې خبرې د فکر او تأمل وړ دي. مخکې مو یادونه وکړه چې دا درې واړه توکي د معنا له مخې سره توپیر لري او یو د بل پر ځای یې کارونه سم کار نه دی او معنوي ټکرونه او ستونزې پیدا کوي. د همدې خبرو د وضاحت لپاره دلته له څو کتابونو څخه اقتباسونه راوړم چې دوی له همدغو ستونزو سره مخامخ دي، وایي:

د «ادب تیوري اساسونه» دویم چاپ، ۱۶۹ مخ کې د حماسي ژانرونو تر سرلیک

لاندې راغلي دي: «په پښتو ادب کې هم د امیر کروړ حماسه د پښتو ثبت شوې ادب تر ټولو انواعو ترمخه ده.» (٦)

لیکوال د امیر کروړ نظم ته حماسه ویلې ده، سره له دې چې د امیر کروړ لاس ته راغلی نظم د حماسې ځانګړنې نه لري، بلکې یو عادي نظم دی چې د خپل قدامت له مخې ورته یوه تاریخي ویاړنه ویلای شو. د شعر پېژندنې د اصولو په نظر کې نیولو سره به دا هم د تأمل وړ وي چې ورته شعر ووایو. ویاړنه چې په فارسي کې ورته مفاخره وایي په هر منظوم کالب کې لیکل کېدای شي، په نثر کې هم راتلای شي. په ویاړنو کې د وطن، ځان، دوستانو، خپلوانو ستاینه په عادي ډول وړاندې کېږي. د امیر کروړ نظم ته محمد هوتک بن داود هم ویاړنه ویلې ده.

همدارنګه پښتو ادبیاتو لرغونې دوره "ځېړنه او سپړنه" ۲٦ مخ کې راغلي دي: «د امیر کروړ شعر ویاړنه، حماسي شعر او حماسه ده.» (۷)

دلته هم لیکوال د حماسي شعر، حماسې او ویاړنې توپیر نه کوي. د امیر کروړ شعر ته په ځینو ځایونو کې ویاړنه او په ځینو ځایونو کې حماسي شعر او کله کله ورته حماسه ویل شوې ده چې د دې درېیو ادبي نومونو تر منځ ډېر منځپانګیز توپیر شته. نه حماسه، حماسي شعر او ویاړنه ده او نه ویاړنه، حماسه او حماسي شعر دی چې لیکوال په کې سهوه شوی دی. د امیر کروړ نظم ویاړنه ده.

همدارنګه د یوې بلې مقالې متن دی: «په پښتو وګړنې او بیا لیکنې ادب کې هم د حماسي شعر، یا په سهي معنا حماسي بوللو څرک لګولای شو چې په زاړه پېر کې د اسعد سوري، ښکارندوی... په منځنې کې د ستر خوشحال او په پای کې د حافظ مرغزي غونډه شاهنامه یادولای شو چې د «نظم» پر کچ یې د احمد شاه ابدالي کارنامو ته ځانګړې کړې او پر ۱۱۷٦ هـ ق کال یې بشپړه کړې ده.»

دلته لیکوال له بلې لویې سهوې سره مخامخ شوی دی، د ښکارندوی غوري ستاینه او د شیخ اسعد سوري مرثیه چې تحمیدیه قصیدې دي. ده ورته حماسي شعر او حماسي بوللې ویلې دي، نه دا دوې قصیدې حماسي بوللې دي او نه هم حماسي شعرونه دي. په پای کې لیکوال د حافظ مرغزي احمد شاهي شاهنامه حماسي شعر بللی دی چې نه دا شعریت لري او شعر دی او نه حماسي شعر دی، بلکې دا د نظم په کالب کې چې نبغ په نبغه یې خپل مفهوم او وینا وړاندې کړې ده او د ځینو

لیکوالو په وینا حماســه ډوله لیکنه ده. د یوې خبرې یادونه اړینه ده چې هغه ټولې ځانګړنې چې نړیوالو حماســو ته ښــوول شــوې دي، نه پر نړیوالو ټولو حماســو تطبیقېږي او نه په پښــتو ادب کې پر ځینو حماســو تطبیقېږي خو احمد شــاهي شــاهنامه ځینې حماسي ځانګړنې لري چې ورته حماســه ویلای شــو. په حماسي شــعرونو او نظمونو کې هغه لیکنې چې شــعریت لري او د جنګ او جګړې خبرې په کې راغلې وي، که شعریت ولري، حماسي شعر دی او که شعریت ونه لري، حماسي نظم دی او حماسه هغه منظومې او منثورې لیکنې ته ویل کېږي چې داستان وي او د جنګ، جګړې او زړورتوب خبرې ولري. په دغو داستاني کیسو کې د حیواناتو ستر نقش وي چې کله کله خبرې کوي، وړاندوینې کوي، ځانګړي نومونه لري، مرســته کوي او کله کله خارق العاده کړنې سرته رســوي. اتل په کې لوی لوی کارونه کوي، له سـختو سره مخامخېږي او ډارونکي ځناور او بلاګانې وژني. پر خارق العاده کرکټر او حیواناتو سربېره د عجیبو بوټو یادونه په کې کېږي. (۸)

پایله دا شــوه چې ویاړنه، حماسي شــعر او حماســه یو له بل سره توپیر لري. د امیر کروړ شعر ویاړنه ده، د خوشحال خان ځینو شعرونو ته حماسي شعرونه ویلای شو.

د فردوسي شـاهنامه حماسـه ده او د حماسـې ځانګړې په کې شـته، ځای ځای به داســې بیتونه هم ولري چې ویاړنې وي او یا د شــعرونو ځینې برخو ته یې حماسي شعر ویلای شو خو په ټوله کې یوه تمام عیاره حماسه ده.

## د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې معنوي تړاو

حما سه، حماسي شعر او ویاړنې سره توپیر لري، خو په ځینو مـسایلو کې اړیکې او تړاو لري چې دلته به یې یادونه وکړو: په حماســه، حماسي شــعر او ویاړنې کې د زړورتیـا خبرې راوړل کېږي. د ژبې کـارونـه یې سره اړیکې لري، د ایپیکو او رزمي ادبیاتو ژبه ســخته، درانده او زېږه کلمات او افکار وړاندې کوي. د ځان ســتاینه، د جنګ ستاینه، جنګ ته د خلکو هڅونه او داسې نورې خبرې یې سره اړیکې لري. په دغو شــعرونو کې فزیکي او جســمي ځواک ته ارزښــت ورکول کېږي او د جنګ په میدان کې خپله مېړانه ننداري ته وړاندې کوي.

په دغو شـــعرونو کې زړه درد والی لړ وي، عاطفي خوا په کې لړه وي او جنګ ته ارزښـت ورکوي. دغه ډول شـعرونه په هغو ټولنو کې ډېر وي، چېرته چې ډېر جنګونه تېر شــوي وي، خلک له جنګ سره اشــنا وي او خلکو ته جنګ په جمعي لاشــعور او میراث کې را پاتې وي. په حماســې او د حماسي شــعرونو په بېلا بېلو معنوي خواوو کې د ســولې خبرې نه کېږي، خلک ســولې ته نه هڅول کېږي، هر څه د زور په ژبه غوښتل کېږي او جنګ ته پر سولې ارزښت ورکول کېږي.

دغه ډول شعرونه د انسان له داخلي نړۍ، کورنۍ او چاپېریال سره تړاو لري. که امیر کروړ د جنګ پلوی دی، لامل یې کورنۍ او په چاپېریال کې ځینې غوښــتنې وې، پلار یې امیر پولاد د جنګ په میدان کې مخکې کېده او له نوم څخه یې څرګندېږي چې عاطفي او مینه ناک نه دی، بلکې ځان ورته پیاوړی ښــکاري چې د امیر کروړ نوم یې هم له کورنۍ سره معنوي اړیکه لري او له ســلو کســانو سره د جنګېدو په اړه یې نظر په همدې دلالت کوي چې د جنګ او جګړې هنر او جنګ ته تمایل ورته له کورنۍ څخه راپاتې دی او د ټولنیز لاشعور موضوع هم د یادونې وړ ده.

د خوشــحال خان کورنی موقف، د شــهباز خان جنګونه، له مغلو سره یې اړیکې، له مغلو سره یې مخالفت او داسې نور لاملونه دي چې د خوشـحال په شـعرونو کې هم ایپیک او رزمي شعرونه ډېر لیدل کېږي. په دې برخه کې د خوشحال شخصیت، پر خوشـحال راغلې سـتونزې، وراثت او چاپېریال یې په حماسي شـعرونو باندې اغېزې درلودې. په همدې ډول د هر شـاعر او لیکوال دغه برخه که وڅېړل شي، په یو نه یو ډول اړیکې یې ثابتېدای شي.

### د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې معنوي توپیرونه

له پورته ورته والي او تړاو سره سره د غه برخې توپیرونه هم لري چې دلته یې یادونه کوو: د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې ژبه سره اړیکې لري، خو له دغو اړیکو سره په ځینو برخو کې توپیرونه هم لري. د حماســې ژبه ډېره شـجاعانه او له مبالغې ډکه وي، خو په حماسي شـعرونو کې له ډېرې مبالغې څخه کار نه اخیســتل کېږي. حماسه باید داستان وي، خو حماسي شعرونه له استثنا پرته که داستان وي، ډېر یې نه وي. د خو شحال خان خټک او د دا سې نورو شاعرانو حماسي شعرونه دا ستاني

شکل نه لري. په حماسه کې تن په تن جګړه وي او ډېر وخت دا جګړه د قهرمان او ضد قهرمان تر منځ وي. د خیر او شر په دې جګړه کې اهریمن ماته خوري او اهورا بريالی کېږي، خو په حماسي شعرونو کې ډېر وخت تضاد نه ليدل کېږي او ډېر وخت د قهرمان او ضد قهرمان يادونه په کې نه وي. په حما سه کې قهرمان د مافوق الطبيعي ځواک خاوند وي، خو په حماسي شعرونو کې دغه برخه نه وي او يا ډېره لږه وي. په حماسو کې بوټي، ونې او ګياوې جادويي خاصيت لري او په وسيله يې خارق العاده کړنې تر سره کېږي، خو په حماسي شعرونو کې دغه برخه نه وي.

په حماسو کې د حيوا ناتو رول پياوړی وي او حيوانات يې عادي نه وي، خبرې، وړاندوينې او مرسته کوي، خو په حماسي شعرونو او وياړنو کې دغه برخه نه وي.د کوډو، جادو او سحر يادونه په کې وي او په حماسي شعرونو کې دا برخه کم رنګه وي او يا نه ليدل کېږي.

د قهرمان کړنې عالي، قومي، نژادي او ملي وي او جنګونه يې عادلانه او انساني وي، خو په حماسي شعرونو کې د قهرمان کړنې ډېر وخت فردي وي او نژادي او ملي رنګ يې تت وي.

د حماسې قهرمان ښامار، هيولا او ديوان وژني او خپلو موخو ته ځان رسوي، په حماسي شعرونو کې دغه برخه هم نه وي او يا ډېره لږه وي. په حماسو کې يوه ډله رب الانواع د قهرمان پلوي وي او بله ډله د ضد قهرمان طرفداري کوي، په پايله کې د اهورا او اهريمن په دې جګړه کې نتيجه د خير وي. په حماسي شعرونو کې دا برخه هم نشته. په حماسو کې د مينې او عشق خبرې وي، ډېر وخت ښځه پر قهرمان عاشق کېږي، خو قهرمان له مينې بې پروا وي، خو په حماسي شعرونو کې ډېر وخت نارينه جنس د مينې ميلان ښيي.

د جنګ، جګړې او نورو حوادثو قلمرو هر ځای کېدای شي، لکه اسمانونه، ځمکې، د ځمکو لاندې او سمڅې، په حماسي شعرونو کې جنګونه په ځمکې کې تر سره کېږي. د ډېرو حماسو پای په تراژيدي پای ته رسېږي، په حماسي شعرونو کې ډېر وخت پای ځرګند نه وي، لامل يې دا دی چې حماسي شعرونه داستاني نه وي.

په حماسو کې د جنګ له بېلابېلو وسايلو کار اخيستل کېږي، خو د جنګ وسايل هم عادي نه وي، په حماسي شعرونو کې د جنګي وسايلو يادونه لږه کېږي او که

وشي، نو عادي و سایل وي. په حما سو کې د جنګ د یوې و سیلې په ډول له چل او فرېب څخه ګټه اخیســـتل کېږي، په حماسي شـــعرونو کې چل او فریب نه لیدل کېږي. د خوبونو په وســـیله وړاندوینې کېږي او کله کله زاړه راهبان او کاهنان هم وړاندوینې کوي، په حماسي شـعرونو او ویاړنو کې دا برخه هم په نشـت حسـاب ده. همدارنګه په حماسو کې ډېرې داسې نورې خبرې هم شته چې په حماسي شعرونو کې نه لیدل کېږي، خو په همدغو خبرو بسنه کوم.

## پایله

پښـتو ادب کې حماسـه، حماسي شـعر او ویاړنه ګډې خواوې لري. د بېلګې په ډول یې د ژبې کارونه، پیغام، کلمات او داســـې نورې برخې د یادونې وړ دي، همدارنګه دغه اصـــطلاحات توپیرونه هم لري چې په مقالې کې یې یادونه شـــوې ده. په دې لیکنه کې دا څرګنده شـوه چې هر حماسي شـعر ته حماسـه ویلای نه شـو او نه هره حما سه حماسي شعر وي. د حما سې، حماسي شعر او ویاړنې تر منځ ګډې خواوې شته، خو په حقیقت کې سره توپیر هم لري او د معنا له مخې هره برخه یې بېلابېلې ماناوې ورکوي.

## مأخذونه


۱. لېوال، عبدالغفور، په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمی، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹٦ل کال، ۴۵ مخ.

۲. حصاریان. سید اکرم، حماسه سرایی و شاهنامه پژوهی در افغانستان، انتشارات عازم: کابل، ۱۳۹٦ل، ۳ مخ.

۳. رسا. سید رسول، د خوشحال خان خټک کلیات، یونیورسټي بک ایجنسـي: پېښور، ۲۰۱۲ م کال، ۴۴۴ مخ.

۴. مسلم دوست، عبدالرحیم، خوږه ژبه، پېښور، ۱۳۸۸ل کال، ۲۲۸ مخ.

۵. زېور، زېورالدین، د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې دوره، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۸ل کال، ٧٤-٧٥مخونه.

٦. شینواری. دوست، د ادب تیورۍ اساسونه، یار خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۵ل، ١٦٩ مخ.

۷. هلال. فرید احمد، لرغونې دوره «ثېړنه او سپړنه»، کتاب خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۴ل کال، ۲۶ مخ.
۸. ارغند. ذبیح الله صاحب، د ګلګمیش افسانه، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۶ل کال، ر- غ مخونه.

څېړندوی خالد تکل

# په مورنۍ ژبه زده کړه او پر زده کوونکو يې اغېزې

# Learning in mother tongue and it’s effects on students

Assistant Prof. Khalid Takal


## Abstract

It is a good thing that a person learns several languages for scientific, commercial, cultural and many other relations and transactions with other societies, but it is also important to protect the efforts of enrichment of the mother tongue along with other languages.

Which language is the maternal tongue?

What is the educational value of the mother tongue in education and training and how important role learning in the mother tongue have in the mental growth and mental development of the child?

How much attention has been paid to the teaching of mother tongue in Afghanistan′s educational and higher educational curriculums? And what kind of balance should be maintained in this portion, until the citizen has enjoyed this civil right? These are the questions that have been discussed in this article.

## لنډيز

دا ښه خبره ده چې انسان له نورو ټولنو سره د علمي، فرهنګي، سوداګريزو او ګڼو نورو اړيکو او راکړې ورکړې لپاره څو ژبې زده کړي، خو دا هم مهمه ده چې د نورو ژبو ترڅنګ

د خپلې مورنۍ ژبې د غنامندۍ هڅې وپالي. مورنۍ ژبه کومه ژبه ده؟ په ښوونه او روزنه کې د مورنۍ ژبې ښوونيز ارزښت په څه کې دی او په مورنۍ ژبه زده کړه د ماشوم په ذهني وده او ذهني پراختيا کې څومره مهم نقش لري؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دغه مقاله کې پرې بحثونه شوي دي.

## سريزه

د نړۍ هره ژبه مورنۍ ژبه ده، خو ټولو ژبو بيا يو ډول علمي وده نه ده کړې، ځينې د عروج په مرحله کې دي او ځينې لا ډېر پخوا د زوال ګړنګ ته لوېدلې دي. د ژبو عروج او زوال يو جلا بحث دی چې په دغه مقالې کې پرې بحث نه دی شوی، خو په دې مقاله کې يوازې او يوازې د مورنۍ ژبې پر ارزښت او په ښوونه او روزنه کې د دغې ژبې پر اړتيا خبرې، بحثونه، حللارې او وړانديزونه راغلې دي. په مورنۍ ژبه د زده کړو مهم والی، اړينوالی او ارزښت بيان شوی دی، تر دغو بحثونو وروسته په ښوونه او روزنه کې د مورنۍ ژبې پر ارزښت او له ژبې او فرهنګ سره تړلي پر نورو ښوونيز او تربيتي مسايلو باندې هم بحث شوی دی.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې مور د مورنۍ ژبې پر ارزښت پوهوي او دا لار راښيي چې څنګه خپلې مورنۍ ژبې ته خدمت وکړو، مورنۍ ژبه څنګه بډايه کړو او په دغه ژبه د زده کړې حق چې ټولو مدني قوانينو راکړی دی، خپل دا حق ترلاسه او خوندي کړو. د دې څېړنې بل ارزښت دا دی چې حکومت، دولتي او نادولتي فرهنګي مرکزونه چې د ژبو د پياوړتيا مسئوليت ور په غاړه دی، د مورنيو ژبو ودې په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې په برخه کې د دوی پام را جلبوي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخه دا ده چې مورنۍ ژبه وپېژندل شي او ارزښت يې جوت شي. په ښوونه او روزنه کې د مورنۍ ژبې اړتيا درک او په تعليمي او تحصيلي نصاب کې ځای پر ځای شي، د ژبې پياوړتيا او علمي ودې لپاره دغه ژبنی حق ټولو انسانانو په ځانګړې توګه، ماشوم ته ورکړل شي چې په مورنۍ ژبه زده کړې وکړي او خپل ښوونيز او روزنيز مزل په مورنۍ ژبه پيل کړي.

## د څېړنې پوښتنې

- مورنۍ ژبه کومې ژبې ته وايي؟
- په مورنۍ ژبه زده کړه او تعليم ولې او څه ډول اړتيا ده؟
- د ماشوم په ذهني وده او پراختيا کې مورنۍ ژبه څه نقش لري او په مورنۍ ژبه زده کړه ولې مهمه ده؟
- په ښوونه او روزنه کې په مورنۍ ژبه زده کړې څه رول لري؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشريحي ـ توضيحي ميتود څخه کار اخېستل شوی دی.

## د مقالې متن

مورنۍ ژبه لکه له نوم څخه يې چې څرګنده ده، هغه ژبه ده چې ماشوم يې له خپلې مور زده کوي يا هغه ژبه چې ماشوم ورسره تر زېږېدو وروسته په لومړي ځل مخامخ کېږي، دا د هغه مورنۍ يا لومړنۍ ژبه ده. مورنۍ ژبه (چې په دري کې زبان مادری او په انګريزي کې ورته (Mother Tongue) وايي، هغه ژبه ده چې د لومړي ځل لپاره يې ماشوم له خپلې مور څخه زده کوي. مورنۍ ژبه پر دغې نومونې سربېره د لومړۍ ژبې، اصلي ژبې، د مور او پلار ژبه او د ماشوم د بنسټيزې ژبې په توګه هم پېژندل کېږي. د نړۍ په ځينو هېوادونو کې د اصلي ژبې يا مورنۍ ژبې اصطلاح، د وګړي توکميزې طبقې ته هم ويل کېږي، چې موخه ترې بيا هم هماغه مورنۍ ژبه ده. د مورنۍ ژبې اړوند نور تعريفونه هم شته چې ګڼ يې د الفاظو په تغيير، هماغه يو مفهوم چې له مور او ماشوم سره تړاو لري، را اخلي، د بېلګې په توګه: په ژبپوهنيز سيند قاموس کې د مورنۍ ژبې په اړه لولو: « Mother Tongue: مورنۍ ژبه، لومړنۍ ژبه، هغه ژبه چې کوچنی پرې لومړنۍ خبرې پيلوي.» (۲: ۲۹۱ مخ)

مورنۍ ژبه هغه ژبه ګڼل شوې ده چې ماشوم يې له مور څخه په طبعي ډول زده کوي، مورنۍ ژبه هغه ده چې ماشوم يې له مور او پلار څخه په تقليدي ډول زده کړي. يا مورنۍ ژبه، هغه ګرامري جوړښتونه، اصول او قواعد دي چې ماشوم يې پرته له دې چې پسې زيار او زحمت وباسي، په طبعي ډول له خپلې مور څخه زده کوي. (۱: ۸۰ مخ)

که د مورنۍ ژبې له لغوي تعريفه راووځو، نو د مورنۍ ژبې اصطلاح پر آر پېژند يې سربېره، نورې ضمني معناوې هم لري، د ژبې د تعريفونو په لړ کې مو يو دا تعريف هم لوستی و چې وايي ژبه يوه ټولنيزه، کسبي او ثقافتي پديده ده، نبايي دا تعريف تر ډېره

د ژبې د چاپېریال او زده کولو په برخه کې متمرکز وي، خو کله چې د ثقافت خبره کېږي، نو له شک پرته چې ژبه د یو فرد هویت هم شو او مورنۍ ژبه د فرد په فرهنګي او توکمیزه پېژندګلوۍ کې بارزه ده. هویت له مورنۍ ژبې سره غوټه دی یا که وواېو: مورنۍ ژبه د یو ملت د هویت او پېژندګلوۍ ژبه ده، نو په دې خبره کې به مبالغه نه وي.

د ژبې هویتي بحث که لږ نور هم وغځوو، نو باید ووایم چې دا هویت هېڅکله نه مسخه کېږي، آن که فرد خپله ژبه هم وبایلي، مګر بیا یې هم خلک هماغه ټبر او قوم ته منسوبوي، د نمونې په توګه: که پښتو ژبه یاده کړو، نو د هند په لویه وچه کې چې پښتنو لسګونه کاله واکمني کړې او نسلونه یې هلته مېشت وو/دي، اوسمهال یې نورې هندۍ قبیلې خانان او پټانان/پټان بولي، که څه هم مطلق اکثریت یې پښتو ژبه هېره کړې او ممکن د ګوتو په شمېر کورنۍ یې په پښتو ژبه څه نا څه خبرې وکړای شي. دا چې ولې پرې نه پوهېږي، د دې عوامل چاپېریالي اغېزې دي او ترڅنګ یې پر مورنۍ ژبې د زده کړو نه شتون او نور فرهنګي عوامل هم کېدای شي، نو په ټوله کې ویلی شو چې مورنۍ ژبه تر ټولو غوره او مهمه اله ده چې یو کس خپل شناخت پرې وساتي او له خپل کلتور سره پرې اشنا وي.  په نړۍ کې دا وخت انګلیسي ژبه د علم او نړیوالې سوداګرۍ، د ښوونې او روزنې او د هر ډول موضوعاتو د موندلو پراخې منابعې لرونکې ژبه ده، خو  له دې ټولو سره سره موږ ته د خپلې پښتو ژبې غنامندي او د دغه هویت ساتل تر ټولو مهم ارزښت دی. دا ډېره ښه خبره ده چې سړی مختلفې ژبې زده کړي، ځکه چې دا د نورو هېوادونو او سیمو له خلکو سره د اړیکو ساتلو لپاره مرسته کوي، خو باید د خپلې پېژندګلوۍ مهم اړخ، یعنې مورنۍ ژبه چې زموږ د لومړنۍ زده کړې بنسټ هم دی، هېره نه کړو. د کاناډا د ټورنټو پوهنتون پروفیسور ډاکټر جیم کیومنز وایي: هغه کوچنیان چې خپله مورنۍ ژبه یې ښه زده وي، په ښوونځي کې د نورو ژبو د زده کولو ښه استعداد لري. مورنۍ ژبه یوه کس ته دا استعداد ورکوي چې ښه او عالي فکر ولري او په اسانۍ سره وکولای شي په نورو علومو برلاسي پیدا کړي. نیلسن منډیلا وایي: که له یو چا سره په داسې ژبه خبرې وشي چې هغه پرې پوه شي، نو ستا خبره به د هغه مغزو ته ولوېږي، خو که له هغه سره د هغه په مورنۍ ژبه خبرې وکړئ، نو دا به د هغه زړه ته ولوېږي. (۹: ویب).

د پورته خبرو په تائید  سره په نورو علومو د برلاسي کیلې په مورنۍ ژبه لومړنۍ زده کړې کول دي او په مورنۍ ژبه زده کړه د یو فرد بشري حق هم دی او دا حق باید په هره ټولنه

کې د امکان تر حده خوندي شي، دا چې دا حق به څنګه ترلاسه کېږي، د فرد، ټولنې او حکومت مسئولیت په کې څه دی، دا به وروسته بحث او روښانه کړو، خو اوس پر دې خبرې کوو چې د یوه ماشوم ذهني صلاحیت او وړتیا په کوم حد کې ده؟ د زېږېدو پر مهال ماشوم شاوخوا درې نیم څلور کیلو ګرامه وزن، شاوخوا نیم متر قد او یوازې دومره غریزي پوهه لري چې د مور تی رودلای شي، خو څلوېښت کاله وروسته یې ممکن وزن اتیا یا سل کیلوګرامو ته ورسېږي، ونه(قد) یې ممکن تر دوو مترو لوړه شي او شعور یې ښایي تر دې حده لوړ شي، چې ملتونه رهبري کړای شي او یا په فضایي بېړۍ کې سپوږمۍ ته وخېژي، خو دا هر څه به په تدریجي شکل ممکن کېږي او ټولنه به د فرد وړتیا ته په کتو پر هغه بار او پیټی ور اچوي.

که څه هم افغانستان څو ژبیز هېواد دی، خو که مور یو پښتو ژبی زده کوونکی، د بېلګې په توګه وټاکو، چې د لیک او لوست ژبه یې پښتو نه ده او د پښتو پر ځای په دري، انګریزي او یا هم په اردو ژبه لیک لوست کېږي، نو په دغسې یو ماحول کې به یو پښتو ژبی زده کوونکی لومړی علم زده کوي که ژبه؟ طبیعي ده چې لومړی به ژبه زده کوي او بیا علم، نو دلته ځیر شئ چې ایا په دغه زده کوونکي کې دا ذهني وړتیا شته چې هممهاله هم ژبه زده کړي او هم علم! آن که یو نابغه شاګرد هم وي، نو دا چاره ورته نهایت سخته او ګرانه ده، ځکه: « مورنۍ ژبه که له یوې خوا د هویت او سیاسي ځواک خبره ده، له بله پلوه د کوچنیانو د ژوند مسئله ده. مور کله نه پوهېږو، خو پر خپلو کوچنیانو ظلم کوو، کوچني ان باید لومړنۍ زده کړې په مورنۍ ژبه وکړي، چې ورته اسانه وي، خو مور یې په دې خاطر چې سبا پیسې پیدا کړي، د نورو ژبو په ښوونځیو کې اچوو او هغه غریب دې ځنګل ته یوازې ورخوشې کړو.

مور فکر کوو، چې که کوچنی مو په انګلیسي، دري یا اردو ښوونځی ووایي، پرمختګ به وکړي؛ خو خبر نه یو، چې په اصل کې د هغه د پرمختګ مخه نیسو. هر کوچنی چې زده کړه کوي، باید د ژبې ستونزه یې هواره وي، چې په اسانه علم زده کړي او دا یوازې په مورنۍ ژبه ممکنه ده. که د کوچني د زده کړې ژبه پردۍ وي، کوچني ته دوه ننګونې مخکې ولاړې دي، یوه د ژبې زده کړه او بل د علم زده کړه. کوچنی باید هممهاله دا دوه هېندوانې په یوه لاس کې ونیسي، چې دا که ناشونې نه ده، ډېره سخته ده.» (۸: ویب)

په دري کې یوه اصطلاح ده وایي: «یادگیری، درگیری است» هر څومره چې یو شاگرد ښکېل او درگیر کړو، هومره هماغه لوست ښه زده کولای شي، خو دا ښکېلتیا به له شرایطو، د ټولنې له فرهنګ، ښوونیز چاپېریال او د شاګرد د ذهني وړتیا او فزیکي ودې سره متناسبه او د شاګرد په مورنۍ ژبه وي.

که موږ یو پښتون زده کوونکي ته چې په لومړنۍ یا ابتدائیه دوره کې زده کړې کوي او د ښوونځي ژبه یې دري، انګریزي او یا هم اردو وي، نو که د (dog، cow، یا په اردو کې د کتا، گائے، یا هم د دري، سگ، گاو،) ور زده کوو، نو په پیل کې یې ورته زده کړه سخته ده، که څه هم دا حیوانات به یې په چاپېریال کې وي، خو که همدا کلمې موږ ورته د (سپي او غوا) په نومونو ور زده کوو، نو دا سربېره پر دې چې د ماشوم په چاپېریال کې دي، د ماشوم په مورنۍ ژبه کې هم شته او زده کوونکی د ښوونځي تر پیل مخکې ور سره اشنا هم دی، نو که یې په بله ژبه ور زده کوو، نو ماشوم اړ دی چې لومړی دا کلمه زده کړي او بیا یې شکلونه په خپل چاپېریال کې تصور کړي. د بېلګې په ډول: که همدا کلمې یوه داسې شاګرد ته چې د هغه مورنۍ ژبه دري، اوزبیکي، ترکمني او یا هم نورستاني وي، نو له شک پرته د دغو کلمو زده کړه ورته سخته ګڼلی شو.

له پورته بېلګې څرګنده شوه چې په بله ژبه یا له مورنۍ ژبې پرته ژبه باندې زده کړه کې به لومړی شاګرد ژبه او بیا علم زده کوي، خو که چېرته د علم ژبه یې مورنۍ ژبه وي، نو د زده کوونکی په شعوري وده او ذهني پراختیا کې یې نقش ډېر اغېزناک دی، خو که په بله ژبه وي، نو موږ په شعوري توګه ماشوم په ذهني خوارځواکۍ اخته کړ. پر ژبې یا ټولنیزو علومو سربېره په مورنۍ ژبه زده کړه په ساینسي مضامینو کې هم مهمه ده او شاګرد په ډېرې اسانۍ سره کولای شي، چې ساینسي مضامین هم په پوره لېوالتیا زده کړي. « څېړنې ښيي، چې بریالۍ زده کړه په مورنیو ژبو ده، مثلاً، موږ په خپلو بچو ساینس زده کوو. د ساینسي مضامین که پردۍ ژبه وي او مثلاً کوچني ته مو استاد په پردۍ ژبه لمریز نظام تشریح کړي، ګټور به وي، که په پښتو یې ورته ووایي، ښه به وي؟ یا مثلاً هندسي بڼې په انګلیسي ښې زده کولای شي، که په پښتو چې مثلث درې ګوټه یا کونجه لري او مربع څلور ګوټه او دایره ګرده وي؟ دا ښيي، چې علم په مورنۍ ژبه ښه زده کېږي. په کومو ځایونو کې چې ښوونځي په پردیو ژبو دي، هلته علمي وده کمزورې ده. زیاتره کوچنیان چې پردۍ ژبې ورته سختې وي، له ښوونځیو زړه توري شي او په یوه نه یوه پلمه

يې پرېږدي. په داسې ټولنو کې علم مازې د متن تر لوست محدود پاتې شي او ربښتینی علم چې د ټولنيز شعور په لوړولو کې کوم نقش لوبوي، هغه ونه لوبوي او داسې له سواد سره ټولنه بېسواده پاتې شي، ځکه چې مازې د يوه مضمون متن يې حفظ کړی وي، په محتوا او معنا يې نه پوهېږي او دا ځکه چې پر محتوا يې د پردۍ ژبې درنه پرده غوړېدلې وي. همدا لامل دی، چې زياتره خلک دا شک کوي، چې په پرديو ژبو د ښوونځيو موخه له خپل قوم نه د کوچني پردي کول نه دي، بلکې د بېسواده او بې شعوره ساتلو يوه لار هم ده.» (۸: ويب)

د پورته خبرو په تائيد غوره او غېزناکه زده کړه هغه ده چې د فرد ټولنيز شعور ته وده ورکړي او ټولنيزه بيداري رامنځته کړي. دا چې افغانستان د ژبو له پلوه يو داسې هېواد دی چې پر دوه ملي او رسمي ژبو سربېره پکې نورې کوچنۍ ژبې هم شته او لا هم پر دغو ژبو د زده کوونکو لپاره اثار او کتابونه کم موندل کېږي، نو د تدريس يا زده کړې په پروسه کې زده کوونکي په مورنۍ ژبه د زده کړې له نعمت بې برخې دي او د نورو ژبو چې هغه ژبې حاکمې دي، دوی هم د يو مجبور حالت له مخې په هماغه ژبه زده کړې کوي، چې په لومړيو يا ابتدائيه دوره کې ورته دا چاره له ننګونو ډکه ده، ځکه چې د علم ژبه مورنۍ ژبه نه وي، نو فرد مجبور دی چې هم ژبه زده کړي او هم په کې علم او که په يو وخت دا دواړه کاره ممکن وي، مګر نهايتاً سخت هم وي.

دا چې د مقالې محوري بحث په مورنۍ ژبه په زده کړه او پر شاګردانو يې پر اغېزو ور متمرکز دی، خو موږ اړ يو چې ځينو داسې مسايلو ته هم ضمني اشارې وکړو چې هغه له ژبني سياست سره تړلي دي، که څه هم دمخه دا خبره واضح شوه چې زموږ هېواد ګڼژبيز دی او هر وګړی يې حق لري چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي او په دې اړوند ورته د زده کړې فرصتونه برابر شي، خو دلته که موږ د پښتو ژبې اړوند خبره کوو، نو موخه مو دا ده چې پر دغه ژبه زده کړه يا د دې ژبې ويونکو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو نه شتوالی ګڼ عوامل لري چې ځينو ته يې ضمني اشاره کوو.

ليکوال او څېړونکی مولينا قيام الدين خادم په پښتو کې خط او کتابت ته نه پاملرنه په ډېر هنر نقد کړي دي او د هغه په باور د پښتنو د ژوند او ژواک کابو ټولې چارې د پښتو په رنګ رنګينې وي او پښتو د پښتنو ژبه وه، خو يوازې په شفاهي ډول، نه د ليک په صورت. په پښتنو کې علم او ليک و، خو په پښتو نه و، په نورو ژبو و، دا کمی يوازې زموږ

په عصر کې نه و، سوريان، غوريان، لوديان او ابداليان هم د دې کمي په پوره کولو کې نه وو بريالي شوي، دوی به په کورونو او ولس کې پښتو ويله، خو چې د دفتر او کتاب خبره به راغله، نو دا ځای به نورو ژبو نيولی و.» (۳: ۴۲۸ - ۴۲۹ مخونه)

خو لسګونه کاله وروسته لا هم پښتو چې څه ډول لازم وه د خط، کتابت، ښوونې او روزنې هغسې ژبه نه شوه چې څه ډول يې د خادم صاحب د دوران پوهانو هيله او ارمان درلود. که څه هم پښتو ژبې په بېلابېلو اړخونو په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې، ژبو او ادبياتو، رسنيو او نورو برخو کې ډېر ښه او اغېزناک پرمختګ کړی دی او په پښتو ژبه د سلګونو په شمېر کې آثار او کتابونه خپاره شوي دي، خو بيا هم له فرهنګي ننګونو سره يوه مخ ملي ژبه ده.

په مورنۍ ژبه زده کړه او نور ټولنيز چوپړونه د يو فرد ټولنيز او بشري حق دی او دا حق په هره ټولنه کې د مدني قوانينو په چوکاټ کې حفظ او خوندي وي، خو بريالۍ ټولنې هغه دي چې له خپل دغه حق څخه په مېړانه دفاع وکړي او د غوښتنو لپاره يې معقوله او مسئولانه مبارزه وکړي.

د افغانستان د وروستي جمهوريت يا د امريکايي اشغال د دور د اساسي قانون دويم څپرکی چې د اتباعو اساسي حقوق او وجايب تفسيروي، (۴۳ ماده) يې حکم کوي چې تعليم يا زده کړې د هر افغان حق دی او دولت اړ دی چې هر افغان ته د هغه په مورنۍ ژبه په دولتي تعليمي بنسټونو کې په وړيا توګه د ليسانس تر کچې د زده کړو زمينه برابره کړي. «زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د ليسانس تر درجې پورې وړيا د دولت له خوا تأمينېږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تأمين لپاره اغېزمن پروګرام طرحه او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سيمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي.» (۴: ۱۲ – ۱۳ مخونه)

پورته ذکر شوې ماده چې د زده کړو د متوازن حق حکم کوي، هم په پراخه کچه نقض شوې وه او له بده مرغه اوس هم نقض ده، ځکه لا هم زموږ په ښوونځي او پوهنځي کې زده کوونکي او محصل ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق نه دی ورکول شوی او پښتو ژبې شاګرد او يا هم د بلې ژبې شاګرد چې په هغه ژبه کې يې درسي مواد نه دي تحرير شوي، نو زده کوونکی او محصل د يو مجبور حالت له مخې اړ دی چې په بله ژبه لومړنۍ،

منځنۍ، ثانوي، لوړې او نیمه لوړې زده کړې وکړي، دغه حالت تر ډېره د هېواد په پلازمېنه، هرات، بلخ او ځینو نورو شمالي ولایتونو کې حاکم دی، خو بله خوا د ننګرهار په فرهنګي حوزه، خوست، پکتیا او کندهار کې بیا درسي مواد په پښتو او د تدریس ژبه هم پښتو ده، خو په کابل کې که څه هم په تېرو شلو کلونو کې د مشرانو او ولسي جرګې غړو او ځینو مدني ټولنو د پښتنو لپاره د حقوقو په ځانګړې توګه په کابل کې د پښتو ښوونځیو د جوړولو لپاره مدني مبارزه وکړه، خو له بده مرغه هومره مثبته پایله یې ور نه کړه، څومره چې اړتیا وه او ده.

دا چې په تېر جمهوریت کې ولې په مورنۍ ژبه د زده کړې حق نه دی ورکول شوی، له ګڼو لاملونو یې څو دا دي چې په افغانستان کې قانون په عادلانه ډول نه تطبیق کېده، اوس هم په مورنۍ ژبه تدریس کم دی، ښوونکي او استادان هم د مورنۍ ژبې زده کړې ته خاصه توجه نه کوي، په مورنۍ ژبه د زده کړې لپاره کافي درسي مواد نه دي برابر شوي، د کادرونو او شعور کمی، د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو په تېرو وزیرانو، مرستیالانو او نورو کې محافظه کاري او مصلحتونه، عمومي فقر او وروسته پاتې والی او ګڼ نور عوامل هم لري. (٦: ٢٧ مخ)

د ښوونې او روزنې معاصر پوهان هم په دې باور دي چې په مورنۍ ژبه زده کړه، د زده کوونکي په ذهني وده او شعوري پوهاوي کې ستره ونډه لري او دا اصل د ښوونې او روزنې له اساسي موخو ګڼل کېږي. د ښوونې او روزنې دنده دا ده چې په کوچني، یعنې شاګرد کې ذهني، رواني او مخسوس جسمي تغییرات راولي، او دا تغییرات هله راځي چې شاګرد په مورنۍ ژبه لومړنۍ زده کړې وکړي، ځکه د ده ذهني وده په مورنۍ ژبه له زده کړو سره تړلې ده، د ښوونې او روزنې بله موخه دا ده چې شاګرد په ملي او اسلامي ارزښتونو وپوهوي او دا هم ور زده کړي چې کوم توکي او مسایل له ژبني اړخه پر دوی تېرې دی او د دغه فرهنګي یرغل او ژبني تېري مخنیوی څنګه او له کومو لارو ممکن دی. (٧: ١٨ مخ)

د شاګرد ذهني، رواني او جسمي وده یوازې په ښوونې متمرکزه نه ده، بلکې دلته تر ښوونې د روزنې یا تربیې اصل هم مهم او د پام وړ دی او د شاګرد په روزنه کې د هغه پر کورنۍ (مور او پلار) سربېره د هغه د ښوونځي، ټولګي، ښار، بازار، کوڅې، پارک او نور هغه ځایونه مهم نقش لري چې شاګرد ورسره په مستقیم او غېر مستقیمه توګه تماس کې

وي. په کابل، هرات، بلخ او نورو ولایتونو کې که پښتو ژبه د بېلګې په توګه را واخلو، نو زده کوونکی د زده کړې په پروسه کې له ګڼو کړاوونو سره مخامخ دی، د کتاب ژبه پښتو نه ده، ښوونکی په پښتو نه پوهېږي، د پښتو مضمون داسې یو استاد تدریسوي چې پښتو د هغه استاد مورنۍ ژبه نه ده، درست افهام او تفهیم پرې نه شي کولای، ټولګیوال هم دغسې دي واخله، په کوڅه، ښار، بازار، پارک او نورو ځایونو کې هم، نو له شک پرته دغه ټولې مسئلې د ده پر ښوونه او روزنه منفي اغېزې ښندي. موږ باید د ماشوم د احساساتو درناوی وکړو، مګر زموږ په ټولنه کې خبره برعکس ده، موږ ماشوم له بېلابېلو اړخونو تر فشار لاندې نیولی او سربېره پر دې چې د احساساتو او غوښتنو درناوی یې نه کېږي، بلکې د کورنۍ نارضایتي، د هغه پر روان یو بل درونډ ګوزار دی، خو موږ دا نه درک کوو چې هغه په ښوونځي کې له دوه ننګونو سره مخامخ دی او هغه ننګونې یوه د ژبې زده کول او بل بیا د علم زده کول دي.

ترڅو چې موږ شاګرد ته په لومړۍ دوره کې علم د هغه په مورنۍ ژبه ور زده نه کړو، موږ باید له هغه خپل توقعات معقول حد ته راښکته کړو. پر هغه د فشار، ګواښونو او تحقیر پر ځای، هغه ته د تشویق او هڅونې ادبیات وکاروو. زما د مشاهدې له مخې په کابل او نورو هغو سیمو کې چې د پښتنو، اوزبیکو، ترکمنو، نورستانیانو او نورو لپاره د تدریس پروسه په مورنۍ ژبه نه ده، په کانکور ازموینه کې د محصلانو د بې پایلې پاتې کېدو له ګڼو عواملو څخه یو عمده لامل، همدغه مورنۍ ژبه ده چې شاګرد ترې د تدریس په پروسه کې محروم ساتل شوی دی. د ټولنې د یو روښاندي په وینا چې زوی مې په کابل کې د انګریزي ژبې په یو کورس کې شامل کړ، څه موده وروسته مې وکتل چې زوی مې هر انګریزي لغات او جملې ته معنا په دري ژبه لیکلې ده او کله مې چې وپوښت چې دا درته چا لیکلې، نو وې ویل چې دا د انګلیسي ژبې استاد، نو ما ورته وویل چې ستا خو دري هم نه ده زده، نو اوس به انګریزي او دري دواړه زده کوې؟ ویل یې زوی مې وویل، هو ځکه د انګریزي استاد په پښتو نه پوهېږي. تاسې فکر وکړئ، ښایي ځینې ووایي چې دري خو هسې هم زده کوي، نو څه ستونزه ده. د ځینو نوابغو زده کوونکو ته به ستونزه نه وي، خو د یو بل شاګرد لپاره چې ذهني صلاحیت یې محدود وي، دا ډېر ګران او له فشاره ډک کار دی. د شاګرد د روزنې یو بل اړخ د هغه د هڅونې بحث دی، زموږ د پښتنو زیاتره کورنۍ ډېرې متشددې او مستبدې دي او د هماغه زوږ او فرسوده درسي میتود

پلوي کوي وايي: (چې چېرته ډب نه وي هلته ادب نه وي)، خو د ښوونې او روزنې معاصر میتودونه د تشدد، تادیبي سزاګانو او ګواښلو پرځای د شاګرد د تشویق او د هغه د بري لپاره، هغه ته د مکافاتو پر ورکړه ټینګار کوي. جان لاک وایي، که له ماشوم سره سمه رویه غوره کړو، نو د سزا لپاره کوم مورد نه پاتې کېږي، که د ماشوم په مقابل کې له زور او تشدد څخه کار واخلو، نو ماشوم خپله طبعي خوشحالي له لاسه ورکوي او د زده کوونکي جسم او روح ته تاوان رسوي. (۵: ۱۲ مخ)

د ښوونې او روزنې اړوند د جان لاک د نظریې په پلوی، له شک پرته طبعي خوشحالي د فرد په اختیار پورې تړلې ده، خو زموږ د کورنیو جوړښت بیا داسې دی چې د فرد اختیار تر ډېره د کورنۍ په خوښې پورې تړلی دی، که د کورنۍ له خوښې دې سرغړونه وکړه، نو دا بې احترامي ده او منفور به شې، خو که دې د دوی د خوښه ومنله، نو ته یو منونکی فرد یې او کله چې دې له کورنۍ سره ټکر راغی، نو حتمن له تشدد سره مخامخ کېږې، کله چې تشدد کېږي، طبعي ده چې عقده هم رامنځته کېږي او کله چې انسان عقدیي شو، بیا یې نو اصلاح ډېره ګرانه ده. تاسې به ګڼ داسې ځوانان لیدلي وي چې د هغوی د نیمګړو زده کړو یا تعلیم نه کولو یو لامل په ښوونځي او مدرسه کې د ښوونکو تشدد، وهل ټکول او شکنجې دي. که څه هم خوشحال خان خټک څه باندې څلور سوه کاله پخوا د تعلیم په پروسه کې تشدد نفي کړی دی او له شاګرد سره په ښه چلند او سبق ته د هغه په هځونه ټینګار کوي، « په سبق هم چې استاد لره ور شي، په اول سبق دې وبخښل شي، معلم دې ورسره هنر کا چې ازار یې نه کا، د ده په زړه دې ور سره وچلېږي.» (۵: ۱۳ مخ)

د خوشحال خټک دغه نظریه له شلمې پېړۍ را په دې خوا د نړۍ په شرق او غرب کې منل شوې، د ښوونې او روزنې معاصر پرنیسپونه هم د زده کړې په پروسه کې پر عدم تشدد ټینګار کوي او په تعلیمي نصابونو کې یې دا چاره پلې کړې هم ده، د تشدد چاره ډېر زیانونه لري، پرځای د دې چې موږ د شاګرد ذهني وده او ذهني انکشاف په نظر کې ونیسو، موږ د تشدد له لارې یوازې په حفظ کولو ټینګار کوو، د دغه ډول زده کړې یو تاوان دا دی چې فرد علمي وده نه کوي، زده کړه دایمي نه وي او څه موده وروسته هېرېږي. یعنې زموږ په ټولنه کې پر مورنۍ ژبه د زده کړو له حقه پر محرومتوب سربېره، روحي او فزیکي شکنجې نور هغه عوامل دي چې د زده کوونکو د زده کړو، ښوونې او روزنې پر وړاندې یې خنډونه ایجاد کړي دي.

پر هر حالت په مورنۍ ژبه د زده کړې حق، په نړیواله کچه یو منل شوی بشري حق دی او یونیسکو هم په همدغه موخه د فیبرورۍ ۲۱ مه د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په توګه نمانځي او له دغه کار یې هدف دا دی چې مورنۍ ژبې، ژوندۍ، تقویه او د فرد هویت او پېژندګلوي په کې خوندي پاتې شي. په افغانستان کې له ډېرو نورو ستونزو سره سره موږ د دې هم شاهدان یو چې خلک د زده کړو، کار، ښه ژوند، کورنیو شخړو او نورو مجبوریتونو پر اساس کډوالۍ ته مخه کوي. که دغه کډوالي په هر دلیل وي، که د کار او ګټې وټې لپاره وي او که د بلې موخې لپاره، خو دا څرګنده ده چې په بل هېواد کې ژوند د هغوی په مورنۍ ژبه بده اغېزه کوي. همدا لامل دی چې یونیسکو هم په مورنۍ ژبه د زده کړو په ځانګړې توګه د زده کړې په لومړنۍ یا ابدائیه دوره کې ډېر ټینګار کوي.

## پایله

د دغې مقالې د پایلې په برخه کې وایم، هره ژبه چې علمي وده وکړي او علمي لمنه یې ارته وي، نو هغه ژبه د نړۍ د هر فرد لپاره ګټوره ده، ځکه د علم منبع په کې ده او څوک چې علم زده کوي، هغه به هغه ژبه حتمي زده کوي. په نړۍ کې انګریزانو، عربانو، فرانسویانو، المانیانو او ځینو نورو قومونو په دغه برخه کې اغېزناک مزل کړی او د خپلې مورنۍ ژبې حق یې په ټوله معنا ادا کړی دی. پښـــتو هم چې یوه لرغوني او ژوندۍ اریایي ژبه ده، د میلیونونو په حدودو کې وګړي پرې خبرې، افهام او تفهیم کوي، نو وګړي یې حق لري چې په دغه ژبه زده کړې وکړي، خپل تاریخ، فرهنګ، مذهبي روایتونه او آن سـوداګریزې او حقوقي راکړې ورکړې هم پرې خوندي کړي. زما په ګومان د دغې ژبې د حقوقو په برخه کې لومړی حق د دغې ژبې ماشـــومانو او هغوی ته ورکړل شي چې پښـــتو یې مورنۍ ژبه ده او دا حق که په کورنۍ کې ورکول شـــوی، نو په ښوونځي، مدرسه او پوهنتون کې دې هم، ښه په مېړانه ورکړل شي؛ ځکه دا یې یو منل شوی بشـــري حق دی او څوک چې له وګړو دغه حق تروړي، زما په باور دا د خیانت په حد کې حسابېدلی شي.

که موږ له راتلونکې نسله دا تمه لرو، چې په ټولنیزو، ساینسي او نورو علومو کې لاسته راوړنې ولري او په دغو ډګرونو کې ســورمخی پاتې شي، نو لږ تر لږه د لومړنۍ دورې زده کړې دې په مورنۍ ژبه وکړي، ځکه دا دوره د ماشـوم د ذهني ودې پیلامه ده او ذهن له شـــک پرته په مورنۍ ژبه تعلیم کې تر بلې ژبې ژر او ډېر غوړېږي. نو په ټوله کې ویلای

شــو چې په ښــوونه او روزنه کې د مورنۍ ژبې اړتیا ډېره زیاته اړینه ده، ځکه دا د فرد په شعوري وده کې مرسته کوي او په کار ده چې تعلیمي او تحصیلي اداري په دغې برخې کې خپل مسئولیت ته ځیر شي؛ ځکه لا هم موږ په مورنۍ ژبه د کتابونو له کمښت سره مخامخ یو، په مورنۍ ژبه د ښوونکو د کمښت ستونزه شته او ګڼې نورې ستونزې هم شته چې په مورنۍ ژبه د زده کړو بهیر یې پیکه او ټکنی کړی دی.

## وړاندیزونه

ژبې په فردي هڅو نه بډایه کېږي، ځکه د ژبې علمي وده، ډېله ییز کار غواړي او دا کار یوازې د ژبې په متخصصینو پورې هم محدود نه دی، د ژبې متخصص دا دنده لري چې د ژبې ګرامري جوړښت او د کلمو په رغونه کې مسؤلانه مرسته او چلند وکړي، خو په دې برخه کې ډاکټر، انجنیر، حقوقپوه، اقتصاد پوه، ساینسپوه، تاریخپوه، ارواپوه، ټولنپوه او د هرې څانګې متخصص ته بویه چې د خپلې ژبې دپیاوړتیا  او پراختیا لپاره په خپل مسلک کې علمي هلې ځلې وکړي، ځکه ژبه په علمي آثارو او علمي خدمت ښکلې او منلې ده . پر دې سربېره، دولتونه او واکمن باید د پوهانو او څېړونکو لپاره مادي او معنوي اسانتیاوې برابرې کړي، د دوی د هڅو ملاتړ او قدرداني وکړي او په ټوله کې د مورنیو ژبو د ودې لپاره په دولتي کچه یو ستر میکانیزم او انکشافي پلان موجود وي چې علمي او فرهنګي مرکزونه د هماغه پلان پر اساس د ژبو خدمت ته مټې را بډ وهي.

## مأخذونه


١. تڼیوال، مولاجان. «ژبه ماشومان را وینبوي»، کابل مجله، ۹ ـ ۱۰ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۸۳ کال.

٢. څولیزی، محمد عثمان. ژبپوهنیز سـیند، د افغانســتان د علومو ا کاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۴۰۱ ل کال.

٣. خادم، قیام الدین. (رڼه چینه)، لومړی ټوک، د لعل پاچا ازمون په زیار، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ١٣٩٦ کال.

٤. د افغانســتان اســاسي قانون، ۴۳ مه ماده، د عدلیې وزارت، د رسـمي جریدې ۸۱۸ ګڼه: کابل، ۱۳۸۲ ل کال.

۵.روهي، محمد صدیق. «د خوشحال د ښوونې او روزنې فلسفه»، کابل مجله، ۱ـ ۲ گڼه، افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست:کابل، ۱۳۸۱ کال.

۶. شینواری، محمد ابراهیم. «د پښتنو تعلیمي او کلتوري شاته پاتې والی، سببونه او حل لارې»، (پښتون په تراژیدۍ کې، د سیمینار د مقالو ټولگه)، د افغانستان ملي تحریک – فرهنگي څانگه، کابل، ۱۳۹۳ ل کال.

۷.ښاد، نصیر احمد. میتودولوژي، (څلورم چاپ)، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۹ کال.

۸.ښکلی، دکتور اجمل. «پر خپل کوچني او خپله ژبه زړه وسېزئ»، تاند ویبپاڼه، ۲۱/فبروري/۲۰۲۲، لاسرسی: https://taand.net/?p=۲۰۵۲۲۳، (را اخېستنه، ۱۴۰۲/٦/۱۳ ل.)

۹.ناصري، هما. «مورنۍ ژبه د انسان د پېژندنې مهمه برخه»، بي بي سي پښتو ویبپاڼه، ۲۱ فبروري ۲۰۱۴، لاس رسی: https://www.bbc.com/pashto/interactivity_st_mothr_language_homa، (را اخېستنه: ۱۴۰۲/٦/۲۴ ل).

پوهنمل میرویس خالقیار

# د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي تذکرو محتوایي څېړنه

# The content Analysis of Professor Sidiqullah Reshteen's Autobiography

Assistant Prof. Merwais Khaliqyar

**Abstract**

Formally and from the content point of view the third section of the current authors of Pashto, second section of Pashtun poets, well known poets, well known scholars and zealous, vigorous poets and the history of Pashto prose are completely literary autobiographies. After this some other similar biographies as (the life of Mohtamim, risen stars, biography of Ali Khan, Biography of Hameed and mine struggles) are the collections of the author written in different cases.

Professor Reshteen has written around 545 comprehensives and the particular autobiographies of well-known authors and poets, which are formally and contently pair less among the other authors. There for in the contemporary literature of Pashto he has dedicated various types of prose and verses that covers different subjects and topics. So for he should stand and come in the first grade lyricist and authors of Pashto language.

## لنډیز

د استاد رښتین د لیکلو ادبي تذکرو بڼې او منځپانګې ته په کتو سره ویلی شو، چې

لومړنۍ شپږ ادبي تذکرې ( پښتو ننني ليکوال درېيمه برخه، پښتانه شعراء دويم ټوک، نوميالي شاعران، نوميالي پوهان او غازيان، پياوړي شاعران او د پښتو نثر هينداره) چې په دې ليکنه کې پېژندل شوي، بشپړې ادبي تذکرې دي. له دې وروسته چې کومې تذکره ډوله ليکنې ( د مهتمم ژوند، روښان ستورې، د علي خان پېژندنه، د حميد پېژندګلوي او زما هلې ځلې) درپېژندل شوي هغه د داسې ليکنو راټولې شوې ټولګې دي، چې ليکوال په بېلابېلو مناسبتونو ليکلي دي، چې موږ ورته بشپړې ادبې تذکرې نه شو ويلای. استاد رښتين په ادبي تذکره ليکنه کې لوی لاس لري، چې دده په وينا په ټوله کې د( ۵۴۵ ) تنو ليکوالو او شاعرانو غوره، پوره او کره ادبي تذکرې يې ليکلي چې هم د کميت او هم د کيفيت له مخې په خپلو هم مهاله ليکوالو او ادبي څېړنکو کې مخکښ دی. له همدې امله زموږ په معاصر ادب کې د يوه پياوړي او حقدار په توګه، چې د پښتو ادب ځولۍ ته يې په خپل فرهنګي او ادبي ژوند کې د نظم او نثر ( ادبي پنځونو او هر اړ خيزو څېړنو) ډېر تازه ګلونه ډالۍ کړي دي، چې په همدې وجه د پښتو ادب په اسمان کې په لومړۍ ليکه کې د درېدو ځای لري.

## سريزه

پوهاند صديق الله رښتين د ډېرو علمي او ادبي آثارو ليکوال او ښوونکی دی، د ښوونځيو درسي نصاب پښتو کتابونو ليکوال او د پښتو ادب ستر څېړونکی هم دی، چې د پښتو ژبې پر لسګونو علمي، ادبي، تاريخي او معلوماتي ځانګړو چاپ او ناچاپ آثارو سربېره په سلګونو څېړنيزې او معلوماتي مقالې يې په چاپي رسنيو کې خپرې شوې، چې د علم او ادب د مينه والو په واک کې دي. ادبي څېړنې د استاد د ليکوالۍ ډېره پخه او درنه برخه ده، چې د ژوند زياته موده يې د زړه په مينه او وينه پاللې او تر دې پړاوه يې رارسولې ده، په دې ادبي څېړنو کې يې ادبي تذکره ليکنه ځانله روښانه باب دی، چې ښايي په دغه ډګر کې يې له بل هر پښتون ليکوال او څېړونکي نه په ځان ډېرې سترې تېرې کړي او په ډېرو ارزښتناکو آثارو يې د پښتو ادب پانګه درنه کړې ده. زه دلته د نوموړي په تذکره ليکنه لنډ او ځغلنده بحث کوم، خو دمخه تر دې چې د هغه په تذکره ليکنه بحث وکړم او د ادبي ليکنې د لړۍ بېلابېلې کړۍ يې در وپېژنم، په خپله د ادبي تذکرې لنډې پېژندنې او د ليکنې اصولو ته تم کېږم، چې د هغو په رڼا کې د استاد د ادبي تذکره ليکنې د بهير په څرنګوالي بحث وکړای شم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

پوهاندرښتین د پښتو ژبې او ادب ښه لیکوال، شاعر، څېړونکی، ژباړونکی، کره کتونکی او پوخ استاد دی، نو په همدې اساس مې وپتېیله چې د ده ادبي لیکنې په تېره ادبي تذکرې راوسپړم، دا سپړنه او څېړنه به د پښتو ادب په څېړنیز اړخ کې یوه مناسبه زیاتونه وي. بله دا چې د ادبیاتو زده کوونکو او څېړونکو ته به د پوهاند رښتین ادبي چوپړ، هنري هڅو او څېړونو په اړه یوه ځانګړې لار شتون ولري چې هغوی ته د زده کړې او څېړنې لپاره یو څه اسانتیا او روښانتیا چمتو شوې وي. یو ارزښت یې دا هم دی چې د ده له ادبي هڅو او چوپړ نه به نور عام د مطالعې مینه وال او هېواد وال خبر شي، د ده ترسره کړي کارونه به د ادب مینه والو ته ښه روښانه شي، چې په راتلونکي کې به ترې مطلوبه استفاده وکړي. همدارنګه به د پښتو ادب په ادبي پانګه کې د رښتین د ادبي تذکرو د تحلیل په نامه یوه ځانګړې او مستقله لیکنه وشي چې د ادب مینه وال به په راتلونکې کې د ادبي تذکرو د تحلیل او څېړنې په برخه کې ور څخه ګټه واخیستلای شي، ځکه چې د ادب تاریخ د لیکنې لومړی لاس منابع همدا ادبي تذکرې دي، که ښې تحلیل نه شي ارزښت او اهمیت یې په ډاګه نه شي، نو د ادب تاریخ لیکوال به د ادب تاریخ د لیکلو په وخت له زیاتو ستونزو سره مخامخ شي.

## د څېړنې موخې

د دې علمي - څېړنیزې مقالې یو هدف دادی، چې د پښتو ادب مینه وال د خپلې علمي سطحې د لوړتیا په خاطر ګټه ورڅخه واخلي. بل هدف یې دا دی چې د مقالې څېړونکي استادان کولای شي د خپلو علمي رتبو د لوړتیا په خاطر د یو شرط په حیث یې له امتیاز څخه ګټه واخلي.تر ټولو ستر هدف یې دا دی چې لوستونکي په پښتو ادب کې د ادبي تذکرې په وده او پرمختیا کې د پوهاند صدیق الله رښتین په کړي کار خبر شي او په یاده برخه کې ترې ګټه واخلي. ددې لیکنې خصوصي هدف دا دی چې د پوهاند صدیق الله رښتین د لیکلو ادبي تذکرو منځپانګه او محتوا د پښتو ژبې او ادب مینوالو ته څرګنده شي او په اړونده برخه کې ترې ګټه واخلي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- د ادبي تذکره لیکنې په وده او پراختیا کې صدیق الله رښتین کوم کارونه کړي؟

۲- پوهاند صدیق الله رښتین څومره ادبي تذکره یې لیکلې دي؟

۳- د پوهاند صدیق الله رښتین کومې ادبې تذکرې د معاصرې تذکره لیکنې په معیارونو برابرې دي؟

۴- د صدیق الله رښتین د ادبي تذکرو جوړښت او منځپانګه څه ډول ده؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي او تحلیلي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

تذکره عربي ژبې کلمه ده، چې لغوي معنا یې فرهنګونو: ذکر و بیان، یادښت، یادونه، تبصیره او د پېژندنې پانه را اخیستې او په اصطلاح کې هغه اثر ته ویل کېږي، چې په کې د پوهانو، عارفانو، دیني، ملي او ادبي مشاهیرو او نورو نومیالیو شخصیتونو د احوالو، ژوند پېښو او آثارو پېژندنه کېږي. په ادبي او فرهنګي مطالعاتو کې ( ادبي تذکره ) هغه اثر ته ویل کېږي، چې د شاعرانو او لیکوالو ژوند پېښې او آثار په کې معرفي شوي وي او ضمناً په کې د هغوی د منظومو او منثورو لیکنو بېلګې هم خوندي شوې وي. (۱۳: ۴۶۲مخ)

په ادبي څېړنو کې د تذکره لیکنې لپاره یو لړ کلي اصول او لارې چارې ښودل شوي، چې د تذکرې لیکوال یې باید د لیکنې او لوستوال یې د مطالعې پر مهال په پام کې ونیسي: ۱- د شاعر یا لیکوال بشپړ احوال: ادبي تذکره باید د شاعر، ناظم یا لیکوال پوره ژوند پېښې خوندي کړي، تذکره لیکونکی به د لیکوال نوم، تخلص، مستعار نومونه، د زوکړې نېټه، د پلارنوم، کورنی، قوم، زده کړې، استادان، دوستان، شاګردان، کورنی وضعه، د اوسیدو ځای، سفرونه، مذهب، عرفاني لار ( که یې ولري)، که شاعر یا لیکوال مړ وي، د مړینې نېټه، مړستون، دا چې شاعر یا لیکوال په څو او کومو ژبو پوهېده او دې ته ورته نورې خبرې.۲- د شاعر آثار او پنځونې: په ادبي تذکره کې دې د ادیب ( شاعر یا لیکوال) د ژوند پېښو تر څنګ د هغه منثور یا منظوم آثار هم معرفي شي.

۳- د شاعر او لیکوال د آثارو د شکلي او موضوعي ځانګړنو څرګندونه دې وشي، خو پر هغو کره کتنه او تبصره د تذکره لیکونکي نه، بلکې د ادبي کره کتونکي او ادبي مؤرخ کار دی.۴- د شاعر او لیکوال د ژوند پېښو تر څنګ د هغوی د شعرونو او نثري لیکنو بېلګې راوړل، خو ددې بېلګو راوړلو پر مهال دې د ادبي تذکرې لیکوال لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي:

الف: که د شاعر یا لیکوال منظوم آثار په لاس کې وي، له هغو څخه دې داسې ځانګړې بېلګې را واخیستل شي، چې د فکر او هنر ارتقایي بهیر ور څخه ښکاره شي.
ب: که شاعر یا لیکوال څو اثره ولري، له هغو څخه دې څو بېلګې خوښې کړل شي.
ج: که د نظم یا نثر یوه بېلګه په لاس کې وي، په هغه صورت کې بیا ادبي تذکره لیکونکی پر نه ګڼل کېږي.(۱۴: ۳۸-۳۹مخونه)

د ادبي تذکرې د پېژندنې او ادبي تذکرې لیکنې د اصولو په اړه د دې پورته څرګندونو په رڼا کې، موږ د استاد رښتین په ادبي تذکره لیکنه د بحث لړۍ پیلوو. پښتو ادبي څېړنو کې د پوهاند رښتین ادبي تذکره لیکنه یو ځانګړی فصل دی، دا چې د پښتو ادبي تذکره لیکنه له معلوم مهال، په اوومه هجري پېړۍ کې له سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء ( له ۱۲ مې هجري راوروسته) نه را واخله بیا تر ننه پورې د ادبي تذکره لیکنې په تاریخي بهیر کې په ادبي مطالعاتو کې د مطالعې ځانګړی ځای او د پښتو ادب په وده او پرمختیا کې ارزښتمنه ونډه لري.

دوی په دې برخه کې له ډېر پخوانه لیکنې او څېړنې کړي، چې هغه نن د ځانګړو بشپړو چاپ شوو ادبي تذکرو او یا د تذکره ډوله ادبي آثارو په بڼه زموږ په واک کې دي، په دې لیکنه کې د پوهاند صدیق الله رښتین په کتابي بڼه چاپ شوې ادبي تذکرې په تحلیلي بڼه در پېژنو او پر محتوا یې بحث کوو، د استاد دا لاندې ادبي تذکرې را معلومې او تر لاسه شوي، چې په لنډیز سره یې درپېژنم:

**د پښتو ننني لیکوال (دریمه برخه)**

دا د پوهاند صدیق الله رښتین یوه کوچنۍ رساله ده چې تر اوسه پورې په ځانګړې ډول نه ده خپره شوې، خو د کابل کالنۍ د ۱۳۱۹هـ ش کال کې په (۲۸۱-۲۴۹) مخونو کې خپره شوې ده. په دغه لیکنه کې د پښتو ژبې (۲۲) تنه معاصر لیکوال او شاعران معرفي شوي دي.

د پښتو ننني لیکوالو د پېژندنې لړۍ د لومړي ځل لپاره قیام الدین خادم پیل کړې وه چې لومړۍ برخه یې د ۱۳۱۷هـ ش کال په کابل کالنۍ او دویمه برخه یې په ۱۳۱۸ هـ ش کال کابل کالنۍ او دریمه برخه یې پوهاند صدیق الله رښتین په ۱۳۱۹هـ ش کال په کابل کالنۍ کې خپره کړې ده. پوهاند صدیق الله رښتین ددې رسالې په پیل کې لیکلي دي: (( دا دوه کاله کېږي چې د کابل په سالنامو کې د ښاغلي فاضل مولوي

قیام الدین خان خادم د پښتو ټولنې د تالیف د شعبې د مدیر په قلم د پښتو د موجوده لیکوالو شرح حال نشریږي، په دې دوه کاله کې شل تنه لیکل شوي دي او په دې ډله کې داسې نور هم ځینې خلق پاتې دي چې د هغوی لیکل او معرفي کول هم لازمي معلومیږي، دا مقاله که څه هم باید مولوي صاحب سرته رسولی وای، مگر هر کله چې د سږ کال د پښتو یوه بله مهمه موضوع د لاس لاندې نیولې ده، نو ددې موضوع پوره کول او سرته رسول ماته راوسپارل شو.)) (۳: ۲۴۹ مخ)

د دغو (۲۲) تنو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه د (۲۱) تنو پېژندگلوي د ښاغلي پوهاندصدیق الله رښتین په قلم سره شوې او (۲۲) تنه چې په خپله پوهاندصدیق الله رښتین دی، دده پېژندگلوي پوهاند عبدالحی حبیبي لیکلې ده، چې د پېژندنې په پیل کې داسې اشاره ورته کړې ده: (( ددې مقالې لیکونکی ښاغلی صدیق الله رښتین هم له پښتنو لیکونکو څخه دی، ځکه چې دده معرفي کول هم په لیکوالو کې مناسب و، نو زه دی معرفي کوم ( حبیبي).(۳: ۲۷۸مخ)

په دغه تذکره کې چې کوم لیکوال او شاعران معرفي شوي د هغوی د لیکنو نمونې هم له پېژندنې څخه وروسته ورسره راغلې دي او هغه منابع یې هم په گوته کړي چې ددې لیکوالو د ژوندلیکونو او د لیکنو د نمونو په راټولونه کې ترې استفاده شوې ده. دغو لیکوالو او شاعرانو زیاتره پېژندنې او د شعر نمونې یې د کابل، زیري او طلوع افغان له خپرونو څخه رااخیستي دي.

**پښتانه شعراء ـ دویم ټوک**

د پښتانه شعراء دویم ټوک د لیکلو او ټولولو دنده پوهاندصدیق الله رښتین تر سره کړې ده، چې په لومړی ځل په ۱۳۲۱هـ ش کال د سرطان په میاشت کې د پښتو ټولنې له خوا په (۲۸۸) مخونو کې د غلام رحمان جرار په اهتمام چاپ او خپور شوی دی. په دې ټوک کې ټول (۱۱۰) تنه د پښتو ژبې هغه شاعران معرفي شوي چې له (۱۲۰۰هـ ق ) څخه تر (۱۳۰۰هـ ق) پورې یې د ژوند زمانه وه. خو دغو شاعرانو کې ځینې داسې شاعران هم شته چې د ژوند زمانه یې له ۱۳۰۰هـ ق څخه وروستۍ ده. د پښتانه شعراء د دویم ټوک وروستی شاعر منشي احمد جان دی چې په ۱۳۰۰هـ ق کال کې زېږیدلی او په ۱۳۷۰ هـ ق کال کې وفات شوی دی. (۸: ۳۴۷مخ)

پښتانه شعراء ( لومړی، دویم، درېیم، څلورم او پنځم) ټوکونه د دویم ځل لپاره د ښاغلي مطیع الله روهیال په ترتیب، تصحیح او زیاتونې سره په ۱۳۹۱هـ ش کال د علامه رشاد خپرندویې ټولنې له خوا په (۱۲٦۱) مخونو کې د زرو ټوکو په شمېر په یو ټوک کې چاپ او خپاره شوي دي، چې دوهم ټوک یې له (۳۳۷) مخ څخه تر (۵۹۲) پورې، یعنې په (۲۵٦) مخونو کې د ضمیمې او اصلي متن په شمول راغلی دی. د پښتانه شعراء دویم ټوک د ارزښت او اهمیت په اړه د هغه مهال د پښتو ټولنې لوی مدیر ښاغلي عبدالرحمن پژواک د لومړنۍ خبرې تر سرلیک لاندې وایې: (( پښتانه شعراء برسېره پر هغه اهمیت چې هر کتاب او په تېره یو ادبي کتاب یې لري د پښتو او ملیت د علاقه مندانو او مینانو په نزد د پوره اهمیت او لوړ مقام لرونکی دی. دا کتاب د داسې مرغلرو څخه ډک دی، چې هغه د پښتنو شاعرانو د سینو د دریاب څخه راوتي دي، دا قیمته مرغلرې چې له نظر نه غورځېدلې وې، که د لوی خدایﷻ احسان او د فطرت د پاکوالي قوت نه وای، نو بالکل به له مینځه ورکې شوې وای او نوم او نشان به یې هم نه وي پاتې.)) (۸: ۳۴۳مخ)

علامه رشاد د پښتانه شعراء دویم ټوک د ارزښت په اړه وایې: (( د دویم ټوک پښتانه شعراء ښاغلي مؤلف (پوهاند) صدیق الله خان رښتین د دغه کتاب په پای کې یوه کمکۍ لغت نامه وراچولې ده، په دغه لغتنامه گوټې کې چې تر پنځو مخو زیاته نه ده د متن ځینې گران لغتونه د الفبې په ردیف معنا شوي دي، ښاغلي مؤلف زیار ایستلی دی په خپل دغه نوښت د کتاب د لوستونکو څه لغوي ستونزې کمې کړي....)) (۸: ۳۴۷-۳۴۸مخونه)

د پښتانه شعراء دویم ټوک په پیل کې د لومړنۍ خبرو څخه وروسته د ( دې جلد مرسته کوونکي ) تر سرلیک لاندې په یو مخ کې د هغو لیکوالو نومونه راغلي دي چې د پښتانه شعراء دویم ټوک په لیکلو او ټولولو کې یې له پوهاند رښتین سره مرسته کړې، هغه مرسته کوونکي په دې ډول دي:

۱- پوهاند عبدالحی حبیبي (۲۵) تنه شاعران معرفي کړي دي.

۲- قیام الدین خادم (۱۰) تنه شاعران معرفي کړي دي.

۳- گل پاچا الفت (۵) تنه شاعران معرفي کړي دي.

۴- غلام رحمن جرار (۱۰) تنه شاعران معرفي کړي.

۵- امين الله زمريالي (۳) تنه شاعران معرفی کړي دي.
٦- عبدالرؤف بېنوا يو تن شاعر معرفي کړی دی.
۷- عبدالشکور رشاد يو تن شاعر معرفی کړی دی.
تر دې وروسته په درې مخونو کې د کتاب عمومي فهرست راغلی دی. ورپسې د شاعرانو ژوند پېښې او بيا د هغو د کلام بېلگې خوندي شوي دي، دغه کتاب لوستونکو ته د پښتو ادب د منځنۍ دورې د وروستي پړاو د شاعرانو په اړه گټور او په زړه پوري معلومات وړاندې کوي. په دغه ټوک کې د ځينو پخوانيو شاعرانو خيالي انځورونه هم راغلي دي. په پنځو مخونو کې د ( ددې کتاب ځينې اصلاحات او تشريحات) تر سرليک لاندې بعضې توضيحات او تشريحات راغلي دي. ورپسې په شپږو مخونو کې غلطنامه هم راغلې ده. د پښتانه شعراء دويم ټوک په اړه استاد رشاد يوه (۲۳) مخيزه سريزه ليکلې ده چې د پښتانه شعراء د دويم ټوک په اړه يې پوره تفصيل او وضاحت وړاندې کړی دی. دغه سريزه په ۱۳٦۷هـ ش کال علامه رشاد هغه مهال ليکلې وه چې ارواښاد محمد ناصر نصرت په کندهار کې غوښتل چې پښتانه شعراء دويم ټوک د دويم ځل لپاره چاپ کړي، خو متاسفانه په هغه وخت کې دا کار ترسره نه شو، بلکې په ۱۳۹۱هـ ش کال کې د ښاغلي مطيع الله روهيال په زيار بيا ځلي سربېره پر دويم ټوک اول، دريم، څلورم او پنځم ټوکونه هم په يو ټوک کې په ښکلي کاغذ کې چاپ او خپاره شوي دي. روهيال د علامه رشاد هغه سريزه په پښتانه شعراء دوهم ټوک کې کټ مټ چاپ کړې، چې دلته يې د محتوا په اړه لنډه يادونه کوو: علامه رشاد په دې سريزه کې لومړی د پښتو ادب په پرمختيا او د پښتانه شعراء د ليکلو په اړه لنډه يادونه کړې او بيا يې د پښتانه شعراء د دويم ټوک د راټولونکو يادونه کړې، د پښتانه شعراء ځينې ځانگړنې يې بيان کړي، ورپسې د (چاپ شوو کتابونو په باب) تر کوچني سرليک لاندې د هغو شاعرانو د کتابونو يادونه کړې چې د پښتانه شعراء په دويم ټوک کې معرفي شوي دي. دا هغه کتابونه دي چې د پښتانه شعراء د دويم ټوک د ليکلو او چاپ څخه وروسته خپاره شوي، نو ځکه د ځينو کتابونو يادونه او ذکر په پښتانه شعراء دويم ټوک کې نه دی شوی.
بل کوچنی سرليک د( ځينو کتابونو څرک) په دې برخه کې هغه کتابونه معرفي شوي دي چې په ځينو کتابتونونو کې يې قلمي نسخې ليدل شوي، خو لا چاپ شوي نه

دي. (ځينې څرګندونې) تر سرليک لاندې د بعضو شاعرانو په اړه بشپړ توضيحات وړاندې کړي چې پخوا په پښتانه شعراء کې د هغه ژوند ليک په اړه نيمګړي او يا هم په پوره تفصيل سره معلومات نه وو بيان شوي، په دې برخه کې په پوره وضاحت سره بيان شوي دي. د سريزې بل سرليک د (انتحال) په نوم دی چې په دې برخه کې د پښتانه شعراء دويم ټوک د ځينو شاعرانو شعرونه نورو شاعرانو ته منسوب شوي دي هغه يې ټول د دلايلو او ثبوتونو په راوړلو سره ثابت کړي.

د سريزې وروستی عنوان د (ځينې تيروتنې) په نوم دی چې په دې برخه کې د پښتانه شعراء دويم ټوک هغه تېروتنې چې په لومړي چاپ کې موجودې وې هغه ټولې يې په ګوته کړي دي، لکه چې يو ځای د احمد اخون خېل او احمد دپچګۍ په اړه داسې وايې: (( ددغه کتاب ۱۸۴ شاعر (احمد اخون خېل) او ۱۸۷ شاعر( احمد دپچګۍ) يو سړی دی، د احمد اخون خېل تر عنوان لاندې دی د پېښور د خوني اوسېدونکی بلل شوی دی او د احمد د پچګۍ تر عنوان لاندې د (پېښور) د سپينې ډېرۍ خليل بلل شوی دی چې په پچګۍ کې اوسېده.)) (۸: ۳۶۱مخ) پښتانه شعراء دويم ټوک په ساده روان او څېړنيز نثر ليکل شوی دی، د شاعرانو پېژندنه او د شعر بېلګې يې پکې خوندي کړي.

**نوميالي شاعران**

نوميالي شاعران ادبي تذکره پوهاند صديق الله رښتين ليکلې ده، چې په ۱۳۷۰ هـ ش کال د تاج محل کمپنۍ له خوا په پېښور کې په ۳۲۱ مخونو کې چاپ او خپره شوې ده. په نوموړې ادبي تذکره کې ټول (۳۰) تنه د پښتو ژبې نوميالي شاعران په شپږو مکتبونو کې معرفي شوي دي. د دغو ۳۰ تنو نوميالیو شاعرانو پېژندنې استاد رښتين د خپل فرهنګي او ادبي ژوند په اوږدو کې په بېلابېلو وختونو کې ليکلې او د وخت په مطبوعاتو کې يې نشر کړې هم دي.

دغه ادبي تذکره د پوهاندصديق الله رښتين تر مستقيمې لارښوونې لاندې راټوله، ترتيب، تدوين او تنظيم شوې ده، چې له کتاب پېژندنې او فهرست څخه وروسته د (يو څو خبرې) تر سرليک لاندې د پوهاند رښتين د زوی الحاج فضل الله رښتين يوه پنځه مخيزه ليکنه راغلې چې لومړی يې په دغو خبرو کې د پښتو ژبې او ادب د پينځو ستورو (حبيبي، خادم، الفت، بينوا، رښتين) پر هلو ځلو رڼا اچولې او د دوی

هلې ځلې يې د ډېرې قدر دانۍ وړ ګڼلې، زياته کړې يې ده چې دغو يادو ليکوالو پښتو ژبې او ادب ته نه هېريدونکي خدمتونه کړي. له دې وروسته د نوميالي شاعران نومي اثر نيمګړتيا ته يې په دې ډول سره اشاره کړې: ( زما په خيال د (نوميالي شاعران) په زړه پورې او خوندور کتاب نيمګړی دی، ځکه چې په اوسني مکتب کې د الفت، خادم، مجروح، بينوا، حمزه، سمندر، رسا او غني په څنګ کې ځينې نور نوميالي او پاخه شاعران هم په لره او بره پښتونخوا کې شته چې يادونه يې په دغه کتاب کې ضروري او لازمې وه.) (٦: ب- ج مخونه)

د فضل الله رښتين له وينا څخه داسې معلومېږي چې په شپږم (اوسني) مکتب کې چې کوم شاعران معرفي شوي دي، د دوی په څنګ کې ځينې داسې پاخه او باتجربه شاعران نور هم شته چې بايد په دې مکتب کې معرفي شوی وای، خو دا کار نه دی شوی، نو په دې وجه د کتاب دغه (شپږم مکتب) نيمګړی دی. ورپسې زياتوي: نوموړی اثر پوهاند صديق الله رښتين په ۱۳۵۹ هـ ش کال د کتاب په شکل راټول کړ، خو له بده مرغه په هغه وخت کې يې د چاپ زمينه برابره نه شوه، خو اوس دا دی نوموړی اثر په ۱۳۷۰ هـ ش د تاج محل کمپنۍ له خوا د چاپ په ګاڼه سمبال شو. د يو څو خبرو نه وروسته بله سريزه بيا هم د فضل الله رښتين ده چې د دغې سريزې په سر کې يې ليکلي دي: (( د پوهاند رښتين له غوښتنې سره سم دا سريزه ليکم.)) (٦: و مخ)

په دې سريزه کې يې د کتاب د مکتبونو په باب څرګندونې کړي او د کتاب هره برخه يې په ښکلو او رنګينو الفاظو سره معرفي کړې ده. له سريزې څخه وروسته د کتاب اصلي برخه شروع کېږي، په شپږو مکتبونو کې يې ټول (۳۰) تنه بېلابېل شاعران چې له اميرکروړ څخه شروع او په عبدالروف بېنوا پای ته رسيدلی معرفي شوي دي، د کتاب په وروستۍ برخه کې د يادونې تر سرليک لاندې د اوسني مکتب د پنځو تنو شاعرانو (سمندر، رسا، خادم، الفت، بېنوا) د وفات نېټې ذکر کړي او زياته کړې يې ده چې د اوسني مکتب پاتې درې تنه ( مجروح، غني، حمزه) لا د ژوند شپې ورځې سبا کوي. که ددې تذکرې ليکنو ته وګورو د تذکره ليکنې له مخې يو اندازه نيمګړتيا لري، پوهاند رښتين دغه اثر (نوميالي شاعران) د تذکرې په نيت نه دی ليکلی، بلکې د شاعرانو په اړه يې څېړنيزې مقالې ليکلې او وخت په وخت يې د هېواد په مطبوعاتو

کې خپرې کړې دي؛ خو وروسته یې همدغه مقالې راغونډې او د اثر په شکل ترتیب او چاپ کړې دي.

په دغې ادبي تذکرې کې د پوهاند صدیق الله رښتین د نثر ژبه تحلیلي، څېړنیزه او هنري بڼه لري چې د ځینو شاعرانو د شعرونو بېلګې یې تر کره کتنې، تحلیل او څېړنې لاندې نیولي او یو لنډ او جامع مفهوم یې وړاندې کړی دی. بله دا چې په دې ادبي تذکرې کې چې کوم شاعران معرفي او په اړه یې معلومات وړاندې شوي دا د پوهاند رښتین د لومړنیو لیکنو له جملې څخه دي، چې د لیکوالۍ په پیل کې یې کړې وې، یعنې هغه وخت چې د پښتو ټولنې ابتدایې غړی، مرستیال، لوی مدیر، رئیس او د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي استاد و. هغه شاعران چې پوهاند رښتین په دې ادبي تذکره کې معرفي کړي د ځینو په اړه یې لږې ډېرې نوې څېړنې شوي. چې د ځینو د ژوند بېلابېل اړخونه را څرګند شوي او د ځینو شعري دېوانونه او نثرې لیکنې تر لاسه شوي، د څېړنو دا لړۍ یې پر مخ تللې، بیا هم د استاد لیکنو د خپل وخت تاریخي او ادبي ارزښت ساتلی دی.

**نومیالي پوهان او غازیان**

د نومیالي پوهان او غازیان په نوم اثر پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی دی او په ۱۹۸۸م کال د یونیورستې بک ایجنسي له خوا په (۱۴۷) مخونو کې په کوچنۍ جېبي کچ د زر ټوکونو په اندازه چاپ او خپور شوی دی. په نومیالي پوهان او غازیان نومي اثر کې ټول (۲۱) تنه سیاسي، علمي، ملي، روحاني، ټولنیز او فرهنګي شخصیتونه، مجاهدین، غازیان او ملي مبارزین معرفي شوي دي، استاد رښتین ددغو شخصیتونو په باب په مختلفو وختونو کې لیکنې کړې وې او بیا یې په دې وروستیو کې ټولې لیکنې راجمع او د نومیالي پوهان او غازیان نومي اثر په نامه ټولګه کې یې ترتیب ، تنظیم او خپرې کړې. استاد رښتین د دې اثر په لیکلو کې له څېړنیز روش څخه کار اخیستی، د لیکنې ژبه یې په عامه توګه ډېره روانه، ساده او خوږه ده چې په عین حال کې له ادبي ارزښت او اهمیت څخه هم برخمنه ده. د اثر ټولې برخې معلوماتي او تحلیلي شکل لري، چې لوستونکو او مینه والو ته د ځینو سیاسي، علمي، ادبي، اجتماعي شخصیتونو، مجاهدینو، غازیانو او ملي اتلانو په اړه په زړه

پورې او غوره معلومات وړاندې کوي چې په یاده برخه کې د ځانګړي ارزښت او اهمیت په درلودلو سره لوړ مقام هم لري.
د نومیالي پوهان او غازیان اثر له کتاب پېژندنې او فهرست څخه وروسته د(پیل) تر سرلیک لاندې شروع کېږي، چې په یاد سرلیک کې پوهاندصدیق الله رښتین د دې اثر د جوړښت، ارزښت او اهمیت په باب داسې وایې: (( په دې کتاب کې د پښتني کلتور او ثقافت ژوندي مثالونه موجود دي. هر رښتینی لیکوال کولی شي چې په دې میدان کې د فکر نیلی وزغلوي او د خپلې خاورې پوهان او غازیان په ښه توګه معرفي کړي. دا دی ما په دې لړ کې خپله برخه واخیستله (۱۰) تنه پوهان او (۱۰) تنه غازیان مې معرفي کړل، امید دی چې ګران لوستونکي به ورځنې پوره خوند او ګټه واخلي!!)) (۲: ۲مخ)
پوهاند صدیق الله رښتین په دې آثر کې ټول (۲۰) تنه نومیالي پوهان او غازیان ښودلي چې له دې جملې څخه (۱۰) تنه پوهان او (۱۰) تنه غازیان دي، خو په یاد اثر کې ټول (۲۱) تنه پوهان او غازیان معرفي شوي دي او دغه اثر پر دوو برخو ویشل شوی دی، اوله برخه یې (۱۰) تنه نومیالي پوهان دي او دویمه برخه یې (۱۱) تنه نومیالي غازیان دي.
## پیاوړي شاعران
پوهاند صدیق الله رښتین دا ادبي تذکره ( پیاوړي شاعران) په ۱۳٦۰هـ ش کال کې لیکلې، خو په هغه وخت کې یې د خپرویدو چانس تر لاسه نه کړ، بالاخره نوموړې ادبي تذکره په ۱۳۷۲هـ ش ۱۹۹۳م کال په پېښور کې د یونیورسټي بُک ایجنسي له خوا په ۲٦۲مخونو کې چاپ او خپره شوې.
په دغه ادبي تذکره کې ټول ټال (۴۰) تنه شاعران معرفي شوي، د پوهاندصدیق الله رښتین د ادبي- فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه نومي اثر په(۱۵۳) مخ کې یې د پوهاند رښتین د دغې ادبي تذکرې شاعران ټول (۳۹) تنه ښودلي دي، د کتاب په فهرست کې د سریزې په شمول ټوله شماره تر (۴۰ ) پورې ده، چې( ۲۹ ) شماره پکې دوه ځلې تکرار راغلې په لومړۍ (۲۹) شماره کې احمدین طالب او په دویمه (۲۹) شماره کې فضل احمد غر نومي شاعران معرفي شوي، چې په دې حساب سره په یاده ادبي تذکرې کې ټول معرفي شوي شاعران (۴۰) تنه کېږي. چې ځینې یې

د پښتو کلاسیک او معاصر دېواني او ولسي شاعران دي. پوهاندصدیق الله رښتین چې د شاعرانو په اړه کومې لیکنې په دې ادبي تذکره کې کړي، ځینې یې د پوهاندرښتین د ځوانۍ د وخت لیکنې دي چې د هغه زمانې په مطبوعاتو خصوصاً کابل مجله کې یو ځل نشر شوي دي. خو ځینې یې بیا په خپرونو کې نه دي نشر شوي. پوهاندرښتین د دې ادبې تذکرې د ترتیب په هکله وایې: (( د پښتو ژبې او علمي څېړنو په څنګ کې د شاعرانو د معرفۍ او پېژندګلۍ سلسله هم داسې جاري وه. بیا مې په کابل راډیو کې د رلیکونکینګ پروګرام د چلولو په وخت پښتنو شاعرانو په باب غوره ادبي تبصرې ولیکلې چې یو څه برخه یې د کابل په مجله کې خپرې شوې او څه یې بېخي خپرې شوې هم نه دي.

په دې لړ کې ما د (۵۴۵) تنو پښتنو شاعرانو ژوند پېښې او ادبي تذکرې لیکلې دي چې د پښتو ادب پوره قوت او ښکلا ورځنې څرګندېږي له دې کبله مې اراده وکړه چې پاتې ادبي تذکرې او لیکنې په یوه کتاب کې راغونډې کړم او یو نوی ادبي اثر ورته جوړ کړم. کېدای شي چې دا اثر د پښتو د مکمل ادبي تاریخ د لیکلو په وخت کې سودمن او ګټور ثابت شي او پښتانه لیکوال ور نه په اوسني او راتلونکي وخت کې لازمه ګټه او فایده واخلي.) (۷: ۱ – ۲ مخونه) په دغه ادبي تذکره کې ټولټال (۴۰) تنه شاعران را پېژندل شوي او د ژوند او فن په اړه یې ډېرې په زړه پورې څرګندونې شوي، دا تذکره نسبتاً څېړنیزه ده. د شاعرانو د ژوند لیکونو تر څنګ د هغوی په شعرونو او د ادبي آثارو په محتویاتو پوره خبرې لرې ژبه یې روانه او خوږه ده. (۱۲: ۴۱۱مخ)

## د پښتو نثر هنداره

د پښتو نثرهنداره د پوهاند صدیق الله رښتین یو څېړنیز، تحلیلي اثر دی، چې ضمناً تذکره هم ده، خو اصلاً د نثر لیکلو تاریخ دی، چې د تذکرې شکل هم پکې شته دی. نوموړی اثر په ۱۳۴۲هـ ش کال کې بشپړ شوی، خو هغه مهال خپور شوی نه دی او د لیکلو له نېټې څخه درې لسیزې وروسته په پېښور کې د یونیورسټې بک ایجنسي له خوا په ۱۹۹۳م کال د (٦۱۱) مخونو په درلودلو سره په منځنې کچ په اخباري کاغذ کې چاپ او خپور شوی دی. پوهاند صدیق الله رښتین په دې اثر کې د پښتو نثر لیکل په څو دورو ویشلی او د هرې دورې نثر لیکونکي یې معرفي کړي،

د هغوی په نثر یې څېړنه کړې ده، په دغه ټولګه کې د هر نثر لیکونکي ادبي او هنري پېژندګلوي، د نثر بېلګه او پر هغو کره کتنه او څېړنه شوې ده.
لومړی د موضوعاتو لیکلړ او د لیکوال سریزه راغلې چې له لومړي مخ څخه تر یوولسم مخ پورې په سریزه کې د خپلو څېړنو پر پس منظر او د کتاب د لیکنې او ترتیب په څرنګوالي بحث شوی دی. د کتاب له ۱۲مخ څخه تر ٦۱۱ مخ پورې د پښتو نثر او د هغو د لیکوالو پېژندګلوۍ پورې مربوط مطالب په بېلابېلو سرلیکونو کې وړاندې شوي دي.
لکه د نثر معنی، د نثر ډولونه، د نثر لفظي ډولونه، د پښتو نثر، د پښتو نثر دورې او عصرونه، له دې پورته یادو سرلیکونو څخه وروسته یې د پښتو نثر له په خوا تر اوسه په پنځه دورو ویشلی او په هره دوره کې یې د هغې دورې په منثورو آثارو بحثونه کړي او د دغو نثري آثارو لیکوال یې هم له لړو ډېر تفصیل سره معرفي کړي دي. د اوسنۍ دورې په اړه پوهاند صدیق الله رښتین وایې چې: (( مونږ اوسنۍ دوره د افغانستان د خپلواکۍ اخیستلو له وخته یعنې له ۱۳۴۰هـ ق څخه وروسته شروع کوو چې پوره اغېزه او اثر یې له ۱۳۵۰هـ ق وروسته څرګندیږي.)) (۱۱: ۲٦۸مخ)
پوهاند رښتین چې اوسنۍ دوره له ۱۳۴۰هـ ق کال څخه را په دېخوا پیل شوې ګڼې، وایې چې په دې دوره کې په پښتو ادب کې د( نظم او نثر) په برخه کې یو زیات شمېر لیکوال لګیا دي په پښتو ژبه لیکل کوي، خو دا چې پوهاند صدیق الله رښتین په خپل دې اثر کې ټول نه دي راوړي او یا یې د هغو د لیکنو او آثارو په اړه تبصره نه ده کړې، نو په اړه یې وایې: (( مونږ دلته یو څو هغه کسان راوړل غواړو چې د علمي او ادبي شهرت ښکاره شخصیت خاوندان وي. د فکر د پوخوالي زمانې یعنې څلویښتو کالو ته رسیدلي وي. د پښتني فکر او خیال په لاره روان وي او د یو مسلکي لیکوال په صفت خلکو پېژندلی وي، زه په دې څېړنه کې د زلمو لیکوالو له پوره یادونې څخه په دوه سببه څخه تېریږم، یو خو دا چې دوی د فکر د بدلون په دوره کې روان دي، د زمانې له تودو سړو سره ښه مقابله نه شي کولی، نو زر میدان پرېږدي او په بله خوا رغړي، او بله دا چې د دوی کتابونه او نثرونه لا دومره نه دي چې یوه سمه تبصره پرې وشي او د دوی د فکر، پوهې او لیک ډول اندازه ترې معلومه شي.)) (۱۱: ۲۷۰مخ)

استاد رښتین په دې څېړنیز او معلوماتي اثر کې پښتونثر له پخوا نه تر اوسه پورې په پنځو سترو دورو ویشلی دی او په هره دوره کې یې د هغې دورې په منثورو آثارو بحثونه کړي او د دغو نثري آثارو لیکوال یې هم له لږو ډېر تفصیل سره معرفي کړي دي، لکه په لومړۍ دوره کې (۷) تنه، په دوهمه دوره کې (۱۱) تنه په درېیمه دوره کې (۳۷) تنه، په څلورمه دوره کې (۲۲) تنه او په پنځمه دوره کې (۵۷) تنه لیکوال معرفي کړي چې مجموعاً(۱۳۴) تنه کېږي. استاد رښتین ددغه کتاب په سریزه کې د منځپانګې، ترتیب، تنظیم او نورو ځانګړنو په اړه داسې وایي: (( ما په ۱۳۲۰هـ ش کال کې د (پښتو نثر) په نامه یوه رساله هم لیکلې وه، چې په دغه کال د کابل په کالنۍ کې خپره شوې ده. مګر هغه ډېره نیمګړې او نامکمله وه، دا دی اوس نور معلومات چې لاس ته راغلي دي، سره د زیاتې تجربې او فکر له خپلو پخوانو معلوماتو سره یو ځای کوم او د پښتونثر د تاریخ په لیکلو لاس پورې کوم. دا تاریخ څنګه چې ښایي هغسې مفصل او مکمل نه دی، ځکه چې لا اوس هم د معلوماتو او وسیلو نېمګړتیا ده....)) (۱۱: ۹ – ۱۰مخونه)

## د پوهاند صدیق الله رښتین تذکره ډوله لیکنې او څېړنې

پوهاند صدیق الله رښتین ځینې داسې آثار، لیکنې، څېړنې، رسالې او مقالې لیکلي دي چې موږ یې په مستقل ډول سره د ادبي تذکرو په قطار کې نه شو درولای، خو دا چې په نوره نړۍ کې دا دود شته چې د یو تن تذکره هم لیکل کېږي او د ډېرو هم، نو په هم دې اساس موږ په دې برخه کې د پوهاند رښتین هغه لیکنې او رسالې په لنډ ډول سره معرفي کوو چې د ځینو لیکوالو او شاعرانو د ژوند پېښو په اړه په کې معلومات او څېړنې شوي دي.

### د مهتمم ژوند

پوهاند صدیق الله رښتین په دغه تحلیلي او څېړنیز اثر کې د خپل پلار محترم تاج محمد( مهتمم ) پر ژوند، کارنامو، علمي او روحاني شخصیت او اصلاحي کارونو په اړه یوه جامع او هر اړخیزه څېړنه کړې ده. نوموړی اثر د خان بهادر په خط په ۱۹۸۸م – ۱۳٦۷ هـ ش کال د یو نیورسټي بک ایجنسي له خوا په (۱۰۹) صفحو کې په وړه (جېبي) کچه د (۱۰۰۰) ټوکو په اندازه چاپ او خپور شوی دی. دا کتاب که څه هم د کچې او صحافت له مخې کوچنی دی، خو پوهاند صدیق الله رښتین پکې د خپل

پلار د ژوند پېښو، کورنۍ، اولاد، ښوونيزو او روزنيزو چارو، اصلاحي پروګرامونو، جهاد او ملي مبارزو، په غزاګانو کې ګډون او همدارنګه د مهتمم د ملاقاتونو په اړه يو لړ معلومات وړاندې کړي دي. د کتاب په لومړۍ برخه کې د مهتمم د ژوند او کورنۍ سلسلې په باب معلومات وړاندې کړي، د مهتمم د نسب شجرې په اړه داسې ليکي: (( اصلي نوم يې تاج محمد دی چې د ميراحمد خان زوی د محمد اکبر نمسی او د شاه جهان کړوسی دی. په قام سلېمان خيل و، نېکه يې له افغانستان نه د امير دوست محمد خان په زمانه کې پېښور ته په کډه تللی او هلته يې د وزير باغ په شاوخوا کې استوګنه غوره کړې وه.)) (۵: ۱مخ)

همدارنګه د کتاب په يوه برخه کې د مهتمم د آثارو او اشعارو په اړه يو بيان راوړی چې په دې برخه کې د مهتمم آثار او اشعار معرفي کړي. د اثر يوه برخه د مهتمم په باب د پوهانو نظرياتو ته ځانګړې شوې ده، چې په دې برخه کې د مهتمم د ژوند، کارنامو، علمي او روحاني شخصيت په اړه بېلابېلو پوهانو خپل نظريات وړاندې کړي دي. ( د مهتمم ژوند ) تر نامه لاندې چې کوم اثر پوهاند صديق الله رښتين ليکلی که څه هم نوموړی اثر څېړنيزه بڼه لري او موږ يې يوه بشپړه ادبي تذکره نه شو بللی، ځکه چې په دې اثر کې يوازې د ( مهتمم) پر ژوند، کارنامو او شخصيت باندې هر اړخيزه رڼا اچول شوې ده، خو ور سره په څنګ کې د مهتمم د ژوند او آثارو په اړه پوره او کره معلومات وړاندې شوي، نو په همدې وجه د تذکره ډوله آثارو په برخه کې معرفي شو.

**روښان ستوري**

د پوهاند صديق الله رښتين دغه اثر په ۱۹۸۷م کال په پېښور کې د يونيورسټي بک ايجنسي له خوا په (۹۸) مخونو کې په کوچنۍ جېبي کچه چاپ او خپور شوی دی. په دې اثر کې د روښانيانو پر غورځنګ او د هغه په مخالفينو په دوو برخو کې بحث شوی دی، که څه هم دا اثر تذکره نه ده، خو په ځانګړي ډول د روښانيانو د غورځنګ د شاعرانو او اديبانو د احوالو په بشپړولو کې پوره مرسته کولای شي. د کتاب له ليکلړ څخه وروسته د پوهاند صديق الله رښتين يوه پنځه مخيزه سريزه راغلې ده چې لومړی د روښان او روښانيانو په باب د ليکنو او څېړنو د بهير تاريخي پسمنظر په افغانستان او پښتونخوا کې بيان کړی دی، بيا يې د اثر د ليکنې او د منځپانګې د ترتيب او موضوعي ويش په اړه بحث کړی دی. ورپسې دکتاب اصلي موضوع په دوو برخو کې

چې لومړۍ برخه د (٦ - ٦٣) مخونو کې په ترتیب سره: د میاروښان د پیرۍ او طریقت دوره، جلال الدین، احداد جنګونه، د احداد او الله داد خوابدي، احداد او راجه بهاري جنګ، د لواغر جنګ، عبدالقادر، میرزا خان انصاري، رشیدخان، د میاروښان نوره کورنۍ، د شیخ عمر اولاد، د نورالدین اولاد، خدایداد، عبدالهی، عبدالحکیم، د جلال الدین اولاد، بي بي کمال خاتون، د میاروښان کتابونه.

دویمه برخه چې په (٦۴ - ٩٦) مخونو کې په ترتیب سره د روښان مسلک او تحریک، د روښان تبلیغ، د روښان تصوف، د وحدت الوجود مسئله، د روښان تحریک او مرام، د میا روښان مسلکي پیروان، میا روښان او پوهان، د روښان مخالفان او نور موضوعات د لویو، منځنیو او ځنګړنو سرلیکونو لاندې په مناسب تفصیل سره توضیح او تشریح شوي دي. په (٩٨-٩٧) مخونو کې ددې کتاب اخیستونه تر سرلیک لاندې هغه معلوماتي منابع او سرچینې ښودل شوي، چې ددې څېړنې په بشپړولو کې ور څخه استفاده شوې ده.( ١٠: الف مخ)

**د علي خان پېژندنه**

استاد رښتین دا کتابګوټی په ١٣٣٠هـ ش کلونو په لسیزه کې لیکلی دی. لومړی په زیري، کابل او هېواد مجلو کې خپور شوی او بیا په ١٣۴٢هـ ش کال په ځانګړي ډول سره چاپ شوی دی. د استاد دا اثر لکه چې له نامه څخه یې څرګنده ده، د پښتو د نازکخیال شاعر علي خان په باب یوه څېړنیزه لیکنه ده، په کې د هغو اختلافي نظریو ځوابونه ویل شوي، چې ددغه نومیالي شاعر د ژوند، اصل او نسب په هکله د کوزې او برې پښتونخوا لیکوالو او څېړونکو په ادبي څېړنو کې وړاندې کړي دي. (١: ٨٣ مخ)

**د حمید دیوان او پېژندګلوي**

د عبدالحمید مومند دیوان او پېژندګلوي د لومړي ځل لپاره په کابل مجله کې د ١٣٣٠هـ ش کال په ۴ګڼه کې د ۴مخ څخه تر ٢۴مخ پورې په ۵ګڼه کې د ١٧مخ څخه ٢٦مخ پورې او په ٧ګڼه کې ٢١څخه تر ٢٦ مخ پورې د حمید مومند پېژند ګلوي او دیوان په مسلسل ډول سره خپور شوی دی. د حمید مومند دیوان په ځانګړي ډول په ١٣٣١هـ ش کال دپښتوټولنې له خوا د زرو ټوکونو په شمېر په کابل کې چاپ او خپور شوی دی. ددې دیوان په پیل کې له پوهاند رښتین د سریزې څخه وروسته د حمید مومند بشپړه پېژندنه راغلې چې د حمید مومند ژوند، کورنۍ او نسب

تر څنګ يې د حمید د اشعارو په جوړښت او منځپانګه هم تفصیلي بحث شوی دی. (۴: ۴مخ)

## زما هلې ځلې

پوهاند صدیق الله رښتین د خپل ژوند او هلو ځلو په اړه (زماهلې ځلې) تر سر لیک لاندې یوه کوچنۍ خو د محتوا له مخې ډېره بډایه رساله لیکلې ده، نوموړې رساله پوهاند رښتین په ۱۹۹۴م کال د مهاجرت په دوران کې په پېښور کې لیکلې ده، خو تر ډېره وخته پورې یاده رساله چاپ نه وه، دغه رساله په دې وروستیو کې په ۱۳۹۱هـ ش کال د فضل الله رښتین په اهتمام په (۵۳) مخونو کې د پنځه سوه ټوکونو په شمېر په کابل کې د خالد ولید په مطبعه کې چاپ او خپره شوه. دغه رساله د پوهاند صدیق الله رښتین ژوند له پیل څخه تر وروستیو کلونو پورې په ترتیب سره تشریح او توضیح کوي، یعنې د پوهاند رښتین ژوند له پیدایښت څخه تر مرګه پورې په پوره تفصیل سره پکې بیان شوی دی چې د دې رسالې وروستۍ برخه د پوهاند صدیق الله زوی الحاج فضل الله رښتین بشپړه کړې ده. خپله پوهاند رښتین د رسالې په پیل کې د خپل ژوند لیک په اړه داسې وایې: (( زه غواړم، چې خپل ژوند او هلې ځلې له اول نه تر پایه پورې بیان کړم، ګوندې اوسني او راتلونکي نسلونه ترې فائده واخلي او د پښتو لار ټینګه وساتي. )) (۹: ۱مخ)

## پایله

د استاد رښتین د لیکلو ادبي تذکرو بڼې او منځپانګې ته په کتنې سره ویلی شو چې: د پوهاند صدیق الله رښتین لیکلې ادبي تذکرې د معاصرې تذکره لیکنې د میتودولوژۍ له مخې په دوو برخو کې لیکل شوې دي، چې یوه برخه یې د ادبي تذکره لیکنې د اصولو او قواعدو له مخې بشپړې ادبي تذکرې دي، چې په دې ادبي تذکرو کې د بېلابېلو لیکوالو، پوهانو، غازیانو، ملي قهرمانانو او شاعرانو پېژندنې او د لیکنو بېلګې خوندي دي، پښتو نثني لیکوال، پښتانه شعرا دویم ټوک، نومیالي شاعران، نومیالي پوهان او غازیان، پیاوړي شاعران، د پښتو نثر هنداره یې بشپړې او پوره ادبي تذکرې دي.

ددې ترڅنګ یې ځینې داسې نورې تذکره ډوله لیکنې هم شته چې د ادبي تذکره لیکنې له مخې یې بشپړه ادبي تذکره نه، بلکې تذکره ډوله لیکنې بللی شو، د مهتمم

ژوند، روښان ستوري،  د علي خان پېژندنه، د حمید دیوان او پېژندګلوي، زماهلې ځلې، تذکره ډوله لیکنې دي. استاد رښتین په ادبي تذکره لیکنه کې لوی لاس لري، چې دده په وینا په ټوله کې د (۵۴۵) تنو لیکوالو او شاعرانو غوره، پوره او کره ادبي تذکرې لیکلي، چې هم د کمیت او هم د کیفیت له مخې په خپلو هم مهاله لیکوالو او ادبي څېړونکو کې مخکښ دی.

## وړاندیزونه

۱- د پوهاند صدیق الله رښتین هغه ادبي تذکرې چې پخوا چاپ شوې دي او اوس نایابې دي، د دویم ځل لپاره په ښه صحافت سره بیا چاپ شي.

۲- دا چې د پوهاند صدیق الله رښتین ځینې تذکره ډوله لیکنې په بېلابېلو، مجلو او اخبارونو کې نشر شوي، باید را ټولې او په یوه ځانګړې ټولګه کې د چاپ په ګاڼه سمبال شي.

۳-  د پوهاند صدیق الله رښتین لیکل شوې ادبي تذکرې دې، په پښتو ژبه او ادب کې د نورو لیکوالو لخوا د لیکل شویو ادبي تذکرو سره پرتله شي.

## مأخذونه


۱- توحیدمل، څېړندوی شهزاده. د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، کابل، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۸۸ل.ل.

۲- رښتین، پوهاند صدیق الله. نومیالی پوهان او غازیان، یو نیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۹۸۸ل. ل.

۳- رښتین، پوهاند صدیق الله. پښتو نني لیکوال (مقاله). د ۱۳۱۹ل کال کابل کالنی، افغانستان- دولتي مطبعه، کابل،  ۱۳۱۹ل.

۴- رښتین، پوهاند صدیق الله. د حمید دیوان او پېژندګلوي، کابل مجله، ۱۳۳۰هـ ش کال، ۵،۴ او ۷ ګڼه.  ۱۳۳۰ل.

۵- رښتین، پوهاندصدیق الله. د مهتمم ژوند، یونیورسټي بُک ایجنسي. پېښور، ۱۳٦۷ل.

٦- رښتین، پوهاندصدیق الله. نومیالي شاعران، تاج محل کمپنی، پېښور ۱۳۷۰ل.

۷- رښتین، پوهاندصدیق الله. پیاوړي شاعران، یو نیورسټي بک ایجنسي: پېښور، ۱۳۷۲ل.

۸- رښتین، پوهاندصدیق الله. پښتانه شعراء ـ دوهم ټوک، د مطیع الله روهیال په زیار: دوهم چاپ، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۹۱ل.

۹- رښتین، پوهاند صدیق الله زماهلې ځلې، د الحاج فضل الله رښتین په زیار: کابل، د اروانباد علامه رښتین فرهنگي ټولنه،۱۳۹۱ل.

۱۰- رښتین، پوهاندصدیق الله. روښان ستوري، یونیورسټي بُک ایجنسي: پېښور، ۱۹۸۷م.

۱۱- رښتین، پوهاند صدیق الله. پښتو نثر هنداره، یونیورسټي بُک ایجنسي: پېښور،۱۹۹۳.

۱۲- وفا، محمد داود. د پښتو اوسنۍ تذکرې، ختیځ اکاډمي، مومند خپرندویه ټولنه، ننگرهار، ۱۳۹۳ل.

۱۳- هاشمي، سیدمحي الدین. د ادبپوهنې اساسي ځانگې، میهن خپرندوی ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل.

۱۴- هېوامل، زلمی. ادبي تذکره او ادبي تاریخ (مقاله)، پښتو مجله، ۲۵، ۲۶، ۲۷ گڼې، پښتو اکېډیمي، پېښور، ۱۹۹۵-۱۹۹۳م.

څېړندوی مطیع الله ساحل

# ساینسفکشن او په پښتو ادب کې يې ځينې بېلګې

# Science fiction and some examples in Pashto literature

Assistant Prof. Matiullah Sahil

**Abstract**

Science fiction, which is also called the scientific fiction genre in Persian literature. This term is used for narrative literature and it is said to those stories that are based on knowledge and imagination for an imaginary and mental story in which the author is based on scientific facts, writes about proposed proposals, assumptions and possible future developments and changes based on knowledge, Or those writings and stories are called in which new technological phenomena, scientific developments and scientific experiments are described based on imagination. Although the existence of this term has come before anything else in folk tales and myths of Pashto literature, its name is current and with a new name and meaning. The French writer Jules Verne used it for the first time. After him, other scholars also did experiments in this field and, just like other types of Pashto narrative literature, it has come to us through translation, and later the writers of Pashto literature tested their pen and wrote such stories in this section. Fiction introduction, historical process and some examples of Pashto literature are shown.

## لنډیز

ساینسفکشن چې په فارسي ادب کې ورته علمي - تخیلي ژانر هم وایي، د داستاني ادب مهمه اصطلاح ده او هغو داستانونو ته ویل کېږي چې د علمي او ساینسي تجربو پر اساس د تخیل پر مټ لیکل شوې وي، یعنې هغه خیالي او ذهني داستان دی چې لیکوال یې د علمي واقعیتونو، طرحه شوو وړاندیزونو، ګومانونو او د علم پر مټ د راتلونکي احتمالي پرمختګونو او بدلونونو په اړه لیکي او یا هم هغه لیکنو او کیسو ته ویل کېږي چې په هغې کې نوې ټکنالوژیکي پدیدې، ساینسي پرمختګونه او تجربې د تخیل پر مټ بیان شوي وي، د غه اصطلاح که څه هم د پښتو ادب په فولکلوري کیسو او اسطورو کې پخوا راغلې ده، خو په مکتوبي ادبیاتو کې بیا نوې اصطلاح او مفهوم دی چې د لومړي ځل لپاره د فرانسوي لیکوال ژول ویرن له خوا و کارول شو، تر ده وروسته نورو پوهانو هم په دې برخه کې تجربې وکړې چې تر ډېره بریالۍ او په زړه پورې وې او د همدغه زړه راښکون له امله زموږ ژبې او ادب ته هم د نورو کیسه ییزو ژانرونو په څېر لومړی ځل د ژباړې له لارې راغی. وروسته پرې د پښتو ادب لیکوالو خپل قلم ازمویلی او په دې برخه کې یې دغه ډول کیسې لیکلې دي چې په دې مقالې کې یې پر پېژندنې سربېره تاریخي بهیر او په پښتو ادب کې یې ځینې بېلګې هم ښودل شوې دي.

## سریزه

د ځینو پوهانو په اند ساینس او تخیل یو د بل تضاد بلل کېږي، ځکه دوی فکر کوي چې علم یا ساینس پر تجربه ولاړ دی، یعنې حقیقت دی ، خو تخیل له ادب او هنر سره سر او کار لري او د ساینس خلاف دی، خو ځینې نور پوهان بیا په ساینسي اختراعاتو او پرمختګونو کې د تخیل پر رغنده ونډې ټینګار کوي او وایي چې تخیل له پوهانو سره په علمي پرمختګونو کې ډېره مرسته کړې ده. همدا علت دی چې د ساینس موخه د شیانو تر منځ د واقعي اړیکو او حقیقت کشف دی چې د انسان د هوساینې سبب ګرځي او ادبیات د انسانانو احساسات بیانوي او انسان یو ډول د سکون احساس کوي، نو ځکه ویلای شو چې ساینس او ادبیات دواړه د انسان د هوساینې او سوکالۍ برخې ته ګډه ژمنتیا لري او دغه ژمنتیا یوه نوې جاجونه زېږوي، چې هغې ته ساینس فکشن وایي چې موخه یې نوې ساینسي تجربې څېړل او د هنر په تومنه کې اغېزل دي.

## د څېړنې ارزښت او اهمیت

د دې څېړنې هدف او مبرمیت په دې کې دی چې ساینس فکشن په پښتو ادب کې

د نورو نوو اصطلاحاتو تر څنګ یوه نوې اصطلاح ده او تر اوسه پورې پرې په پښتو ادب کې ډېر کار نه دی شوی او په اړه یې ډېرو کمو لیکوالو بېلابېل نظریات وړاندې کړې دي او کمو کیسه لیکوالو په دغه ډول داستانونو خپل قلم ازمویلی دی، نو دلته به پرې څېړنه و شي او ځینې اړخونه به یې روښانه شي.

## د څېړنې موخه

د څېړنې موخه دا ده چې په پښتو ادب کې ساینس فکش وپېژندل شي او د دغه برخې لیکوال معرفي شي.

## د څېړنې پوښتنې

١. ساینس فکشن څه ته وایي؟
٢. د لومړي ځل لپاره چا او د کوم هدف په موخه رامنځته کړ؟
٣. پښتو ادب ته څنګه او کله راغی او په پښتو ادب کې کومو لیکوالو دغه تجربې کړې دي؟

## د څېړنې میتود

د دغې مقالې په لیکلو کې له تشریحي – توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

ساینسفکشن یو ترکیبي نوم دی چې لومړی یې ساینس او دویم یې فکشن دی، دواړه بېلابېلې معناوې ښندي. هغه خیالي واقعیت دی چې د اوسني معلوم ساینس په چوکاټ کې منطق ولري، خو عملاً ممکن نه وي. ددې نظر په اړه نجیب منلی وایي: ((علم هغه شی دی چې زموږ په چاپېریال کې زموږ له عادي ژوند نه موږ لرې کوي. دلته له علمي داستانونو نه موخه هغه څه وو چې په داستان کې به په علمي سویه بحث کېده)) (۵: ۳۷۹ مخ)

استاد لعل پاچا ازمون یې په اړه بیا داسې وایي: ((د ساینس فېکشن بحث اوسنی، خو وجود یې پخوانی دی، له دوو کلمو څخه رغېدلی نوم دی، ساینس او فېکشن، دغه دواړه نومونه یو د بل ضد او پاراډوکس دي. فېکشن پخپله ادب دی، ساینس فېکشن یو تخیلي حرکت دی، فېکشن کیسه، داستان او حتی شعر ته وایي. فېکشن تخیل دی، واقعیت نه دی. ساینس بیا پوهه ده په ټوله کې ساینس فکشن هغه علمي تخیلي افسانې یا داستانونه یا تجربې دي چې هغه د انسان په ذهنیت او هنري تجربو پورې تړلي دي، دی په خپلې تجربه او کیسه کې داسې ورک وي چې هلته یوه ساینسي تجربه ترسره

کېږي او دی په هماغې کې بوخت وي، خو کله چې دی راویښېږي، بیا هېڅ نه وي، دا یو تخیل وي. نه هغه تجربه وي، نه هغه ساینسي تخیلي تجربه وي، هېڅ نه وي، سپین میدان وي، دا ساینس فېکشن دی، ځکه دی په هغو تخیلي تجربو یا افسانو کې ډوب و چې یوه ساینسي تجربه یې ترسره کړې وه، خو کله چې له تخیلي حالته راووت، نو نه هغه تجربه وه او نه بل څه، دغه ساینس فېکشن دی.)) (۱: ۹٦ مخ )

ساینسفکشن هغه ډول لیکنو کیسو او شعر ته ویل کېږي چې په هغې کې د نوې ټکنالوژیکي پدیدو د رامنځته کېدو، ساینسي پرمختګونو لکه: فضا ته د سفر وسایلو انتقال، د اوبو تل ته د سفر وسایلو د انتقال او د مختلفو ساینسي تجربو،لکه: د روبوټونو په اړه معلومات وړاندې کوي او یا هم په لنډه توګه داسې وسایل چې موږ ور سره اشنا نه یو او په لومړي ځل یې نوم اورو او یا یې ګورو او نورو دا ډول موضوعاتو په اړه خبرې په کې کېږي او همداسې موضوعات څېړي، خو دا خبره هم د یادونې وړ ده چې دا ډول موضوعات پکې د تخیل پر مټ داسې بیان شوې وي چې په اوس وخت کې انسان ته د منلو نه دي، خو ممکن په راتلونکي کې داسې وسایل رامنځته شي چې دا موضوعات کشف کړي، نو دغه ډول داستانونو ته په پښتو ادب کې تر دې دمه پورې د ساینسي کیسو نوم ورکړل شوی دی او د ناول په برخه کې یې پېژندنه داسې شوې ده: هغه ناولونو ته ویل کېږي چې موضوع یې ساینسي او ټکنالوژیکي پرمختګ او د هغې ارزښت وي.(٦: ۸۹ مخ)، نو په لنډه توګه ویلی شو چې ساینسفکشن هغه خیالي او ذهني داستان دی چې لیکوال یې د علمي واقعیتونو، طرحه شوو وړاندیزونو، ګومانونو او د علم پر مټ د راتلونکي احتمالي پرمختګونو او بدلونونو په اړه لیکي.

د تاریخچې په اړه یې ویلای شو چې دغه اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۵۳ کال کې د ویلیم ولسن په نوم یوه لیکوال را منځته کړې ده چې هغه د شعر په اړه یو وړوکی کتاب لیکلی و چې نوم یې دی ( وړوکی کتاب د زړې غتې موضوع په باره کې) نوموړي د لومړي ځل لپاره په دې کتاب کې د ساینسفکشن کلمه و کاروله او په دې اړه وایي چې ټول معلوم علوم په خپل ذات کې داسې څه لري چې هغه د ښکلې شاعرۍ جهانونه دي. دغه کلمه ورو ورو دود شوه، خو په نننې مفهوم دغه کلمه له ویلیم ویلسن څخه تقریباً اویا کاله وروسته یو فرانسوي لیکوال چې ژول وېرن نومېږي په ۱۹۲۷م کال کې په یوه اخبار کې په هماغې معنا وکاروله. ژول وېرن په فرانسه کې د علمي (ساینسي) داستانونو شکسپیر په نوم پېژندل کېږي. دلته له علمي داستانونو نه موخه هغه څه وو چې په

داستان کې به په علمي سویه پرې بحث کېده، خو دغه کلمه بیا را وروسته په ۱۹۴۰ م کال کې د ساینس فکشن په نامه وکارېده. په انګرېزي ژبه کې ساینس فکشن ته عموماً سای فای وايي. ځینې کره کتونکي سایفای له ساینسفکشن نه ولسي یا عامیانه بولي.( ۵: ۹۷مخ) اوس پوښتنه دا ده چې ساینس فېشکن څنګه را منځته شو؟ دې پوښتنې ته که ځواب وایو، نو خبره داسې را سپړو چې دغه مفهوم په شعوري توګه را منځته شوی دی، په شعوري توګه یعنې څنګه؟ کله چې ځینې مفاهیم د کلیسا له وېرې او حکمرانۍ پر مهال په عادي ادبیاتو کې نه شول را منځته کېدای، نو د بیان لپاره یې لیکوالو یوه خیالي دنیا تصور کړه، دوی دغه مهال د خپلو خبرو لپاره خیالي واقیعتونه جوړ کړل، په دې برخه کې لومړنۍ کس د توماس مور یوتوپیا کیسه یادولی شو. دغه کیسه یې په ۱۵۱۶ م کال کې لیکلې چې محمد جان په۱۹۰۷ م کال کې پښتو ته را ژباړلې ده او په لیکني ادب کې په پښتو کې د ساینس فېکشن لومړنۍ بېلګه هم همدا ده. همداسې دا لړۍ نورو بهرنیو لیکوالو وپالـله. په دغو لیکوالوکې چې د ساینس فکشن معنوي ژانر یې په رښتینې بڼه وړاندې او ثبوت کړ هغه ژول ویرن دی. ده په لسګونو داسې داستانونه ولیکل چې علمي (ساینسي) تجربې یې څو کاله وروسته رښتیا شوې دي. د اوبتل لومړنی سفر چې لومړی د ژول ویرن په کتاب کې راغلی دی بیا وروسته تخنیک دغه وسیله جوړه کړې ده، دغه اثر محمود طرزي په دري ژبه ژباړلی دی، په بالون کې سفر د نوموړي یوه بله کیسه ده، په دې داستان کې پنځه کسه په یوه ورکه جزیره کې رالوېږي چې په دغه جزیره کې هېڅ هم نشته، دوی مجبور وي چې ځان ته داسې وسایل جوړ کړي چې ژوند په کې وکړي دوی د هغې جزیرې د موجودو امکاناتو له استفادې داسې وسایل جوړوي چې د دوی ژوند اسانه کوي، دا تخنیکي وسایل داسې وسایل وي چې عملاً په ټولنه کې نه وي.(۵: ۳۸۴ مخ)

سپوږمۍ ته سفر هم د ژول ویرن یو بل اثر دی چې انسان ته د سپوږمۍ ختلو لار ښيي، لومړی ځل اپولو فضا ته لاړ، په سپوږمۍ کې کېنه ناسته، خو پر مدار یې وګرځېد او بېرته راکېوته، نو عکسونه یې ځمکې ته راغلل.

ساینس فکشن نورې بېلګې هم لري، لکه نورو سیارو ته سفر او... د نوې ټکنالوژۍ له برکته مزلونه را لنډ شول او د انسان پر ژوند یې ښه اغېز وښنده. د ټکنالوژۍ په برخه کې همدا روبوټونه هم د ساینس فکشن یو ښه بېلګه ده. (۱ : ۱۳۷مخ)

په دغه ډول موضوعاتو سره ژول وېرن د ساینس فکشن سرلاری ګڼل کېږي او نوموړي په دې برخه کې تر هر چا لومړی او ډېر کار کړی دی، څکه په ژوند کې هر هغه ساینسي تخیل چې  د ژول ویرن په کتاب کې راغلی دی. وروسته تخنیک هغه شی جوړ کړی او عملي بڼه یې موندلې ده .

اوس راځو دې ته چې پښتو ادب ته ساینسفکشن کله  او څنګه راغی؟ لکه په مخکې بحثونو کې مو چې وویل د ساینس فکشن نمونې موږ په یوه نه یو ډول په پخوانیو فولکلوري اسطورو او نکلونو کې لرو لکه په نکل کې د مرغه/ سیمرغ پر وزرونو کېناستل او بلې نړۍ ته تلل او یا هم پر پر اوبو د پورې وتو لپاره د داسې یوې وسیلې جوړول چې حقیقت نه وي یوازې یې د تخیل پر مټ داسې جوړه کړې چې په عمل کې یې د انسان ذهن نه مني خو په راتلونکي کې یې د جوړېدو امکان وي. په دې اړه لعل پاچا ازمون په خپله یوه مقاله(ساینسفکشن او فولکلور) کې داسې لیکي(( د ساینس فېکش لومړنی څرک په ولسي اسطورو او نکلونو کې وینو، په ټپو کې دغې برخې ته یوازې نغوته شوې ده.

د لومړني انسان ذهنیت په تېره د ماشوم حرکت دا را څرګنده کړې چې تخیل یا فېکشن د ساینسي تجربو لپاره لاره برابروي. کله چې انسان پر تخیل ساینسي تجربې وکړې نو: په پایله کې یې ساینس رامنځته شو، ساینس فېکش د انسان هغه لومړنی ذهني حرکت دی چې لا عملي بڼه یې نه ده موندلې، په افسانوي بڼه شته، خو د عملي بڼې لپاره یوه مفکوره ده .

په اساطیرو او ساینس فېکشن کې داسې ډېرې بېلګې شته چې اغېز یې د انسان پر روان، فلسفي، ټولنیز او تخنیکي ژوند څرګند دی.

 له فولکلوري روایاتو یا ولسي ادبه اخوا په لیکني ادب کې هم داسې اثار لرو چې تخیل او تفکر یې په علمي تجربو بدل شوی دی او په پایله کې یې د انسان د ژوند په پرمختګ او د ټولنې په رغښت او سمون کې یې خپل ځانګړی ځای ښودلی دی).۲.(

په ولسي نظمونو او نثري نکلونو کې موږ داسې بېلګې لرو چې پر ساینس یې اغېز کړی دی. د جلات خان او محبوبې کیسې ته ځو.  په دغه کیسه کې جلات خان په محبوبې چې د پاچا لور ده مین وي، هغه د محبوبې د دیدار لپاره داسې یو اس جوړوي چې هغه آس ډېر جالب وي، د دې آس د جوړولو لپاره دی ډېر وخت شاګردي کوي او بالاخره دی له لرګي څخه دغه آس جوړوي او د اس په خېټه کې یې د ځان لپاره ځای جوړ کړی وو چې حرکت به ده خپله ورکاوه،  د پاچا لور چې کله د دغه اس له کارنامو خبرېږي، نو له

پلار څخه هیله کوي چې د آس ننداره وکړي ، نو پاچا یې غوښتنه مني  او آس دربار ته راولي، د پاچا لور محبوبه او د هغې ملګرې د آس د ګډا ننداره تر ناوخته کوي شپه ناوخته کېږي د پاچا  لور او ملګرې یې ویده کېږي په دغه وخت کې جلات خان د آس له خېټې راووځی او د محبوبې پالنګ ته ځی...(۳: سریزه،الف مخ)

دا په پښتو ولسي ادب کې د ساینس فکشن لومړني ځرکونه دي، په دې برخه کې د ساینس فکشن یوه بله بېلګه د موسی خان او ګلمکۍ په نکل کې هغه برخه ورکولی شو چې: موسی خان سودایي شو، ځنګل ته لاړ، کله چې د سهیلي پاچا لښکرو ګلمکۍ تښتوله، نو ده پسې خلک لاړل او د ګلمکۍ تښتول یې ورته یاد کړل، ده له لرګي اس جوړ کړ او  د سهیلي پاچا په لښکرو پسې ووت. دلته له لرګی نه د اس جوړول، ساینس فېکشن دی.

په پښتو داستاني ادب کې که څه هم دا ډول لیکنې تر اوسه عامې نه دي،  خو ځینې بېلګې یې د استاد اسد الله غضنفر له خوا د داستان په نوم خپرېدونکې مجله کې چې د ساینس فکشن لپاره ځانګړې شوې وه خپرې شوي دي، نو باید چې په پښتو ادب کې هم دغه ډول داستانونه عام شي، ځکه چې د دغه ډول داستانونو عامېدل او خپرېدل به پر لوستونکو او عامه ذهنیت ځکه مثبت اغېز و لري چې دلته له کلونو راهیسې روانې جګړې  د راتولونکي ژوند او په ژوند کې د پرمختګونو  په اړه  د خلکو پر فکر کولو منفي او ناوړه اغېز کړی او تاوتریخوالي په علمي پرمختګونو او افکارو تور سیوری غوړولی دی. دا چې ساینس فکشن یو نوې اصطلاح ده او ځینې کره کتونکي یې د نوي ژانر په نوم پېژني چې له بده مرغه په پښتو داستاني ادب کې د دغسې کیسو کمی زیات دی، خو ددې خبرې معنا دا نه ده چې سوچه نه شته، په پښتوکې د دغه ډول ژانر له لیکوالو څخه یو یې نصیر احمد احمدي دی چې په دې برخه کې یې خپل قلم ازمویلی او د خپلې پخې تجربې  په لرلو سره یې د (جو جو او رنګه غوړونه) تر سرلیک لاندې د ساینس فکشن  یا ساینسي ناولونه لیکلي دي.جو جو د ناول مرکزي  کرکټر( لوبغاړی) دی، له بلې نړۍ راغلی موجود دی چې په خپل  وړوکي وجود د ډېرو سترو کارونو د تر سره کولو وړتیا لري او ځمکې ته د تحقیق لپاره راغلی دی، تواب د دې ناول بل مرکزي کرکټر دی نوموړی یو کلیوال پښتون ځلمکی دی  چې له جو جو سره د هغه په تحقیق کې مرسته کوي.

ځینې کسان په دې اند دي چې ساینسفکشن د علمي تخیل له ودې سره مرسته کوي، نو که کوچنیانو ته د ساینس فکشن کیسې و لیکل شي له دوی نه ممکن په اینده کې

داسې کسان جوړ شي چې اختراعات به وکړي او د دوی علمي او ذهنې صلاحیتونه به و غوړیږي چې دا یو ډول علمي فایده هم ده .
د ځوان پلار بوډا زوی په نوم بله لنډه کیسه ده چې د کوزې پښتونخوا تکړه کیسه لیکوال ایازالله ترکزي لیکلې ده، د دغې کیسې موضوع ټوله په فضایي بېړۍ او د دغې بېړۍ پر جوړونکو را څرخي، په دغه کیسه کې د کیسې اصلي لوبغاړی میرویس نومېږي چې دی له کابله روسیې ته د زده کړو لپاره تللی وي او هلته یې د فضایي بېړیو د جوړولو، فضا ته د تګ او په فضا کې د سفرو په برخه کې لوړې زده کړې کوي، کله چې دی له زده کړو فارغېږي، نو په همدغه برخه کې له یوې کمپنۍ سره دنده پیلوي په دغه وخت کې له ده سره دده زوی بریال او مېرمن هم په روسیې کې اوسېږي، خو کله چې د دغې فضایي کمپنۍ د پرېکړې له مخې چې دوی به یوه فضایي بېړۍ جوړوي او هغه بېړۍ به فضا ته ځي او هلته به یو ښارګوټی جوړوي چې دې ښارګوټی ته به دوی بیا وخت په وخت سیلانیان بیایي، د دغې طرحې د عملي کولو په موخه دغه کمپنۍ څلور تنه فضایي انجنیران انتخابوي چې په دې ډله کې میرویس نه یوازې چې دې ډلې ته انتخابېږي، بلکې ددغې ډلې مشري هم ور کول کېږي. دوی لومړی یوه فضایي بېړۍ جوړوي او فضا ته سفر پیلوي په دغه وخت کې چې میرویس فضا ته ځي بریالی او مور یې بېرته کابل ته راځي، میرویس فضا ته خپل سفر پیلوي کله چې په فضا کې خپل هدف ته نږدې کېږي، نو بېړۍ یې تخنیکي عوارض پیدا کوي او ځای پر ځای دربېږي، نه ښکته ځي او نه پورته او له کمپنۍ سره یې هم اړیکه پرې کېږي، په دغه جریان کې ډېر کلونه تېرېږي او دوی په بېړۍ کې د ژوندي پاتې کېدلو په موخه داسې صندقونه جوړ کړي وي چې په هغې کې ځان بند کړي، نو دوی به د ټول عمر لپاره ژوندي پاتې وي او دوی به د خوبولو په څېر په دې صندوق کې پراته وي، دوی په صندقونو کې ځان بندوي چې یو وخت د امریکا فضایي بېړۍ د دوی تر څنګ تېرېږي او دوی ژغوري، له ځان سره یې د دوی جوړ کړي فضایي ښارګوټي ته بیایي او له هغه ځایه بېرته ځمکې ته راځي او دوی روسیې ته سپاري، کله چې بریال او مور یې خبرېږي، نو دوی هوایي ډګر ته ورځي په داسې حال کې چې بریال سپین ږیری او مور یې په ویلچیر کې ناسته وي کله چې میرویس راځي، نو میرویس لا هماغسې ځوان وي خپل زوی او مېرمن نه پېژني، خو له بریال سره د خپل پلار د تګ یو انځور وي چې په لیدو سره یې میرویس دوی پېژني او بېرته کور ته ستنېږي.(۳: ۲۵-۱۵ مخونه)

په دې کیسه ګورو چې د ساینس زده کړې بیا ساینسي تجربې لکه د بېړۍ جوړول، فضا ته تلل او په فضا کې د ښارګوټي جوړول، د بېړۍ خرابېدل په بېړۍ کې د ژوندي پاتې کېدو په موخه د صندقونو جوړېدل دا هر څه هغه موضوعات دي چې د ساینس په مرسته په حقیقت بدلېدای شي، نو لیکوال دغه مسایل د تخیل په مرسته کیسه ییز کړي دي چې دغه د ساینس او تخیل ګډون ته ساینسفکشن ویل کېږي. دغه کیسه د نوموړي د شیشک په نامه د کیسو په یوه ټولګه کې راغلې ده، په دې ټولګه کې ټولې (۱۰) کیسې راغلي دي چې ټولې کیسې یې ساینسفکشن کیسې دي. د دغو کیسو سرلیکونه داسې دي( د ځوان پلار بوډا زوی، ۲:د زړه پیوند،۳:ډرون بلډ بېنګ،۴:د ورځې ستوري،۵:انوستي ګېټر، ٦: پټریاټ، ۷: آن ناون کال، ۸: شیشک، ۹: بابا، ۱۰: نالوستی) .

په دې برخه کې پښتو ته د نجیب منلي او پوهاند محمد اکبر وردګ له لوري له فرانسوي ژبې څخه د لنډو کیسو د ټولګې ژباړه هم د یادونې وړ ده، دغه ټولګه ( چترۍ) نومېږي چې ټولې پکې ساینسفکشن لنډې کیسې راغلی دي. د چترۍ په نوم کومه لنډه کیسه چې په دې ټولګه کې راغلې په هغې کې ښارونه د رېبوټونو له لوري کنټرولېږي او د انسانانو ژوند د هغوی له لوري تر څار لاندې نیول کېږي. پر دې سربېره په داستانونه مجله کې د ایمل پسرلي د تېروتنې په نوم یوه لنډه کیسه راغلې چې د هغې موضوع هم ساینس فکشن ده).۴

د دغه ډول کیسو په اړه استاد ازمون لیکي: (( که وواېو په شعوري توګه ولس د ساینس له تجربو سره څه چې د ساینس له نوم سره هم نه وو اشنا، خو د دوی ځینې کړنې داسې وې چې پر بنسټ یې ځینې ساینسي تجربې تر سره شوې، ځکه مفاهیم په لومړیو کې ولسي بڼه لري کله چې بحثونه تخصصي کېږي او تجربې پرې تر سره کېږي، نو له ولسي ذهنیته ورو ورو خبره پوهې او فن ته راځي، هغه مفاهیم چې په لومړیو کې به په نا شعوري توګه د ولس له ذهنیته را پېژندل کېدل ورو ورو تر تجربو لاندې راغلل، علمي او فني بڼه یې و مونده، د ولس له ذهنیته زده کړه و موندل شوه، دغه زده کړه ورو ورو په تجربو بدله شوه تر تجربو وروسته د پوهې او فن په کړیو پرې خبرې و شوې، لکه په اسطورو کې راغلي چې د مرغۍ په وزرونو سړی پورته شو بلې دنیا ته یې و رساوه دلته د مرغۍ پر وزرونو بلې دنیا ته، یعنې لرې واټن ته بېول انسان ته دا مفکوره ورکوي چې څنګه همدغه د مرغۍ وزرونه پر ساینسي تجربه بدل شي، پایله یې الوتکه او بڼه او حرکت یې د مرغۍ په څېر دی را منځته کېږي . دا هر څه په ادب کې د ساینس فکشن بېلګې دي.))) ۲(

نو که د اوسنۍ نړۍ ګڼو اختراعاتو او کشفونو ته نظر و شي، نو په لومړیو کې یې خپله څېره او بڼه په علمي تخیلي ادبیاتو کې را څرګنده کړې او بیا د وخت په تېرېدو سره په واقعي نړۍ کې را څرګنده شوې ده، لکه فرانسوي ژول ویرن  چې په خپلو ساینسي داستانونو کې د اوبتل د رامنځته کېدو او اختراع لومړۍ طرحې وړاندې کړې په همدې ډول د انساني روباټ، مخابراتي سپوږمکۍ او خلا ته سفرونه د ځینو اروپایي لیکوالو په ساینس فکشن کیسو کې مطرح شول او وروسته ساینس ورته رښتینې بڼه ورکړه .

په همدې توګه په ګڼو صنعتي هېوادونو کې لیکوالو دا ډول آثارو پنځولو ته مخه کړه او مینه وال یې هم د نورو او وروسته پاتې هېوادونو په پرتله زیات وو، دوی باور درلود چې داستانونه به په راتلونکي کې  رښتینې بڼه مومي، نو ځکه یې  اوس له ادبیاتو ور ها خوا د هنر او سینما په نړۍ کې هم د ساینس فکشن موضوع عامه کړه او ګڼې نندارې او سینمایي فلمونه د تخیل او علم پر مټ جوړ شوي دي چې ګڼ مینه وال لري او لامل یې هم د راتلونکي لپاره ژور فکر کول دي، نو که خبره راټوله کړم، ساینسفکشن د انساني ټولنې یو داسې ایجاد دی چې د تخیل په مرسته په ذهن کې غځونې کوي او تر سمونو وروسته د لیک بڼه خپلوي، خو دا چې انسان متجسس دی او متحرک موجود دی او هره ورځ نوو تجربو او غوښتنو ته اړتیا لري، نو د همدغو اړتیاوو له مخې ورته د عمل جامه ور اغوندي او تکرارې ناکامې تجربې باالاخره تر وسې وسې په بریالیتوب بدلې کړي، چې پورته یې ځینې بېلګې واضحې هم شوې.

## پایله

که خبره راټوله کړو، نو د ساینس فکشن په اړه مو لړې ډېرې خبرې وکړې، نو د پایلې په توګه ویلی شو چې د نړۍ په ادبیاتو کې چې هره نوې ادبي اصطلاح، ژانر او کومه نوې موضوع را منځته شوې، د هغې اصطلاح څرکونه په یو نه یو ډول په پښتو شفاهي یا لیکني ادب کې له وړاندې موجود وي او یا هم لیکوال او څېړونکي په دغه برخه کې قلم ازمايي، له شک پرته چې په لومړیو کې به ستونزې و لري ، خو په راتلونکي کې بیا د ادب د یوې برخې د مشال حیثت پیدا کړي او و ځلېږي چې په دې برخه کې ساینسفکشن هم یوه داسې اصطلاح ده چې څرکونه یې په پښتو شفاهي او لیکني ادب کې پخواني دي خو نوم یې اوس اوس زموږ ادب ته لاره کړې، هغه خیالي او افسانوي خیالات چې تجربه شي او یا هغه خیالات چې سانسي بڼه خپله کړي او یا په راتلونکي کې یې د ساینسي بڼې د

خپلول ممکن وي ساینس فکشن ورته وایي لکه: د انګریزي ادب، هغه ناول، چې سپوږمۍ ته د ختلو افسانه لري، چې بیا وروسته ساینسي تجربه وګرځېده دې ته ساینس فکشن وایي، نو دغه اصطلاح چې لومړی د ژباړې له لارې پښتو ادب ته راغلې او وروسته څېړونکو دا ښودلې چې د دغه اصطلاح که نوې ده خو موضوعات یې په پښتو شفاهي ادب کې له پخوا موجود و لکه د جلات خان او محبوبې داستان یا هم د موسی خان او ګلمکۍ داستان، خو له نېکه مرغه چې په پښتو کې دغه موضوع یوازې تر فولکلوري ادب محدوده پاتې نه شوه او په لیکني ادب کې هم دغه تجربې و شوې او ښې پخې و شوې چې په دې برخه لومړی لیکوال چې عملاً او مشخص په همدغه موضوع کې یې دوه ناولونه لیکلي نصیر احمد احمدي دی، همدار راز د کوزې پښتونخوا داستان لیکونکي ایازالله ترکزي د لنډو کیسو مجموعه ده چې ټولې کیسې یې په همدې موضوع لیکلي دي. چې د یو مقالې تر کچې په دې څېړنه کې پرې خبرې و شوې ښایي په دغه موضوع لا نور ډېر کار وشي او نورې ډېرې بېلګې یې و موندل شي.

## مأخذونه


۱. ازمون لال پاچا. د ادبیاتو فلســفه، د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، ۱۳۹۹ل کال.

۲. ازمون لال پاچا. ســاینس فکشــن او فولکلور، دعوت مېډیا«وېبپاڼه»، د خپرېدو نېټه:۱۴۰۰/۱۰/۲۲ ل، لاس رسی،۱۴۰۲/۷/۱۵.

۳. :ترکزی، ایاز الله. شیشک(ساینس فکشن کیسې)، اعراف پرنټرز: پېښور،کابلی بازار،۲۰۲۱ م کال. ۴: عمر خېل. حمید الله، ســاینس فکشــن څه ته وایي؟، تاند«وېبپاڼه» د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۰/۱۰/۲۱ل کال، لاس رسی:۱۴۰۲/۷/۱۴ ل کال.

۴. منلی، نجیب او غضنفر، اسدالله. د ادبیاتو دنیا، خپرندویه ټولنه...:کابل، ۱۳۹۹ ل کال.

۵. هاشمي سید محی الدین. د نثري ادب ډولونه، د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست،همایون مطبعه: کابل، ۱۳۹۴ ل کال.

څېړندوی فضل الرحمن علیزی

# په کره کتنه کې د لیکوال د انګېزې د لټون څرنګوالی

# Identifying the quality of author's motivation in literary criticism

Assistant Prof. Fazal Rahman Alizai


## Abstract

For a literary critic, the first vital point is to understand the principles of criticism and then criticize according to those principles. The first considerable point for a critic is to criticize the book, not the author; because it is against the principles of criticism. During the literary translation, different aspects are to be investigated including the contents, its positive and negative aspects and this helps the author, the readers and provides academic development. However, this needs to be according to some pre-identified principles and norms and one of them is that; the critic must not cross the personal boarders of the author, but should consider the book. In this study, a very potential aspect of criticism has been investigated and that is Identifying the quality of author's motivation in literary criticism, and the authority of the critic and the commitment in this whole process.

## لنډیز

د کره کتنې له اصولو او ادابو څخه یو اصل دا دی چې کره کتونکی باید پر کتاب کره کتنه وکړي، نه پر لیکوال؛ ځکه پر لیکوال خبرې کول د کره کتنې له اصولو څخه

ښکاره سرغړونه ده. په کره کتنه کې د لیکل شویو آثارو بېلابېل اړخونه تر څېړنې لاندې نیول کېږي، د اثر د منځپانګې ښېګڼې او نیمګړتیاوې را څرګندوي چې دا چار د اثر له لیکوال، لوستونکي او علمي پرمختګ سره مرسته کوي، خو دا کار باید د یو لړ اصولو او نورمونو له مخې وکړي او له دغو اصولو څخه یو دا دی چې کره کتونکی به د اثر د لیکوال له شخصـي حریم سره کار نه لري، بلکې د اثر د لیکلو پر څرنګوالي به بحث کوي. په دې لیکنه کې د کره کتنې اصولو ته نږدې پر یوه مهمه موضوع د کره کتونکي له لوري په اثر کې د انګېزې د لټون پر څرنګوالي بحث شوی، د اثر د لیکلو انګېزه او د مسئلې د بیان توپیر روښانه شوی او په دې برخه کې د کره کتونکي واک او ژمنتیا په ډاګه شوې ده.

## سریزه

ادبیات په اصل کې له ټولنې او ټولنیز ژوند څخه د ادیب د هغو تجربو نچوړ دی چې په خپل خلاقیت او وړتیا یې تر لاسه کړې دي او د همدې ټولنې د سمون او اصلاح لپاره یې د ټولنې غړیو ته په داسې توګه وړاندې کوي، چې پر احساساتو او عواطفو باندې یې اغېزه وکړي او د ټولنې د نیمګړتیاوو او د بې عدالتیو په وړاندې یې نه یواځې احساسات را وپاروي، بلکې په عمل کې هم د خپلې ټولنې او په ټولنه کې د بې عدالتیو مخې ته ټینګ ودرېږي او د مخنیوي لپاره یې لاس په کار شي. د ادیب او ادبیاتو دنده دا ده چې د خپلې ټولنې نیمګړي اړخونه را وسپړي او له خلکو سره یې د سمون او اصلاح په نیت شریک کړي، چې په راتلونکې کې د همدې نیمګړتیاوو مخه ونیول شي او د یوې پاکې او اصلاح ټولنې د اوسېدونکو په توګه ژوند وکړي، خو هغه نیمګړتیاوې چې ادیب په خپله ټولنه کې لیدلې یا یېویني، هغه په څه شکل د ټولنې له نورو وګړو سره باید شریکې شي؟ د ادبیاتو په تعریف کې دا خبره هم کوو چې:«ادب یو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. دا نځور( تصویر یا ایماژ) څخه مقصد دا دی چې ادب واقعیت کټ مټ او په مستقیمه توګه نه بیانوي، بلکې د ادبي اثر د لیکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندي کېږي. یا په بله ژبه: نوښتګر(شاعر یا کیسه لیکونکی) له واقعیت څخه خپله انطباع او برداشت په عاطفي بڼه انځوروي.»(۸: ۱۷مخ)

ادیب د خپلې ټولنې له بېلابېلو اړخونو څخه تر لاسه کړې تجربې او یا د ټولنې واقعیتونه د خپل احساس په ملتیا ببرته د ټولنې وګړو ته د ټولنې د اصلاح په موخه وړاندي

کوي، خو دا چې ادبیاتو خپله دنده په څه ډول سرته رسولې؟ خبره کره کتنې ته ځي. کره کتنې ته په دا وروستیو کې د یوه ځانګړي علم په توګه کتل کېږي، ځکه :«کره کتنه د ادبي چاڼ لپاره یو برلاسی علم دی چې د تاریخ په اوږدو کې، لکه نور علوم د بېلابېلو عواملو له امله د خلکو او څېړونکو له پامه په شعوري او یا غیر شعوري توګه د یوه سیستماتیک علم په توګه له پامه غورځول شوی و، ځکه په دغه علم کې تر هرڅه دمخه خبره پر ربښتیاوو او د هغوی پر څرګندولو او برالا کولو باندې تړلې وه...»(۷: ۱۱مخ)

د کره کتنې په اړه د علم او هنر خبره د بحث وړ موضوع ده، باید مستقل بحثونه ورباندې وشي، خو کله چې خبره د یوه ځانګړي علم شي، نو طبیعي خبره ده چې د اصولو او معیارونو مسئله رامنځته کېږي، ځکه هر علم ځانګړي اصول او نورمونه لري، کره کتنه هم یو لړ اصول او معیارونه لري، چې پر یوه اثر باندې د کره کتنې په وخت کې باید په پام کې ونیول شي، چې اثر په داسې شکل و ارزول شي، چې پر لیکونکي او لوستونکي سربېره د علم او پوهې له پرمختګ سره هم مرسته وکړي. دلته موږ د کره کتنې د اصولو په اړه له څه ویلو تېرېږو، خو د کره کتنې اصولو او آدابو ته پر نږدې څه، یعنې په کره کتنه کې د لیکوال د انګېزې د لټون پر څرنګوالي بحث کوو، چې د کره کتنې په وخت کې یې باید په اړه څه وشي؟

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د ادبیاتو په پرمختګ کې د کره کتنې له نقش او اغېز څخه سترګې نه شـي پټېدای، خو دا چې کره کتنه هم یو لړ اصول لري چې باید په پام کې ونیول شي او د کره کتنې په وخت کې ورته ټینګه پاملرنه وشي. د دې لیکنې اهمیت همدا دی چې د کره کتنې په وخت کې د یوې مهمې موضوع، یعنې د لیکوال د انګېزې د معلومولو او څرنګوالي په اړه پکې بحث او څېړنه شوې او د موضوع حساسیت ته ګوته نیول شوې ده.

## د څېړنې موخې

له دې لیکنې څخه زموږ اصلي موخه دا ده چې پر یوه اثر باندې د کره کتنې په وخت کې باید ځینو داسې مسایلو ته هم پام وکړو، چې د کره کتنې د عمومي اصولو په لړ کې یې په اړه ډېر څه نه دي ویل شوي، خو د کره کتنې په وخت کې ورته پاملرنه کول اړینه او ضروري ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د کره کتنې په وخت کې د یوې لیکنې د لیکوال پر انګېزې خبرې کول څومره اړینې دي؟
۲. ایا موږ د کره کتنې په وخت کې د لیکوال پر انګېزه د خبرې کولو حق لرو او که نه؟
۳. د کره کتنې پر وخت د لیکوال پر انګېزې خبرې کول څه پایلې لري؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې د تشریحي او تحلیلي میتود ترڅنګ، له انتقادي میتود څخه هم استفاده شوې او موضوع څېړل شوې ده.

## د مقالې متن

کره کتونکی باید د لیکوال له شخصیت او هغه څه سره چې د لیکوال په شخصي حریم کې راځي کار ونه لري، بلکې د کره کتونکي کار باید له کره کېدونکی اثر او د اثر له ښېګڼو او نیمګړتیاوو سره وي، خو دا چې هر اثر د یوې انګېزې پر بنسټ رامنځته شوی، نو ایا کره کتونکي ته په کار ده، چې د یوه اثر د کره کتنې په وخت کې د هغه اثر د لیکلو انګېزه وپلټي؟ مخکې له دې چې دې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو، په کار ده، چې لومړی انګېزه وپېژنو، تعریف یې کړو او بیا د موضوع په څېړلو لاس پورې کړو. د انګېزې په اړه ببلابېلو قاموسونو او فرهنګونو، لکه: لغتنامه دهخدا (٦: ۳٦۰۴ مخ) فرهنګ معین(۱۰: ۲۱۱مخ) او فرهنګ فارسي عمید(۵: ۳۰۳ مخ) کې د انګېزې د پېژندنې په اړه ټول یوه خبره کوي، په پورته قاموسونو کې د انګېزې د معنا په برخه کې د «سبب، باعث، لامل او یوه کار ته هڅول» کلمې کارول شوې دي، نو د انګېزې دتعریف په برخه کې ویلای شو، چې انګېزه په حقیقت کې د یوه کار د تر سره کولو لامل او دلیل دی، یا هغه لامل چې د یوه کار د تر سره کولو سبب شي انګېزه بلل کېږي. موږ د کره کتنې په برخه کې تل دا خبره کړې ده چې کره کتنه په حقیقت کې له لیکوال، لوستونکي او د علم له پرمختګ سره مرسته کوي، خو دا ټول د کره کتنې په وخت کې د اثر په سمې تشریح پورې اړه لري؛ کره کتونکی په خپلو تشریحاتو سره له لیکوال، لوستونکي او علمي پرمختګ سره مرسته کوي، نو د یوه اثر د تشریح په وخت کې کره کتونکي ته زیاته پاملرنه په کار ده، د اثر د تشریح

ګټې او زیانونه مخکې له مخکې وسنجوي او بیا په خپل کار لاس پورې کړي، ځکه کره کتونکي لیکنه د ځان لپاره نه کوي، بلکې غواړي چې د خپلې لیکنې یا کره کتنې په ترڅ کې یوه مسئله حل یا د حل په موخه ښه تشریح کړي او د دې کار په لړ کې، طبیعي ده چې د خپلو استدلالونو او خبرو ځوابونه به هم تر لاسه کوي،کله چې خبره د مقابل لوري د عکس العمل ښودنه شوه، نو بیا:«د لیکوال په لیکلي متن کې هر ډول عیبونه او نیمګړتیاوې پیدا کول او له هغه څخه یو نوی متن منځته راوړل سم کار نه دی، مګر که دغه توضیح او اشاره د لیکوال د متن د ښې توضیح او بیان لپاره وي او د متن له ښې پوهېدا سره مرسته وکړي، د بېلګې په ډول: کېدای شي چې کره کتونکی د توضیح یا په تر لاس لاندې متن کې د را غلې موضوع تشریح ته اشاره وکړي چې لیکونکي په بل کتاب، مقاله یا خبرو کې هم دغه مسایل را وړي او بیان کړې دي یا لیکونکی په دې برخه کې نور آثار هم لري.کره کتنه چې هر ډول تعریف کړو او کره کتونکي ته چې هر ډول دنده ور تر غاړې کړو، په ټوله کې د هغه د کار چاپېریال او د عمل ډګر هغه لیکنه ده چې مخته یې پرته ده. له متن څخه د وړاندې تګ لپاره هر ډول هڅه او کوښښ یا په لوی لاس په متن کې عیب پیدا کول او له متن څخه په لیکونکي پورې اړوند شخصي مسایلو ته تلل، په حقیقت کې ښه پایله نه لري او په ټوله کې د علم او پوهې په زیان تمامېږي. یعنې که داسې عیبونه لټول کېږي چې د علم او پوهې له پرمختک سره مرسته نه شي کولای او د دې ترڅنګ د متن پر ځای پر لیکونکي یا د لیکونکي پر شخصي ژوند او شخصیت کره کتنه کېږي، نو دا په هېڅ ډول د کره کتنې اخلاق او د کره کتونکي اوصاف نه ګڼل کېږي او نه د علم او پوهې له پرمختګ سره مرسته کولای شي، نو په کار ده چې له دغسې چلنده څخه ډډه وشي، ځکه دا د علم د پرمختګ په زیان پرېوځي.» (۲: ۸۰ مخ)

له پورته څرګندونو څخه په اسانۍ سره پوهېږو چې کره کتونکي د یوې لیکنې د کره کتنې په وخت کې باید څه چلن وکړي، کره کتنه هم په حقیقت کې خوږه ګوته ده، باید ډېر احتیاط ورسره وشي، داسې نه چې د کره کتنې په وخت کې له متن د باندې له ځینو داسې مسایلو سره اړیکه ونیول شي چې لاس ور وړل یا یادونه یې د ګټې پر ځای زیان ولري، په کار ده چې کره کتونکی د یوه متن د کره کتنې په وخت کې د موضوع پر تشریح او توضیح لاس پورې کړي، له متن څخه د باندې مسایلو

سره غرض ونه لري، چې یو له دغو مسایلو څخه انګېزه هم ده.

### د اثر د انګېزې او مسئلې څرنګوالی

د کره کتنې د کار ساحه(برید) د یوه متن پر شاخوا خبرې کول دي؛ د هغو مسایلو په اړه خبرې کول چې د یوه متن په لا تشریح کې مرسته کولای شي، ښه خبره ده، خو که چېرته خبره له متن څخه د باندې ځي، نو بیا لازمه نه ده، له متنه د باندې مسایلو باندې بحث وشي. انګېزه هم له هغو مسایلو څخه ده چې خبرې کول پرې مسئله کړکېچ ته بیا یي، ځکه د یوې لیکنې د انګېزې په اړه خبرې کول، یا یې دفاع اصلاً د استدلال وړ دلایل نه لري، خو که خبره د یوه اثر د مسئلې د طرحې په اړه وي، کره کتونکي حق لري چې د اثر لیکنې پر طرح خبره وکړي، هر اثر د لیکنې یوه طرح هم لري، چې له انګېزې سره توپیر لري. کره کتونکی باید د یوه اثر د لیکلو د انګېزې او د مسئلې د طرحې ترمنځ توپیر وکړي:«هر لیکونکی چې کله یو اثر وړاندې کوي، د مسئلې طرح وړاندې کوی، د دې طرحې یا مسئلې په لوستو چې دا ثر په اصلی مسئلې ځان پوهولای شو چې د اثر اصلي مسئله څه ده او د کومې ستونزې د حل په لټه کې ده. دا کار د متن په مسائلو او بحثونو کې ډېر پام او فکر غواړي او په دې برخه کې باید ډېره پاملرنه وشي، ځکه هر تکړه لیکوال یوه مسئله لري چې پېژندنه او را څرګندول یې د کره کتونکې دنده ده.»(۲: ۸۱مخ)

پورته څرګندونو ته په پامنیوي، کره کتونکي د یوه اثر د مسئلې پر څرنګوالي بحث او د کره کتنې په ترڅ خبرې ورباندې کولای شي، تشریح او توضیح کولای یې شي او مهمه لا دا چې: «د هغو په اندونو او فکرونو کې باید له ظاهري استدلالونو ور هاخوا د اصلي مسئلې ژورو ته ځان و رسوي.» (۴: ۴۱مخ)

د یوه اثر د لیکنې پر مسئله خبرې کول د کره کتونکو دنده او مسؤولیت دی، کره کتونکي ته په کار ده چې د اثر پر منځپانګې تر څه ویلو مخکې د اثر د مسئلې پر طرح او څرنګوالي بحث وکړي، ځکه په دې برخه کې د کره کتونکي اصلي دنده د یوه اثر د اصلي او اساسي مسئلې ښودل دي چې د کره کتنې لپاره تر لاسه لاندې ده یا د کره کتنې لپاره ټاکل شوی ده، خو دا کار باید هغه وخت وشي چې د اثر لیکوال نه وي کړی، په اوسنیو څېړنو کې دغه ډول مسائل د اثر د لیکوال له لوري د یوه اثر د لیکلو په وخت کې مطرح کېږي، د اثر لیکوال د خپلې څېړنې د مسئلې طرح یا بیان په ګوته کوي او د کره کتونکي کار اسانه کړي، په لیکنه کې یې مخکې

له مخکې روښانه کړې وي چې په ليکنه کې يې دا او هغه مسايل څېړل شوي دي: «پرته له شکه چې د کره کتونکي يو مهم کار د ليکوال د اصلي مسئلې را څرګندول او پرې فکر کول دي؛ مګر د ليکوال د ليکنې پر اصلي مسئلې د پوهېدو په اړه هر ډول هڅه يا د متن په استناد له ليکنې څخه د ليکوال غرض ته اشاره کول، بيا هم د متن په شاوخوا کې هغه حرکت دی چې د لوستلو له انګېزې سره توپير لري. د ويلو انګېزه هغه وخت پيلېږی چې موږ متن او ليکنه يوه اړخ ته کړو او د تحليل پر ځای يې، ليکوال ته مخه کړو، د ليکوال او هغه څه تحليل کړو، چې د ده په ضمير کې دي. په همدې خاطر د ويلو انګېزه د هغو انګېزو او لاملونو د تر لاسه کولو لپاره د هڅې په معنا ده چې ليکونکی يا ژباړن يې د اثر ليکلو يا ژباړلو ته هڅولی دی، ليکونکي يا ژباړن منلي وي که نه؟ معمولاً دا انګېزې او لاملونه هم ناسم او شکمن معرفي کېږي او د دوی علمي هڅې تر پوښتنې لاندې راځي، د ويلو د انګېزې ښودل يواځې په کره کتونکو پورې اړه نه لري، بلکې په هماغه او تر هغه لا ډېر د ليکونکو له لوري د کره کتونکو پر ضد کارول کېږي. کله چې کره کتونکی د اثر د ليکلو د انګېزې جوتول را څرګندوي، د هغو ادعاوو د څېړلو پر ځای چې په ليکنه کې مطرح شوې دي، د نيمګړتياوو او ناسمو لاملونو پر پېژندنې لاس پورې کوي چې ليکونکی د دې اثر ليکلو ته هڅول دی او معمولاً دا پايله اخيستل کېږي چې ده د نفس د سپکاوي، د نورو د تحقير، کينې، تعصب او له پوهمنو کسانو سره د دښمنې لپاره يې د اثر پر ليکلو لاس پورې کړی دی. دلته نو کره کتونکی شخصي ، مسلکي، ملي او ديني حساسيتونو ته په پام سره چې په يوه اثر کې ليدل کېږي، د اثر پر ځای پر ليکوال يوه يا څو انګېزې ورتپي او د ليکنې د تحليل او شننې پر ځای په ليکوال پورې نښلي او نيوکې پرې کوي.» (۲: ۸۳مخ)

کله چې په کره کتنه کې د اثر په ليکوال پورې يو شمېر داسې مسايل وتړل شي، چې د ليکوال په خوا او خاطر کې هم نه وو، نو بې له شکه کره کتونکی د کره کتنې له آرونو ښکاره سرغړونه کوي او کله چې د کره کتنې اداب مراعات نه شي، کره کتنه خپل ارزښت له لاسه ورکوي. په کره کتنه کې تر ټولو مهم بحث د کره کتنې آداب او اخلاق دی چې بايد جدي پاملرنه ورته وشي، ځکه: «د ټولنيزو او کره کتنيزو اخلاقو په رعايت کولو سره تر کره کتنې لاندې شخص خپل هويت او شخصيت خوندي احساسوي او کره کتنې ته منفي غبرګون نه ښيي.» (۱۱: ۳۲مخ)

د کره کتنې د اخلاقو په جمله کې یوه دا خبره هم ده چې کره کتونکی د یوه متن د کره کولو حق لري او پر یوه اثر باندې کره کتنه کولای شي، نه پر لیکوال؛ د کره کتنې په وخت کې د لیکوال د انګېزې پلټل سم کار نه دی، ځکه د انګېزې خبره خپله په لیکوال پورې اړه لري، کره کتونکي نه شـي ویلای چې دا اثر یې په دې انګېزه یا د دې انګېزې له مخې لیکلی دی او دغه ډول خبرې هغه وخت پیلېږي چې کره کتونکی د یو اثر متن یوې ګوښې ته کېږدي او د متن د تحلیل، ښېګڼو او نمیګړتیاوو پر ځای د اثر د لیکوال د فکر او ضمیر په تحلیل لاس پورې کړي او له ځانه یو شمېر خبرې ورپورې وتړي چې دا اثر یې په دې انګېزه لیکلی دی، دا کار ځکه سم نه دی چې: « دا انګېزه او لاملونه معمولاً ناسم او شکمن معرفي کېږي او د دوی علمي هڅې تر پوښتنې لاندې راځي... کله چې کره کتونکی د اثر د لیکلو انګېزې معلوموي، د هغو ادعاوو د څېړلو پر ځای چې په لیکنه کې مطرح شوي دي، د نیمګړتیاوو او ناسمو لاملونو پر پېژندنې لاس پورې کوي چې لیکونکی د دې اثر لیکلو ته هڅول شوی دی او معمولاً دا پایله اخیستل کېږي چې ده د نفس د سپکاوي، د نورو د تحقیر، کینې، تعصب او له پوهمنو کسانو سره د دوښمنې لپاره یې د اثر پر لیکلو لاس پورې کړی دی. دلته نو کره کتونکی شخصـي ، مسلکي، ملي او دیني حساسیتونو ته په پام سره چې په یوه اثر کې لیدل کېږي، د اثر پر ځای یوه یا څو انګېزې پر لیکوال ورتپي او د لیکنې د تحلیل او شننې پر ځای په لیکوال پورې نښلي او نیوکې پرې کوي.»(۲: ۸۳مخ)

کله چې د کره کتنې په وخت کې د اثر د مسئلې د بیان پر ځای د اثر د لیکلو پر انګېزې بحث کېږي، نو دا په حقیقت کې کره کتونکی ځان ته ستونزې را ولاړوي، ځکه که لیکوال را ولاړ شي او ووایي چې دا لیکنه اصلاً د کره کتونکي له لوري په ښودل شوې انګېزې نه ده لیکل شوې، بلکې پر یوه بله انګېزه لیکل شوې، نو دغه ډول خبرې د ګټې پر ځای زیان رسوي او تر ټول ډېر زیان یې کره کتونکي ته رسېږي، ځکه د لیکونکي له لورې د کره کتونکي پر ضد کارول کېږي او کره کتنه بې ارزښته کوي.

## په لیکنه کې د انګېزې د څرګندولو ناسموالی

مخکې د لیکنې د مسئلې دبیان یا د لیکنې د طرحې خبره یاده شوه، کره کتونکی د یوه اثر د مسئلې د بیان پر څرنګوالي بحث کولای او روښانه کولای یې شي او لیکوال ته هم داسې سلا او مشوره ورکولای شي چې که دا موضوع په دې ډول طرح او څېړل شوې وای، ښه به وو، خو کله چې خبره د یوه اثر د کره کتنې په وخت

کې د انګېزې د ښودلو يا پلټنې شي، نو لومړی خو دا کار د کره کتنې له اخلاقو څخه ښکاره سر غړونه ده ، دويم دا چې د ليکوال کړی کار تر پوښتنې لاندې راولي، درېيم دا چې د کره کتونکی د اثر د ليکوال د انګېزې ښودلو په اړه هغه څه وايي چې د ليکوال له اصلي انګېزې سره اړخ نه لګوي او څلورم دا چې که د کره کتونکي له لوري دغه ډول فرضي انګېزې وړاندې کول به طبعاً له موضوع سره برابرې نه وي، ځکه که برابرې وای، نو طبيعي خبره ده چې کره کتونکي به ورباندې نيوکه نه کوله او نيوکې ته به يې اړتيا هم نه پېښېده. په ليکنه يا اثر کې د انګېزې پلټل تر ډېره پر ګومان ولاړه خبره ده او په اصطلاح «ګومان د ايمان زيان دی»، کله چې خبره ګومان ته ځي، نو په ښکاره ډول له ديني او مذهبي نصوصو سره ټکر را منځته کېږي، نو په کره کتنه کې دې هم له بد ګومانيو ځان وساتل شي او يوه بله خبره چې د کره کتونکي په اړه کېږي، دا ده چې کره کتونکی مخکې له دې چې د يوه متن په کره کولو لاس پورې، په کار ده چې لومړی پر هغه ځان ښه پوه کړي او بيا پرې کره کتنه وکړي، کله چې کره کتونکی په متن ښه پوه شي، بيا به د انګېزې څرګندولو ته اړتيا پيدا نه شي او که پر متن ځان پوه نه کړي، بيا نو کېدای شي د انګېزې په برخه کې په ليکوال پورې يو شمېر داسې خبرې او انګېزې وتړي چې په خوا او خاطر کې يې هم نه وي، په دغسې يوه حالت کې که ليکوال د کره کتونکي په ځواب کې ويلای شي، هغه څه چې په ما پسې تړل شوي، ټول دروغ دي، نو کېدای شي د کره کتونکي ټوله کره کتنه او را روانې چارې تر پوښتنې لاندې راشي او خلک د شک په سترګه ورته وګوري.

د انګېزې د ښودلو په برخه کې دا خبره وشوه چې اصلاً د کره کتنې له ارونو او چوکاټ څخه وتلی کار دی، د کره کتنې په ارونو کې داسې کړنه نشته، ځکه په دې کار سره کره کتونکی، د متن د کره والي پر ځای د ليکوال پر فکر او ضمير خبرې کوي، د متن د تحليل او شننې پر ځای يې د ليکنې د انګېزې په معلومولو پسې پښې را لوڅې کړې او غواړې چې پټې انګېزې يې را څرګندې کړي، خو دا په حقيقت کې هغه څه دي چې ځينې وخت حتی ليکوال هم نه پوهېږي چې ما دا ليکنه پر کومه انګېزه کړې ده:«که له ما وغوښتل شي چې د دې مطالبو د ليکلو انګېزه ورته ووايم، يا ما ولې په دې کار لاس پورې کړی دی، رښتيا هم ځواب نه لرم.»(۱: ۵ مخ)

پورته خبرو ته په کتو مهمه ده چې کره کتونکی د يوه ليکوال د انګېزې د را څرګندولو پر ځای، د متن شننه وکړي، د يوه متن ښېګڼې او نيمګړتياوې را وسپړي، له ليکوال

او لوستونکي سره يې شريکې کړي، خپل مسؤلت او ژمنه له غاړې واړوي.
د کره کتنې د منطق له مخې هم د يوه اثر د ليکلو د انګېزې پلټل سم کار نه دی، ځکه چې د هرې انګېزې له مخې چې وي، به، خو مهمه په کې دا ده چې په اثر کې د ليکوال له لوري مطرح شوې ادعاوې وڅېړل شي، چې مطرح شوې ادعا څومره او په څنګه څېړل شوې ده؟
د انګېزې د نه ښودو په برخه کې د فارسې ژبې ليکوال حسن اسلامي په خپل کتاب (اخلاق و آيين نقد) کې ليکي:«د انګېزې معلومولو له کار څخه د ډډې کولو او د هغې د نه ښودو په برخه کې د لبنان د لوی عالم محمد جواد مغنيه کتاب چې په لبنان کې ليکل شوی ښه نمونه کېدای شي. په ۱۹٦۸ ز کال کې د يوه مارکسيست صادق جلال¬العظم له لوري «نقد الفکر الديني» په نامه يو اثر خپور شو چې ليکونکي په کې پر ديني تفکر نيوکه کړې وه. دې کار په ديني ټولنو او محفلونو کې د هر چا پر ژبه شو او ليکوال يې د لبنان تر محکمې پورې ورساوه او ليکل شوی اثر ديني او مذهبي توپير ته د لمن وهلو له امله بند شو. په دغسې يو حالت کې (جواد مغينه) د دې کتاب د ليکلو انګېزې څرګندولو له مخې د کتاب ستاينه وکړه او ويې ليکل چې اسلامي ټولنه بايد د دغسې کتابونو د ليکلو لپاره علمي دلايل ولري او د علمي دلايلو له مخې يې کره کتنه وکړي، که نه، نو بيا کېدای شي چې اصلي بايلونکی اسلام وګڼل شي. جلال العظم د ښاغلي جواد مغينه دا نيک چلن او کړنه هېره نه کړه، په يوه بله ليکنه کې يې د نوموړي ډېره ستاينه وکړه. له صقرا ابوفخری سره يې په خبرو اترو کې هم د مغينه کړنې يادونه وکړه، د هغه ستاينه يې وکړه او په ښه نامه يې ياد کړ.» (۲: ۸٦ مخ)
له پورته خبرو په اساني پوهېږو چې کره کتونکی بايد د يوه ليکوال د ليکل شوي اثر له انګېزې سره د کار پر ځای د هغه د بيان پر څرنګوالي خبره وکړي او که يې ځواب ويلو يا وضاحت ته اړتيا پيښېږي، نو بايد مسئله روښانه کړي، نه دا چې د اثر له ليکلو څخه د ليکوال انګېزې په نښه شي.

## پايله

کره کتونکی بايد د يوه متن د کره کتنې په وخت کې د متن د ښېګڼو او نيمګړتياوو په اړه خبرې وکړي، نا څرګند ځايونه يې را څرګند کړي، ښېګڼې او نيمګړتياوې يې په ګوته کړي او د لوستونکو ارزونې ته يې وړاندې کړي. کره کتونکي د يوه متن د کره کولو په وخت کې حق لري چې د اثر د مسئلې او طرحې د بيان پر څرنګوالي بحث

وکړي، توضیح یې کړي او لیکوال ته یې د جوړونکې سلا او مشورې په ډول وړاندې کړي، د اثر لیکوال خپلې تېروتنې بیا سمې کړي او یا د اثر د مسئلې په بیان کې بدلون راولي. کره کتونکي ته په کار ده چې د کره کتنې په وخت کې د کره کتنې تول ارونه او اداب په پام کې ونیسي، د لیکوال شخصي حریم(ورشو) ته ننه نه وځي او د کره کتنې په وخت کې داسې مسائل بیان نه کړي چې د لیکوال شخصي حریم کې ګډل کېږي. د دې لیکنې په پای کې وړاندیزو کېږي چې کره کتونکی باید د کره کتنې په وخت کې له هر ډول افراط او تفریط څخه ځان وژغوري، د متن د منځپانګې له غوښتنې سره سمه کره کتنه وکړي او د لیکل شوي اثر د انګېزې په را برسېرونې پسې ونه ګرځي، ځکه دا کار د ګټې پر ځای زیانونه لري.

## مأخذونه


۱. آذرنگ، عبدالحسن. استادان و نااستادانم، جهان کتاب: تهران، ۱۳۹۰ش.

۲. اسلامي، سید حسن. آیین و اخلاق نقد، تهران: خانه کتاب، ۱۳۹۱ هـ ش.

۳. اسلامی، سید حسن. چگونه منتقدان را کله پاک کنیم؟ آینه پژوهش، شماره ۱۲۲، جوزا و سرطان، ۱۳۸۹ هـ ش.

٤. برلین، آیزایا. آزادی و خیانت به آزادی: شش دشمن آزادی بشر ، ترجمهٔ عزت الله فولادوند: تهران ۱۳۸۷

٥. حسن، عمید. فرهنگ عمید(جلد اول) مؤسسه انتشارات امیر کبیر: تهران، ۱۳۹۲هـ ش.

٦. دهخدا، علي اکبر. لغت نامه دهخدا، جلد سوم، چاپ مؤسسه لغت نامه دهخدا: تهران، ۱۳۷۷، ش.

۷. رشید، عبدالخالق. د پښتو هنري ادبیاتو د کره کتنې لنډه تاریخچه، د افغانستان ملي تحریک: کابل،۱۳۹۴ ل.

۸. روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه، دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه:پېښور، ۱۳۸۴ل.

۹. علیزی، فضل الرحمن. په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۱۴۰۱ ل.

۱۰. معین، محمد، فرهنگ معین، (جلد اول) آدنا، کتاب راه نو: تهران، ۱۳۸۱ش

۱۱. یون، محمد اسمعیل. کره کتنه، د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه: کابل، ۱۳۹۴ل.

پوهندوی فهیم بهیر

# ادبیات او ولسي تصور
# Literature and Public Perception

Assistant Prof. Fahim Bahir


## Abstract

Every society has a different idea about the recognition of literature. They have some other parts in common in the nature of literature, on this basis, the nature of literature is harmed, and based on these concepts, literature cannot develop properly, nor can it properly present its message or contribution to the society.

Based on these concepts, sometimes many problems arise in front of the writer and poet. They cannot produce such pure literature. The plural of literature is literature, and literature or literature is something that has artistic value, whether it is written form or writing. A society that has high literature is also high in terms of culture and civility. It represents the higher consciousness of the people. Literature reflects life. It has a special role in the creation of human life and development.

Poets and writers should clarify the role of literature in society. It needs to be revealed and the social circles that are placed on the surface of literature should be removed so that the real face and image of literature is clearly revealed to the society.



## لنډیز

د ادب د پېژندنې په اړه هره ټولنه جلا تصور لري. دوی د ادب په ماهیت کې ځینې نورې برخې ګډوي، په همدې اساس د ادب ماهیت ته زیان رسېږي او د همدې تصوراتو پر اساس ادب سمه وده نه شي کولای او نه هغه ټولنه کې خپل پیغام یا ونډه په سمه توګه

وړاندې کولای شي. د همدې تصوراتو پر اساس کله کله د اديب او شاعر پر وړاندې هم ګڼې ستونزې را ولاړېږي. دوی بيا هغسې خالص ادب نه شي پنځولای. ادبيات هغه څه دي چې هنري ارزښت ولري، هغه که ليکنۍ بڼه وي يا ګړنۍ. کومه ټولنه چې لوړ ادبيات ولري هغه ټولنه په فرهنګي او مدني لحاظ لوړه وي. د ولس او ټولنې د لوړ شعور استازيتوب کوي. ادب ژوند رانبيي. د انساني ژوند او پرمختګ په رامنځته کېدو کې ځانګړې ونډه لري.

شاعران او اديبان بايد د ادبياتو ونډه په ټولنه کې واضح کړي. اړتياوې را څرګندې کړي او هغه ټولنيز ګردونه چې د ادب پر هنداره پراته دي بايد لرې يې کړي، تر څو د ادب اصلي څېره او تصوير ټولنې ته روښانه څرګند شي. پخوا ګڼې پوهنې سره يو ځای مطالعه کېدې. د وخت په تېرېدو سره په کې بدلون رامنځته شو. د تخصصي کېدو په موخه سره جلا شوې. د هرې پوهنې يا هنر ونډه څرګنده شوه. هره برخه په خپل ماهيت کې خپل جوهر لري چې يو له بل سره توپير لري. ادب هم د ټولنې پيداوار دی او له ټولنې هم اغېزمن.

## سريزه

ادبيات په ځينو بهرنيو ټولنو کې هغو آثارو ته ويل کېدل چې ليکنۍ بڼه يې درلوده. زموږ د ټولنې په علمي کړيو کې ادب يا ادبيات هغه څه دي چې هنري ارزښت ولري که دا په ليکنۍ يا ګړنۍ بڼه وي.

ادبيات د ټولنې پيداوار دی، په ټولنه کې رامنځته کېږي او د يوې ټولنې انځور په خپل تصوير کې وړاندې کوي. هره ټوله بېلابېل کلتور لري. د يو شمېر پوهنو او پېښو په اړه ولسي وګړي جلا برداشتونه لري. زموږ په ټولنه کې هم ورته نظرې موجودې دي. دا نظريې کله کله د يوې پوهنې هغه اصلي بڼه په تت شکل معرفي کوي، په همدې اساس يې واضح تصوير خلکو ته نه څرګندېږي.

زموږ په ټولنه کې هم خلک د ادب له کلمې يا مفهوم څخه بېلابېل برداشتونه اخلي او د همدې برداشتونو په اساس يو شمېر نور ټولنيز يا ولسي کلتوري مسايل د ولسي وګړو پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي او ادب په رښتينې معنا نه پېژني. زموږ په ټولنه کې هم ګڼ ولسي وګړي د ادب يا ادبياتو له کلمې څخه نور پيغامونه اخلي. کله کله تر دې چې د دې پوهې لارويانو پر وړاندې ګڼې فردي او ټولنيزې ستونزې رامنځته کوي. په دې ليکنه کې يې يو شمېر برخې څېړل شوې دي. د دې ليکنې په محتوا کې پر يو شمېر مسايلو بحث شوی دی چې له ادب سره هيڅ تړاو نه لري او نه د ادبياتو په ايجاد کې ونډه لري؛ مګر عام ولسي وګړي يې ادب يا ادبيات بولي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د څېړنې اهمیت: په لومړیو وختونو کې ډېر علوم سره یو ځای لوستل کېدل، خو د وخت په تېرېدو سره بېلابېلې څانګې په کې رامنځته شوې تر څو هره برخه په تخصصي توګه ولوستل شي. زموږ ګڼ شمېر عام ولسی وګړي له ادبیاتو څخه ځانګړي برداشتونه لري چې یو شمېر مسایل د ادب په ایجاد او ماهیت کې هیڅ رول نه لري. د دې لیکنې اهمیت دا دی چې همدا مسایل یې تر څېړنې لاندې نیولې دي، ترڅو هغه برخې روښانه او وپېژندل شي چې عام وګړي یې ادبیات بولي.

## د څېړنې موخه

د څېړنې موخه دا ده چې د ادبیاتو په اړه ولسي تصور وپېژندل شي او د ټولنپوهنې له زاویې د ادب په اړه د ولس تصور وڅېړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

١. ادبي تصور څه ته وایي؟
٢. په ادبیاتو کې له ولسي تصوره موخه څه ده؟
٣. د ټولنپوهنې له لیده د ادبیاتو په اړه ولسي تصور کوم تصور دی؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

د ادبیاتو د پېژندنې په اړه په یو شمېر ټولنو کې بېلابېل تصورات موجود دي، چې د همغو تصوراتو په اساس دوی ادب تعریف یا تفسیروي. زموږ په ټولنه کې هم ډېری کسان د ادب د اصلي معنا پر ځای د ا کلمه پر نورو معناوو کاروي. په همدې اساس د دوی دا تصور ډېر ځل د ادب په اړه داسې غبرګونونه را پاروي، چې هم په ټولنه کې ادب ځپي او هم شاعر او لیکول. د ادب په اړه دا تصورات په وروسته پاتې ټولنو کې ډېر وي. په دې اساس کله کله ادب د موضوعي اړخ له مخې داسې پېژندل کېږي، چې ماهیت ته یې زیان رسېږي او کله په کې نورې داسې برخې را ګډې شي، چې د ادب اصلي بنه په کې ورکه شي؛ نو د همدې لپاره په لاندې برخو رڼا اچوو:

١ ـ **ادب**: ادب عربي کلمه ده چې ادبیات یې جمع ده. د ادب د کلمې په اړه ادبپوهانو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي چې د وخت په تېرېدو نوې پېژندنې

يې وړاندې شوې دي؛ خو مشترک ټکی په کې تخيل دی. هر کله چې په يوه ليکنه کې د تخيل ځپه پرته وي؛ نو ادبي ده.

اوس به د ادب او ادبياتو په اړه هغه پېژندنې وړاندې کړو چې په اړه يې پوهانو نظرونه ورکړي او د ادبياتو په څېړنيزو آثارو کې ورته هم اشاره شوې ده: ادب عربي کلمه ده، چې ځينو فرهنګو يې لغوي معنا داسې کړې ده: روزنه، ښه معاشرت، ښه کړه وړه، اخلاق او نمانځنه . په ځينو کې يې معنا پوهنه، ځيرکي، فرهنګ او هنر راغلې ده. «۱۱: ۵۰».

همدا ډول استاد روهي ادبيات داسې تعريف کړي دي: « ادب يو ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. د انځور(تصوير يا ايماژ) څخه مقصد دا دی چې ادب واقعيت کټ مټ او په مستقيمه توګه نه بيانوي؛ بلکې د ادبي اثر د ليکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندې کېږي .... د ادبي اثر (شعر، کيسه ، ډرامه، طنز او داسې نورو) تر ټولو عمده خاصيت د احساس انتقال دی که يو ادبي اثر احساس ونه لېږدوي او د اورېدونکي يا لوستونکي پر عواطفو اغېزه ونه کړي؛ نو هغه ادبي اثر نه دی.». «۳: ۹».

د ادب په اړه ځينې ادبپوهان په دې اند دي، چې ادب د انسان د روح روزونکی دی. د استاد روهي په اند هنري ادبيات زياتره د انسان د نفساني حالاتو، انګېرنو او ارمانونو څرګندوونکي دي او د عواطفو په تصفيه کولو سره پر انسان دومره اغېزه کوي، چې ساينس او فلسفه هومره اغېز نه شي درلوداى.«۳: ۱۱».

### ځينې مشهور بهرني ليکوال د ادب په اړه وايي:

**هيډسن** : «د ادب کار دا دی چې معلوماتو کې يې ترقي يا وده وي او کنه، خو چې په کوم ډول يوه موضوع پيش کوي، هغه دومره خونده وره وي چې د انساني جمالياتو تنده ماته کړي».

**ميتهو ارنلډ** : « ادب د انساني ژوند تفسير دی». «۱۰: ۱۵».

استاد حبيبي د برېتانيا انسکلوپيډيا نه دا تعريف راوړی: « د انسان د احساساتو، افکارو او جذباتو ترجماني... خو په داسې ډول وينا او خواږه بيان سره چې پر نورو اغېز وکړي او خوندوره وي». «۹: ۱۱».

د بديعي ادب په اړه د «ادبپوهنې څانګې» ليکوال ليکلي دي؛ « بديعي ادب د هنر يوه داسې نوعه ده، چې د خلکو په ذهن او روحياتي نړۍ باندې زښته ډېره اغېزه

کوي، د تفکر طرز او احساس یې روزي او د انساني اخلاقو او بشري عواطفو په سمون او هغو ته په سالم تشکل ورکولو کې لوی لاس لري»«۱۱: ۵۷».

په پورتنۍ پېژندنه کې د ادبپوهانو له خوا د احساس یا عواطفو موضوع رامخکې شوه او دا یې د ادب مهمه ځانګړنه بللې ده او د همدې ځانګړنې له مخې د ارواپوهنې او ادب اړیکې سره نښلول کېږي او د ادب په رامنځته کېدو کې د انسان د دروني احساساتو رول څرګندوي.

په ادب کې د هنري ارزښت موضوع مهمه ده، که په کومه وینا یا لیکنه کې هنري ارزښت وي ادب بلل کېږي. که هنري ارزښت ونه لري؛ نو ادبي نه ده. د هنري ارزښت د ځانګړنې په اړه لیکل شوي دي: « هنریت یا هنري ارزښت هغه ځانګړنه ده چې ادبي او نورې عامې عادي لیکنې سره بېلوي. د هنري یا ادبي نثر په لیکنه یا د نثري ادب په پنځونه کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایل د یو مطلب یا واقعیت د افادې لپاره بنسټيز ارزښت او اهمیت لري. لیکوال هغه څه چې لیدلي، اورېدلي، احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کې تېرېږي بیانوي؛ خو د تحقیقي او علمي لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته هیڅ اړتیا نه لري.».«۱۱: ۳۹».

په دې پېژندنه کې هم د هنري ارزښت په موضوع کې د انسان دروني احساسات رول لري او همدا برخه ده، چې د ادب په ایجاد کې پوره ونډه لري.

د ادب د موخې او غرض لپاره دوه نظریې «ادب د ادب لپاره او ادب د ژوند لپاره» ډېرې عامې دي. اوسنۍ ادبپوهنه دا نظریه «ادب د ادب لپاره» ردوي او د دویمې نظریې ملاتړ کوي. د دویمې نظرې پلویان په دې اند دي چې ادب د خوښۍ او ذوق تر څنګ د ژوند په اړه زموږ معلومات زیاتوي یعنې د ژوند په پېژندلو کې موږ سر مرسته کوي. د ادب د ښکلا تر څنګ د ټولنیزو او اخلاقي مسایلو د روزنې او اصلاح دنده هم تر سره کوي. د وګړو ذهنونه روښانه او د ښه ژوند کولو لارې چارې ور زده کوي.

د «ادب پوهنې ځانګې» لیکوال لیکي: «ادیب د ټولنې عادي وګړی نه دی، هغه څه چې په ورځني ژوند کې پېښېږي یا هغه ناخوالې ستونزې او ربړې چې ټولنه او ولس ور سره مخامخ دی د ادیب پر احساس او عاطفه ژوره اغېزه کوي. ادیب چې د خپلې پوهې او استعداد په ځواک له هغو څخه کومه منطقي نتیجه اخلي او بیا یې د خپل تخیلي قوت په ملتیا په مناسبو الفاظو د شعر یا هنري نثر په کوم کالب او فورم کې خلکو او ټولنې ته وړاندې کوي همدغه تخلیقي ادب دی. ادبیات په واقعیت کې د

ټولنيز ژوند په باب د اديب تجربې وي. په ادب کې د ټولنيز ژوند ډېر اړخونه په يوه او بله بڼه انځور شوي وي، چې د خلکو غوښتنو او پوښتنو ته ځواب ويلی شي. ادب د ژوند په باب زموږ تجربې زياتوي او موږ له واقعيتونو سره له نږدې اشنا کوي. په ادبياتو کې د پوهنې او ټولنيزې روزنې اصلاحي اړخونه يو له بله نه بېلېدونکي اړيکې لري. يوازې د خوند اخيستنې او ساعت تېرۍ لپاره د ادبياتو تخليق رامنځته کول او مطالعه کول يو بې ځايه او بې عاطفي کار دی». «۱۱: ٦٧».

**۲ ـ اخلاق :** زموږ په ټولنه کې اکثره وګړي له ادب څخه د اخلاقو معنا اخلي. اخلاق هم د ژوند لپاره مهمه الهي تحفه ده. اخلاق هغه انساني جوهر دی، چې د خلکو په منځ کې د مينې او خوښۍ اړيکې ټينګوي. د اخلاقو په اساس هم فرد په ټولنه کې ستر شخصيت درلودای شي او هم ټولنه له هر ډول بدبختيو څخه ژغورل کېدای شي. له حضرت محمد «ص» څخه پوښتنه وشوه، چې کوم عمل له نېکو اعمالو څخه دی؟ مبارک وفرمايل: نېک خوی. له ابوذر (رض) څخه روايت دی: له حضرت محمد «ص» څخه مې اورېدلي چې ويل به يې لومړی اعمال چې د انسان د ميزان په تله کې اېښودل کېږې او حساب ورسره کېږي هغه سخاوت او نېک اخلاق دی. «۱۰ : ۱۸».

په ټولنه کې د مؤدب انسان د کړو وړو توصيف کېږي. زما په اند دلته مؤدب کلمه د هغه کس لپاره استعمالېږي، چې نېک اخلاق ولري. د نېک اخلاقو انسان وينا، فردي او ټولنيز چلند له نورو وګړو سره لوی توپير لري او د همدې ځانګړنو په اساس د ټولنې د نورو وګړو پاملرنه جلبوي. په ټوله کې شاعران او ليکوال اکثره هغه وګړي دي، چې تل يې د ټولنې د هوساينې او انساني ارزښتونو لپاره د تخيل په نړۍ کې يو څه راټول کړي او هغه پيغام يې خپلو وګړو ته وړاندې کړی دی؛ نو کېدای شې په همدې اساس ځينې وګړي د اخلاقو او ادب اړيکې له همدې ځايه تړي. له پخوا راهيسې ګڼې پوهنې او پوهنيز مسايل سره ګډې اړيکې لري؛ خو يو څه نه ؛ بلکې سره بېل دي. هر اديب (شاعر او ليکوال) ښه اخلاق درلودای نه شي او هر ښه اخلاق لرونکی انسان اديب نه شي کېدای.

د اديب وينا او ليکنه د هنريت په اساس اغېزناکه وي، پر مخاطب اغېزه کوي، د ښو اخلاقو لرونکي انسان وينا او ليکنه هم مؤدبه وي، د مقابل لوري احساساتو ته درنښت

لري نو په دې اساس دا وينا هم په خلکو ښه لګېږي؛ د ښو اخلاقو خاوند ته په ټولنه کې  د لوړ ادب لرونکی انسان خطاب کېږي.

شاعران يا د تخيلي آثارو پنځګر د ټولنې د بقا او انساني کرامت د درنښت لپاره ډېر څه په خپلو پنځونو کې وړاندې کوي. دوی د ټولنې هغه وګړي دي، چې د نورو په درد ژاړي او د نورو غم خپل بولي:

کاش!

کـــــــاش کـــــــــه زه اور وای

ځان مې شيـــــــــــــــــــــندلو

په نغـــــــــــــــــــرو کې

د وږو خــــــــــــــــــلکو

د يخـــــــــــــــــو خونو

«۱ : ۸۸».

شاعران او ليکوال د تاريخ په اوږدو کې هغه کسان دي، چې د ټولنې د بدبختيو او له هغو ستونزو سره چې خلک لاس او ګرېوان دي، د هغو په اړه يې غږ پورته کړی. خلک يې راويښ کړي، په ځينو ټولنو کې پاڅونونه او لوی بدلونونه د همدوی  د پنځونو په اساس رامنځته شوي دي او په پايله کې د هوساينې هغه لمر را ښکاره شوی چې ولس په کې د ارامۍ نفس اخيستی دی.

شاعر استاد الفت د خپلې ګناه په اړه وايي:

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلي دي

نه مې چاته ورک شه يا ګم شو کله ويلي دي

نوره ګناه نه لرم په دې ګناه مې مه نيسه

زړه کې مې چې پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي

وخت د اعتراف دی ګناه خپله درته وايمه

نه يمه منکر په مظلومانو مې ژړلي دي

دا ګناه د سترګو که د زړه ده نه پوهېږمه

بد مې چې ليدلي دي خدايږو بد مې هم ګڼلي دي

« ۳ :۹٦».

که په لنډه توګه ووايو د شاعر او د ليکوال پنځونې د خپلې ټولنې په موضوعاتو وي، هلته ظلم، ستم، ناوړه دودونه او ګڼې بدبختۍ غندي او د ټولنې وګړي يووالي، مينې ته را هڅوي او په دوی کې داسې انګېزه را پاروي، چې د ګډو موخو يا د ټولنيزو ګټو پايله له ځان سره ولري. په دې اساس ځينې کسان له ادب څخه د اخلاقو معنا اخلي يا اخلاق د ادب په مسير يا ادب د اخلاقو په مسير راپېژني.

**فصاحت او بلاغت:** يو شمېر کسان د وينا پر مهال روانه او خوږه ژبه لري، چې د غونډې پر ګډونوالو يا اورېدونکو باندې يې خبرې خوږې او په زړه پورې لګېږي. يو شمېر ديني عالمان، استادان، ژورنالستان او ځينې قومي مشران او ځينې نور کسان حتی چې ليک او لوست يې هم زده نه وي، په زړه پورې وينا يا د حال د غوښتنو مطابق ښه وينا کوي. ځينې کسان بيا د دوی په اړه وايي چې لوړ ادبيات لري.

فصاحت د معاني علم پورې اړه لري. لغوی معنا يې څرګندوالي دی او په اصطلاح کې هره کلمه يا وينا چې مطلب او معنا يې ښکاره وي، فصيحه کلمه يا وينا ورته ويل کېږي . د بلاغت لغوی معنا اخر، انتها او اخري پوړ ته رسېدل دي او په ادبي اصطلاح کې د حال له غوښتنې سره د وينا او کلام سمون ته بلاغت وايي«۱۱:۳۰۱ ».

يعنې بلاغت هغه وينا ده چې د ځای او موقع د مخاطب او ويونکي له حال سره برابره وي، همدا بليغه وينا ګڼل کېږي. ځينې فکر کوي چې فصاحت او بلاغت سره يو دي مګر توپير لري يعنې: فصاحت د وينا صنعت او ستاينه ده او بلاغت يې د معنا. «۱۱: ۳۰۲».

استاد ناګار د فصاحت په اړه ليکي: « فصاحت د بيان او خبرو د اظهار، اغېزمنۍ او راښکون يوه وسيله ده. د فصاحت نيمګړتيا په يوه مهذبه ټولنه کې عيب شمېرل کېږي؛ ځکه له دې پرته نه شو کولای خپل مخاطب ځان ته متوجه او ذوق يې لوړو افکارو ته ورسوو، چې د ټولنې او انسانيت لپاره د خير ګامونه اوچت کړي. فصاحت تر ټولو ړومبی د خپل اورېدونکي احساسات او د ژوند ولولې په څپو راولي، زړه او روح ته يې تازګي بخښي؛ نو کله چې په کې د ژوند بهير پياوړی شي، د انسانيت او ټولنې درنو مسؤليتونو ته اوږه ورکولای شي، دا د يو شاعر او خطيب دنده ده». «۸: ۴۴». نو زموږ د ټولنې اکثره خلک په دې باور دي چې د چا خبرې اغېزمنې يا روانې او خوږې وي د لوړو ادبياتو درلودونکی دی. د ځينو سياسي ګوندونو مشران او يو شمېر چارواکي او قومي مشران په دې برخه کې دومره زيات مهارت لري، چې د خپلو يناوو

له امله ګڼ شمېر پلویان پیدا کوي او بیا له هغوی څخه د ځان یا د خپلې موخې په توګه کار اخلي.
نو هغه کسان چې بلیغه او فصیحه ژبه لري، د وینا پر مهال خوږه او روانه ژبه کاروي. د دوی ژبه حتمي د ولسي ادب رنګ لري. د دوی په خبرو کې د ولسي ادب منطق پروت دی. کله کله دوی د خپلو خبرو د اغېز په هدف ځینې وړې کیسې او خاطرې شریکوي یا داسې مثالونه راوړي، چې هم د دوی پېغام ګډونوالو ته وړاندې شي او هم پرې اغېز وکړي؛ نو په داسې وینا کې د ادب رنګ نغښتی دی او ادبي ګڼل کېږي.
په متن او وینا کې د سختو لغاتو کارونه: ځینې لیکوال په خپلو لیکنو کې او ځینې ویناوال په خپلو خبرو کې داسې لغات کاروي چې لوستونکی او اورېدونکی یې پر معنا نه پوهېږي؛ خو ځینې بیا وایي چې د دوی ادبیات ډېر لوړ دي. د ځینو کسانو په اند د کوم لیکوال یا ویناوال چې لوړ ادبیات ولري د هغوی پر معنا څوک نه پوهېږي. په متن او وینا کې د سختو کلمو راوړل ستر عیب دی. موږ چې څه لیکو یا څه وایو هغه د یوې اړتیا له مخې وي او خپل لوستونکي یا مخاطبین لرو؛ نو د داسې لیکنو لیکوال او ویناوالو ته ادیب نه ویل کېږي او نه یې لیکنې او ویناوې ادبي رنګ لري.
کله چې په متن او خبرو کې سخت کلمات وکارول شي، متن او وینا پر لوی لاس سختوي لوستونکی یې سم لوستلای نه شي او پر معنا یې هم نه پوهېږي، له بلې خوا مخاطب باندې هم هغه وینا تاثیر نه کوي، چې ژبه یې سخته وي؛ بلکې کرکه ترې کوي. اوږدې جملې او سختې کلمې د متن پر معنا سیوری غورځوي. مخاطب او لوستونکی یې نه شي لیدلای. موږ د پښتو ژبې په ادبي دورو کې داسې نثرونه لرو چې ژبه یې سخته او اوږدې جملې لري. سره له دې چې د جملې په پای کې د سجعې کلمې د اغېز لپاره کارول شوې دي؛ مګر بیا هم اوسمهال په ادبیاتو کې نه شمېرل کېږي.
موږ په لرغونې ادبي دوره کې هم نثر لیکونکي لرو. په منځنۍ دوره کې هم ، خو اوسمهال په ادبي تاریخ کې هغه نثرونه راوړل کېږي، چې هنري نثر وي نه ساده نثر. موږ په خپله ژبه کې د نظم د تاریخ ترڅنګ باید د نثر تاریخ هم ولرو. د هرې دورې پر مهال چې ساده نثرونه لیکل شوي یا هنري هغه کېدای شي، د نثر په تاریخ کې وڅېړل شي. دا هم د خیرالبیان یوه نمونه چې د مسجع نثر په نوم هم یادېږي: « ګوره کړی مې دی خیرالبیان، په څلور ژبې، موافق له قرآن. پکې دی بیان د رښتیا د دروغ د حلال د حرام او بیا دی کړونکړ د هر مقام په تا دې وي اعلام». سره له دې چې په

متن کې د اوږدو جملو او سختو کلماتو کارونه یو عیب دی، مګر د ځینو په اند دا روش د لوړ ادب استازیتوب کوي.

خیالبافي او د وخت ضیاع: د ارسطو له وخته شعر هغه کلام ته ویل کېږي چې مخیل وي. د تخیل په اساس شاعر خپل شعر پنځوي. د نوموړي شعر انځورونه، بدیعي صنعتونه او په ګڼ شمېر هنري اړخونو کې د تخیل ځواک مهم دی. نو کله چې شاعر او لیکوال په خپل شعر او لیکنه کې له دې جوهر څخه کار اخلي یا هنري پنځونه کوي، دټولنې  د ځینو کسانو په اند تشه خیالبافي ده او له حقیقي ژوند سره هیڅ تړاو نه لري او  د داسې آثارو لوستل د وخت ستره ضایع ده.؛ خو ادبیات د اجتماعي علومو هغه څانګه ده چې ټولنیز حقایق او واقعیتونه د ژبې په وسیله د ذهني تصویرونو د لارې داسې وړاندې کوي چې په لوستونکي او مخاطب اغېزه وکړي.

ارسطو وایي: « په ادب کې منطقي رښتیا خو نه وي ، ولې ادبي صداقت یا ادبي رښتیا په کې موجوده وي»« ۱۱: ۵۲».

ادیب او شاعر د خپلې هنري ژبې په اساس په انسانانو کې انګېزه رامنځته کوي، داسې ژبه کاروي چې د هغوی پر احساساتو او روان اغېزه وکړي او هغه هدف چې شاعر او لیکوال لري هغه ورته په خوږه ژبه ورسوي. دا چې ولې ادبیات لولو؟ په اړه یې استاد ښکلي لیکلي دي: «ادبیات له موږ سره د ژوند په پېژندلو کې مرسته کوي... کیسې، ناولونه او شاعري راته هغه تجربې بیانوي، چې موږ ور سره نه یو مخ شوي او که ور سره مخ شو؛ نو څنګه چلن ور سره وکړو؟

موږ یوازې په فزیکي نړۍ کې ژوند نه کوو، بلکې تر نیم زیات ژوند مو د خیال په دنیا کې تېرېږي. لیکوال یا شاعر د خپل تخیل په مرسته ځان ته د شعر یا کیسې شیش محل جوړوي؛ خو دا یوازې د لیکوال او شاعر  نه وي؛ بلکې لوستونکي ته هم اجازه ورکوي چې په کې و اوسي.

... تخیل راته هغه دنیا جوړوي چې موږ یې غواړو. مطلب دا چې په هنر کې د بشري خواهشونو زبردسته ننداره کولی شو او که د تاریخ یا ارواپوهنې په نامه کوم علمي کتاب لیکو، نو باید ادبیات ولولو چې انسان څه غواړي؟ د ارسطو د خبرې یوه ضمني معنا دا هم ده چې ادب موږ د ژوند پر بلاوو باندې د برلاسي لپاره هم لولو. موږ غواړو چې له خطرو پرته خونړۍ تجربې وکړو . موږ غواړو چې په خپلو وېرو غالب شو او د

دې غلبې لپاره د مرگ د خطر له امله عملي هڅه نه شو کولی؛ نو ادب داسې یوه ارامه لار ده چې موږ ته د زړورتیا احساس راکوي. «۵: ٦».
همدا ډول استاد غضنفر د ډاکتر اکبر د یو بیت «ستوري لاندې نه راځي – بر پسې خیبر یوسه» په اړه یوه اوږده لیکنه کړې، یو ځای د بیت پیغام ته اشاره کوي: «... په دې ډول وینو چې ستوري او خیبر ضمني معناوې لري، داسې ضمني معناوې چې د شعر د اصلي مطلب له رسولو سره مرسته کوي. د اسمان ستوري لاندې نه راځي، لوی شخصیتونه نه راښېښېږي، بختور کسان نه غواړي چې د کمبختو ځای ته راشي. موږ باید په خپلو تېرو برياوو بسنه و نه کړو، د بخت او بري په لور مزل راته په کار دی. موږ په هغه ژبه کې چې معلومات ور باندې لېږدوو (لکه د خبرو اترو یا علم ژبه) د کلمې له مشهورې اصلي معنا کار اخلو خو په شعر کې د کلمې په مشهورې او اصلي معنا سربېره د هغې موسیقي ته پام ساتو، له ضمني معناوو یې استفاده کوو. «٦: ۴۴۸».
په پښتو ادب کې معاصره دوره د شلمې میلادې پېړۍ په دویمه لسیزه کې پیل شوه. هغه مهال شاعرانو په شعوري توگه هڅه کوله، چې خلک راویښ او بیداره کړي. د عصري ژوند لپاره یې گڼ شمېر پیغامونه په خپلو شعرونو کې وړاندې کړل تر څو موږ هم د یو نوي بدلون سره مخامخ شو او ټولنه مو پرمختگ وکړي.
په دې اړه د روښانتیا پړاو د ادبیاتو پر ځانگړنو استاد روهي لیکي: « د شلمې پېړۍ په پیل کې د افغانستان په ادبیاتو کې موډرنیزیشن په پراخه اندازه منعکس شوی دی. د هغه وخت ادبي نوښتگرو په شعوري توگه هڅه کوله، چې له ادبیاتو څخه د ملي هدفونو د تحقق د پاره د یوې اغېزناکې وسیلې به توگه کار واخلي. د دې وخت د ادبیاتو سوژه، هېواد پالنه خپلواکي غوښتنه، د اختناق او فساد رټنه، د فاناتېزم(تعصب) او ارتجاع غندنه، د مثبتو علمو او ټکنالوجۍ او نوي فرهنگ خپرونه، د ملي وحدت ټینگونه، د عصري ژوند له غوښتنو سره د دودونو او انگېرنو سمونه، د مطلقیت او سټاټسکو(اوسني حالت ساتنې) پر ضد د خلکو پارونه، د انگریزي استعمار په مقابل کې د ختیځ په تېره د مسلمانو ملتونو پاڅونونه او داسې نور ملي، اسلامي او بشري ارزښتونه او ارمانونه دي«۳ : ۵٦ـ ۵۷».
نو د ادبي آثارو لوستل د ژوند د پېښو او شرایطو په اړه موږ ته درسونه راکوي، بریا ته مو رسوي او تر څنگ یې زموږ ادبي تنده داسې خړوبه کېږي چې له لوستلو یې خوند اخلو او د نفس یوه تازگي هم احساسولی شو.

عام خلک نظم ته شعر وايي: شعر ويل او ليکوالي د هر چا کار نه دی؛ بلکې په دې برخه کې يو شمېر کسان دا استعداد، او وړتيا لري. په ټولنه کې شاعر او ليکوال ستر شخصيت لري، په درنه سترګه ورته کتل کېږي. کله کله داسې هم وي چې اصلي شاعر او شعر پر ځای خلک ډېری مهال ناظم او نظم خوښوي. هغه څوک چې د شعر په ماهيت پوهېږي، هغوی شعر او شاعر ته په درنه سترګه ګوري. په يو شمېر ټولنو کې هم د اصلي هنر پر ځای کله ـ کله نور اړخونه پالل کېږي.

يو شمېر تکړه ليکوال او شاعران شته، خو د يو شمېر عواملو په اساس يې خلک شعر او هنر ته هغسې ارزښت نه ورکوي. اوسمهال هم د هنر پر ځای ځينې نور اړخونه پالل کېږي. همدا اوسمهال هغه شاعران او ليکوال ډېر پالل کېږي، چې هغوی لوړ منصب، ښه اقتصاد... او قومي ملاتړ ولري.

اوسمهال هم په يو شمېر ټولنو کې ادبي جايزې هغه چا ته ورکول کېږي چې لوړ موقف، اقتصادي.... او قومي ملاتړ ولري. د هغوی په وياړ ادبي غونډې جوړېږي، د هغوی آثار چاپېږي، د ستاينو په اړه ليکنې او مقالې خپرېږي حتی په ښوونيز نظام او ګڼو مسايلو کې د هغوی له شعرونو او نورو ليکنو څخه ګټه اخيستل کېږي. کېدای شي دلته ځينې نور ليکوال او شاعران وي چې آثار يا پنځونې يې د هغوی پر پرتله په هنري يا علمي لحاظ لوړې وي.

په ځينو ټولنو کې د شاعر د شعر د پنځونې پر ځای هغو نظمونو ته زيات ارزښت ورکول کېږي چې د خلکو احساسات راپاروي. ولسي خلک د شعر په نسبت نظم ډېر خوښوي. په مشاعرو او ادبي غونډو کې اکثريت خلک نظم خوښوي ځکه د شعر په معنا څوک نه پوهېږي.

## پايله

لوړ ادبيات د يوې متمدنې ټولنې استازيتوب کوي. ادبيات د ټولنې په پرمختګ کې ونډه لري. د ادب يا ادبياتو ژبه هنري وي ، هنري ژبه اغېز لري او پر لوستونکي يا اورېدونکي تاثير کوي، هغه سمې لارې ته رهنمايي کوي، د ژوند د بريالیتوب رازونه ور زده کوي، په پايله کې فرد اصلاح او سالمه ټولنه رامنځته کېږي.

زموږ په ټولنه کې ادبيات هغسې نه پالل کېږي، څنګه چې اړتيا ورته ليدل کېږي. لا هم د ادبياتو پر ماهيت عام ولسي نظر خپور دی چې کله کله د ادبياتو پر ماهيت د نورو پوهنو او برخو سيوري مهم ګڼل کېږي. عام ولسي وګړي د ښه شعر پر ځای

نظم ته زیاته ترجیح ورکوي. په فرهنګي او ادبي غونډو کې هم د ادبیاتو پنځګر پر ځای د ناظم تله درنه ګڼل کېږي.

عام ولسي نظرونه کله کله د دې باعث کېږي، چې اصلي هنر همداسې په پردو کې پټ پاتې شي. ځکه دا برخه لا سمه پېژندل شوې نه ده او د دې هنر په ایجاد او ماهیت کې د نورو برخو اجزاوو ته خلک ارزښت ورکوي. د دې څېړنې په جریان کې څرګندېږي چې له (٪۸۰) زیات عام ولسي وګړي د ادبیاتو د مفهوم په اړه جلا تصور لري . اوسمهال د ټولنیزو مسایلو په اساس حتی زموږ یو شمېر فرهنګي کړۍ هم هغه لوړ ادیب ګڼي او آثار یې ستایي چې لوړ منصب یا اقتصادي ملاتړ ولري.

## مأخذونه


۱ - اکبر، اکبر.ګوتو خاپي، شینواري پرینټینګ پریس: پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

۲ – درانی، مومنه. اخلاق د امام غزالي له نظره: «ژباړه»، هاشمي خپروندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ل کال.

۳- روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ «معاصره دوره»، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.

۴ زیور، زیور الدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره، ساپی د څېړنو او خپرونو مرکز، پېښور، ۱۳۸٦ل کال.

۵ ـ ښکلی، اجمل. ادبستان،کلاسیک خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹٦ل کال.

٦ ـ غضنفر، اسدالله. جادوګر هنر، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳ل.

۷ - مرهون، محمود. د پښتو شعر معنوي توکي، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۴ل کال.

۸ ـ ناګار، فضل ولي. معاني، میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۸ل کال.

۹ - وزیري، محمد اقبال. د ادبیاتو تیوري، د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور، ۱۳۹۱ل کال.

۱۰ - هاشمي، سید محی الدین. ادبي تیوري، میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ل کال.

۱۱ـ هاشمي، سید محی الدین. د ادبپوهنې څانګې، میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ل کال.

پوهنمل رحمت الله حکیمي

# د لفظونو په ښکلا کې د حیا ونډه

# The part of modesty in the beauty of words

Assistant Prof. Rahmatullah hakimi


## Abstract

In addition to its high Islamic attributes, modesty has an effective role in the beauty of words. The linguistic side of art (literature) is the language of unusual expression, Modesty has a great role in creating unusual expression. From the linguistic point of view, modesty is the change and inflection that saves the speaker from rude words and direct expression. The innate and natural feature of literature is that it presents words in a figurative and humorous way. In general, it can be said that modesty is the beauty of literature, which has an important role in the art and beauty of words and gives natural beauty to literature.



## لنډیز

حیا د خپلو عالي اوصافو او اسلامي ارزښت ورها خوا د لفظونو او کلمو په ښکلاییز کیف کې اغېزناک رول لري. د هنر ژبنی اړخ ( ادبیات ) د غیر عادي بیان ژبه ده او د غیر عادي بیان په رامنځته کولو کې حیا عالي ونډه ولري. له ژبني اړخه حیا هغه

تغییر او انکسار  دی، چې متکلم له بربنډو الفاظو او مستقیم بیان څخه ژغوري. د ادبیاتو ذاتي ، طبیعي او فطري ځانګړنه همدا ده ، چې لفظونه  په  مجازي او  نزاکت امېز  ډول وړاندې کوي. په ټوله کې ویلای شو، چې حیا پر خپلو ټولنیزو عالي اوصافو سربېره د ادبیاتو جمال  ګڼل کېږي، چې د لفظونو په هنریت او ښکلاییز والي کې رغنده رول لري او ادبیاتو ته طبیعي ښکلا ورکوي.

## سریزه

ادبیات په ټوله کې د ژوند مهذبه ژباړه ده چې په اغېزناکو کلمو او الفاظو سره تر سره کېږي. په ادبیاتو کې د تأثر زړی پټ دی چې ویل،  په څنګه ویلو؟  لیکل،  په څنګه لیکلو؟ بدلوي. په دې برخه کې ځینې طبیعي نورمونه دي چې دا چاره  تر سره کوي، یو له هغې څخه  په حیاناک ډول د لفظونو د ارایې طرز دی، چې په اوریدونکي ژور  اغېز ښندي او الفاظو ته ښکلاییز کیف ورکوي. څومره چې الفاظ په حیاناکو او نزاکت امېزو ظرفونو کې وړاندې شي،  دومره یې جذابیت زیات وي . حیا  عربي صفت دی، په ټوله کې انسان  په ځانګړي ډول د انسان د تکلم برخه ورسره ښکلې کېږي . دغه ښکلاییز کیف زېږوونکی نورم  د  ژبې ، ادب  او  فرهنګ  په محراق کې واقع دی، چې پښتني فرهنګ، ادبیاتو او شاعرۍ کې ورته ښه بستر جوړ شوی دی. همدې مسایلو ته په پام غواړم د لفظونو په ښکلاییز والي کې د حیا  په نقش خبرې وکړم.

## د څېړنې اهمیت  او مبرمیت

له مصنوعي زېوراتو ورها خوا حیا  لفظونو ته  داسې ذاتي او طبیعي ښکلا ورکوي، چې په  مخاطب ژور اغېز ښندي. د ژبې او ادب  محصلان  په نفسي او درسي ډول ښکلي کوي. له بله اړخه  الفاظو او کلمو ته  د اسلامي  او ټولنیزو ارزښتونو روح ورپو کوي. عام خلک ادبیات یوازې د خپل نفس د خوښۍ ذریعه ګڼي او چندان ارزښت نه ورکوي، علت یې د ادبیاتو له اصلي روح او رسالت څخه د خلکو ناخبري ده . له بله اړخه بربنډو ، بازاري الفاظو  او شاعرۍ د ادبیاتو په مهذبه لمن تور داغ جوړ کړی . همدې ستونزې ته په پام مې وغوښتل چې  د الفاظو  اصلي رونق  او ښکلا  په حیا کې چې د انسان  په ځانګړي ډول د مسلمان عالي ځانګړنه ده، خلکو ته په ګوته کړم. په همدې مسایلو پوهېدنه د څېړنې اهمیت او مبرمیت ټاکي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې په وسیله باید د بربنډو او سپېڅلو ښکلا زېږوونکو الفاظو تر منځ د بېلتون کرښې معلومې شي. هر ډول ویلو او لیکلو ته د ادبیاتو په کور کې ځای ور نه کړل شي . په ادبیاتو کې د لفظونو اصلي رسالت او د هغې د ادا طرز په گوته شي. پر دې سربېره د حیا په عالي صفت او هینداره کې پښتو ادبیات وکتل شي ، تر څو د لفظونو له ذاتي ښکلاییزو نورمونو څخه لوستونکي خبر شي او په خپلو ویلو او لیکلو کې ترې گټه واخلي.

## د څېړنې پوښتنې

١. حیاڅه ده؟

٢. حیا د لفظونو په ښکلاییزوالي کې څه نقش لري؟

٣. په لوستونکو او اورېدونکو یې اغېز څه دی؟

## د څېړنې میتود

دغه څېړنه په کتابتوني ډول، تحلیلي او تشریحي میتود سره ترسره شوې ده.

## د مقالې متن

حیا په ټوله کې د ژوند، په ځانگړې ډول د ادبیاتو ښکلا ده. په کار ده چې په ویلو او لیکلو کې له ډېرې حیا څخه کار واخیستل شي. څومره چې الفاظ د حیا او نزاکت په تومنه کې وړاندې شي، هغومره ښکلا پیداکوي. هنر له ژبنې اړخه د تأثر او اغېز نوم دی، چې الفاظو او کلمو ته د غیرعادي والي روح ورکوي. څومره چې الفاظ او کلمې مستورې وي، هومره جذابیت او ښکلاییز کیف پیداکوي. بربنډ او بازاري الفاظ د ادبیاتو په کور کې ځای نه لري، ادبیت او هنریت ته یې تاوان رسوي. حیا عربي صفت دی، له لغوي اړخه تغییر او انکسار ته وایي، چې د پردې، عزت، نزاکت، پټولو او نفس مهارولو په معنا ده. اصطلاحاً د ملامتیا له وېرې د یوه شي پرېښوولو ته حیا وایي. د ژوند اغېزناکه رنگیني په ښکلا کې نغښتې. انساني مزاج عقلاً او نقلاً له بربنډوالي څخه بد وړي، د حدیث شریف متن دی: « عن ابي سعیدالخدري (رض) قال کانَ رسولُ الله (صلی الله علیه وسلم) اَشدحیا مِن العِذار فی خدرها فاذا رأی شیءً یَکرهه عَرفناه فی وَجهه.» . ژباړه : د حضرت ابوسعید الخدري (رض) څخه

روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به په پرده کې له ناستې پېغلې څخه ډېر حیا دار و، کله به چې رسول الله (ص) ناخوښ شی ولید، نو د هغه اثر به د ده مبارک په مخ کې معلومېده. (د البخاري روایت) (۴: ۴٦ مخ)

له ادبي اړخه کوم الفاظ چې په نزاکت امېز ډول په پردوکې وویل شي، ډېر خوند لري. کوم څه چې واضح نه وي د موندونکي ذهني تجسس یې په نزاکت او مستورو لارو پیدا کوي، چې دا بیا بېل کیف لري، لکه د خپلې ورکې موندنه. په ادبیاتو کې د مجاز، استعارې، ایهام، کنایې او سېمبول ښکلا زېږوونکو نورمونو علت همدا دی، چې هر څه په کې له نزاکت امېزو، عاطفي او تلوسه زېږوونکو پردو وروسته پېژندل کېږي.

د ادبیاتو حقیقي ماهیت د ژوند اغېزناکه او مهذبه ژباړه ده. د اغېز اصلي زړی په حیا کې پټ دی، چې ادبیاتو ته د ښکلاییز کیف روح ورپو کوي. حمزه بابا وایي :

راغلې ناڅاپه ورخطا دې کړمه
ځکه مېلمه غوندې خبرې کوم
(٦ : ۱۸۸ مخ)

پورته بیت ته طبیعي ښکلا همدې حیا ورکړې او د مصنوعي زېوراتو له بار څخه یې ساتلی دی. که فکر وکړو، مېلمه ډېر ارام، دروند او حیاناک غړېږي. دلته خپل محبوب ته ویل شوي چې ستا ناڅاپي راتګ پر ما د مېلمه غوندې حالت راوسته، بل ځای وایي:

غـــل د مـحـبـت غلـطېــدای نـه شي
څوک چې په محفل کې چاته نه ګوري

لوړه عادي خبره ده، دا چې ولې په لوستونکي خوږه لګېږي؟ علت یې دا دی چې شاعر د (چاته نه کتلو) حالت یې په حیا او پښتنه مینه سینګار کړی. هماغه د مشهور ژبپوه چامسکي خبره د سړي سترګو ته درېږي، چې وایي : « د ژبې تر شا پر موجود فرهنګ باید ټینګار وشي.» دلته د حمزه بابا کلام ته پښتني فرهنګ، ثقافت، دود او حیا ځانګړې ښکلا ورکړې. په پښتني چاپېریال کې له خپل محبوب سره غوره تعامل همداسې وي، چې په ډک محفل کې ښکته ګوري، نه پورته. پورته بیت موږ ته ځکه خوږ ښکاري چې د (نه کتلو) حالت تر شا د پښتني فرهنګ، ثقافت او دود زړه بوږنوونکي رجحانات پراته دي.

ادب یوازې د خپلو نفسي خواهشاتو د مشبوع کولو، د خپل نفس خوښ ساتلو او نشې ګولۍ نه ده، چې ځان پرې نشه کړو، بلکې په بشري ژوند کې دروند او لوړ رسالت پر غاړه لري. په لوی لاس باندې باید د ادیبانو او لیکوالو څخه په نشه روږدي کسان جوړ نه کړو، چې یوازې په نشه یې توکو ځان خمار کړي، له ځان او جهان څخه خبر نه وي. په کار ده چې لیکوال او شاعر د ټولنې نبض ته په پام داسې اغېزناکې او ګټورې لیکنې وکړي، چې انسان او ټولنه دواړه پرې ښایسته وي. د هرې ژبې ادبیات د خپلو ټولنیزو ارزښتونو له زېګنالونو څخه سېرابه دي. افغانستان یو سنتي ټاټوبی دی، چې هر څه په ځانګړي ډول ادبیات یې له اسلامي، ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونه څخه بېل نه مطالعه کېږي، غزلبول شاعر ناګار وايي:

وسوسه یې د حیا اخر تقوا شوه

ما چې خوله ترېنه غوښته دې استغفار کړ

لوړ بیت کې وینو چې زموږ د ټولنې عشق د اسلام په مبارکو انوارو تر دې حده رنګین دی، چې په وسیله یې محبوبه هم د حیا په سوچونو کې د مینې له ورخه د تقوا مزه څښي. که دقیق شو هنر او ښکلاییز کیف د سېمبول، کنایې، استعارې او مجاز په ظرفونو کې وړاندې کېږي، له دې څخه هم ښکاري چې ادبیات له بربنډوالي څخه بد وړي. د پښتو ژبې نازکخیال شاعر کاظم خان شیدا وايي:

په غونچه یې د بلبل په شان نعره کړه

شیدا ولیده اداء ستا په نقاب کې

( ۵ : ۲۹٦ مخ )

پورته کلام کې وینو، چې د محبوبې حیاناکې او مستورې اداء په شیدا باندې د بلبل غوندې ناره کړې ده، له دې ښکاري، چې حیا د ادبیاتو ښکلاییز ګراف لا پسې لوړ کړی. د الفت صاحب وینا ده چې وايي: « خبره مونثه ده، څومره چې په حیا کې وشي دومره یې اغېز زیات وي.» دغزل د پېژند په اړه حقیقي خبره دا ده، چې د لطافت، حیا ، باریکۍ او تغزل له وجې د ښځو پر وړاندې خبرې وشي. یا دا چې غزاله (غرڅه) له خوړونکي زمري څخه په حیاناکو او نزاکت امېزه کتلو ځان وژغوري. د کتلو دغه کیف غزل دی، چې ځینې یې په غلط ډول د ښځو سره د خبرې کولو په معنا

تعبیروي. اصلاً د هغې حیاناکې او نزاکتي اداء کیف دی، چې د ښځو پر وړاندې ترسره کېږي. دلته هم د تغزل اصلي زړی په حیا او نزاکت کې پټ وینو.
بازاري او فیشني شاعری د ادبیاتو په مهذبه لمن تور داغ جوړ کړی دی، که نه د افغاني ټولنې ادبیاتو ذاتاً په حیاناکه او نزاکت رنګه لار قدمونه اېښي،کاظم خان شیدا وایي :

د اوبو په شان روان په هسې لار شه
چې دا سپـینه لمن وساتـې له ګـرده
(۵ : ۱۷۴ مخ )

بل ځای وایي :

په خوبانو شي خولې له حیا ماتې
ته چې لرې کړې نقاب رخشانه لمره!
(۵: ۱۸۰ مخ)

سپینه لمن د حیا او عفت لمن ده، چې له ګردونو او داغ څخه پاکه وي. شیدا هم خپل مخاطب هسې لار ته رابولي، چې د اوبو په شان پاک او سپېڅلی روان وي. په دویم بیت کې وینو چې رخشانه لمر ( محبوبې) ته ویل شوي، چې په ښکلو هغه وخت خولې راځي، چې ته نقاب لرې کړې. دلته دا خولې د شرم او حیا خولې دي چې د خپل محبوب په لیدلو سره را ماتې شوې دي. په دې بیت کې په غیر عادي او هنري انداز سره د خپلې محبوبې د ښکلا ستاینه شوې ده .
عموالی ذاتاً عادي او خاصوالی غیر عادي کړنه ده. څنګه چې ادبیات د غیر عادي بیان انځوریزه ژبه ده، نو حیا هم د خاص والي او غیر عادي والي په رامنځته کولو کې بارز نقش لري، حمزه بابا وایي:

د لمر مخیو دیدن کلـه کله ښه وي
هغه حسن، حسن مه ګڼه چې عام شو
( ٦: ۱۷۱مخ )

حیاناک حسن نه عام کېږي، همدې ته په پام لوړ بیت کې وینو چې حمزه د ښکلو ( لمر مخیو ) دیدن کله کله غوښتی او د عاموالي په واسطه یې حسن له صفر سره ضرب کړی دی. همدا حیا ده، چې حسن په کې نغښتی او همدا حسن دی، چې حیا په کې نغښتې ده.

په ادبیاتو کې همدا اغېزناک کیف په حیا کې نغښتی، چې زموږ د عاشق له اوښکو څخه یې تسبې جوړې کړي او سترګو ته یې د ثناء ویلو چل ور زده کړی، لکه په اړه یې چې حمزه بابا وایي:

عشقه! د دې اوښکو له تسبو نه دې
څنګه دې ور زده کړه ثناء سترګو تـه
( ٦ : ١٩١ مخ )

که په حقیقي ډول ووایو، ادب او حیا یو له بل سره خور او ورور دي، چې په ګډه سره د هنریت او ښکلا افاقي پیغامونه له ځانه سره وړي . د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مبارکې وینا پښتو متن دی، چې وایي: « بد ویل او بې ادبي چې په هر شي کې وي هغه معیوب وي. حیا او ادب چې په هر شي کې وي هغې ته ښکلا ورکوي.» ( د ترمذي روایت )

که ادب د ژوند د رغښت او ښکلا لپاره غواړو؛ نو ژوند په اسلام او اسلام په حیا ښایسته دی. له حضرت انس (رض) څخه روایت دی: « قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) : «إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا، وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ. ».ابن ماجة (٤١٨٢) ژباړه : بېشکه د هر دین لپاره یوه ځانګړنه ده او د اسلام ځانګړنه حیا ده. ( ۴ : ۵۷ مخ )

له دې ښکارې، چې د پښتني شاعرۍ تابلو د اسلام په مبارک دین او د پښتونولۍ په اصیل فرهنګ رنګینه ده. شاعر که د مینې، محبوبو او معشوقو خبره کوي، په پرده او حیا کې یې کوي چې له یوه اړخه د شعریت ګراف ورسره لوړ شوی، له بله اړخه د خپل دروند فرهنګ نماینده ګي کوي. د بېلګې په ډول، فضل ولي ناګار وایي :

پېرمـــــه پـــــه ســـرونـــو بـــخـــارا او ســمـــرقـــنـد
ای ترکو! داسې نوي خرابات ته مې زړه شوی
(۷ : ۳۳ مخ )

له پورته بیت سره د مسلمه امت ټولې هیلې، جهادي رونق او د پان اسلامېزم ارمانونه غوټه دي. په افغاني ټولنه کې ( ترکې ) د ښکلو لپاره هغه استعاره شوې کلمه ده، چې په وسیله یې ګڼ شاعران خپل محبوب ته پرې مخاطب شوي دي. خرابات له مالي اړخه زړه ته راتېر او ګران کس ته کېږي، لیکن ناګار د وطن ښکلو ( ترکو ) ته په حیاناک او نزاکت امېز ډول نوی او معنوي ځېز خرابات کوي، چې هغه د بخارا او سمرقند لپاره د سرونو خرابات کول دي او د سرونو په بدله کې د برمپالې بخارا او

ویاړمن سمرقند سودا کوي. شاعر د وطن ښکلو پېغلو (ترکو) ته څومره په اسلامي او حیاناکو ولولو پسلولی ډاډ او اطمینان ورکوي!

پښتو هنري نثرونو کې ډېرې داسې نثري ټوټې لیدلای شو، چې په حیاناک، عاطفي او نزاکت رنګه ډول لیکل شوي دي چې کلمو او جملو ته یې ځانګړې ښکلا ورکړې ده. هنري پارچه باید ښکلاییز او هنري کیف ولري. جاج پښتونزی لیکي: «یوه هنري پارچه هغه ده، چې ښکلې وي او ښکلا هغه ده چې ستومانه او خواشینی بشري روح تازه کړي. » (۲: ۱۱۵ مخ)

د پښتونزوی نظر ته په پام، همدا حیا ده چې روحي سکون، اطمینان او خوښي په کې نغښتې ده، پښتو هنري نثرونه له دا ډول حیاناکو نزاکتونو او ښکلاوو څخه مالامال دي. د بېلګې په ډول، د حکیمي ( د زړه خبرې ) اثر ځینې جملې دلته راوړو: « که د مینه کوونکو ترمنځ سیالي رامنځته شوه ، په دې یوه حالت یې هم ګټم ، چې په نه درکتلو کې دې ووینم.

غلې اوښکې د حیاناکو پېغلو په څېر له سترګو راوځي او په زړه ننوځي.

د ځروبي ټوله ښکلا په دې کې ده چې سر ښکته وړي. له الفاظو سره محتاطانه چلند کوئ، تر شا یې مخاطب ولاړ دی.» ( ۳ : ۱۳ ـ ۲۰ ـ ۳۱ ـ ۳۲ مخونه )

په لومړۍ جمله کې وینو چې اصلي او سپېڅلي مینې حیا په زباد رسولې، چې نه کتل هم د حیا یو وریانت دی، دلته د زړه په سترګو د خپل محبوب لیدل دي. په دویمه جمله کې وینو چې غلې اوښکې له حیاناکو پېغلو سره تشبیه شوې دي. حیاناکې پېغلې هم په مستور ډول له کوره راوځي او د خپل عفت په وجه د خلکو د پاملرنې وړ ګرځي. غلې اوښکې هم په پټه د دردونو په پېټي بار له سترګو راوځي او په زړونو تأثیر کوي. په درېیمه جمله کې د حیاناکو او متواضعو کسانو لپاره ځروبی استعاره شوی، چې د سر په ښکته وړلو سره یې طبیعت ته ښکلا ورکړې ده. په څلورمه جمله کې د دې سپارښتنه شوې، چې بربنډ او بازاري الفاظ مه استعمالوئ . د حیا او معنا په پردو کې کې یې ووایئ چې د مخاطب خوا درنه، نه شي. په ټوله کې ویلای شو پورته جملو ته همدې ذاتي او طبیعي ښکلا ورکوونکي کیف ښکلا ورکړې ده، ممکن په لوستونکي هم خوږې ولګېږي.

د بنګالي ليکوال ټاګور د ګيتا نجلي نوبل اخيستونکی اثر له داسې سرودونو ډک دی چې د حيا او عاطفې تومنه لري، ځکه يې خوند او پند څو برابره شوی دی، د بېلګې په ډول په (۴۱) سرود کې د خپل محبوب او خالق ترحم، مينه او عاطفه په حياناک ډول دومره بې کچې ښيي:« ستا د مينې او لطف وربخ دې له پاسه کوزې خواته داسې مايله وي، لکه د پلار د غوسې په وخت کې د مور له اوښکو ډک کښته کاته.» ( ۱: ۱۸ مخ)

د منيمالېزم ادبي مکتب په رامنځته کېدو سره ډېری داسې لنډکي شعرونه او لنډې نثري ټوټې وليکل شوې چې نزاکتونو، حيا ، تلوسې او عاطفې يې د هنريت ګراف لا لوړ کړ. د بېلګې په ډول، د ومان نيازي د ( سکرو بخې ) اثر کې داسې لنډې او د منثور شعر جملې وينو، چې عاطفي او هنري رنګ لري. ځينو کلامونو ته يې حيا او نزاکت امېزې ادا ځانګړې ښکلا ورکړې ده، د بېلګې په ډول د ( ساه ) تر سرليک لاندې ليکي: « هوا سړه ده. هينداري زما ساه واغوسته» (۸ : ۸ مخ )

د يو څه اغوستل حياناکه چاره ده، دلته وينو، چې ليکوال په څومره حياناک او هنري انداز سره د ژمي د سړو بيان په يوه واړه او غير عادي بيان سره په يوه کرښه کې کړی. په جزئياتو سره د کلياتو هنري تفسير د سترو ليکوالو ځانګړنه ده. بل ځای د غړ تر سرليک لاندې ليکي: « زه ځينې غړونه وينم، لکه ځينې کلمې ستا په شعرونو کې » ( ۸ : ۳۲ مخ )

هغه حياناک، عاطفي او ارام غړونه چې زړونو ته ټيټېږي، نيازي صاحب شاعرانه کلمو ته ورته ګڼلي چې هم شعريت لري هم حکمت. د ( ناز ) تر سرليک لاندې ليکي: « هغه په خپل کميس کې لکه ګل له نازه وينښه شوه.» ( ۸: ۳۴ مخ )

دلته هم په حيا او پرده کې د محبوبې تصوير له ګل سره ورته ګڼل شوی دی، لکه د ګل بوی چې د ګلانو له پاڼو او غوټۍ څخه راپورته کېږي ، دلته د محبوبې ناز هم دا چاره ترسره کړې ده. د ( لمس ) تر سرليک لاندې ليکي: « له کروندې راغلم، ستا خندا مې لمس کړه، له اوبو سره روانه وه.» (۸: ۲۳۰ مخ )

ښه ورته ځير شئ، پورتنۍ جمله څومره خوندوره او زړه راښکونکې ده، علت يې دا دی چې د ادا طرز يې له حيا او نزاکت څخه ډک دی. وچه او بربنډه خبره يې نه ده کړې چې ماته مې محبوبې وخندل. کله چې کروندګر له کروندې راشي ، تندې پسې اخيستی وي ؛ نو د اوبو غړ کوي چې خپلې محبوبې په يوه ظرف کې اوبه ورکوي.

دلته وینو چې د محبوبې گرانښت او مینه یې په انتزاعي ډول په اوبو کې د خندا په لمس کولو سره بیان کړې ده. لوړو جملو کې د ښکلا گراف همدې حیاناکې ادا لوړ کړی دی.

## پایله

په حقیقي ډول د ادبیاتو جمال په حیا کې نغښتی، یوازې بربنډ ، بازاري او نفس پاروونکي اشعار او لیکنې د دغه دنگې ماڼۍ رنگ نه شي پیکه کولای، خپلې خبرې د پښتو ژبې د غزلبول شاعر صدیق پسرلي په لاندې کلام رانغاړم :

پوه شوم پسرلیه د عزت په راز
سر کې د لښکر ځي علم پټه خوله

## وړاندیزونه

ادبیات له لویه سره د انسان جوړونې او مهذبوالي لوی پوهنځی دی. په کار ده چې په دې برخه کې د ادبیاتو په اصلي ماهیت او ښکلاییزو نورمونو باندې لیکنې او څېړنې وشي. په پوهنتونونو، د ژبو او ادبیاتو په مرکزونو کې محصلینو ته په داسې مهمو او مبرمو مسأیلو څېړنیز موضوعات ورکړل شي، چې هم د ادبیاتو ماهیت او نظریې ورسره غښتلې شي او هم په علومو کې د خپلو اسلامي او ټولنیزو نورمونو نقش معلوم شي.

## مأخذونه


۱ ـ ټاگور، رابندراناتهـ . گیتانجلی، د عبدالروف بینوا ژباړه، بینوا فرهنگي ټولنه، درېیم چاپ، کندهار ۱۳۸۳ ل کال.

۲ ـ جاج پښتونزوی، حبیب الله. څلور بحثونه، د مجیب الرحمن امیري په اهتمام، صمیم ادبي ټولنه، ۱۳۸٦ل کال.

۳ ـ حکیمي، رحمت الله. د زړه خبرې، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۴۰۰ ل کال.

۴ ـ مولوي محمود. اسلامي اخلاق ، د پوهنې مطبعه، کابل، ۱۳۸۹ ل کال.

۵ ـ شیدا، کاظم خان. د کاظم خان شیدا دیوان، تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانگه، حنیف خلیل، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ ل کال.

٦ـ غزنوي، خاطر. حمزه پېژندنه، د ذبیح الله احساس ژباړه، شپږم چاپ، سالنگ کتاب پلورنځی، ۱۳۸۸ ل کال.
۷ ـ ناګار ، فضل ولي. د ناګار شاعري ( سندریون ) ، د نجیب الله نایل په سریزه او راټولونه، ناګار خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۹ ل کال.
۸ ـ نیازی، ومان. د سکرو بخی، علمي خپرندویه ټولنه، ګردېز، ۱۳۹۳ ل کال.

پوهنمل بیت الرحمن رودوال

# د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو ونډه

# The role of literature in the education of children

Assistant Prof Baiturahman Roodwal

## Abstract

In the world and Pashto literature ((the role of literature in the education of children)) is one of the topics, the importance of which no one can deny, because language and literature are the basis and foundation of society. Not only students are facing difficulties in this field, but the whole world is trying to find out how to provide good training and education to their children and have good results in the future. What is the contribution of literature in this field? What are the effects and achievements of ethics, which will lead to the development of the next generation of the society?

I have tried my best to explain and show the role of ethics in the education of the child in a good way. And the achievements shed light. No one has done any work on this subject before, and I am mentioning the authors who have mentioned it and tried to prevent repetition and provide a good research ground for other researchers in the future and solve the questions that have arisen.

## لنډیز

د نړۍ او پښتو په ادبیاتو کې ((دماشوم په روزنه کې د ادبیاتو ونډه)) يوه له هغو موضوعاتو څخه ده، چې ټول انسانان ترې سترګې نه شي پټولی، ځکه چې هم ژبه او هم ادبيات د ټولنې اساس او بنسټ دی. په دې برخه کې نه يوازې محصلان له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ دي، بلکې ټوله نړۍ په دې هڅه او کوښښ کې ده، چې څنګه خپلو بچيانو ته د ښې روزنې او تربيې زمينه برابره کړي او په راتلونکي کې ښې پايلې ولري . اوس پوښتنه دا ده چې په دې برخه کې د ادبياتو ونډه څه ده؟ د ادبياتو اغېزې او لاسته راوړنې کومې دي، چې هغه د ټولنې د راتلونکي نسل د پرمختګ سبب وګرځي؟ په دې مقاله کې تر خپلې وسې هڅه شوې، چې د ماشوم په روزنه کې د ادبياتو ونډه په ښه ډول تشريح شي، همدا راز هڅه شوې چې د ماشوم په روزنه، د ژبې پرتکړه توبونو، د وينا او ليکلو پرمهارتونو، د ماشوم د ذهنې ودې پر ميکانيزم او راز راز تجربو او لاسته راوړنو رڼا واچول شي. زما د معلوماتو له مخې تر اوسه پورې په دې موضوع چا کار نه دی کړی او کومو ليکوالانو ، چې ضمني يادونه هم کړې دهغوی يادونه کوم، خو کوښښ مې کړی، چې د تکرار مخه يې ونيول شي او په راتلونکي کې نورو څېړونکو ته دښې څېړنې زمينه برابره او را ولاړې پوښتنې حل شي.

## سريزه

کله چې دماشوم د زده کړې او ادبياتو نوم اخلو، نو ذهن مو سم له واره پخوانيو وختونو او ماشومتوب ته ستنېږي او د ژوند دلومړنيو وختونو ځينې ښې او بدې خاطرې رايادوي او په خپلو لاسته راوړنو او د نورو پر پرمختګونو مو تم کوي، چې څنګه کولای شو د ښې راتلونکې خاوندان شو او پخوانۍ تېروتنې بيا تکرار نه کړو، نو پر همدې اساس ومې غوښتل، چې راتلونکي نسل ته د خپلو ښو او بدو کړنو يو انځور وښايم او په دې يې پوه کړم کومې ستونزې چې موږ درلودې تاسو يې مه تکراروئ او لاسته راوړنې مو څو چنده کړئ.

په دې مقاله کې ما تر خپلې وسې زيار ايستلی، چې څنګه کولای شو، د ماشوم په روزنه کې د ادبياتو ونډه وښايو. دا حقيقت دی، چې په دې برخه کې ستونزې ډېرې دي او کوم معلومات چې ستاسو په مخکې دي ښايي يو څه نيمګړي وي، خو ددې خبرې هېرول نه دي په کار چې د هر ماشوم سويه فرق کوي، يو ماشوم د بل ماشوم په

څېړ زده کړې نه شي کولای او نه هم ټولو ماشومانو ته یو شان د زده کړې زمینه برابره ده او زموږ په ټولنه کې خو بلا ستونزې شته، حتی کابو ټول ماشومان د زده کړې لپاره مناسب امکانات نه لري، نو ځکه یې څېړل اړین وو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع اهمیت په دې کې دی، چې د نړۍ معیارونو ته په کتو سره ځینې لارښوونې په کې پېژندل شوي، چې زموږ د راتلونکي نسل د پرمختګ سبب کېدلای شي.

## د څېړنې موخه

دا چې زما د معلوماتو له مخې په دې برخه کې کوم مستقل اثر نشته او نه هم کوم تخصصي کار پرې شوی، نو ځکه زمونږ ټولنه په دې برخه کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان ده، دغه اثر به تر ډېره هغه ستونزې چې په دې برخه کې شته او نورو ټولنو ورته مناسبې حل لارې پیدا کړي، له هغوی څخه به په تجربې دلته هم مناسبې د حل لارې وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د ماشوم د روزنې لپاره باید له کومو میتودونو څخه کار واخیستل شي ؟

۲. د ماشومانو په رزونه کې د ادبیاتو ونډه څومره اغېزمنه ده ؟

۳. په افغانستان کې د ماشوم په روزنه کې له ادبیاتو څخه څومره ګټه اخیستل کېږي؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تر ډېره توضېحي او توصیفي دی او د اړتیا پر مهال له انتقادي میتود څخه هم ګټنه شوې ده او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې اصلي موضوع

د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو ونډه یو خاص ځای لري چې نه شتون یې د ښوونې او روزنې پروسه یو څه ټکنۍ او بلکې له ستونزې سره مخامخ کړې ده چې عمده یې دا دي: یو، د ښوونکو علمي سویه یې کمزورې او پوره معلومات نه لري، دویم، پر خپل مضمون حاکمیت نه لري او ښوونکی په دې نه پوهیږي چې څنګه خپله پوهه زده کوونکو ته انتقال کړي او همدا لامل دی چې د پوهې او زده کړې پروسه په ښه توګه مخکې نه ځي او په کار ده چې د بریالي ترسراوي په موخه یې له ځینې مهارتونو

ځخه استفاده وشي، چې ماشومان ښه روزنه وويني او پرځان يې باورمند کړو او د اعتماد روحيه ورکړو، چې په وسيله يې خپلې ستونزې هوارې کړای شي او په ټولنه کې متحرک شي چې دا ټولې چارې د ماشوم د ادبياتو په وسيله شونې دي.

**د ژبې مهارتونه يا تکړه توبونه**

ښوونکی په لومړۍ مرحله کې زده کوونکو ته د اورېدلو يا غوږ نيولو مهارت ور لېږدوي. په دې سره ماشوم ښه توانېږي چې غږ په سم ډول سره واوري او سم تلفظ يې وکړای شي. ماشومان له لومړيو ورځو ځخه له غوږ نيولو سره عادت وي، خو ځواب نه شي ورکولای او دغه مهارت په ماشومانو کې په تدريجي ډول انکشاف کوي او ځيني وختونه په اشارې سره هم ځواب ورکوي. له جسماني ودې سره د ماشوم ژبه هم وده کوي او له وړو وړو جملو ځخه لويو جملو ته ارتقا کوي. نو په دې صورت کې غوږ نيول د پوهيدنې معنا لري او دا مهارت په دې ډول بايد ور انتقال شي.

((د مثال په ډول (ب) توری چې زده کوونکي ور سره ټول اشنا دي،کله چې ښوونکی دا توری تلفظ کوي، شونډې يوځای کوي او دويم ځل يې انځور ورته په ښه توګه ورښايي او په دې شکل سره زده کوونکي د ځينو تورو له شکلونو او لوستلو سره اشنا کېږي او په ښه توګه يې زده کوي او ښوونکی ځو کلمې ځو ځلي په لوړ غږ لولي او په هره کلمه کې ورته يو توری يا غږ ورښيي)).

په دې سره زده کوونکي د ليکلو مهارت ته ځان چمتو کوي چې ځنګه يو توری له بل توري سره يوځای شي او يوه معنا لرونکې کلمه جوړه کړي. کله چې ښوونکی د زده کوونکو لپاره د (ي) توري شکل په هوا کې انځوروي او زده کوونکي د ښوونکي د ګوتې حرکت (ي) د ليکلو په وخت کې تعقيبوي او همدارنګه زده کوونکي هم په هوا کې د (ي) شکل ليکي او په پای کې ښوونکی دغه شکل په تخته ليکي، نو دغه پروسه ځو ورځې دوام کوي او په همدې ډول ټول زده کوونکي د تورو ليکل، لوستل او تلفظ کول زده کوي او د دوی د يو ځای کېدو مهارت ته ځان چمتو کوي او بيا د خبرو کولو مهارت زده کوي.

**خبرې کول:** خبرې کول د زده کړې په پروسه کې د مفاهمې بنسټيزه برخه ده چې کله مخاطب په خپل مطلب او مفکورې باندې پوهوو، نو خبرې ور سره کوو. دلته اوازونه ترکيب کېږي او د معنا لرونکو الفاظو په واسطه د خبرې کوونکي پيغام غوږ

نیوونکي ته لېږدي. زده کوونکی په تدریجي ډول دې ته چمتو کېږي چې منظمې او معنا لرونکې خبرې وکړي تر څو چې یو ماشوم د سټېج (دریځ ) خاوند شي او د لویانو په څېر خبرې او حرکات ترسره کړي. د خبرې کولو د مهارت پیاوړي کولو لپاره ماشومان باید لاندې موارد هم په نظر کې ونیسي:

۱. د لوست څخه مخکې د لوست لپاره تحریک

۲. د نورو پوهولو لپاره خپل مطلب په داسې الفاظو کې څرګندول چې مخاطب پرې سم وپوهیږي.

۳. معنا لرونکې خبرې کول، روان خبرې کول او د خبرو په وخت کې په خپل ځان باور درلودل، چې مخاطب ته سم مطلب ورسېږي.

۴. د موضوع مطابق غږېدل، د کور، ښوونځي او ټولنې مروج الفاظ او جملې په خپلو خبرو کې کارول.

دا او دې ته ورته مهارتونه د ماشوم په روزنه کې د ادبیاتو ونډه ښه ښکاره کولای شي چې دلته به د ماشومانو پر مورنۍ ژبه او د ادبیاتو په مهارتونو خبرې وکړو.

۱. د ذهني ذوق او علاقې پیداکول.

۲. په ماشومانو کې د شعر، احادیثو ، ایاتونو او سورتونو زده کول او په بیا بیا یې پرې تکرارول.

۳. ماشومانو ته د داستانونو او کیسو زده کول او د خلکو په وړاندې یې پرې بیانول.

۴. د ماشومانو تر منځ رقابتي برنامې د سوال او ځواب، مشاعرې تر سره کول او دوی ته تشویقي مکافات ورکول.

۵ . د نړۍ په اړه معلومات ورکول او بېرته د خلکو په مخامخ ترې پوښتنې کول.

٦. ماشومانو ته د نړۍ د کامیابه انسانانو او پرمخ تللي هیوادونو د پرمختګ د لارو بیانول او د هغوی په هکله معلومات ورکول او بیا له دوی څخه د دې معلوماتو د بیان غوښتل.

موږ تل دا خبره بیا بیا کوو، چې ماشومان د ټولنې راتلونکي جوړوي، خو تل یوازې د ماشوم د اساسي اړتیاوو لکه: خوړو، روغتیا او د اوسېدو د ځای په اړه فکر کوو او د نورو پرمختللو ټولنو پر خلاف پر دې لږ فکر کوو، چې څه ډول وکولای شو د نن ورځې ماشوم د سبا ورځې د یو سالم انسان په توګه وروزو چې ټولنې ته ګټور ثابت شي. مثبت ټولنیز ارزښتونه وپالي د یوې هوسا او بسیا ټولنې په جوړولو کې برخه

واخلي د روښانه ذهن او پراخه نظر خاوند شي او له نورو سره د کرکې پر ځای مینه وکړي. د ماشومانو د لومړنیو بنسټیزو اړتیاوو تر څنګ ټولنیزې او فکري اړتیاوې هم شته چې د ماشوم د روزنې لپاره ضروري دي.

«د ښوونې او روزنې پوهانو د ماشومانو د روزنې لپاره بېلا بېلې لارې چارې ښودلې دي چې یو یې هم ماشومانو ته د روزنیزو پیغامونو راوړل یا لیږدول دي. دا چې څنګه ؟ یوه لاره یې هم د ماشوم ادبیات دي. دا څرګنده خبره ده چې مستقیم او نېغ په نېغه پیغامونه او وچ کلک نصیحتونه په ماشومانو ډېره اغېزه نه لري. د ادبیاتو په وسیله غیر مستقیمه لارښوونه د ماشوم عقل ته وده ورکوي او د ادبیاتو په وسیله د ماشوم د فرهنګي سلیقې کچه لوړېږي».

د ماشوم ذوق روزل کېږي، د فکر کولو ساحه یې پراخېږي او د نویو شیانو په اړه فکر کولو ته هڅول کېږي. له ښوونځي څخه تر مخه دوره کې که ماشوم ته تصویري کیسې او کیسه ییز شعرونه وویل شي، د ماشوم د ذهن په وده اغېزه کوي؛ نو کله چې په ښوونځي کې شاملېږي د ډېرو شیانو په اړه مخکینۍ نسبي پوهه پیدا کوي. یو ډول او په یوه کچه چاپ شوي کتابونه او د ښوونکي همیشني نصیحتونه د وخت په تېرېدو سره د ماشوم زړه توروي. ځکه خو د ښوونې او روزنې ډېر ماهران په دې نظر دي، چې د ماشوم د ادبیاتو اړوند کتابونه باید د ښوونځي کتابونو ته ورته نه وي او د ښوونځي له کتابونو څخه ښکاره توپیر ولري. کله چې ماشوم د شعر او کیسو کتابونه لولي، په دغو کتابونو کې له بېلا بېلو جملو او کلمو سره مخامخ کېږي. دا چې د ماشوم له ذوق سره برابر وي نو بیا بیا یې لولي، له دغو کلمو سره بلدېږي او ژبه یې پرې اوړي. ماشوم چې کله یوه کیسه لولي د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر کوي. ماشوم تل د نورو تقلید او پېښې کوي. په کیسه کې ماشوم ته معلومېږي چې د کیسې کوم شخصیت تر نورو ښه، عادل، زړه سوانده، پوه، زړور او بریالی و. ماشوم له همدغه مثبت شخصیت څخه متاثره کېږي، چې د ده د شخصیت په جوړولو کې ښه رول لوبولی شي.

دغه راز ماشومان چې کله کیسې اوري په دغو کیسو کې د ماشوم په ذهن کې پوښتنه پیدا کېږي. ماشوم د پوښتنې د ځواب د پیدا کولو لپاره فکر کولو ته اړ کېږي، نو کله چې فکر کوي، معلومه ده چې یوې پایلې ته رسیږي دا فکر کول یې

په راتلونکي کې هم یو عادت گرځي، د هر نوي او ناپېژندل شوي څيز په هکله فکر کوي او کوښښ کوي چې ځان پرې پوه کړي او د نن زياتره پوهان او بريالي کسان د پرون ورځې هغه ماشومان وو چې له ادبياتو سره يې سر و کار درلود. د ماشوم ادبيات د ماشوم په فکري وده کې مهم رول لري.

«ادبيات د ماشوم د ذهن بنسټونه بږدي. ماشوم چې کله شعرونه او کيسې لولي ورسره د دوی د ليکلو وړتيا لوړېږي. د ماشومتوب د وخت لوستل شوي مفاهيم يې په تحت الشعور کې ځای نيسي او کله چې لوی شي دغه انځورونه يې په ذهن کې وي. کېدای شي ليکوال او يا ښه مفکر ترې جوړ شي. زياتره اوسني ليکوالان پخپلو مرکو کې وايي چې په کوچنيوالي کې يې شعرونه يا کيسې لوستلي يا اوريدلي دي، مينه يې ورسره پيداشوې ده او بيا يې د شعر او يا داستا ن د ليکلو تکل کړی دی».

د همدغو شعرونو او کيسو تر اغېزې لاندې په ځينو ماشومانو کې د دوی پټ استعداد را څرگندېږي او د دوی د نوښت لپاره لار پرانيستل کېږي. دغه ادبيات د ماشوم د تعليمي نصاب مرستندويه توکي دي چې بايد لوستل يې عام شي. ماشومان چې کله يو داستان لولي، دوی پوهېږي چې د داستان اتل له ډېرو کوښښونو وروسته خپلې موخې ته رسېږي. ماشومان هم دې ته هڅول کېږي چې په خپلو درسونو کې کوښښ وکړي او د ژوند په ټولو چارو کې بريا ترلاسه کړي. ادبيات ماشوم ته جرئت او زړورتيا ورکوي، ماشوم د ټولنيزو اصولو او قوانينو سره اشنا کوي او ماشوم په کيسو کې په ټولنه کې له شته اصولو او دودونو سره بلدېږي. د شعرونو او کيسو په لوستلو سره د ماشوم د ويينو زېرمه زياتېږي. دوی په ادبياتو کې له نويو لغاتونو سره مخ کېږي چې د کيسې په لوستلو يې معنا هم ورته اسانه وي، سره له دې چې د ماشومانو ادبيات په ساده ژبه د ماشومانو له سويې سره سم ليکل کېږي؛ خو که چيرې کوم لغت پېچلی او ستونزمن هم وي ماشوم پر کيسه او شعر د پوهېدو لپاره د هغه په باب له نورو پوښتنه کوي، په دې توگه يې د لغاتونو زېرمه پراخېږي.

په افغانستان کې د ماشومانو لپاره ليکل شوي ادبيات د کميت له پلوه کم گڼلی شو چې په راتلونکې کې به په دې اړه مفصلې خبرې وکړو، په نورو پر مختللو هېوادونو کې د ماشوم ادبياتو ته ځانگړې پاملرنه کېږي. د ماشومانو لپاره ځانگړي کتابتونونه

وي او د ماشومانو له عمر سره سم د هرې کټه‌ګورۍ لپاره بې شمېره کتابونه خپرېږي. د ښوونې او روزنې ځینې معاصر پوهان په دې اند دي چې زموږ د زیاترو اوسنیو ستونزو یو لامل دا هم کېدای شي چې زموږ په هېواد کې د ماشومانو روزنې ته لازمه پاملرنه نه ده شوې. ((که موږ د نورو هېوادونو په څېر د ماشوم ادبیاتو ته کلونه پخوا پاملرنه کړې وای، نو ممکن زیاتره اوسنۍ ستونزې تر دې حده نه وای. ماشوم د راتلونکې ټولنې بنسټ جوړوي او د ماشوم ادبیاتو د هغوی په روزنه کې مهمه ونډه لرلې ده، پکار ده چې دې برخې ته جدي پام وشي. په دې منظور دې د ماشومانو لپاره ځانګړې اوونیزې او میاشتنۍ خپرونې رامنځ ته شي لکه پخوا چې د کمکیانو انیس په نامه یوه میاشتنۍ او کله هم اوونیزه خپرونه وه، خو اوس هغه نشته)).

او که وي هم، نو د ماشومانو لپاره نه چاپېږي، خو مطالب یې د ماشومانو د پوهې له سطحې نه ډېر لوړ دي. د کمکیانو انیس له نن څخه نیمه پېړۍ مخکې ډېره په زړه پورې خپرونه وه؛ خو په نن عصر کې موږ هغسې روزنیزه خپرونه د ماشومانو لپاره نه لرو؛ نو ماشومانو ته ادبیاتو خاصه پاملرنه کړې ده، خو بدبختانه چې زموږ ټول ماشومان دې ته لاس رسی نه لري. په ادبیاتو کې د ماشوم پر وده کیسې ډېر مهم رول لوبولی شي، چې دلته به پرې لنډ بحث کوو: «کیسه: له هغه روایت څخه عبارت ده چې د انسان د ژوند د خوږو، ترخو او هر اړخیزه برخو څخه حکایت کوي او لوستل یې د انسان خوښېږي. اورېدل یې د انسان د معلوماتو تنده ماتوي او بیا بیا اورېدل یې د انسان د زړه او ذهن غوښتنه ګڼل کېږي. هر ماشوم یې اورېدلو ته لېواله دی. د مثال په ډول تاسو په کور کې د خپلو ماشومانو په منځ کې کښېنئ او ورته ووایئ چې چپ شئ یوه په زړه پورې کیسه درته کوم، نو ټول ماشومان به خاموشه شي او غلي به کښېني، چې کیسه به څه وي. دلته تاسو کولای شئ چې د ادبیاتو کردار د ماشوم په وده کې وګورئ ».

دلته د ښې کیسې په اړه یو څو خبرې کوو: ښه کیسه هغه ده چې د عام ولس په ژبه لیکل شوې وي، طرز یې ساده وي او اسانۍ سره له یوه اړخه بل اړخ ته د معلوماتو د لېږد دنده تر سره کړي، د ژوند د اغېزمنو موخو په ټاکلو کې ټاکونکی رول ولري، له همدې پلوه کیسه نه یوازې په بالغو کسانو کې، بلکې په ماشومانو هم

ژورې اغېزې پرېږدي چې د هغوی د معلوماتو په اضافه کولو او ذهني وده کې رغنده ونډه اخلي.

**فولکلوریکې کیسې:** له هغې کیسې څخه ده چې د ولس په منځ کې موجوده وي، په نرمه او ساده ولسي ژبه ویل کېږي، له بېل خوند او کیف څخه ډکه وي، سینه په سینه له یوه نسله بل ته پاتې کېږي او کله کله دغه ډول کیسې له مبالغو څخه ډکې هم وي. فولکلوریکه کیسه د ولسي ادب یوه لویه زېرمه هم ګڼل کېږي. ممکن د وخت په تېرېدو سره ځینې بدلونونه هم پکې راشي، خو منځپانګه یې هماغه وي چې لومړني ویونکي یا لیکونکي ورکړې وي. د دې کیسو اصلي ویونکی یا لیکونکی تر ډېره حده معلوم نه وي. ولسي نوم لري او د ولس په منځ کې له خورا زیات خوند او اهمیت څخه برخمنه وي. دغه راز کیسې د کورنۍ د مشرانو میندو ، پلرونو مشهورو کیسه کوونکو سپین ږیرو او هغو کسانو له خوا زیاتره ویل کېږي، چې له ماشومانو سره په کور کې اوسېږي. همدارنګه دغه ډول کیسې د میندو لخوا ماشومانو ته د خوب پر مهال ویل کېږي، چې له یوې خوا ماشوم ته ارامي وربخښي او له بلې خوا ماشوم ته د خوب د راتلو سبب هم کېږي.

د کوچنیانو لپاره فولکوریکې کیسې د ماشوم په ذهني وده کې ونډه درلودلای شي. باید وویل شي، چې انسان د خپل واقعي ژوند او عیني شیانو څخه ها خوا په خپل خیال کې د یو بل علم په باب هم فکر کوي. چې هغه ته د جنیاتو، ښاپېریانو، دیوانو، بلاګانو او ارواګانو نومونه زموږ په فولکوریکو کیسو کې ورکړل شوي دي او زیاتې کیسې ددې خیالي علم پېښې یو په بل پسې بیانوي، دغسې باید وویل شي چې هر څوک په زړه او ذهن کې یو خیال او تصور لري او دې موخې ته د رسېدلو هڅې کوي چې دا د ادبیاتو په وسیله او لوستلو ترسره کېږي. بلکې د نړۍ ټول انسانان د یو خیالي علم په باب فکر کوي، چې کېدای شي په نورو ټولنو کې نومونه هم توپیر ولري. کلیوالو ماشومانو ته خپل مشران په فولکوریکو کیسو کې ډېر خوند ورکوي او په حېرانوونکي ډول یې لوی لوی او له مبالغې ډک کارونه ورته بیانوي. هغه ماشومان، چې په ښاري سیمو کې اوسېږي، بیا له یادو شویو نومونو سره دومره بلدتیا نه لري. او په ښار او ټولنه کې د نویو پرمختګونو په باب کیسې کوي. ددې ټولو کیسو اورېدل یې ډېر خوښېږي، له بلې خوا دغه ډول کیسې ځکه اغېزمنې او خوندورې دي، چې

ژبه یې ولسي خوږه او عام فهمه وي او ډېر ژر د ماشوم په ذهن کې ځای نیسي او خوند ترې اخلي، په دې کې شک نشته چې په ولسي ژبه د دې ډول کیسو لوستل چې پېښې یو په بل پسې بیانوي یو ځانګړی خوند او ارزښت لري.

«بله خبره داده، چې ماشوم له همدې مرحلې څخه د خپلې ژبې کلمات، نومونه او کلیوالي ګړنې په داسې ډول یادوي، چې د ژوند تر اخېره یې له ذهنه نه وځي. نو ویلی شو، چې کومه کیسه او کومې کلمې، چې له ولسي ادب څخه ولسي خلکو ته وړاندې کېږي، له بل هر څه نه د ماشومانو پر وړاندې زیات د مقبولیت چانس تر لاسه کوي. په دې  کې شک نشته، چې هر ولس د شفاهي ادب مختلف څیزونه لري چې له سندرو، متلونو، ټوکو، خندونکو ټوټو او ډول ډول روایتونو رانیولې بیا تر فولکلوریکو کیسو پورې هر یو پر خپل ځای د اهمیت وړ دي».

خو کومه اغېزه چې د ماشوم په ذهن او وده باندې کوي شاید چې اغېز یې له نورو څېزونو څخه زیاته وي. که یوه بریالۍ فولکلوریکه کیسه د هوښیارو او با استعدادو ماشومانو پر وړاندې بیان شي. نو هغوی کولای شي، چې د نوموړې کیسې پنځوس سلنه مفردات په خپل ذهن کې ځای پر ځای کړي او که چېرته له نوموړي ماشوم څخه پوښتنه وشي، نو کولای شي په ډېر کم توپیر سره ددې کیسې مفهوم بیرته درته بیان کړي او که څو ځلې ورته وویل شي نو شاید په بشپړ ډول د ماشوم په ذهن کې ځای ونیسي او ټکي په ټکي د بیان کولو توان  ولري.  البته هغه ماشومان چې استعداد یې له نورو ماشومانو څخه لوړ وي او خبرې کولای شي. د بریالیو فولکلوریکو کیسو په لېږدولو سره مشران په دې توانېږي، چې د خپلې کورنۍ ماشومانو ته په غېر مستقیم ډول سره د ژوند د ټولنیز هدف هغه ځینې اړخونه انتقال او په ښه شکل ور وښیي، چې هېڅ ډول ښوونیز او درسي پروګرام یې په دومره لنډ وخت کې د ښودلو توان نه لري.

همدارنګه ددې ډول کیسې بل اهمیت دا دی، چې دغه ډول کیسه د ولسي ادب اړخونه، نومونه، کلمات، لغات، توري، لنډۍ، کاکړۍ او هر ډول نور مفردات په هماغه اصلي او فصیح او ولسي ژبه ماشومانو ته انتقالوي، چې د خلکو په خبرو کې له پېړیو راهیسې موجودیت لري او زده کړه یې ماشومانو ته اړینه ده، همدارنګه د دې ډول ولسي ادب زیات مفاهیم د لیکلو له لرې څخه پاتې وي، نو تجربو ثابته کړې ده، چې

زیاتره وخت ماشومان د فولکلوریکو کیسو په اورېدلو سره لومړی د خوښۍ او بیا د غوږ نیولو او ارامۍ احساس کوي، چې بیا همدغه ارامي د نوموړي ذهن دومره نرم خوښ او د ارامتیا پر لور بیايي، چې د کیسې خیالاتو رنگینیو کې غرق او د خوب نړۍ ته مخه کړي. که مو پام کړی وي کله نا کله ماشومان په خوړو ځېزونو، نرمو خبرو او نه هم په منت او وهلو ارامېږي، بلکې د نوموړې طریقې په اختیار سره د هغوی ضد، ژړا او نا ارامي نوره هم زیاتېږي، خو کله چې ماشوم د فولکلوریکې کیسې یا نقل اورېدو ته را وبلل شي، نو په مینه مینه د خپلې کورنۍ د مشرانو غېږ ته راځي او هغه ټول ضد، ژړا او نا ارامي له ذهن څخه کډه کوي، چې ورسره مخ شوي وي، نو له همدې کبله هره مور هڅه کوي، چې ځینې دغه ډول کیسې یادې کړي او د خپلو ماشومانو د روزلو په لاره کې ترې گټه واخلي. کله نا کله د ماشومانو د خپلې ذهني تندې او ارامتیا څخه غواړي، چې کیسه ورته بیان شي او حتا د خپلې شوخۍ، ضد او ژړا د پرېښودلو شرط د یوې بریالۍ کیسې اورېدل گڼي او وايي: که یوه کیسه راته کوې نو دا کار نه کوم.

**د ماشوم پر ذهني وده د مورنۍ ژبې او ادبیاتو اغېزې**

هغه عوامل چې د انسان په کړو وړو باندې زیاته اغېزه کوي، یو هم د کورنۍ چاپېریال دی؛ د کورنۍ چاپېریال هغه لومړنی عامل دی چې د انسان د شخصیت پر ودې اغېزه کوي. په دې کې شک نشته چې ماشوم ځینې ځانگړتیاوې له خپلو والدینو څخه په میراث وړي او په دې توگه مور او پلار د اولادونو د ودې او پرمختگ زمینه برابروي چې دې کې مورنۍ ژبه خاص کردار ادا کوي. په حدیث شریف کې راغلي دي چې مفهوم یې داسې دی: د مور او پلار نښې نښانې تل په اولادونو کې څرگندېږي. د انسان په کړو وړو او چلند کې د مور او پلار اغېزې یوازې په ارثي اړخونو پورې محدودې نه پاتې کېږي، بلکې د ټولنې ډله ییز ژوند او فرهنگ په بلدتیا کې هم کورنۍ پر ماشوم اغېزناکه ونډه لري. د ماشوم پر ژوند او کورني چاپېریال کې د کورنۍ د غړو تر مستقیمې اغېزې په تېره بیا د مور او پلار او نورو اغېزې خاص تاثیر کوي. کور هغه ځای دی چې ماشوم په کې لومړی مورنۍ ژبه او نورې بېلابېلې چارې زده کوي.کله کله مور او پلار په شعوري ډول ځینې شیان ماشوم ته ور زده کوي . «مگر ماشوم په بېلابېلو وختونو کې د مور او پلار له کړو وړو

څخه داسې منفي شیان زده کوي چې په خپله د هغوی ورته پام نه وي. په رښتیا چې ماشوم د دغه کوچني چاپېریال له لارې له بهرنۍ نړۍ سره اشنا کېږي او له نورو سره د کړو وړو څرنګوالی زده کوي» .

پر مور او پلار نه یوازې خپل بچیان ګران وي، بلکې د انساني عواطفو پر بنسټ ټولو کوچنیانو ته په مینه او محبت ګوري او کله چې لازمه وي د هغوی ملاتړ کوي. د ملګرو ملتونو سازمان هم هماغسې چې مخکې ورته اشاره وشوه د انسان لوړ مقام او د هغه رښتیني ارزښتونو ته په پام سره خبرو او بېلا بېلو پرېکړو کې د ماشوم د حقونو نړیوالې اعلامیې او د ماشوم د حقوقو کنوانسیون یا تړون کې ټول ماشومان د دې لپاره چې د جسمي او روحي ودې په درشل کې دي او د بشریت راتلونکې د دوی په پوهې، روزنې او انساني کړو وړو پورې اړه لري، ځانګړې پاملرنه کړې ده او د هغه ملاتړ یې کړی او د زیاتې څارنې وړ یې بللي او د نړۍ ماشومانو ته یې د ژوند د وسایلو او روزنې څخه د برخمن کېدو لپاره د لومړیتوب حق ورکړی دی.

« لکه چې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۱۸) مادې په (۱) بند کې لولو دغه کنوانسیون ته په ژمنو هېوادونو کې له والدینو څخه هر یو د ماشوم د ودې او روزنې په برخه کې مسؤل ګڼي. والدین او یا د ماشوم قانوني روزونکي د ماشوم د روزنې او ودې اساسي مسؤلیت په غاړه لري، د ماشوم د روزنې په بهیر کې باید د کوچني لوړو ګټو ته اساسي پاملرنه وکړي. په دې باره کې چې ولې مور او پلار د ماشوم د روزنې او څارنې مسئولیت په غاړه لري او یا په کوم دلیل د هغوی په ساتنه مکلف شوي دي؛ راز راز دلایل وړاندې شوي دي. ځینې پوهان په دې اند دي چې د مور او پلار مسؤلیت او د اولادونو حق د طبي دندو او حقوقو په جمله کې راولي».

ماشوم هغه انسان دی چې له خپلې ارادې پرته نړۍ ته راځي نو پر هغو کسانو چې ژوند یې پرې تپلی دی زیات حقونه لري. دا یو منل شوی حقیقت دی چې ماشوم پر مور او پلار زیات حقونه لري چې له هغې جملې څخه یو هم د مورنۍ ژبې زده کړه ده، ځکه چې د دوی وجود د مور او پلار په وجود پورې تړلی دی او له زېږېدو وروسته لکه بلل شوی او نا بلل شوی مېلمه د مور او پلار پر دستر خوان

راټولېږي. د اسلام سپېڅلی دین هم دې ته اشاره کړې ده، د اسلامي فلسفې له نظره ماشومان ستاسې مېلمانه او د خدای (ج) له خوا نه تاسې ته امانت درکړل شوي دي، تاسې د هغوی پر وړاندې دندې او مسئولیتونه لرئ او د هغوی له خوا ستاسې پر غاړه حقوق دي چې باید دغه حقوق ستاسې له خوا ادا شي هغه هم په ښه توگه، د مننې او درناوي پر اساس، پرته له توپیره، بې له دې چې تبعیض په کې رامنځته شي. اوس باید وکتل شي چې ماشوم پر مور او پلار څه حقوق لري؟ لکه چې لیدل کېږي ماشوم ډېر مظلوم زیانگالی قشر دی، د ځان په ساتنه او د خپلو حقونو او ځان د دفاع لپاره پوره توان نه لري، نو پر والدینو لازمه ده چې د ماشوم د ساتنې او روزنې ستر مسؤلیت پر غاړه واخلي او د حقونو په ساتنه کې یې د همت ملا وتړي، ځکه ماشومان پر مور او پلار باندې ځینې حقونه لري چې د هغوی په ساتنه او څارنه کې هڅه وکړي او له هېڅ راز کوښښ نه ځانونه ونه سپموي. لنډه دا چې د ماشوم راتلونکی برخلیک تر ټولو لومړی د مور او پلار په لاس کې دی. د ماشوم له اساسي اړتیاوو څخه یو هم د مور او پلار مینه او د نورو له مینې او محبت څخه د برخمنېدو اړتیا ده.

هغه ماشوم چې د ژوند په لومړیو کلونو کې د مور او پلار له مینې څخه بې برخې وي په کور کې د بې امنیتۍ احساس کوي، له ژوند څخه خوند نه اخلي، زیاتره وچ، سوړ او له نورو سره بې مینې او بې علاقې وي او په اخلاقي اصولو او قوانینو باندې چندان پابند نه وي. اما بر عکس هغه ماشوم چې د مور او پلار له مینې څخه برخمن وي، له نورو سره د همغږۍ او همغاړۍ توان لري، د سکون او ارامۍ احساس کوي، هغه کې د اعتماد او باور ځواک زیاتېږي او د اخلاقي معیارونو او ارزښتونو په اړه حساس وي. سربېره پر دې ځینې والدین نه غواړي په خپلو اولادونو باندې خپل هدف وتپي؛ خو کله کله دوی د خپلو بچیانو د نېکمرغۍ او خوشبختۍ لپار ه هغوی د ځانکړو کارونو د سر ته رسولو لپاره اړ باسي.

باید وویل شي که چېرې د والدینو هیلې او غوښتنې د ماشوم له امکاناتو، استعدادونو او ځواکمنیو سره سمون ونه لري، نو تر فشار لاندې راځي او په زوره یو داسې کار ته لاس اچوي چې خوښ یې نه وي. ماشوم هغه وخت چې د مور او پلار د بې ځایه غوښتنو پر وړاندې ولاړ وي، کله کله مجبورېږي خپلې غوښتنې او اړتیاوې د

هغه څه لپاره چې مور او پلار یې غواړي قرباني کړي او د مور او پلار نظریو ته تسلیم شي. د مور او پلار بې‌ځایه هیلې او غوښتنې ماشوم دې ته اړباسي چې بې‌لارې او نورو کارونو ته مخه وکړي، نو ماشوم باید په خپلو کارونو او زده کړو کې خود مختاره پاتې شي.

د مور او پلار فشار پرې رانه وړل شي، کله چې ماشوم غواړي کومې زده کړې وکړي، نو مور او پلار دې یې نه مجبوروي چې د دوی په خوښه زده کړې وکړي، نو مورنۍ ژبه کولای شي چې ماشوم ته د زده کړې په برخه کې جرئت ورکړي او د ده په تکلم ( خبرو کولو ) کې له ده سره مرسته وکړي. که چېرې ماشوم په کورنۍ کې په یوه ژبه خبرې کوي او زده کړه په بله ژبه تر سره کوي، نو ماشوم نه شي کولای چې په ټولګي کې رقابت وکړي، ځکه چې د ماشوم د مورنۍ ژبې لغوي زېرمه له ده سره هېڅ ډول مرسته نه شي کولای، په دې معنا چې یو ماشوم په کور کې تر اوه کلنۍ پورې د (۱۵۰۰ څخه تر ۳۰۰۰) پورې لغتونه او کلمې زده کوي او کله چې مکتب او یا ښوونځي ته داخلېږي او په بله ژبه زده کړې تر سره کوي؛ د ده اوه کلنه زېرمه (لغوي پانګه) له صفر سره مساوي کېږي او په ټولګي کې د نورو زده کړیالانو سره صنفي رقابت نه شي کولای، نو په دې خاطر اړینه ده چې ماشوم په خپله مورنۍ ژبه لومړنۍ ټولې زده کړې ترسره کړي. همدا علت دی چې هر ماشوم حق لري په خپله مورنۍ ژبه زده کړې تر سره کړي چې وکولای شي په صنفي رقابت کې له نورو ټولګیوالو څخه کم را نه شي، ځکه په مورنۍ ژبه هر څوک که بېسواده هم وي ښه غږېږي. د ملګرو ملتونو د کنوانسیون په (۲۹) ماده کې راغلي چې هر ماشوم حق لري په خپله مورنۍ ژبه زده کړې وکړي.

همدارنګه خان عبدالغفار خان په خپلو خبرو کې سل کاله مخکې ددې خبرې په ارزښت ټینګار کړی او ویلي یې دي، چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي او له کوم قوم نه چې خپله ژبه ورکه شي، نو هغه قوم ورک شي. هغه زیاتوي انسانان د ژبې په واسطه خپلې ټولې ستونزې او ربړې له منځه وړي او له ټولنې سره خپل روابط او اړیکې ټینګوي او خپلې تجربې په مختلفو لارو نورو ته رسوي او د وختونو او پېړیو له معلوماتو څخه د ځان خبراوي لپاره له همدې ژبې څخه کار اخلي او بیا یې نورو ته هم لېږدوي، نو ځکه ویلای شو، چې ژبه د بشریت د کلتور

ستر ارزښت او بډایه پانګه او د پوهولو او د فکر د څرګندولو یوه عامه وسیله ده. همدرنګه د انساني نړۍ په جوړېدا او یو ځای والي کې ژبه داسې یو کلیدي رول لوبوي، چې له دې کردار څخه هېڅوک سترګې نه شي پټولی. ماشومان، چې نړۍ ته د لومړي ځل لپاره خپلې سترګې پرانیزي او د مور له خوا د ځینو خاصو کلمو په ویلو سره عادت کېږي. د ژړا پر وخت ورته مور ډېرې ارزښتناکې او له هنریت نه ډکې کلمې کاروي. دا کلمې د لومړي ځل لپاره په مورنۍ ژبه یو ماشوم ته د مور په اهنګ لرونکي اواز سره تکرارېږي، چې خوند او غږ یې د انسان د ژوند تر اخېره پورې په ذهن او غوږونو کې وي، چې دا کلمې په مورنۍ ژبه له دې ځایه پیلېږي.

الاهو شه! الاهو!

پیشو مه راځه د غرو

پلانکی جان داسې ویده دی لکه ګوډی د رنجو

دلته د ادبیاتو ونډه په ښکاره ډول څرګندېږي او له دې ځای څخه د ماشوم روزنه پیل کېږي، دا او دې ته ورته نور داسې اوازونه، چې مور یې د لومړي ځل لپاره خپل بچي ته د ویده کېدو پر وخت وایي. دا د مور په ژبه د مورنۍ ژبې هغه خوندورې او آهنګ لرونکې کلمې دي، چې ماشوم د دې تجربو او آهنګ لرونکو اوازونو په اورېدو سره خپله ژړا بنده او پر ځای یې خوب اختیاروي او یا د مور او پلار په مخکې هغسې خنداګانې او لوبې شروع کړي چې د کلیوالو په اصطلاح مور او پلار یې ورته من من غوښې اخلي او غټېږي. مخکې له دې چې د مورنۍ ژبې پر ارزښت خبرې وکړم، غوره ګڼم چې د ژبې او مورنۍ ژبې په اړه یو څه وضاحتونه وړاندې کړم. ژبه څه ته وایي؟ بلخصوص مورنۍ ژبه، د ژبې په اړه د دنیا مختلفو پوهانو او د ژبې پېژندونکو بېلابېل نظرونه وړاندې کړي، چې هر یو یې په خپل ځای د احترام وړ دی.

سویسي ژبپوه فردیناند دي سوسور د ژبې په اړه وایي: «ژبه د تصور او بیا تازه کولو لپاره هغه سمبولونه دي، چې موږ ته زموږ له ذهن څخه د باندې شیان مخ ته کوي. کیدای شي دا نخښې، عددونه، اشارې، رسم او یا نور شیان ووسي)).

الماني ژبپېژندونکی (Karl Bueler) د ژبې په اړه وایي: ((لکه ګنډونکي ته چې ستن، نجار ته څټک، برقي ته پلاس د کار افزار او لوښي دي همدارنګه ژبه هم د ژوند کولو وسیله ګڼل کېږي)).

امریکایي ژبپوه Charless William Moriss د ژبې په اړه وايي: ژبه د ټولنيز رغون څرګندونې او نخښې بلل کېږي، چې سړی پرې د ټولنې له نورو وګړو سره د ژوند روزمره مشکلات هواروي.

نیکلاس لهمن د ټولنې ټولنه په نوم کتاب هم لیکلی، دی د ژبې په اړه وايي: ژبه د ټولنې د جوړولو وسیله ده. ژبه هو، نه، مخ په مخ، په شته والي یو بل سره نژدې کوي.

Roman Jakobson وايي: ژبه د اوازونو د ناوې په توګه پېژندل کېږي.

Noam Chomsky وايي: ژبه په پوهاوي باندې د ټینګار نوم دی.

Jorrold Katz ژبه یو خیالي موجود بولي، چې زیات په ژبساپوهنه پورې اړه لري.

Ludwig Wittgenstein وايي: ژبه د شتو عکس دی او په حقیقت کې د ټولې نړۍ څېره او د نړۍ د واقعیتونو ټولګه بلل کیږي.

Ernst Cassirer وايي: ژبه د نښو یوه ټولګه ده، چې زه او نړۍ او زمونږ تر منځ یو بله نړۍ هم شته، چې ټولنه ده، چې دا موږ ټول بیا د ژبې په واسطه سره تړل کېږو.

Donald Davidson وايي: ژبه د راټولولو او د سر د خلاصولو وسیله ګڼل کېږي.

Wilhelm Wundt وايي: ژبه د ښودلو، څرګندولو او په ګوته کولو یوه سیستماتیک (اوډلی) یون او تګ دی.

Leonard Bloomfield وايي: ژبه یو غبرګون دی، چې شته بیا شته کوي.

Searle وايي: ژبه د خپلمنځي اړیکو لارښود دی.

Paul Grice وايي: ژبه د کره اړیکو او ارزښتونو ټولګه ده.

David Lewise وايي: ژبه ګرد سره دودیز کول دي.

Martin Heidegger وايي: ژبه ده، چې موږ وایو سړی سړی دی او غر غر دی.

Taylor وايي: ژبه (معنا) یا (ترې پېژندل، ترې پوهېدل)....... دي.

Gauker وايي: ژبه د فکر د څرګندولو وسیله ده.

Millikan وايي: ژبه د کره درک کولو وسیله ده.

ژبه د شته سیستم د رواني لړۍ پر مغز اغیزې، او د نظرڅرګندول دي.

ژبه د ارزښت شریکولو او د رامنځ ته شوي مغز زور دی.

ژبه د اړتیاوو او وړتیاوو سره شریکول دي.

ژبه د رامنځ ته شویو مغزو ارزښتونه دي.

ژبه د انسان د مغز انځور بلل کېږي.

دا او دې تعریفونو ته ورته د ژبې د پېژندنې لپاره په سلهاوو تعریفونه (پېژندنې) شوي او هر چا ورته د خپلې ټولنې او ضرورتونو پر بنیاد یو داسې تعریف جوړ کړی چې له ارزښت څخه یې انکار ناشونی دی. د مورنۍ ژبې په اړه به یې له دې خبرې پیل وکړم: موږ په یو نړیوال کلي کې ژوند کوو، چې د ټیکنالوژي او مواصلاتو له امله ورځ په ورځ د پرمختګ پر لور خپل قدمونه پورته کوي.

دا مناسبه بولم، چې انسان باید د یوې ژبې پر ځای ډېرې ژبې زده کړي ځکه، چې دا ژبې له انسان سره کومک کوي، چې د نورو هیوادونو له خلکو سره خپل روابط او اړیکې وساتي، خو تر څنګ یې باید د خپلې ژبې د پرمختګ او پراختیا لپاره هم ډېر کار وکړي، ځکه چې د انسان د ښه پېژندلو لپاره د ژبې او کلتور مطالعه په اسانۍ سره کولای شي خلک او ټولنه په سمه معنا وپېژني. مورنۍ ژبه د لومړنیو زده کړو د بنسټ ژبه ګڼل کېږي، که چېرته په دې وخت کې یو ماشوم په ښه او درست ډول خپله ژبه زده کړي، نو په راتلونکي کې به و کولای شي په ډېرې اسانۍ سره نورې ژبې هم زده کړي. په دې اړه د ټورنټو پوهنتون پروفیسور ډاکټر جیم کیومنز په خپله مقاله کې د دې ذکر کړی او ویلي یې دي: هغه ماشومان چې خپله مورنۍ ژبه یې ښه زده وي، په ښوونځي کې د نورو ژبو د زده کولو ښه استعداد لري، رښتیا هم هغه ماشومان، چې په خپله مورنۍ ژبه پوره تسلط لري، یعنې مور او پلار یې په خپله ژبه ورسره کیسې او خبرې کوي او ډېری وخت له ده سره د مینې او محبت تر څنګ په مناظره او مناقشه تېروي، نو د دې کار په کولو سره د ماشوم مورنۍ ژبه ډېره پخېږي او ډېر په اسانۍ سره کولای شي خپل نظریات له نور سره بې له کومې وېرې او غلطۍ شریک کړي.

لکه د مخه مو، چې د ژبې د پېژندنې په برخه کې ورته اشاره وکړه، چې د مورنۍ ژبې پوخوالی یوه کس ته دا استعداد ورکوي چې ښه فکر ولري او په اسانۍ سره وکولای شي په ساینسي او بشري علومو ځان پوه کړي، د دې تر څنګ د سایکالوژۍ د علم په رڼا کې که یو څوک یو چا ته په مورنۍ ژبه خبرې او درس ور زده کوي، نو د دې استاد دا خبرې په ډېر عجیبه او ښکلي انداز سره د ماشوم زړه ته لوېږي او ډېر

ژر يې په مغز کې ځای پیدا کوي، چې بیا د وخت په تیریدو سره ماشوم دا خبرې او درس له خپلو همزولو سره د ساعتیرې او لوبو پر وخت هم ډېر کله تکراروي.

د سویلي افریقا پخوانی ولسمشر نېلسن منډېلا وایي: « که له یو چا سره په داسې ژبه خبرې وشي چې هغه پرې پوه شي، نو ستا خبره به د هغه مغزو ته ولوېږي، خو که له هغه سره د هغه په مورنۍ ژبه خبرې وکړې، نو دا به د هغه زړه ته ولویږي، په نړۍ کې ټول قومونه په خپل هویت، خپل کلتور او ژبه پېژندل کېږي او هر یو ماشوم له خپل کلتور سره تړي، له کومې ټولنې څخه چې وي، هماغه وي او دا د هغه پېژندګلوي جوړوي، نو که چېرته له یو ماشوم څخه پوښتنه وشي، چې د کوم کلتور او ژبې واله يې، نو پوه شه، چې په هره ژبه او کلتور دی ښه پوهېده، نو د هغه کلتور او ژبې ویونکی بلل کېږي. که کله ماشوم په خپله مورنۍ ژبه ښه نه پوهېده، نو موږ ویلای شو چې هغه د خپل کلتور او ژبې د پېژندګلوۍ له ارزښته بې خبره دی»۱۱

## د مورنۍ ژبې اروايي او پیداګوژیکي ګټې

**اروايي ګټې:** دا په طبیعي ډول د ټولو ماشومانو په فطرت کې اغېزل شوې وي، کله چې د مورنۍ ژبې تر څنګ بله ژبه زده کوي، نو د لومړي ځل لپاره خبرې په خپلې مورنۍ لهجې کې پیل کوي، چې ډېر کله د خپلو ټولګیوالو او یا د انډیوالانو په منځ کې په ځینو کلمو باندې مشهور او تمسخرېږي، چې له دې ځای څخه د ماشوم د کم جرئتۍ او په خپل ځان او نفس د بې باورۍ په وجه ډېری وخت خپلې هیلې له لاسه ورکوي او یوازې په خپله مورنۍ ژبه باندې د خلکو او ملګرو په منځ کې باور پیدا کوي. کله، چې په خپله مورنۍ ژبه باور تر لاسه کړي، نو ماشوم په راتلونکي کې په ډېر جرئت سره کولای شي د خپلو ملګرو، استادانو او حتی د کورنۍ د غړو په مخامخ کې خپل نظر په ډېر جرئت سره څرګند کړي، چې له دې ځایه د ده د اعتماد او باور فضاء جوړېږي او په راتلونکي کې بیا دا ډول ماشوم د هېڅ ډول مایوسۍ او ناکامۍ ښکار نه ګرځي.

**د مورنۍ ژبې پیداګوژیکي ګټې:** چې په مورنۍ ژبه زده کوونکي کولای شي ډېر په چټکۍ سره خپلې زده کړې وکړي. ټولې بنیادي، اصلي او بنسټیزې موضوګانې ډېر په ښه ډول اخیستلی شي او ډېر ژر په یوې نظریې باندې ځان پوهولی شي او په راتلونکي کې یې ډیر په واضحه توګه شننه هم کولای شي. ځکه چې ماشوم په دې

باندې ځان باوري کړي  چې په څه ډول خپل نظر په ښکلو او پیاوړو لفظونو سره بیان کړي، چې ددې کار په تر سره کولو سره له یوې خوا په خپل ځان باور پیدا کوي او په بله معنا د ده ذهني پیاوړتیا نوره هم وده مومي.که فکر وکړو او دې خبرې ته په ډېر دقیق ډول ځیر شو، نو په مورنۍ ژبه باندې د زده کړې ډېرې نورې فایدې  او ګټې هم شته؛ که هغه په اسلامي چوکاټ کې دي، که قانون ده، علمي څېړنې او که نړیوالې څېړنې دي. د بشري حقونو او نړیوالې اعلامې او نړیوالو تړونونو له مخې په مورنۍ ژبه زده کړه په ټولنه کې د هر وګړي حق دی او حکومتونه، او مسؤل چارواکي مکلف دي، چې خپلو خلکو ته دا حق ورکړي. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان د وروستي جمهوریت په اساسي قانون کې د هېواد ټولو اوسېدونکو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق ورکړل شوی دی، چې له نېکه مرغه په افغانستان کې دا کار تر ډېره بریده د (کمیت) له اړخه شوی او د کیفیت له اړخه له ستونزو سره مخ دی. نو ځکه ویلای شو چې په مورنۍ ژبه زده کړه یوه اغېزمنه او له لاسته راوړنو څخه یوه ډکه زده کړه ده او په هغو ټولنو کې چې په مورنۍ ژبه زده کړه ترسره کېږي هم د زده کړې پروسه ګړندۍ کوي او هم زده کونکو ته د ښې پوهې برابرولو چانس زیاتوي چې په دې توګه د زده کړې په علمي څېړنو کې زده کوونکو ته موقع په لاس ورځي چې په دې ترڅ کې یې ښې علمي او بنسټیزې لاسته راوړنې هم تر لاسه کېږي. ښه علمي او نوي کتابونه لیکل کېږي، نوي نظریات را منځ ته کېږي، چې دا ټول علمي او د مورنۍ ژبې په اړه پرمختګونه، د ټولنې د پراختیا او پرمختیا سبب کېږي.

د مقالې په دې برخه کې به وګورو چې ادبپوهان په کوم اند دي؟ د ادب په اړه څه وایي؟ او ادب څنګه راپېژني؟ خو بیا هم له دې سره سره د ادبپوهانو او څېړونکو له خوا چې د ادب کلمې د لغوي او اصطلاحي توضېح، تغیر او پېژندنې په برخه کې څه ویل شوي هغه ډېر مشترک ټکي دي.

پښتو - پښتو تشریحي قاموس کې د ادب د لغوي پېژندنې په اړه راغلي دي:

۱ـ عزت، خاطر، لحاظ، سرېتوب

۲- تمیز، تهذیب، تعظیم

۳ـ علم، پوهه، زده کړه

۴ـ حیا، پرده او تربیت پالنه

د پښتو ادبیاتو فرهنګ د درېیم ټوک لیکوال د فرهنګ معین په حواله د ادب لغوي معنا فرهنګ، پوهه، هنر، ښه سلوک، تادیب او تنبیه اخیستې ده. پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ په دویم ټوک کې لیکي: ادب په عربي ژبه کې ښېګڼې، د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي، چې ظرافت او حسن تبادل یې لنډ تعریف دی. اصطلاحي معنا: ادب هغه پوهنه یا هغه ریاضت دی چې سړی د هغې په واسطه یو فضیلت او یوه ښېګڼه له ښېګڼو څخه مومي او یا یې له تېروتنو او خطاوو څخه ژغوري. نو خلاصه ادب دلغت او اصطلاح له مخې ښېګڼه ده چې سړی له خطاوو او بدو څخه ساتي او په خوی او خلق اړه لري چې بیان یې د اخلاقو د علم کار دی.

الفت صیب یې په ادبي بحثونو کې داسې راپېژني: اصل یې (هذب) دی د بې عیبه په معنا، د هذب کلمه په اصل کې دهغې ونې لپاره استعمالېده چې څانګې او ښاخونه به یې قطع شول او صافه به شوه، وروسته دا کلمه د محسوسیاتو نه معنویاتو ته رانقل شوه او هغه چا ته هم وویل شوه چې عیبونه به یې ورک شول یعني مهذب به شو. ځینې وايي په یوناني ژبه کې ادیب هغه چا ته ویل کېده چې خبرې به یې خوږې وې او د ښه اواز او ښې نغمې خاوند به و. نو د ادب کلمه د جاهلیت په زمانه او د اسلام په اوایلو کې نه وه ځکه نه د هغه وخت په ادبي اثارو کې راغلې او نه په قرانکریم کې بلکې د لومړي ځل لپاره په دې نبوي حدیث کې (ادبنی ربی تادیبی) کې ذکر شوې ده. همدارنګه لغوي معنا خو یې تهذیب دی نو څه شی چې د چا سره او کوم شي سره مناسب او لایق وي هم ادب ورته ویل کېږي.

اصطلاحاً: ادب هغه پوهه ده چې انسان په خپله وینا کې له خطا او غلطۍ څخه ساتي، نو ځکه ادبي علوم هماغه بلل کېږي چې د وینا ښه والی او بد والی، غلط او صحیح، خوږ والی او پیکه توب ښیي او په منثور او منظوم کلام کې د فصاحت او بلاغت له خوا بحث کېږي. د ادب علم په اوله معنا د اخلاقو له علم څخه عبارت دی او په دویمه معنا د ادب علم هغه پوهنه ده چې د ویلو، لیکلو او ښې وینا ډولونه رانښيي او همدارنګه د نظم او نثر ښه والی، بد والی او نورې مرتبې بیانوي.

**پایله**

همېشه په دې فکر کې یم چې د خپلې ژبې، فرهنګ او ادبیاتو ته داسې څه وکړم چې نن او سبا د ټولو په درد وخوري او په خاصه توګه د ماشومانو د زده کړې په برخه

کې چې هغه هم په ادبیاتو پورې اړه ولري. دا یوه داسې موضوع ده چې د ټولنې هر وګړی او هر موراو پلار هڅه کوي ترڅو خپلو اولادونو ته د ښې زده کړې زمینه برابره کړي نو دالله شکر اداکوم چې په دې برخه کې یې ماته دا توان راکړ چې د خپلې ژبې او فرهنګ ته د خدمت جوګه شوم. دغه موضوع د ماشوم په زده کړه کې دادبیاتو ونډه ډېره په زړه پورې او نوې موضوع ده او هڅه پکې شوې ده چې د مورنۍ ژبې ونډه، د دین له اړخه د ماشوم زدکړه، د قانون او بشري حقونو نړیوال کنوانسیون له اړخه او له څو نورو اړخونو څخه هم د ماشوم پر زده کړه باندې تاکیدونه را اخیستل شوي دي. په پورتنۍ مقاله کې هڅه شوې ده چې د ماشومانو پر زده کړه باندې د ادبیاتو ونډه په ښه او سیستماتیکه بڼه تشریح شي تر څو چې زمونږ د هیواد ماشومان د ښو زده کړو خاوندان شي.

**مأخذونه**


۱- شېزاد، پښتون آقا. د ادبپوهنې بنسټونه، انتشارات نویسا، کابل، ۱۴۰۱.

۲- بانډه وال، حسن ګل. په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لارښوونې، ننګرهار، د کور د خپرونو څانګه ۱۳۷۹.

۳- حسن زی، نرګس. د ماشومانو ادبیاتو لیک لارښود،کابل: save the children،کابل، (۱۳۹٦).

۴- کلیوال، اسدالله. د ودې اروپوهنه، سید حسیب الله خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵لمریز کال.

۵- شېزاد، پښتون اقا. د ژبې د تدریس اصول، نویسا خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵لمریز کال.

٦- رودوال، بیت الرحمن. د ماشوم د ادبیاتو تنقیدي او تجزیاتي مطالعه، (ناچاپ) د دوکتورا ډیزرټېشن، پېښور اکاډمي ۱۳۹۸ لمریز کال.

۷- اکبري، ننګیالی. تربیتي او روزنیزه اروپوهنه، ننګرهار، زیارخپرندویه ټولنه ۱۳۹۷ لمریز کال.

8- Peter ،Blatchford (۲۰۱٦) ،the child at school ،London ،Routledge Hand Book.

٩ ـ The Children's Society (٢٠٠٧). The Good Childhood National Enquiry: Evidence Summary One – Friends. Retrieved ١٠September ٢٠٠٧, from www.childrenssociety.org.uk/ resources/documents/good%٢٠childhood/Friends%٢٠evidence%٢٠summary_٢٧٢١_full.pdf.

١٠- Epstein, J.L. (١٩٨٩). The selection of friends: changes across the grades and the different school environments. In Berndt, T.J. & Ladd, G.W. (Eds), Peer Relationships in Child Development. New York: Wiley.

پوهنیار احسان‌الحق کبیر


# په ناول لیکنه کې د صحنه جوړونې هنر

# The Art of Creating Scene in Novel


Assistant Prof. Ehsanulhaq Kabir



## Abstract

In literature, the scene is created primarily from theatre, and it has influenced fictional literature. In the field of literature, a scene refers to an event that is happening in an assigned time and particular place by characters. In Pashto storytelling literature, the importance of the scene has been overlooked, and many writers do not pay enough attention rather focusing only on scenery which doesn't surround all aspects of a scene. In consideration of the value and importance of scenes in fictional literature, scholars need to pay close attention and they are required to create their scene in a precise and accurate manner. This study examines theoretical works and novels and highlights those ways that are useful for crafting effective, precise, and sustainable scenes.



## لنډیز

صحنه په اصل کې له تیاتر سره را پیدا شوې، له هغه لارې یې ټول کیسه‌ییز ادب ته لاره موندلې ده، په کیسه‌ییز ادب کې هغه پېښه چې په ځانګړي ځای او ټاکلي وخت کې د کرکټرونو له خوا رامنځته کېږي، صحنه بلل کېږي. په پښتو داستاني ادب

کې څېړونکي د صحنې له برخې لږ څه څنګزن تېر شوي دي، دېره پاملرنه يې نه ده ورته کړې. تر ډېره صحنه د منظرکښنې په برخه کې رانغاړل شوې ده، چې دا د صحنې ټولې برخې نه شي چاپېرولی. د صحنې ارزښت او اهمیت ته په کتو سره چې په داستاني ادبیاتو کې يې لري، باید دې برخې ته پاملرنه وشي او لیکوال خپلې صحنې په دقیقه او سمه توګه ولیکي. په دې څېړنه کې هڅه شوې چې په دې موضوع پسې د تیوري د برخې کتابونه او هم عملاً ناولونه وکتل شي. ټولې هغه لارې چارې چې موږ کولی شو د هغو په مرسته اغېزمنې، دقیقې او پایېدونکې صحنې ولیکو، په دې مقاله کې ښودل شوي دي.

## سریزه

د پښتو د داستاني ادب په اړه په لیکل شویو تیوریکي آثارو کې تر ډېره صحنه یا صحنه‌جوړونه له پامه غورځول شوې؛ کله چې د صحنه/ صحنې کلمه یاده کړو، ذهن ته مو فلم را تداعي کېږي. موږ د صحنې کلمه یوازې په فلمونو کې اورېدلې او پرې پوه شوي یو، خو ټوله خبره یوازې په فلم کې نه شو نغاړلی. صحنه اصلاً له تیاتر څخه را پیل شوې، همداسې داستاني ادبیاتو او فلم ته یې لاره موندلې ده. صحنه د پېښو لپاره هغه لوښی دی، چې په هغه کې په ټاکلي وخت او په مشخص ځای کې د څو کرکټرونو له خوا کړنه ترسره کېږي. دلته درې څیزونه مخې ته راځي؛ مهال، ځای او شخصیت (کرکټر) یعنې یوه صحنه د همدغو درېوو له یو ځای‌والي څخه جوړېږي. هر څوک چې کیسه لیکي (که هر ډول یې وي) اړ دی چې د صحنه‌لیکنې په اصولو ځان پوه کړي، که داسې و نه کړي، صحنې به يې تکراري او مبتذلې وي چې لوستونکی به یې د یو ځل لوستلو حوصله هم و نه لري. زموږ ځینې صحنې له فلمونو څخه تقلید شوې دي، دا چاره د لیکوال او لوستونکي ترمنځ اړیکه ګوانښي او په راتلونکي کې د لیکوال له آثارو د لوستونکي زړه توروي. دلته یوه لویه تشه چې تر سترګو کېږي، هغه د کره‌کتنې نه شتون دی، چې د ادبیاتو د صیقل کولو لپاره یوازینۍ لاره ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

ناول د بېلابېلو صحنو ټولګه ده، چې د ټولو ترمنځ عاطفي تړون موجود وي. د مبتدي او ماهر لیکوال ترمنځ توپیر هم په همدغو صحنو سره کېږي. ښه لیکوال

کوښښ کوي چې موضوع ته له یو داسې اړخ څخه وګوري چې لوستونکي ته په زړه پورې وي او په صحنه کې هغو توکو ته اشاره وکړي چې د لوستونکي د احساس تارونه وترنګولی شي. ځکه مې دغه مقاله په همدې مهمې او اړینې موضوع ولیکله چې تر اوسه زموږ لیکوال ورته ډېره پاملرنه نه کوي.

## د څېړنې موخه

- په ناولونو کې د صحنو د اهمیت جوتول.
- ښه صحنه موږ کومې صحنې ته ویلی شو؟
- په صحنه جوړونه کې د پښتو ناول لیکوالو مهارت او لوستونکو سره په همدې برخه کې د هغو د تجربو شریکول.

## د څېړنې پوښتنې

۱. صحنه‌جوړونه څه ته وایي او په داستاني ادب کې څومره ارزښت لري؟
۲. ښه صحنه موږ کومې صحنې ته ویلی شو؟
۳. په پښتو ناولونو کې صحنه جوړونې ته څومره پام شوی دی؟

## میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي- توصیفي دی او ډول یې کتابتوني دی.

**صحنه:** ناولونه د بېلابېلو صحنو ټولګه ده او هر ناول د هغو په ښو صحنو تلپاتې کېږي. ادبپوهانو د صحنې په اړه بېلابېل پېژندونه وړاندې کړي دي. «صحنه هغه ځای یا شېبې دي، چې ناول په کې پېښېږي یا په بله ژبه هغه ځمکه ده، چې د ناول څېرې په کې خپل رول ترسره کوي او یا هغه مهالي او توني لوښی دی، چې په یو ناول کې د عمل پېښې څرګندوي.» (۱: ۸۵مخ)

د «صحنه» ویی له تیاتر څخه راغلی دی، هغه پېښه ښیي چې په یو خاص ځای او مهال کې شوې وي. دغه اصل په داستاني ادبیاتو کې هم صدق کوي: صحنه هغه مهال پیلېږي چې شخصیتونه یو ځای ته ورشي او یا هغه ځای پرېږدي (ترې ولاړ شي). (۲: ۱۴- ۱۵مخ) «د کیسې صحنه لکه له نوم څخه یې چې څرګندېږي، هغه ځای چې د کیسې عمل په کې ترسره کېږي؛ په بل عبارت، هغه زمینه ده چې د هغې پر وړاندې د کیسې اشخاص خپل رول لوبوي.»(۳: ۳۱۶مخ)

د ناول په زمان او مکان کې چې کوم عمل ترسره کېږي، هغه ته صحنه ويل کېږي. (۴: ۲۹۰مخ) د ناول صحنه هغه کړنه ده چې په يو ټاکلي مکان او زمان کې ترسره کېږي. د ناول کرکټرونه د وسيلې به توگه په کښې لوبېږي. (۴: ۲۹۱مخ)

په پورته پېژندونو کې درې بنسټيز ټکي دي، چې هغه زمان، مکان او اشخاص دي، يعنې د صحنې په جوړولو کې دغه درې برخه لري، په يو ځانگړي ځای او ټاکلي وخت کې چې د کيسې اشخاص څه کوي، همدې ټولگې ته صحنه ويلی شو. د پښتو داستاني ادبياتو په اړه چې کومې تيوري ليکل شوې دي، په هغو کې د صحنې يادونه کمه شوې ده. که څه هم په دې وروستيو کې ليکوالو پر صحنه ټينگار کړی او د هغې په اړه يې ان عملي لارې چارې په گوته کړي، چې دا چاره به په راتلونکي کې زموږ پر داستاني ادبياتو ښې اغېزې ولري. د پښتو د داستاني ادبياتو د جوړښتي توکو په منځ کې د «منظرکښنې، منظرې او ايمجري» يادونې شوې دي چې د صحنې د اجزاوو او غړو په توگه يې يادولای شو. دا ټول د صحنې د ځای توصيف او تشريح ده. ليکوال چې کله غواړي يوه صحنه وليکي او تر لوستونکي ورسوي، څلور مهم څيزونه بايد له پامه و نه غورځوي. «مهال، ځای، شرايط او غوښتنی او عمل يا اکشن». (۳: ۳۱۹مخ)

هر ليکوال په دې برخه کې خپل فردي سبک لري چې ځينې وخت ته ډېر ارزښت ورکوي، ځينې بيا ځايونه په ښه ډول تشريح کوي او ځينې بيا د شخصيت په بېلابېلو اړخونو؛ لکه رواني، ظاهري او ټولنيزو اړخونو ډېر ټينگار کوي. يوه پېښه کېدای شي په يوه واحد ځای کې پېښه شي. مهمه هم نه ده چې هغه ځای ته څومره شخصيتونه تگ و راتگ کوي. (۲: ۱۵مخ) يعنې پېښه په ځای او اشخاصو نه غځېږي او نه ارزښتمنه کېږي، بلکې د پېښې ډول اړين دی. پېښې ته له يو داسې اړخه کتل ارزښتمن دي چې لوستونکی له ځان سره واخلي، ځان په کې شريک وگڼي او پر عواطفو يې اغېزې وښندي. صحنه له دې اړخه چې پيل، منځ او پای لري؛ د يوه بشپړ ناول په څېر ده. د دې لپاره چې صحنه په ښه بڼه جوړه شي، بايد ډاډه شو چې له دغو دريوو څخه هر يو جز چې په کيسه کې ځانگړی کار لري، هغه په سمه توگه ترسره کړي. سره له دې چې ممکنه ده يو ناول يا بشپړه کيسه لسگونه او حتی سلگونه صحنې ولري، خو د ټولو صحنو جوړښت په يو ډول دی: ټولې پيل، منځ او پای لري. (۲: ۲۷مخ)، خو د پای په اړه يې يوه يادوه اړينه ده چې دلته هم ځينې ليکوال

کونښن کوي چې د کیسې پای په داسې ډول ولیکي چې د لوستونکي تخیلي ځواک ته په کې ځای وي، چې دا د پای یو ډول بللی شو، نه دا چې د نیمګړتیا ګمان پرې وشي. ایا د اوږدوالي او لنډ والي له مخې ټولې صحنې یو ډول دي؟ که نه اوږدې او لنډې صحنې لرو. دا ډېره اړینه او مهمه خبره ده؛ له لیکوالو سره مرسته کولای شي چې هغوی د خپلو صحنو د اوږدوالي او لنډون په اړه فکر وکړي او د لوستونکو غوښتنې په پام کې ونیسي. تاسې به کله له یو داسې ناول یا کیسې سره مخامخ شوي یاست، چې د یوې صحنې لوستلو دومره ستړي کړي اوسئ چې د هغې لوستل مو پرې ایښې وي او که داسې مو نه وي کړي، له هغه ځایه مو ټوپ اچولی وي او د یوې نوې صحنې په لوستلو مو پیل کړی وي. زه چې کله له داسې یوې پېښې سره مخامخ شم، سرسرکی ترې تېرېږم، ترڅو بله صحنه ومومم او له هغه ځایه یې پیل کړم. دلته اصلي مسئله د صحنې د اوږدوالي او لنډوالي ده. زموږ د تازه‌کارو او نویو لیکوالو او یو نیم مشهورو لیکوالو په نالونو او کیسو کې داسې ستونزې لیدلی شو. د نویو لیکوالو په اړه کېدای شي ژر قضاوت وکړو، چې نور یې نه لولو، خو د نامتو لیکوالو په اړه که داسې قضاوت نه کوو، خو په زړه کې خو به مو هرو مرو دا خبره ورته اچولې وي او په نورو کیسو کې به یې هم په همدې نیمګړتیا پسې ګرځو او په دې سره هغه ادبي تنده چې د لوستلو لپاره یې لرو، راکمېږي. «تازه‌کاره لیکوال زیاتره وخت غواړي چې صحنې ډېرې لنډې او یا ډېرې اوږدې کړي. دا بشپړه طبیعي ده، لکه د باسکټبال نوکاره لوبغاړی؛ لومړی توپ دومره په زوره ور اچوي چې د باسکټبال له درې څخه واوړي او یا یې دومره ورو اچوي چې د ده په دوه قدمۍ کې ولوېږي. تاسو هم باید د خپل کار واټن باندې پوه شئ، ځکه ډېرې اوږدې صحنې ستاسو د کیسې چټکتیا او بیړه راکموي.» (۲: ٦٥مخ)

دلته د چټکتیا او سرعت مسئله یاده شوه، کله چې موږ کیسه لیکو، هغه باید یو مناسب سرعت ولري چې د لوستونکي هغومره وخت ونیسو، په څومره کې چې موږ ورته دا کیسه کولای شو، د صحنو اوږدوالی دا برخه زیانمنوي او لوستونکی ستړی کوي. برعکس هم همدا خبره ده، چې د سرعت کموالی هم د کیسې خوند کمولای شي. زه چې کله پټان ناول لولم، دا ارمان کوم چې کاشکې سرعت لږ راکم وای، پاڼې به ډېرې شوې وې، خو کیسه به مو لا هم خوندوره لوستې وه.

د صحنې اوږدوالی د صحنې موخې ته په کتو او د نورو صحنو په منځ کې چې کوم ځای لري، د هغې له مخې ټاکل کېږي. (۲: ٦٦مخ)

کله چې د اوږدوالي خبره کېږي، د مخونو شمېر ته فکر مه کوئ، هغه وخت ته فکر وکړئ چې لوستونکی په لېوالتيا سره صحنه لولي. صحنه هغه مهال «اوږده» ده چې د لوستونکی پام او حواس سره وپاشلی شي او هغه وغواړي چې يا يې له لوستلو لاس پر سر شي او يا هغه نالوستې پرېږدي او ترې تېر شي او هغه وخت «لنډه» ده، کله چې لوستونکی د سرگيچې احساس وکړي، ځکه دی نه دی توانېدلی چې د هغې صحنې په کيسه کې شريک شي او هغه تجربه کړي. (۲: ٦٧مخ)

لکه څنگه چې د صحنې اوږدوالی د ناول يا کيسې لپاره عيب دی، همداسې لنډوالی هم ښه نه شو بللی او دواړو ته پاملرنه په کار ده. ادبپوهانو د دې لپاره چې کومې صحنې اوږدې او کومې لنډې وليکو، ځينې لارښوونې کړې دي، چې په لنډون سره به يې يادونه وکړو: کومې صحنې لنډې وليکو: هغه صحنې چې د داستان د طرحې په اړه وي؛ هغه چې فني معلومات وړاندې کوي؛ توصيفي صحنې؛ عاشقانه او له سوزه ډکې صحنې. (۲: ٦٧- ۷۰مخونه)

کومې صحنې اوږدې وليکو: د خبرو (ډيالوگ) د ليکلو پرمهال؛ د عاطفي صحنو د ليکلو پرمهال؛ معلقې صحنې (هغه چې د لوستونکي تلوسه له ځان سره په معلق ډول ساتي) (۲: ۷۰- ۷۳مخونه)

د لنډوالو او اوږدوالي ترڅنگه يو بل مهم عنصر موخه ده. موخه يا هدف زموږ صحنې ته اساسي کرښې کاږي او نه مو پرېږدي چې له هغه نه لرې شو. د کيسه ليکوالو تجربه دا ده چې موږ بايد کوچنۍ موخې وټاکو، ترڅو موږ لوستونکی له ځان سره وساتلی شو. «د کوچيني هدف ټاکل کيسه چاړوي او اضافه خبرې ترې باسي، هڅه وکړئ چې يوه موضوع انتخاب کړئ، فکر ورته وکړئ، هدف ورته وليکئ او کيسه د هدف له مخې وغځوئ.» (۵: ۱۳مخ)

لکه څنگه چې په ژوند کې موخې ټاکو، همداسې بايد ليکوال د صحنې او په ټوله کې د خپلې کيسې لپاره موخه ټاکلې وي او پر هماغې راوڅرخي. دا چاره موږ له اضافي خبرو او نا اړوندو تصويرونو ساتي. نصير احمد احمدي په دې اړه وايي: «د کوچيني هدف ټاکل، هغه تصويرونه راباندې ويني چې تر اوسه د بل ليکوال پام نه

وي ور اوښتی. که کیسه هدف ولري، عمومي، تکراري او اضافه تصویر به ور نه کړو، تصویرونه به دقیق وي.»(۵: ۱۴مخ) دلته که څه هم په عام ډول د کیسې خبره یاده شوې، په صحنه کې د کوچنۍ موخې ارزښت تر دې هم لوړ دی، باید کوچنۍ موخې وټاکل شي، تر څو د لوستوکی ذهن راټول وساتلی شو او هغه کیسه په غور سره ولولي. زموږ پر ځینو لیکوالو دا نیوکه هم کېږي چې په کیسه کې یې تصادفات زیات وي. اصلا په کیسه کې تصادف ځای نه لري، د یوې کیسې په پلاټ او بیا چې کله صحنې جوړېږي، لیکوال باید د تصادف مخه ونیسي. هر څه ته باید یو منطقي دلیل ولري. له استاد شپون سره ایمل پسرلي د هغه د «ښایستو» ناول په اړه مرکه کړې وه او استاد نه یې یوه پوښتنه کړې وه: «د ګټیالي پر ناول مو ځینو نقد کاوه چې ګواکې تصادفونه په کې ډېر دي، شاید په ښایستو باندې هم دغه خبره وشي، په داستاني آثارو کې پر تصادف تکیه ښه بولئ؟ استاد شپون: نه تصادف باندې تکیه ماته ګناه ښکاري. یو ناشونی کار چې شونی شي او سړی یې (په لیکنه) کې شامل کړي نو سم یې نه بولم، ما چې په خپلو اتلان[و] څه کړي، هغه په هغه حالت او هغه شېبه کې ممکن و، چې هغه کسان یې وکړي.» (٦: ۱۴۲مخ)

کیسه لوستونکی هم چې کله کیسه لولي او له تصادف سره مخامخ شي، د هغه ذهن له کیسې څخه لرې کېږي او په دې لټه کې کېږي چې دا څنګه یو په یو را پیدا شو. د ډېرو ښو لیکوالو په صحنو کې هم موږ له تصادفاتو سره مخامخ کېږو، خو هغوی له تصادف نه وروسته د کیسې سرعت او شدت زیاتوي، تر څو د لوستونکي ذهن هلته مصروف کړي. یوه بله مهمه مسئله د تخیل او حافظې ده. که څه هم په ټولو تخلیقي ادبیاتو کې تخیل او حافظه تر ټولو بر ځای لري، خو دلته دغه یادونه له دې امله کوم، چې زموږ ځینې کره کتونکي په دې اند دي چې تخیل یوازې په منظومو ادبیاتو پورې مربوطېږي. داسې نظر لرل لږ د تأمل وړ دی. که منظوم ادبیات وي او که منثور، تخیل او حافظه خپل ارزښت لري او پرته له دې نه به یې پنځول ناممکنه وي، که وي هم یوازې ژورنالیستیکي راپور هغومره ارزښت به ولري. «د (پېښو) په توصیف (او تشریح) کې حافظه او تخیل د لیکوال مهم اوزار دي.» (۳: ۳۲۲)

پرته له دې (تخیل او حافظې) لیکوال خپله موضوع په سمه توګه نه شي تشریح کولای. «د تخیل قوه په حقیقت کې هغه امر، خاصیت او کیفیت دی، چې د

مشاهداتو ذخيره، افکار او احساس په کار اچوي او په دې وسيله شخص په دې قادروي چې د واقعي نړۍ ترڅنګ له خيالي اشخاصو او پېښو سره خيالي دنيا جوړه کړي. (۳: ۳۲۳)

د «هنر داستان نويسي» ليکوال د تخيل په اړه د پوستوفسکي نظر را اخيستی، نوموړی وايي: «مګر د نيوټن د جاذبې قانون، د انشيټينی نسبيت، د اتم ماتول، د تريستيان وايزوټ کيسه، هاملت، راديو، الکتريسيته له دې ځواک (تخيل) نه پرته بل څه کېدای شي؟ د تخيل قوه چې ودرېده، بشر به هم (نور) بشر پاتې نه شي.» (۳: ۳۲۳) له دې ټولو نه ځرګندېږي چې تخيل، لکه څنګه چې په منظوم ادب کې اصل او بنسټ دی، په داستاني ادبياتو کې هم مهم ځای لري، خو په هغه کچه هم نه لکه څومره چې په شعر او شاعرۍ کې ده، ځکه موږ د لنډو کيسو او ناولونو په تعريف کې وايو چې دا د ژوند يو بل نوم دی يا کټ مټ حقيقت ده او يا کم ترکمه حقيقت ته ډېر نږدې وي. چې دغه چاره د تخيل محدوده د حقيقت په تار تړي، يعنې هڅه دا ده چې د تخيل په وسيله حقيقت وپنځول شي. که له موږ نه دا پوښتنه وشي چې موږ کومې صحنې ته په زړه پورې ووايو او کومې ته يې و نه وايو، د دې ځواب به موږ ته سخت وي، ځکه دلته د هر لوستونکي ذوق، غوښتنې او د ادبي صلاحيت خبره رامنځته کېږي، ممکن يوه ته يوه او بل ته بله صحنه په زړه پورې وي، خو د ښې صحنې په اړه کېدای شي د نظر وحدت ژر راشي. د «ښه ناول وپېژنئ!» ليکوال د صحنې د په‌زړه‌پورې والي لپاره څو مهم ټکي ياد کړي، چې په لنډون سره به يې يادونه وکړو:

۱. هدف: هاغه څه ته وايي چې کرکټر د صحنې په پيل کې د هغه د ترلاسه کولو لپاره په عمل لاس پورې کوي.

۲. لانجه: کرکټر د هدف د ترلاسه کولو لپاره بايد ځينې خنډونو سره مخامخ شي، تر څو صحنه په زړه پورې شي، هدف بايد اسانه تر لاسه نه شي.

۳. ناورين: دا د هدف په ترلاسه کولو کې د کرکټر ناکامي ته وايي؛ ليکوال بايد کرکټر له ناورين نه بريالی وباسي، تر څو لوستونکی بلې صحنې ته ولاړ شي.

۴. غبرګون: د ناورين له منځه تر پايه تېرېدو ته غبرګون وايي.

۵. د ډانګ او پړانګ ترمنځ د انتخاب ستونزه: دا داسې حالت دی چې له ناورین څخه د وتلو ښې لارې چارې نه لیدل کېږي. هره لار تر بلې بدتره وي. دا کار لوستونکي ته اندېښنه پیدا کوي. هغه په دې چورت وهي چې د کرکټر سره به نور څه پېښېږي. خو کرکټر بیا دا مهال د مختلفو ناسمو لارو ترمنځ چاڼ کوي چې کومه یوه یې د انتخاب لپاره تر نورو ښه ده.

٦. پرېکړه: د بېلابېلو ناسمو لارو ترمنځ د نسبتاً ښې لارې انتخاب ته وایي. (۷: ۱۲۴- ۱۲٦مخونه)

دلته چې کوم جوړښتی توکي ښودل شوي، په ټولو صحنو کټ مټ د تطبیق وړ نه دي، خو په اصلي او یا مهمو صحنو کې تر ډېره تطبیق کېږي او لیکوال ته د ترسیم ښې او غوره کرښې په لاس ورکوي. یوه مهمه پوښتنه چې په عام ډول ټول لیکوال او په ځانګړي ډول نوي لیکوال ورسره ډېر لاس او ګریوان دي، هغه دا ده چې کیسه یا ناول له کوم ځایه پیل کړو او لومړۍ صحنه څنګه یوه صحنه راوړو، په خپله صحنه په څه ډول پیل کړو. که د کیسې د پېښېدو ځای په خپله په صحنه او یا کیسه کې اساسي رول (نقش) ولري، کولای شئ کیسه د هغه ځای په توصیف سره پیل کړئ. (۲: ۴۱مخ)

لکه په شین‌ټاغي ناول کې. استاد سعدالدین شپون د کیسې د پېښېدو د ځای او کیسې ترمنځ اړیکه ډېره ټینګه ساتلې ده: «د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریبا هوار غوړېدلی و. د اوړي د وخت شېلې یې اوس هواره سپینه مځکه وه او ګړنګونه او ژور خوړونه یې داسې له واورو ډک وو، چې د نابلد سړي به زړه غوښتل چې د سړک نه ورکوز شي او چکر پرې ووهي. د واورې د دې ارتې ورشو آهنګ ایله دوه ځایه مات شوی و. یو د تونل خوله وه چې د کړکۍ نه داسې سر ته ورته وه چې بدن یې په سپین کپن پوښلی وي، بل هغه کمر و چې څلور پنځه کیلو متره د تونل کینې خوا ته د سړک خواته راکړوپ شوی و او په دېوال باندې یې د واورې د تم کېدو ځای نه و او چې به د واورې په شېبو کې وقفه راغله او لمر به شو، نو داسې سوربخون ښکارېده؛ لکه د پېغلې مخ چې چارچاپېره ترې سپین څادر تاو شوی وي.» (۸: ۱مخ)

په پورته بېلګه کې موږ ته د یوې صحنې د پېښېدو ځای تشریح کوي. لیکوال کوښښ کوي چې د خپلې صحنې د ښې تشریح لپاره ټول هغه اسباب چې د ده دغه

صحنه د لوستونکي د زړه تل ته کښته کوي او هغه واقعیت ته نږدې کوي، هر څه تشریح کړي. د خپلې صحنې د وحشت لپاره د پرېمانه واورو ذکر کوي چې لویې لویې شېلې ډکې کړې دي. ځینې لیکوال بیا ناولونه په ډیالوګ پیلوي: «کمپیوټر مې چالان کړ، ایمېلونو ته ورغلم، څلور ایمېله ول. درې دفتري او یو هم ناشناخته.

ناشناخته ایمېل مې لومړی وکوت، لیکلي و:

- مرم، د ژوند کیسه مې لیکې؟

ادرس ته مې وکتل، ګډوډ توري لیکل شوي وو. سر مې پسې و نه ګرځاوه، د دفتر ایمېلونه مې ځواب کړل، د مېز پر سر د راډیویي خپرونو پرتو متنونو اصلاح غوښته.

لس بجې وې، په هماغه ادرس بل ایمېل راغی.

- فکر دې وکړ؟

و مې لیکل:

- ته څوک یې؟

دقیقه ووته، ځواب راغی:

- ستا دوه- درې ناولونه مې له انټرنیټه راواخیستل. هیله کوم. د چټ پاڼې ته ورشه!

هماغسې مې وکړل.

و یې لیکل:

- سلام

- وعلیکم. ته څوک یې؟

- اممم... ضروري ده؟

- هو

- دوه ویشت کلنه یم.

و مې لیکل:

- پوره ځواب نه و.

- ها ها ها...

ولې خاندې؟

ویې لیکل:

- زما د ژوند کیسه لیکې؟

- نه!

دوه ویشت کلنه یم.

دوه ویشت کلنه یې که دوه ویشت کلن؟...(۹: ۱مخ)

په ډیالوګ د صحنې پیل بې له کومه ځنډه د کیسې چټکتیا زیاتوي او په لوستونکي کې لېوالتیا ایجادوي، ځکه لوستونکی غواړي د هغه ځای په اړه چې دغه خبرې اترې په کې رامنځته شوې، ډېر پوه شي. (۲: ۳۴مخ)

که خپله کیسه د یو ځای په صفت سره پیل کړئ، په حقیقت کې لوستونکی ته اعلانوئ چې د کیسې د پېښېدو ځای د داستان لپاره یوازې ځمکه نه، بلکې په دغه صحنه کې ځای پر شخصیتونو او پېښو ډېرې او مستقیمې اغېزې لري. (۲: ۴۱مخ)

لکه په پورته د شین‌ټاغي ناول د پیل صحنه چې موږ ته سالنګ انځوروي، سالنګ او هغه پېښې چې دلته رامنځته کېږي د ناول په ټولو برخو یې سیوری غوړولی او سالنګ یوازې توني لوښی نه، بلکې د دې ناول د پلاټ په جوړولو او د شخصیتونو په کړو وړو او د پېښو پر څرنګوالی نېغې اغېزې لري. د کیسې د پیل یوه بله لاره، په پېښې (یا په اصطلاح د اصلي محرکې قوې) سره پیل دی، چې د کیسې د نورو پېښو د پېښېدو باعث کېږي. (۲: ۴۵مخ)

«سپوږمۍ وه، سړي منډې وهلې... ساه یې لنډه لنډه کېده، یو ځای ولوېد، بیرته پورته شو، پښې یې بېسېکه وې، پر وچو پاڼو وخوت، زړه یې ولړزېد، شا ته یې وکتل، په اوږه کې یې نری درد تېر شو، لاس یې وروړ، ګوتې یې په وینو لندې شوې، څو ګړندي ګامونه یې واخیستل، پښه یې د دوو تیږو ترمنځ بنده شوه، پړمخې پرېووت، له خولې یې لاړې وبهېدې، د ولاړېدو سېکه یې نه لیده، یوې ټيټې ونې ته ور وښوېد، د ونې تنې ته یې څنګ ولګاوه، غوږونه یې څک کړل....»(۱۰: ۱مخ)

په پورته بېلګه کې کیسه په یوه پېښه پیل شوې ده. په دې ډول پیل کې په عامه توګه کیسه داوج له ټکي نه پیل کېږي، بېرته کیسه شا ته بیول کېږي او لیکوال د لوستونکي تلوسه په ډېره ماهرانه توګه ځان سره ساتي، لوستونکی غواړي چې هماغې پېښې ته د رسېدو لپاره کیسه په زېر و زور سره ولولي او د علتونو د موندلو لپاره خپل حواس بیداره وساتي، چې کوم څه ترې پاتې نه شي. د پیل تر څنګ د صحنې پای هم هماغومره ارزښت لري: د هرې صحنې پای باید په لوستونکي کې دا احساس

پيدا کړي چې صحنه بشپړه شوه او د بلې صحنې د پيل د لېوالتيا حس ورسره مل شي. د شين ټاغې د پورتنۍ صحنې په وروستيو کې لولو: «په لاعلاجه بلا کې نښتی وم. د مخابرې وسيله راسره وه، مګر د نابللي په مخکې مې د ډاکټر زړور سره مخابرې ته زړه نشو ښه کولای. مخابرې ګټه هم نه درلوده. هغوی وسلې غوښتې او هغه زما سره دلته په واورو کې نښتې وې. د مقاومت د ښاري پاڅون پيل ته شپږ ورځې پاتې وې او زه به دا وسلې څنګه په خپل وخت ور رسوم؟»(۸: ۲)

دلته نابللی، وسله، د وسلې رسول او پاڅون هغه څه دي چې د بلې صحنې لوستلو لپاره د لوستونکي لېوالتيا زياتوي او هغه اړ کېږي چې راتلونکې صحنې ته ولاړ شي. د يوې صحنې د ځواکمن پای ليکلو لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چې تصور وکړئ چې د کيسې هره صحنه بشپړه ده او هره يوه په خپله ځانته پيل منځ او پای ولري. (۲: ۱۲۲مخ) د هرې صحنې د پای جملې بايد دومره وټکول شي چې د ليکوال په نظر سمې راشي. چاپېريال: «چاپيريال هر هغه عنصر ته وايي چې تاسې يې د خپل ناول د لانجې د پېښېدو د ځای د تعينولو په پړاو کې رامنځته کوئ. دا کېدای شي يوه ټولنه وي، کومه سياره وي، آب و هوا وي، کورنۍ وي، روغتون وي او داسې نور... (۷: ۲۱- ۲۲مخونه)

دکيسې د چاپېريال د لېږد لپاره درې لارې دي:

۱. د چاپېريال مستقيم يا ساده توصيف؛ د داستان د پېښېدو د ځای د اصلي کرښو لړ و ډېر وصف.

۲. له نقل او خبرو اترو (ډيالوګ) سره ګډ توصيف.

۳. له خبرو اترو (ډيالوګ) سره توصيف.

که ليکوال وکولای شي چې دغه درې تګلارې سره ګډې کړي او د کيسې چاپېريال د دغو درېوو لارو د ترکيب په مرسته ولېږدوي، کار به يې ښه او اغېزمن وي. په هر حال کلي قاعده دا ده چې له دغو درې لارو څخه يوه يې په يوازيتوب سره بايد هيڅکله و نه کارېږي. (۳: ۳۱۷)

زياتره ناولونه همداسې ليکل شوي چې هغه له دې پورته درې واړو لارو څخه په ګډه کار اخلي. د پټان ناول يوه صحنه به د بېلګې په توګه راوړو:

ویده نجلۍ مې په څادر کې راوتړله. په کور کې مې پر گوښې کټ پرې ایسته. نیمه شپه مې پر غوږ توده ساه لگېدله. سترگې مې رڼې کوې (کړې)، پدمني وچې سترگې راته نیولې وې. د نجلۍ پر غاړه مې گوتې کېښودې، سړه وه.

پدمني وویل:

- زړه ښځه دې کړې.

خندا راغله. ځان مې قابو کړ، و مې ویل:

- دا مې مور ده.

نجلۍ وخندل.

- تا کله مور درلوده.

و مې ویل:

- مور مې بل ځای وه. اوس مې راوسته.

نجلۍ سړه ساه وایسته:

- زما مور ځان وژلی؟... (۱۱: ۱۱۵)

په هغو کیسو کې چې د کار بنسټ یې پر اکشن ولاړ دی، د کیسې محیط ډېر اهمیت مومي او د طرحې کنټرول پر محیط زیاتېږي. (۳: ۳۱۸مخ)

مهال او چاپېریال په صحنه کې دوه هغه ظرفونه دي چې پرته له دې صحنه نشته؛ په حقیقت کې « زمان او مکان د کیسې د پېښېدو تاریخي شېبه او جغرافیایي موقعیت بیانوي چې په خپل وار د لانجې شالید جوړوي او د کیسې لپاره د اړینې وضعې په چمتو کولو کې مرسته کوي.» (۷: ۴۸مخ)

د صحنې زمان او مکان د نقاشۍ قاب ته ورته دی؛ د هغه موخه دهنري اثر تقویه ده، نه د لوستونکي د پام منحرفول. (۲: ۱۵مخ)

د کرکټر په جوړولو کې چاپېریال او محیط مهم او ځواکمن عامل دي او د کیسې اشخاص حتی که د لږ وخت لپاره هم په یو ټاکلي چاپېریال کې و اوسي، د هغه له اغېزو ځان نه شي خلاصولی. دغه اغېزې باید ښکاره او محسوسې وښودل شي. د دغو اغېزو نالیدلې پرېښودل او نه منعکسول یې د دې سبب کېږي چې کیسه حقیقي و نه برېښي. دغه اغېزې دومره ځواکمنې دي چې زیاتره استادان په دې باور دي، کله چې لیکوال کار پیلوي، باید د صحنې طرحه یا هغه چاپېریال چې غواړي چې

خپله کیسه په هغه کې ځای کړي، په دقیقه توګه په خپل ذهن کې واچوي او د کیسې اشخاص د هغه تابع کړي او هغه همداسې پربږدي، تر کومې کچې چې دوی له دې چاپېریال څخه اغېزمن کېږي، هماغسې عمل وکړي او کیسه مخته بوځي. (۳: ۳۱۸) پټان ناول چې په هند کې د پښتنو په ژوند او بیا د یو داسې ځوان په اړه دی چې هلته د سود د کار و بار پر ځای درس ویلو او بیا تجارت ته مخه کوي او خیریه کارونه کوي. دا هر څه پر ده باندې د چاپېریال د اغېزو له مخې کېږي. دا شخص چاپېریال او هغه پېښې چې له ده سره کېږي دې ځای ته را رسولی دی. یا په «پاتې شه باران دی» ناول کې چې د یو ټولګي کیسه کوي دلته لیکوال اړ دی چې خپل شخصیتونه د ټولګي د چاپیریال تابع کړي او هغه شخصیتونه د ټولګي په چاپیریال کې وروزل شي. ««زموږ ټولګی هم عجیبه و، بس چې د ښوونکي سترګې به پناه شوې، هر څه به بدل، بدل شول په یو کنج کې به یې داسې شور ماشور و لکه د منې په ماښام کې چې چینچنې د ځنګله په ونو کې چنېدل د خپل ژوند یواځینی مقصد ګڼي... بیا به چې استاد راغی په صنف د صحرانۍ شپې خاموشي خپره شوه او ټول زده‌کوونکي به په خپلو خپلو څوکیو کېناستل.»(۱۲: ٦مخ)

د ځینو کیسو پلاټ ساده وي، چې په دې سره صحنې هم ساده وي، حتی که موږ د ځایونو نومونه بدل کړو اصل کیسې ته یې تاوان نه رسېږي. خو هغه کیسې چې د پلاټ (طرح) تر کنټرول لاندې وي، صحنې د هغه تر اغېزو لاندې جوړېږي، د محیط یا ځایونو د نومونو په بدلولو سره ټوله کیسه له منځه ځي.

لیکوال باید په یاد ولري، چې کله اشنا صحنه پنځوي، ډېر نااړین جزئیات د صحنې له تصویر سره ذهن ته راځي او په ټول ټینګار سره غواړي چې کیسې ته راشي. مګر لیکوال باید یوازې هغه عناصر وټاکي چې د هغه ځای په تشریح کې اساسي ښکاري، په بله وینا له ځان سره باید حسنِ انتخاب ولري او لازم له زایدو څخه بېل کړي. (۳: ۳۲۴مخ) لیکوال باید هغه اړین موارد چې د دې صحنې په تشریح کې مرسته کوي په ځو کرښو کې مشخص کړي، ځینې شیان لوستونکو ته پرېږدي، تر څو هغه هم وکولای شي چې د خپل تخیل په مرسته په صحنه کې ونډه واخلي. ځینې لیکوال چې زیاتره نوکاره وي، هغوی چې کله غواړي د یو چا د ښکلا تصویر په کلماتو کې وکاږي او خپل کرکټر ځان ته مخامخ کړي، نور نو سترګې ورته پټوي څه معیارونه چې

له ده سره د ښکلا په اړه دي او څه يې چې اورېدلي وي هغه ټول بيانوي، خو داسې بايد و نه شي، ځکه موږ دلته له دوو سترو ستونزو سره مخامخ کېږو: لومړی دا چې موږ د ښکلا خپل معيارونه پر خلکو منو يا ټول هغه کمالات چې په ذهن کې لرو پر هغه کرکټر يې ور باروو او بله مهمه خبره دا ده چې موږ د هغه وخت شرايط په نظر کې نه نيسو. که چېرې تاسو په شپه کې يو کرکټر تشريح کوئ او هغه په زېر او زور سره تشريح کړئ، تاسو کيسه له واقعيت څخه لرې کړه، دا مهمه نه ده چې په هماغه يوه صحنه کې د هغه ټول صفات وښودل شي، په نورو صحنو کې هم کولای شئ چې ځينې ځانګړنې يې بيان کړئ. استاد شپون چې خپل کرکټر تشريح کوي، ورسره سيمه او د هغې سيمې اوسېدونکي هم تشريح کوي، کيسه دومره طبيعي کوي، لوستونکی په دې پوره باوري شي چې دا کيسه په رښتيا هم هلته پېښه شوې ده. «زما د پلار دوست پير علي، نيم تاجک و، نيم هزاره. په اصل کې د هزاره زوزات له دوشي نه پيل کېږي، په تاله برفک، دوآب، باميانو ته تېرېږي. پخپله دوشي ګډوله دی. د سيند يوې غاړې ته هزاره، بلې ته چې اوغان دوشي يې بولي، پښتانه. سيغان ته ښايي د سيند د لاسه هزاره‌ګي سيمه نه ده رسېدلې او د پېړيو په اوږدو کې يې ګډوله نسل جوړ کړی.... پيرعلي هم ګډی و. پوزه لوړه خو سترګې بادامي، مخ هډوکن، لکه متساوي‌الساقين مثلث چې سر په ځېږې ودروې، څو تاره ږيره ورنه زنګېده.»(۸: ٦٦مخ) د دې پر ځای چې يوازې پيرعلي موږ ته تشريح کړي، استاد ورسره سيمه هم تشريح کوي او د هغې څېرې ته طبيعي دلايل مومي. چې د استاد له تجربو څخه ګټلی شو او زموږ ليکوال کولای شي له دې نه د خپلو کرکټرونو په تشريح او انځورونه کې پوره ګټه واخلي. يو بل څه چې موږ په فلمونو او سريالونو کې ورسره اشنا شوي يو، هغه د کلتوري او چاپېريالي توپيرونو يوځای کول دي، يا که لږ يې ساده ووايو د دوو چاپېريالونو پخلا کول دي. حتمي خبره ده چې يو ټکر به رامنځته کوي. مثلاً يو ښه او بارزه ښېلګه يې دا بللی شو، چې له بهر يا له غربي نړۍ نه د کورنۍ د ځينو اشخاصو يا خپلوانو راتګ دی، چې تر ټولو زيات د کورنۍ هغه غړي له ټکر سره مخامخ کېږي چې دې کورنۍ ته نوي راغلي وي او هغوی سره يې لومړی ځل ليدل وي. د دې برخې تشريح اړينه ده خو اوس ډېره کليشه شوې په ځانګړي ډول د هندي سريالونو له کبله، هغوی په هر سريال کې يوه يا څو داسې

پېښې او صحنې را اخلي. د نصير احمد احمدي په ټال ناول کې هم له دغسې يوې صحنې سره مخامخ کېږو، که څه هم د نصير احمد احمدي ټال ناول سر تر پايه د کليوال او ښاري چاپېريال؛ د کليوالو او ښاريانو ترمنځ د پخلاينې په مزي راڅرخي، دغسې يوه صحنه هم راغلې. د بوډۍ لور «ناديه» له بهره کابل ته راځي او ارزو چې څه نا څه له ښاري محيط يا د دې کورنۍ له خلکو سره عادت شوې، اوس يو ځل بيا له داسې خلکو سره، چې هغه له پخوانيو هم ناولده دي، نه په ژبه او نه هم په کړه وړو ورسره پوهېږي، مخامخ کېږي: «ارزو ورغله د مريم ترڅنګ کېناسته.

مريم په بيړه د لپ ټاپ سکرين له کېبورډ سره ولګاوه، ارزو ته يې وکتل، تنده يې تروه شوه. يو دم يې په لوړ غږ څه وويل. خو ارزو يې په خبره و نه پوهېده. د ناديې ور پام شول، ارزو يې د لاس په اشاره ور وغوښته، نجلۍ ورغله. ناديې په پوست غږ وويل: خوږې! له اجازې پرته د بل کمپيوټر ته کتل ښه نه دي.

ارزو په حيرانۍ ورته کتل.

بوډۍ وويل:

تږې يم.

ارزو له يخچال جګ ور واخيست. بېرته بوډۍ ته ورغله، ډک ګيلاس يې ورته ونيو. رهي شوه، د ماشوم کغا يې واورېده، کټ ته ورغله، د کوچني سره خوله او سپينه چاغه غاړه په رڼو لاړو لانده ول. ارزو ماشوم تر بغور کش کړ، د هغه پر خوله يې د خپل ټيکري پيڅکه تېره کړه. له غوسې ډکه ناره يې واورېده: مه!

ناديې په بيړه د بوتل پر اوبو د کوچيني خوله ور پرېمينځله، ارزو ته يې وکتل، په خوشکه يې وويل: په هر څه کار مه لره!»(۱۳: ۸۰- ۸۱مخونه)

ليکوال د خپل مهارت له مخې، دې صحنې ته مخکې له مخکې زمينه سازي کړې، چې له ماشومانو سره د ارزو لېوالتيا ده. د ناول په مخکينو صحنو کې دا لېوالتيا ښودل شوې؛ لکه د خپل ترورزي د ليدو په صحنه کې او يا هم د سوالګرو ماشومانو د مړولو په صحنه کې. په دې سره دا صحنه يو ډول توجيه پيدا کړې او بل دا چې د ټيکري په پيڅکه د هغه خوله پاکول چې يو نوی لامل يې بللی شو، ورته راوړل شوی. له دې څرګندېږي چې موږ کولای شو ځينې کليشه صحنې هم په نويو لاملونو سره وکاروو او نوی رنګ ورکړو.

که خبره راټوله کړو، صحنه د مهال، ځای، شخصیت او د وخت د غوښتنو له مخې تشریح کېږي، هره صحنه د ناول د یوې عضوې په توګه باید رامنځته شي چې په دې کې د لیکوالو تجربې بېلابېلې دي، خو ځینې کلي اصول هم لري چې په هغو سره زموږ صحنې بشپړېدلای شي، چې په دې مقاله کې وښودل شول.

## پایله

دا چې هر ناول له بېلابېلو صحنو څخه جوړ دی، هره صحنه په ټاکلي وخت، ځانګړي ځای کې د کرکټرونو عمل (اکشن) ښیي او ښه ناولونه هم د هغه په ښو صحنو باندې تلپاتې کېږي. نو لیکوال باید خپل کوښښ وکړي چې د صحنو په جوړونه کې له خپل ټول قدرت نه کار واخلي، صحنې موضوع ته په کتو په هغه کچه ولیکي چې کیسه په کې بیانېدی شي، تر څو د لیکوال عواطف او حواس د خپلو کلماتو او انځورونو په وسیله سره وتړي. د هر ناول د پیل صحنه ډېره ارزښتمنه وي، لیکوال باید هغه په داسې یو ډول پیل کړي چې لوستونکی د ټولې کیسې لوستلو ته وهڅوي، په دې کې د نورو لیکوالو له بېلابېلو تجربو څخه ګټه اخیستلی شي، که ځای پر کرکټرونو مستقیم اغېز لري، باید په هماغه سره پیل شي او که وخت مهم وي، باید د وخت په توصیف سره او که غواړي په پېښه یې پیل کړي، دا هم یو ښه انتخاب دی. هره صحنه پیل، منځ او پای لري، دې هرې برخې ته پوره پاملرنه په کار ده. په هره صحنه کې باید هدف معلوم او ټاکلی وي، د تصادف مخه ډب شوې وي، د تخیل او حافظې په مرسته په سمه توګه انځور شي. که لیکوال غواړي خپل ناول تلپاتې کړي، نو هغه کې باید داسې تلپاتې صحنې انځور کړي، چې تل د لوستونکو په حافظو کې پاتې شي.

## وړاندیزونه

۱. په پښتو ناولونو دې کره‌کتنې وشي چې په دې سره به له تازه‌کاره او نویو لیکوالو سره مرسته وکړو، تر څو وکولای شي په راتلونکې کې په ټول پوره پنځېدلي آثار ټولنې ته وړاندې کړي.

۲.د ناول د نورو جوړښتي توکو په اړه دې هم څېړونکي په ځانګړې توګه څېړنه وکړي.

۳.د کيسو او ناولونو ليکوال دې له ليکنې مخکې د نورو تجربې يو ځل وګوري، تر څو د هغو له تجربو څخه په خپلو آثارو کې ګټه واخلي.

## مأخذونه


۱. سيدي، سيد نظيم. ناول به څنګه ليکو؟(ناول او په پښتو ادب کې د هغه پرمختيايي بهير)، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۸۹ل کال.

۲. آبستفلد، ريموند. صحنه‌پردازی در رمان، د عبدالله کريم‌زاد ژباړه، انتشارات سوره مهر: تهران، ۱۳۹۲هـ.ش.

۳. يونسي، ابراهيم. هنر داستان نويسي، مؤسسه چاپ و انتشارات امير کبير: تهران، ۱۳۴۱ل کال.

٤. ازمون، لعل پاچا. ادب تيوري، ختيځ خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۸ل کال.

۵. احمدي، نصيراحمد. راځئ کيسه وليکو!، لر او بر کتابتون، ۱۳۹۰ل کال.(Pdfنسخه)

٦. پسرلی، ايمل. د کيسو کيسې (کره کتنه)، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۲۰۲۰ز کال.

۷. عمر، محمد آصف. ښه ناول وپېژنئ!، مازيګر کتاب پلورنځی: ---، ۱۳۹۴ل کال.

۸. شپون، سعدالدين. شين‌ټاغی، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه: پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

۹. احمدي، نصيراحمد. اغزن سيم، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۱ل کال.

۱۰. احمدي، نصيراحمد. خونکار، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۸ل کال.

۱۱. احمدي، نصيراحمد. پټان، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۷ل کال.

۱۲. سالک، مصطفی. پاتې شه باران دی، اتم چاپ. دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۴۰۱ل کال.

۱۳. احمدي، نصيراحمد. ټال، مومند خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۸ل کال.